کابل پوهنتون

د داخلي ژبو او ادبیاتو پوهنځی

پښتو څانګه

# پښتو نثرپوهنه

د (PhD) ډيزرټېشن

څېړونکی: نورالله بښاد

لارښود استاد: پوهاند ډاکټر یارمحمد یزال

سلاکار لارښود استاد: پوهاند ډاکټر محمد رفیق رفیق

کال: ۱۴۰۲ لمریز


بسم الله الرحمن الرحيم

## د پیل خبرې

پېښور پوهنتون کې مې ماسټري کوله، د ماسټرۍ جریان به کله کله د ډاکټرۍ سکالران راغلل او د پېښوریانو په ټکي له مقالو به یې دفاع وکړه. تر دفاع روسته به کوم مشر استاد وویل چې د فلاني دفاع کامیابه وه، موږ مبارکي ورکوو او تاسو نه غواړو چې تر دې روسته د فلاني له نوم سره ډاکټر ملګری کړئ. دلته به د لاسونو پړکا شوه او د نوي ډاکټر صېب پر څېره به د خوشالۍ ښېښو خاموشې چیغې ووهلې.

دغو ننداړو تر ماسټرۍ روسته بل هدف ډاکټري راته کېښود. د همدې هدف لپاره مې ماسټرۍ کې خواري وکړه، د دې خوارۍ نتیجه کې مې ډاکټرۍ ته د ټلو شرایط پوره کړل او تر فراغت روسته همدې هدف پسې ولګېدم.

ماسټرۍ نه چې راوګرځېدم د خوست شیخ زاید پوهنتون کې رسمي مدرس مقرر شوم. د تدریس لړ کې به چې د بورسونو خبر راتلو زه به ډېر ورته متوجه وم، ما ویل چې یوه ذره موقع هم برابره شي وار به نه خطا کوم. شپږ کاله روسته موقع ښکاره شوه؛ کابل پوهنتون د ډاکټرۍ برخې د پوهنتونونو کادري غړو ته پښتو او دري ادبیاتو کې د ډاکټرۍ ورکولو اعلان وکړ. ورتګ دازاد رقابت له لارې و او زه د دغه رقابت ډګر ته کوز شوم. ځان مې ورته جوړ کړ او د خدای په کرم بریالی شوم.

د دې پروګرام لومړی پړاو کورس او دویمه مرحله یې څېړنه وه. کورس مو د درنو استادانو سرمحقق زلمي هېوادمل، ډاکټر مجاوراحمد زیار، ډاکټر خلیل‌الله اورمړ، ډاکټر بریالي باجوړي او ډاکټر لعل‌پاچا ازمون په تدریس پای ته ورساوه. دوی ټولو ښاغلو هغه څه راوښوول چې مخکې مې زده نه وو او هر یوه د استادۍ- شاګردۍ رابطې پر ځای د ملګرتیا اړیکه پالله. دغه حالت زموږ د تحصیل ماحول له خوند او مینې ډک کړی و. دوی هر یو ته دې خدای ډېر عمرونه ورکړي او په ستو دې تندرست وي. د دوی مهرباني د هېرېدو نه ده.

د استادانو تر څنګ اکثریت ملګري سکالران هم تر ما مجرب، لوړرتبه او مشران ول. ټولګي کې د دوی بحثونه هغه څه وو چې ما زده‌کړه ترې وکړه. نامتو لیکوال استاد زرین انځور، پوهاند محمدابراهیم همکار، پوهاند جمشېد رشیدي، پوهندوی یارمحمد پکتین، څېړنوال سیدنظیم سیدي، پوهندوی رحیم‌الله زیرک، پوهنمل سیداصغر هاشمي، پوهنیاره نازیه پتمن او پوهنیار حمیدالله عمرخېل هغه درانه سکالران ملګري دي چې زه یې خپل استادان بولم. د هر یو د مینې او مهربانۍ پوروړی یم. پوهنیار حمیدالله عمرخېل خو بیا د ملګرو د اداري کارونو پېټی هم پر اوږو کړی و، د ټولو ملګرو لپاره یې د اداري برخې چارې سنبالولې، اسانولې او د ادارې او سکالرانو تر منځ پُل و. دی خو دې الله ډېر ونازوي.

ها، دروند استاد سبښتیان (زمری‌خان) له المانه راغلی و او لنډ وخت کې یې د ژبپوهنې اړوند ډېر څه راوښوول. خوږ استاد دی، ملګرتیا به یې راسره کوله او بنډارونه یې خورا خوندور ول.

د کورس په بشپړېدو د څېړنې پړاو پیل شو. دې پړاو کې مې قدرمن استاد پوهاند ډاکټر یارمحمد یزال د ډیزرټېشن مستقیم لارښود و او ډاکټر بریالی باجوړی مې سلاکار لارښود و. د کار جریان کې ډاکټر باجوړی جلاوطن شو او تماس ورسره ګران شو. اداري ډاکټر محمد رفیق رفیق سلاکار لارښود راته وټاکه. دوی هر یوه په ورین تندي لارښوونې راته کړې دي، د دوی له لارښوونو پرته به د دې اثر بشپړاوی اسان نه و. خدای دې اوږده عمرونه ورکړي او روغتیا دې یې ملګرې وي.

دې منزل ته پر لاره ډېرو نورو ملګرو حوصله راکړې او لاس یې راکړی. اسماعیل حقمل هغه ملګری دی چې ځان یې پوروړی بولم، ډاکټرۍ ته پر بریا مې چې خبر شو د مبارکۍ تر څنګ یې د مالي ملاتړ ډاډ راکړ. ده دغه وخت تنګلاسۍ ته ورنه‌کړم.

نوراجان بهیر، رفیع‌الله زیار، عیسی‌خان تسل، استاد محمدصدیق پتنګ، احمدبلال ساجد، لاهورجان تنیوال، رحمت‌الله سنګین، اصف حنیف، هدایت‌الله ښمر او نورولي بهیر د سلامخانې هغه درانه ملګري ول چې سفر یې راته اسان کړی و، د ځانګړي احترام پور یې راپورې دی. سلامخانه کابل کې زموږ د استوګنځي نوم دی او لا اباده ده.

د خدای مهرباني، د استادانو زیار او د ملګرو ملاتړ هغه څه ول چې بنده یې د دې اثر لیکلو او معتبر سند **PhD** اخیستلو جوګه کړ. د خدای شکر ادا کوم او یو ځل بیا استادانو او ملګرو ته دعا کوم چې الله مو ونازوه.

پوهنیار نورالله ښاد

## لنډیز

ننني مالومات دا دي چې پښتو نثر له اوومې هجري راپيل شوی، دا پيل د سليمان ماکو له تذکرةالاولياء شوی، دوې- درې پېړۍ د سکوت وخت دی، بيا پير روښان راځي او خيرالبيان ليکي. خيرالبيان د پښتو نثر لومړنی لاس ته راغلی بشپړ کتاب دی. خيرالبيان سره د پښتو او پښتون بخت بيدارېږي؛ تر ليک روسته يې مخالفت کې مخزن الاسلام ليکل کېږي او کابو د پښتو نثر بېړۍ ساحل ته د رسېدو لپاره ورو ورو مزل پيلوي، دا ورو ورو مزل بلاخره داسې پايلې يا هيلې ته رسي چې د ساحل د نږدې کېدو نښې دي، پاتې مزل ډېر اوږد نه دی.

د خيرالبيان او مخزن الاسلام تر مسجع نثر روسته خوشال رامخکې کېږي، د مسجع نثر پر ځای د قريب‌الفهم مرسل نثر د ليکلو تابيا کوي او بريالی کېږي چې نسبت مخکنيو ته ساده او روان نثر وليکي. د خوشال تر څنګ د ده اولادونه هم خپل ليکل او ژباړې کوي.

دوه- درې سوه کاله روسته بيا د دريو احمدانو دور راځي او مولوي صالح‌محمد کندهاری د پښتو ليکلو لپاره مټې بډوهي. له کندهاره پښتو انجمن راځي او پېښور کې پښتو اکېډمي پرانيستل کېږي. پښتو ټولنه ايجادېږي او پنځه ستوري ليکل پيلوي، بلاخره روستيو سلو کلونو کې پښتو مزل ګړندی کوي او خبره دې ته رسي چې د پښتو ليکوالو شمېر له شمېره وځي. پښتو کې منظمې زده‌کړې پيلېږي او د پښتو ادب محصلين هر يو د مونوګراف، تيزېس او ډيزرټېشن په بڼه جبري ليکل کوي.

پښتو خورا چټک مزل کوي او چټکتيا کې ارومرو کاواکي وي، دغه کاواکي مختلفو بڼو کې ځان راڅرګندوي؛ پښتو نثر کله د ژباړې په بڼه د نورو ژبو اغېز مني، کله هنري و علمي ليکل سره ګډېږي او کله بيا لهجې پر معياري نثر غالبېږي. دلته د دغو تاثيرونو پر لاملونو خبره کېږي او حلالرې وړاندې کېږي. پښتو د علمي انقلاب په لوري روانه ده او د دغه انقلاب د بريا لپاره تياری پکار دی.

# سرلیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


سریزه ........................................................................ ۱

د څېړنې کلیات ........................................................................ ۲

پرابلم یا ستونزه........................................................................ ۲

ارزښت........................................................................ ۲

موخه........................................................................ ۲

فرضیه........................................................................ ۳

پوښتنې........................................................................ ۳

د څېړنې ډول........................................................................ ۳

د څېړنې مېتود........................................................................ ۳

د څېړنې مخینه........................................................................ ۳

**۱ـ د نثر پېژندنه**........................................................................ ۶

۱ـ۱د نثر ډولونه ........................................................................ ۸

۱ـ۲ منثور شعر........................................................................ ۱٤

**۲ـ د پښتو نثر پرمختیايي بهیر ته لنډه کتنه** ........................................................................ ۲۷

۲ـ۱ تذکرةالاولیاء........................................................................ ۲۸

۲ـ۲ خیرالبیان ........................................................................ ۳٤

۲ـ۳ مخزن‌الاسلام........................................................................ ۳۷

۲ـ۴ دستارنامه........................................................................ ٤۰

۲ـ۵ عبدالقادرخان................................................................................................................... ٤٦
۲ـ٦ گوهرخان........................................................................................................................ ٤۸
۲ـ ۷ افضل‌خان خټک ............................................................................................................. ۵۲
۲ـ ۸ پټه خزانه ..................................................................................................................... ۵٦
۲ـ۹ پیرمحمد کاکړ .................................................................................................................. ۵۷
۲ـ۱۰ معاصره دوره.................................................................................................................. ۵۹
۲ـ۱۰ـ ۱مولوي احمد................................................................................................................ ٦۰
۲ـ ۱۰ـ ۲ منشي احمدجان ........................................................................................................... ٦۲
۲ـ ۱۰ـ ۳ میراحمدشاه رضواني........................................................................................................ ٦٤
۲ـ ۱۰ـ ۴ سید راحت راخیلی........................................................................................................... ٦٦
۲ـ ۱۰ـ ۵ مولانا عبدالقادر ............................................................................................................. ٦۸
۲ـ ۱۰ـ ٦ عبدالحی حبیبي .............................................................................................................. ۷۰
۲ـ ۱۰ـ ۷ قیام‌دین خادم ................................................................................................................. ۷۳
۲ـ ۱۰ـ ۸ گل‌پاچا الفت.................................................................................................................. ۷۹
۲ـ ۱۰ـ ۹ عبدالروف بېنوا................................................................................................................ ۸۵
۲ـ ۱۰ـ ۱۰ صدیق‌الله رښتین ............................................................................................................ ۸۸
۲ـ ۱۰ـ ۱۱ محمدصدیق روهي ........................................................................................................... ۹۲
۲ـ ۱۰ـ ۱۲ مجاوراحمد زیار ............................................................................................................. ۹۷
۲ـ ۱۰ـ ۱۳ اسدالله غضنفر .............................................................................................................. ۹۹

**۳ـ د نثر تخنيکي خواوې** ..................................................... ۱۰٤

۳ـ ۱ فصاحت ..................................................... ۱۰٤

۳ـ ۲ بلاغت ..................................................... ۱۱۰

۳ـ۳ سلاست ..................................................... ۱۱٤

۳ـ ۴ د نثر اوږدوالی او لنډون ..................................................... ۱۱٦

۳ـ۴ـ ۱ د يوې کلمې پر ځای د ترکيب راوړل ..................................................... ۱۱۷

۳ـ۴ـ ۲ د همماناکلمو راوړل ..................................................... ۱۱۸

۳ـ۴ـ ۳ د سربلونو او اوستربلونو غيرضروري کارؤنه ..................................................... ۱۱۹

۳ـ ۵ پېچلی نثر ..................................................... ۱۲۰

٦ـ۳ مختلط نثر ..................................................... ۱۲۷

۳ـ ۷ نږه يا خالص نثر ..................................................... ۱۳۱

۸ـ۳ لهجوي نثر ..................................................... ۱۳٤

۳ـ ۸ـ ۱ کندهاری لهجه ..................................................... ۱۳۷

۳ ـ ۸ـ ۲ مرکزي لهجه ..................................................... ۱٤۰

۳ـ ۸ـ ۳ يوسفزی لهجه ..................................................... ۱٤۱

**۴ـ ادبي، علمي، ژورنالېستيک او اداري نثرونه** ..................................................... ۱٤٤

۱ـ۴ ادبي يا هنري نثر ..................................................... ۱٤٤

۴ـ ۱ـ ۱ د کيسې نثر ..................................................... ۱٤٥

۴ـ ۱ـ ۲ د ادبي ټوټې نثر ..................................................... ۱٤۸

۴ـ ۱ـ ۳ د ډرامې نثر ..................................................... ۱٥۳

۴ـ ۲ علمي نثرونه ..................................................... ۱٥٥

۴ـ ۲ ـ ۱ طبي نثرونه........................................................................................ ۱۵٦

۴ـ ۲ ـ ۲ کرنیز نثر ........................................................................................ ۱٦۰

۴ـ ۲ ـ ۳ د انجینرۍ نثر ........................................................................................ ۱٦۳

۴ ـ ۲ ـ ۴ ټولنیز علوم ........................................................................................ ۱٦۵

۴ ـ ۲ ـ ۵ ژوناليستيک نثر........................................................................................ ۱٦٦

۴ـ ۲ـ ٦ اداري نثرونه.......................................................................................۱۷۲

**۵ ـ ژباړه**........................................................................................ ۱۷۸

۵ ـ ۱ د ژباړې ارزښت ........................................................................................ ۱۷۹

۵ ـ ۲ د ژباړې ډولونه ........................................................................................ ۱۸۱

۵ ـ ۲ ـ ۱ ساده ژباړه ........................................................................................ ۱۸۱

۵ ـ ۲ ـ ۲ ادبي ژباړه........................................................................................ ۱۸۲

۵ ـ ۳ پر پښتو د ژباړې اغېز ........................................................................................ ۱۸۳

۵ ـ ۳ ـ ۱ د عربي اغېز........................................................................................ ۱۸٤

۵ ـ ۳ ـ ۲ د دري/ پارسي اغېز ........................................................................................ ۱۸٦

۵ ـ ۳ ـ ۳ د انګرېزي اغېز........................................................................................ ۱۹۱

۵ ـ ۳ ـ ۴ د اردو اغېز ........................................................................................ ۱۹۲

**پایله**........................................................................................ ۱۹٦

**مناقشه**........................................................................................ ۱۹۷

**نتیجه‌ګیري** ........................................................................................ ۱۹۷

**وړاندیزونه**........................................................................................ ۱۹۸

**اخځونه** ........................................................................................ ۱۹۹

# سریزه

د ملتونو پرمختیا او پایښت ژبې پورې تړلي دي، دا نن چې نړۍ کې کوم پرمختللي ملتونه دي یا ارام ژوند لري نو یوه وجه یې دا ده چې خپلې ژبې ته یې کار کړی.

د ژبې پرمختیا کې د نظم او نثر دواړو لاس دی، نظم زموږ هنري ذوق تسکینوي؛ د علم د لېږد لپاره نه دی او ورځني ژوند کې ډېر سروکار ورسره نشته. نثر بیا داسې دی چې هم مو د هنر له پلوه ذوق تسکینوي او هم علمي برخه کې د ګټې خبرې ورکې مطرح کېږي. د نړۍ پر مخ ټول پرمختګونه د نثر په وسیله ثبتېږي او علم چې نورو ته لېږدي نو نثر به دنده اخلي.

موږ هم که د یوویشتمې پېړۍ د پرمختګونو شوقیان یو او یا ځان ترې برخمنول غواړو نو ضرور ده چې علم ته مخه کړو او د علم د خپرېدا لپاره له نثره کار واخلو. دا مزل ضرور دی، کوو به یې خو ښه پکار دی. چې د تمدن پر لاره روانېږو نو اړتیا ده چې بنسټونه محکم ورغوو. له بنسټونو یو د خپلې ژبې نثر دی. پکار ده چې په عام‌فهمه او سمه ژبه لیکل وکړو. که خپل لیکل کوو سم لیکل یې پکار دي او که د ژباړې په وسیله د نورو له علمونو او تجربو زده‌کړه کوو نو د سمې ژباړې په وسیله به یې کوو. د دې وسیلې سمه زده‌کړه اړینه ده.

پښتو نثرپوهنه کې د پښتو نثر پر نن او پرون خبره کېږي؛ د پښتو له لومړنیو نثري پانو تذکرة الاولیاء رانیولې تر ننیو پښتو نثري لیکنو د نثر د مزل په باره کې خبره ده او تر څنګ یې اوسنیو اړتیاوو ته په کتو د نثر پر جوړښت او سمون بحث دی. هنري نثر څه دی، علمي نثر څنګه وي، پر پښتو نثر د ژباړې له لارې څه اغېز شوی او ګردود څومره اغېز پرې کړی؟ دې پوښتنو ته د ځواب هڅه کوو او پښتو چې علمي یون پیل کړی نو د داسې کار هڅه ده چې پښتو هره برخه (هنري او علمي) کې د نړۍ د معتبرو ژبو غوندې د لیکلو سیالي وکولی شي.

## د څېړنې کلیات:

### پرابلم یا ستونزه

هنري نثرونو کې داسې نثرونه لرو چې په ساینسي ژبه لیکل شوي او بالمقابل داسې علمي نثرونه لرو چې په هنري ژبه لیکل شوي دي. غوره دا ده چې د هنري نثر لپاره له ادبي ژبې کار واخیستل شي او د علمي موضوعاتو د لیکلو په وخت بیا له ساینسي ژبې استفاده وشي.

ژباړه باید په داسې انداز وي چې هم د آر/ لومړۍ ژبې د مضمون حق ادا شوی وي او هم دویمه ژبه کې لیک داسې وي چې لوستونکی حس نه کړي ژباړه لولي. همدا ډول په کار ده چې دویمه ژبه په فرهنګي او ګرامري لحاظ زیانمنه نه شي. له بده مرغه اوس کې زموږ په ازادو لیکلو او ژباړو کې یادې ستونزې لیدل کېږي.

کله مو لیک د پوهاوي له مخې کمزوری وي او کله مو د لنډه‌کي مفهوم د لېږد لپاره اضافي کلمې و جملې راوړې وي، کله پښتو نثر د پردیو کلمو د ډېر استعمال په وجه پردی ښکاري او کله د نړه پښتو کلمو د ډېر کاراوي په وجه د بلې ژبې متن راښکاري. کله مو پر نثر د یوې لهجې اغېز وي او کله بیا د بلې سیمې لهجه د نثر د معیاري کېدو مزل ټکنی کړي.

### ارزښت

د علم د لېږد تر ټولو غوره لار لیکل دي او لیکل هم په نثر، کله چې په نثر د علم لېږد دی نو پکار ده چې دغه وسیله ښه مهذبه او صیقل شوې وي. د نثر د دغه صیقل لپاره په کار ده لیکوالو ته د لارښود په ډول معتبر او معیاري اثار ورمخکې کړو چې په مرسته یې پښتو نثر د معیار خوا ته روان شي او بالاخره معیاري شي.

### موخه

په هنري برخه کې د پښتو نثر سمون او پښتو علمي نثر ته داسې کار چې په وسیله یې پښتانه لیکوال د ښو لیکلو چل زده کړي او په ښه ژبه د خپل ما في الضمیر لېږد وکولی شي.

د ژباړې له لارې پر پښتو نثر د نورو ژبو د منفي اغېز مخه نیول شوې وي، ګړدود مو ورسره وانخلي او قلموال وهڅول شي داسې نثر ولیکي چې د ګوتو نیولو ځای ورکې پیدا نه شي او که په کې پیدا کېږي هم نو ډېر کم وي.

## فرضیه

پښتو نثر کې د افهام ستونزه شته، بې‌ضرورته اوږدېږي، بې‌اړتیا د نورو ژبو کلمې رااخیستل کېږي او کله بیا دومره خالص شي چې پرې پوهېدل سخت شي. کله علمي لیکل په هنري ژبه کېږي او کله بیا هنري لیکل په علمي یا رسمي ژبه وي. پر پښتو نثر د ژباړې په واسطه د نورو ژبو اغېز دی او تر څنګ یې نثر د لهجو له تاثیره خلاص نه دی.

## پوښتنې

-پښتو نثر له کله پیل شوی او تر ننه یې څنګه مزل کړی؟

-پر پښتو نثر د نورو ژبو اغېز شته؟

-پر پښتو نثر د ګړدود اغېز شوی دی؟

-پښتو نثر د پښتو پر ګرامري اصول برابر دی؟

-د پښتو لیکلو په مهال د هنري او علمي نثر تفکیک ته پام کېږي؟

## د څېړنې ډول

کتابتوني

## د څېړنې مېتود

تشریحي او کره‌کتنیز

## د څېړنې مخینه

د پښتو ټولنې له ایجاد سره سم د ادب د ټولو برخو په اړه څه نا څه لیکل شوي دي، د هغه وخت لیکل او لیکوال د خورا درنښت وړ دي، خو تر (۲۰۰۰) میلادي د اړتیا وړ کار نه و شوی. حقه دا ده چې اوس هم د قناعت حالت نه دی خو تر بل هر وخت ښه حالت دی. تر (۲۰۰۰)میلادي راورسته چې هېواد ټولو برخو کې د پرمختګونو شاهد دی نو د ادب او دې لړ کې د نثر په اړه هم ډېر لیکل شوي دي. موږ د دغو اثارو لنډه معرفي وړاندې کوو:

۱- لومړی چې د بنده سترګې وراوړي د استاد زلمي هېوادمل «د پښتو نثر اته سوه کاله» معتبر کتاب دی، استاد هېوادمل د پښتو نثر پر تاریخ د ډېرې ستاینې حقدار کار کړی، د تمرکز نقطه یې همدا د پښتو نثر تاریخ دی. دلته د

ناثرانو اثار معرفي کېږي، د اثارو پر تاریخچه بحث کېږي او تر څنګ یې پر نثرونو تخنیکي تبصرې هم شوې دي. کتاب (۱۰۳۴) صفحې دی.

۲- د نثر د تاریخ لړ کړې بل اثر «د پښتو د نثر تاریخ» د محمدافضل رضا تالیف دی. دغه کتاب کې د نثر پېژندګلوي ده، په لنډ ډول د پښتو ناثرانو پېژندنه او د دوی د اثارو معرفي ده. کتاب کې د نثر پر موضوعي او تخنیکي خواوو باندې هم بحثونه شوي دي.

۳- د ارواښاد صدیق‌الله رښتین «د پښتو نثر هنداره» کتاب د ډېر یاد وړ دی. دغه اثر کې د نثر پېژندنه ده او د نثر ډولونه راوړل شوې دي. کتاب تذکره ډوله لیکل شوی دی. په انفرادي ډول د لیکوالو پر نثرونو عالي کره کتنه شوې ده او پرتلیزه برخه هم لري. د تذکرةالاولیاء له نثره نیولې تر معاصر نثره پر نثرونو د نورو ژبو د ګرامري اغېز له مخې تبصرې کېږي او بله زاویه نثرونو کې د نورو ژبو د کلمو کارؤنه ده. د مختلفو دورو او اشخاصو د نثر ځانګړنې هم په کې ښوول شوې دي.

۴- د استاد اسدالله غضنفر د «نثر لیکلو هنر» کتاب یو مغتنم اثر دی، دې اثر کې د نثر پر تخنیکي خواوو ارزښتمن بحثونه دي او د لیکوالو لپاره ګټورې لارښوونې لري. کتاب د لیکوال مقالې دي چې مختلفو وختونو کې لیکل شوې او خپرې شوې دي، بیا دغو مقالو ته کتابي بڼه ورکړل شوې ده.

۵- «د پښتو نثر تاریخي او تنقیدي جایزه» د بي‌بي‌مریم کتاب دی، د کتاب له نومه ښکارېږي چې د نثر تاریخ بیانوي او پر نثرونو کره کتنه کوي. کتاب کې د نثر پېژندنه هم شته. د خپل وخت عالي زیار دی. د پښتو نثر له پیله یې تر معاصرو نثرونو تاریخي او تنقیدي بحثونه کړي دي.

٦- «پښتو نثر ته کره کتنې» د پوهاند عبدالحی حبیبي اثر دی. دغه کتاب د حبیبي صېب د خپرو شویو مقالو کتابي بڼه ده. د حبیبي صېب په وینا د زلمي هېوادمل په توجه چاپ شوی. دغو مقالو کې د پښتو د اوسني نثر د روزلو او ښګه‌والي خبرې دي. کتاب کې د نثر لنډ تاریخ او د پخواني او اوسني نثر پر ښېګڼو او نیمګړتیاوو بحثونه شوي.

۷- «د پښتو نثر ارتقاء» د پروفیسر عبدالروف نوشهروي اثر دی. (۵۵) صفحو کې پر دې عنوانونو کار شوی: د اخوند درويزه او روشانیانو تر زمانې پورې، د خټکو دور، انګریزي دور سره ضمیمې، جدید دور. کتاب کې پر نثرونو لنډې تخنیکي تبصرې شوې دي.

د نثر د تاریخ او پوهنې اړوند نور اثار هم شته، دغه اثار ډېر د هنري نثر اړوند دي او د علمي نثر اړوند بحثونه هم په کې شته. د مستقلو اثارو تر څنګ د لیکوالی اړوند تدریسي کتابونو کې خال خال د نثر د تخنیکونو په اړه لارښوونې شته او د ډېرو لیکوالو مقالې دي چې بېلابېلو اخبارونو، جریدو مجلو او برېښناپاڼو کې خپرې شوې دي.

زموږ دغه اثر کې به د نثر د تاریخ تر څنګ د نثر پر تخنیکونو خبره کېږي، نثر کې ګرامر ته پام، د ژباړې له اغېزه پاک نثر، هنري نثر او علمي نثر په څنګه تفکیکوو، لهجې سره څه کول په کار دي او بالاخره یوه ژبه چې علمي یون ته ځان برابروي نو نثر یې باید څنګه وي.

# ۱ـ د نثر پېژندنه

لومړی له قاموسونو د نثر لغوي مانا رااخلو او بیا یې پر اصطلاحي او یا تشریحي مانا بحث کوو:

لغت کې د پاشلو مانا لري. پتې، تیت و پرک او بې‌نظمه خبرې. هغه کلام دی چې شعر نه وي، د نظم خلاف؛ چې منظومو خبرو او شعر ته وایي. https://www.vajehyab.com/dehkhoda/

غیر منظومه لیکنه، هغه لیکنه چې شعر نه وي. https://www.vajehyab.com/moein/

نامنظوم کلام چې وزن او قافیه نه لري او ادبي صنعتونه تر شعر په کې کم دي.

https://www.vajehyab.com/amid/

مانا کې مشترک ټکی دا دی چې نثر د نظم مقابل کې دی او نظم غوندې وزن و قافیه په کې نه وي. ټول قاموسونه د کلمو په تغیر سره د نثر همدا ماناوې کوي، نو د همدغو دریو قاموسونو د مانا په راوړو لغوي مانا پرېږدو او پر نثر بحث پراخوو:

ډاکټر منصور رستګار فسایي خپل کتاب «انواع نثر فارسی» کې پر نثر جالب بحثونه لري، موږ یې ځای ځای پښتو شوی تخلیص راوړو:

انگریزي کې PROSE ورته وایي، اصل کې له PROSA یا PROVERSA نه اخیستل شوې کلمه ده، د سم او نېغ مانا لري چې همدې بې وزن و قافیې، مستقیم او صریح کلام ته وایي چې د شعر (POETRY) او نظم (VERSE) خلاف وي... . دغه تعریف ته په کتو ویلی شو چې نثر د وینا له دوو ډولونو دی، دغه دوه ډولونه نظم او نثر دي. نثر پاشلی وي او نظم کې بیا پیوستون وي... .

د استاد همای په نظر نظم او نثر په لغوي او اصطلاحي مانا یو له بله بېل او یو د بل خلاف دي. په عامه مانا سره ویلی شو چې نثر د خبرو لیکلې بڼه ده؛ خبر، فرمان او حکم، پوښتنه، تعجب یا هغه لیکونه چې خلک یې یو تر بله تبادله کوي، په کې راځي او هدف یې نورو ته د خپل ما في الضمیر بیان وي.

په دې ترتیب نثر په اصطلاح کې هغه لیکلې خبرې دي چې سینګار شوې نه وي، وزن و قافیه ونه لري او په دې طریقه سره د ویناوال او لیکوال موخې د نظم یا شعر خلاف په بېل ډول بیان شي. نثر په عام تعریف سره د شعر مقابل کې دربېري او لاندې ځانګړنې لري:

۱ـ ساده او لیکلې خبرې دي چې جملې یې یوه تر بلې تړاو ولري، مانا په کې واضحه، څرګنده او رسا وي، فکري نظم په کې وي، مانا هېڅکله په کې پرې نه شي او د ګرامري اصولو پیروي په کې شوې وي.

۲ـ ساده او لیکلې خبرې دي چې د شعر له ټولو قیدونو؛ وزن، قافیې، لفظي- ماناوي صنعتونو او شعري ښکلاوو ازادي په کې وي.د لفظ، مانا، قالب او موخې له پلوه د شعر خلاف وي.

۳ـ  اساس یې ورځنۍ خبرې اترې دي چې د ژبې طبیعي ځانګړنې لري. د وخت په تېرېدو سره یې ادبي اغېز له محاورې لرې کوي خو د خپل وخت د محاورې مطابق وي. په دې مانا نثر د خاصو او عامو او وړو-زړو لپاره د پوهېدو وړ وي. ویلی شو چې دا د خبرو اترو رسمي او لیکلې بڼه ده او د ساده، مرسل، مطلق، محاوروي او عام نثر په نومونو یې نومولی شو.

۴- په دې عامه مانا د نثر هدف نورو ته د فکر طبیعي انتقال دی.

۵- د نثر دې ډول کې د کلماتو له ډلې هغه الفاظ انتخابېږي چې خلکو ته اشنا او د مانا د بیان لپاره مناسب او رسا وي او لفظ یوازې د مانا د بیان وسیله وي.

٦- هغه الفاظ چې نثر یا لیکنه کې کارېږي د خبرو له لحن سره توپیرونه لري او معمولا هغه الفاظ انتخابېږي چې رسمي وي او د لغاتو کتابونو کې ثبت وي، اهنګ یې ښکلی وي او د خبرو له ژبې یې ښکلا زیاته وي.

۷- نثر چې ژوند سره د تړلو فکرونو د بیان لپاره دی نو کارؤنه یې تر شعر زیاته ده... . (۳۱: ۹-۱۱)

په ټوله کې وینا پر دوو ډولونو وېشل کېږي؛ د خبرو یو ډول نثر او بل یې نظم دی. نثر او نظم بیا له مختلفو زاویو پر نورو ډولونو وېشل کېږي. پر نظم دغړېدو ځای دا نه دی؛ زموږ کار له نثر سره دی نو راځو د نثر پر ډولونو خبره کوو.

## ۱-۱د نثر ډولونه

نثر هم د وینا په څېر په عمومي ډول پر دوو برخو وېشل کېږي:

## ۱- ساده نثر

## ۲- مسجع نثر

**۱- ساده نثر:** ساده نثر دا دی چې تاسې یې دا اوس لولئ؛ دلته نظمي توکو لکه وزن و قافیې... ته پام نه کېږي. ما في الضمیر په ساده ژبه بیانېږي.

**۲- مسجع نثر:** سجع عربي کلمه ده، لغت کې د قمري یا ګوګوشتو او کوترې اواز ته وایي او درې ډوله ده:

**۱- متوازي سجع:** هغه ده چې د سجع کلمې د غږونو شمېر، وزن او روي کې سره برابرې وي؛ لکه: زه پیرو د نفس و د هوا، محبوس د غنا، ګرفتار د دام بلا.

دلته هوا، غنا او بلا د سجع کلمې دي، درې واړه درې توري لري او «الف» په کې روي دی.

**۲- متوازنه سجع:** هغه ده چې د سجع کلمې د تورو شمېر او وزن کې مساوي وي خو د روي اختلاف په کې وي. لکه:... د طریقت له ارکانو زما د ستروي یادول دي، په ژبه په زبان او د حقیقت له ارکانو پټ ذکر دی په هر دم مدام.

دلته زبان او مدام د سجع کلمې دي، د دواړو د تورو شمېر څلور دی او وزن یې مساوي دی. «ن او م» یې روي دي چې اختلاف په کې دی.

**۳- مطرفه سجع:** هغه ده چې کلمې روي کې سره برابرې وي خو د تورو شمېر او وزن کې مساوي نه وي. لکه: مقدمه د کتاب مقرره په دوه فصله؛ اول فصل د ذکر د دستار او د دستار د قابلیت، دویم فصل مذکور د ولایت او اسباب سیاست او ریاست... . دلته قابلیت، ولایت، سیاست او ریاست د سجع کلمې دي. قابلیت شپږ توري دی او نورې درې د پنځو تورو کلمې دي. د تورو شمېر کې اختلاف دی او روي یې «ت» ده چې مشترکه ده.

د سجع د درې واړو ډولونو نمونې د پوهاند محمدابراهیم همکار له «لیکوالي» اثر نه رااخیستل شوې دي.

مسجع نثر کې وزن و قافیې ته پام کېږي خو داسې نه ده چې مسجع نثر بشپړ نظم دی؛ د نظم ځینو ارکانو ته پام په کې کېږي، د نظم د ټولو قواعدو مراعات نه په کې کېږي. ډېر کله د جملو د پای کلمو کې قافیې ته پام کېږي، سیلابونه، وزن، اهنگ... یې لکه د نظم تر یوې قاعدې لاندې نه وي؛ ډېرېږي- کمېږي او دا یې عیب نه حسابېږي خو که عروضي نظم کې د سیلابونو شمېر، وزن، اهنګ... ته پام ونه شي نظم به عیبجن وي.

مسجع نثر پخوا دود و، اوس کې یې لیک نه ښکاري او پرې ډېر بحث ته اړتیا نشته. که څوک مسجع نثر لیکي مانا یې دا ده چې ځان ازاروي. که متن کې خپله سجع راتله راځي دې، ممکن د وزن له پلوه متن ښکلی هم کړي خو پابندي یې نثر ښکلی کولی نه شي. که نثر لیکو ساده غوره دی؛ مانا نهٔ په کې ژوبلېږي او لیک و لوست یې اسان دی. که وزن و اهنګ ته ضرور پام کېږي نو بیا نظم شته؛ نظم دې ولیکل شي.

د همدغه مسجع نثر لړ کې څو نور ډوله هم لیدل کېږي:

«**مرجز نثر:** هغه دی چې د یوې فقرې اکثر کلمې د بلې فقرې له مقابلو کلمو سره یو وزن ولري خو همقافیه نه وي.

**مرصع نثر:** هغه دی چې د یوې فقرې کلمې د بلې فقرې له مقابلو کلمو سره هم هموزنه وي او هم همقافیه وي.»

(۱۲: ۳۰)

بېلګه: «حمزه د پېړو سړی دی، حمزه د سړو سړی دی، حمزه د صدو سړی دی.»

(۳: ۱۸۰)

دلته دغو درو جملو کې وینو چې شمېر يې مساوي دی، وزن او قافيه کې سره جوړې دي، څلور کلمې خو په کې شريکې هم دي.

«**فني نثر:** دغه نثر د ساده او مسجع نثر له يوځای کېدو رامنځ ته کېږي. دې نثر کې د عربي لغتونه، ګړنې، ترکيبونه، حديثونه، ايتونه... رواړل کېږي. دې نثر کې لفظي او معنوي صنعتونه لکه اطناب، تناسب، متجانسه، سجع، تضاد، تقابل او اقتباسونه، تلميحګانې، تشبيه‌ګانې، مجاز، استعاره او نور په پام کې نيول کېږي. همدا توکي د فني نثر اساس دی.

دې نثر کې د شعر پله درنه وي، ځکه چې د معاني او بيان برخه په کې زياته وي.

د کاظم‌خان شيدا دا نثر فني نثر دی:

«او سره له هغه سبب ګويا علت غايي له دې همه دماغ‌سوزۍ او مقصود د اصلي له ډېرې چراغ‌افروزۍ دا دی چې په شرط د حسن قبول تر هغه چې په دا تېره خاکدان او تېره سخندان باقي وي او نکته‌داني اشعه و اثار لري او خوشخواني شاعه و اشعار يو- نيم بيت و غزل له دې مجموعې طب اللسان د ارباب ذوق وي او ضمناً يې مولف په دوعا يادېږي او په اثر د دې دوعا له تابعانو شي او په يمن د تبعيت له مقبولانو... . اميد له اشفاق د اخون الصفاء او له وفاق د خلان الوفا هسې لرم چې دا حرف ريزه په مقتضی د کمال شفقت، دردانه فرض کا او ګوش د سماعت ورته وښيي... .»

(۷۳:۱۵۰)

«ځينو کسانو د لفظ او ظاهر له مخې نثر پر درې ډوله وېشلی دی:

**۱- وزم‌وال:** هغه چې يو څه وزم په کې وي، مګر قافيه نه لري.

**۲- قافيه‌وال:** هغه دی چې عبارت يې وزم‌وال نه وي، مګر د جملو په اخر کې يې سجع او قافيه راغلې وي.

**۳- عادي نثر:** هغه ته وايي چې نه وزم لري او نه قافيه او له دواړو څخه ازاد وي. دا ډول يې ښه او کامل نثر دی. په اوسني وخت کې ټول ليکونه، اخبارونه، کتابونه په همدغه ډول نثر ليکل کېږي.»

(۱۹ :۳۴)

دا د شکل له مخې د نثر وېش و، د مانا له مخې بیا پوهان نثر درې ډوله بولي.

«**خبرې اترې یا مکالمه:** هغه خبرې چې خلک یې د یو بل د پوهولو لپاره په عادي ډول کوي.

**خطابي یا د وینا نثر:** هغه خبرې چې لوی خلک یې د سټېج پر سر د خلکو ډلو ته کوي.

**د لیک نثر:** هغه چې د علم د لېږد لپاره لیکل کېږي، لکه د کتابونو او مقالو نثر.»

(۳۴: ۱۴)

د نثر دغه لومړی ډول تر ټولو اسان نثر دی؛ مکالمه یا ورځنیو خبرو کې ځوک دې ته ډېر پام نه کوي چې کومه کلمه وکاروي او کومه و نه کاروي. بس په طبیعي ډول چې څرنګ کلمات سره ملګري شول له خولې وځي.

د نثر دویم ډول وینا ده، وینا بیا تر عادي خبرو اترو ګرانه وي، ویناوال دې ته پام کوي چې کلمات یې مهذب وي، پر اورېدونکو اغېز وکړي او خپل ما في ضمیر په ښه بڼه نورو ته ولېږدوي.

درېیم ډول د لیک نثر بیا تر ټولو ګران نثر دی. خبرو اترو او وینا کې انسان سره د اشارو مرسته وي؛ د لاس، سترګو... بېلابېل حرکات د مفهوم وضاحت کې مرسته کوي، د متکلم له اندازه مالومېږي چې ټینګار کوي، عادي حالت کې دی، غوسه دی... خو د لیک نثر کې کلمو سره د اشارو مرسته نه شته او لیکوال به هر څه د کلمو په واسطه بیانوي. همدې محدودیت لیک تر وینا او خبرو اترو ګران کړی.

پوهاند رښتین وړاندې وایي چې اروپایان نثر پر څلورو ډولونو وېشي:

«**۱- تاریخي نثر:** په تاریخي نثر کې حقیقي او رښتیانی پېښې او کیسې بیانېږي. یعنې د پېښو، حادثو او د هغو د سببونو او نتیجو بیان ته تاریخ وایي.

**۲- قصصي نثر:** له کیسو څخه مطلب هغه افسانې دي چې د اخلاقي غرضونو یا نورو مقصدونو دپاره لیکل کېږي.

**۳- خطابي نثر:** هغو اغېزناکو ویناوو ته وایي چې د سیاسي، مذهبي او نورو مطلبونو دپاره په ټولنو او غونډو کې ویل کېږي.

**۴- د کتابونو او رسالو نثر:** په دې برخه کې ټولې علمي، ادبي ليکنې، شخصي او رسمي ليکونه، څېړنې او تحقيق، مذهبي او ديني ليکنې، ادبي ټوټې، ژوندليکونه او داسې نور شيان راننوځي.»

(۳۴: ۱۴)

استاد روهي د نثر او د نثر د ډولونو اړوند ليکي:

«په انگرېزي ژبه کې نثر ته (prose) وايي. د نثر اصطلاح د هغه په پراخ مفهوم سره پر هغو ټولو ليکنو او گړنيو څرگندونو باندې تطبيقېږي چې منظمه اهنگواله بېلگه نه لري. کله چې په ادبپېژندنه کې د نثر په باب خبرې کوو نو هغه د ژبپوهنې له نثر سره يو څه توپير لري. په ادبياتو کې هر ډول گډې وډې او تصادفي خبرې نثر نه بلل کېږي. ښه نثر يو ډول اهنگ لري، په غوږو خوږ لگېږي خو دغه اهنگ ټاکلی نظم او قاعده نه لري او له همدې امله له نظم (Verse) سره توپير لري. د نثر اهنگ د متريک اوزانو تابع نه دی، ځينو ادبپېژندونکو د نثر ځانگړتياوې په دې ډول ښودلي دي:

۱- نثر منظم او باقاعده اهنگ نه لري.

۲- په نثر کې گرامري قاعدې او منطقي ارتباط ساتل کېږي.

۳- نثر سبک لري، که څه هم د يو ليکوال سبک به د بل له هغه سره يو شانته نه وي.

۴- نثر سربېره پر گرامري او منطقي قواعدو د فصاحت د اصولو پيروي هم کوي. هنري نثر يا ادبي نثر د بديعي مختصاتو په درلودلو سره له عادي نثر څخه تفوق لري. دغه يادونه موږ دې ته رابولي چې د نثر په ډولونو باندې بحث وکړو. د لويديځ ادبپېژندونکي په عنعنوي لحاظ نثر په څلورو ډولونو وېشي: تشريحي، توصيفي، استدلالي او داستاني.

په (انسايکلوپېډيا برېټانيکا نولس‌سوه‌اويايم کال) کې نثر په درو ډولو وېشل شوی دی: توصيفي (د پېښو، خلکو، ځايونو، شيانو)، تشريحي يا توضيحي او هيجاني يا احساساتي.

د نثر ډولونه معمولاً د انشاء (ليکوالۍ) د بحث په ترڅ کې تر څېړنې لاندې نيول کېږي. دلته دا يادونه هم ضرور ده چې د نثر پاسني ډولونه په نږه (خالص) شکل په ندرت سره ليدل شوي دي خو بيا هم د اصلي او ضمني ډول تر منځ په اسانۍ سره د بېلتانه کرښه ايستل کېدی شي.

د مثال په توګه په اکثرو داستانونو کې د کرکټر، ځای او پېښو توصیف راځي خو څرنګه چې توصیف د داستان په ترڅ کې راځي او د لیکوال اصلي هدف د داستان لیکنه ده نو موږ د هغه اثر نثر ته داستاني نثر وایو، اوس به ډولونه په لنډه توګه تعریف کړو:

## ۱- تشریحي نثر (Expository)

دغه ډول نثر له تعریفونو، جریانونو (پروسو)، تعمیمونو، مفکورو او پرنسیپونو سره اړه لري او له دې امله هیجاني او بدیعي اړخونه یې تقریباً د نشت برابر دي.

له تشریحي نثر څخه زیاتره د علمي تحلیل، ترکیب، مقایسې او تصنیف لپاره کار اخیستل کېږي، ځینې یې توضیحي (Expository) نثر هم بولي.

## ۲- استدلالي نثر (Argumentative)

په داسې حال کې چې تشریحي نثر په عمده توګه یوه موضوع، یوه مفکوره یا تیم توضیح کوي؛ استدلالي نثر زیار باسي د منطق او برهان په واسطه لوستونکي یا اورېدونکي د یوه تیزس حکم په صحت یا بطلان قانع کړي، برهاني نثر د ذهني اقناع او عمل ته د هڅونې او په یوه مفکوره د ګروهونې (معتقد کولو) لپاره په کارېږي.

## ۳- توصیفي نثر (Descriptive)

په توصیفي نثر کې د حسي تجربې (عاطفي ادراک) موضوع په داسې توګه بیانېږي چې لیکونکی مقابل طرف ته خپل احساس انتقال کړي او په هغه کې عاطفي عکس‌العمل راوپاروي.

توصیفي نثر یوه پېښه، یوه منظره، یو شخص یا خلک یا شیان له یوه ټاکلي هدف سره په ښکلو، مشخصو او فصیحو الفاظو سره بیانوي.

## ۴-داستاني نثر (Narrative)

په دغه ډول نثر کې خیالي یا واقعي پېښې د زمان او مکان په ترتیب سره بیانېږي. ساده داستاني نثر پېښې په کرونولوجیکي ډول سره بیانوي خو هغه نثر چې طرح لري او د هنري پرنسیپونو په احساس لیکل شوی وي، طرح لرونکی داستاني نثر بلل کېږي.

ویل کېږي چې د نثر هر ډول له یوه ټاکلي هدف سره اړه لري. تشریحي نثر د معلوماتو له زیاتولو سره مرسته کوي.

استدلالي نثر د یوه تیسېس د اثبات یا د چا د مفکورې او نظر د اړولو لپاره په کارېږي. توصیفي نثر د عاطفي او ایستیتیکي ازانګې د پارولو لپاره یو کوښښ دی او داستاني نثر هم د تخیل د ویښولو او تفنن یا اخلاقي ښوونې په منظور لیکل کېږي.

د نثر هر ډول ځان ته خپله ژبه او جلا سبک لري. د علمي حقیقي مسایلو د حل لپاره له تشریحي یا توضیحي نثر څخه کار اخیستل کېږي او دا به ډېره مشکله وي چې مثلاً د کیمیا یا بیولوژي موضوعګانې په ادبي نثر ولیکو. همدارنګه په کوم ځای کې چې توصیفي نثر مناسب ښکاري هلته باید له تشریحي نثر څخه کار وانخلو، د مثال په توګه دا لاندې دوې جملې سره پرتله کړئ:

بادونو پاڼې ښورولې.

د ونو د پاڼو د ښورېدلو علت باد و.

لومړۍ جمله په توصیفي نثر لیکل شوې ده، په داسې حال کې چې دویمه جمله د تشریحي نثر په بڼه راغلې ده. که وروستۍ جمله د یوې منظرې د توصیف لپاره استعمال شي د لیکوالۍ له معیارونو سره سمون نه لري. فصیحه وینا هغه ده چې د حال مقتضا سره مناسبه وي.»

(۴۱: ۱۸۱)

موږ روسته پر فصاحت و بلاغت... بحث کوو خو د روهي صېب د روستۍ جملې اړوند به دومره ووایو چې د حال له مقتضا سره سمه وینا بلیغه بلل کېږي.

## ۲-۱ منثور شعر

تر دې ځایه پر خالص نثر وغږېدو، د دغه خالص نثر تر څنګ موږ یو ډول بل نثر لرو چې د شعر خواږهٔ پرې ګډ دي او یا به ووایو چې د نثر په جامه کې شعر دی. دغه نثرونه د شعر د اساسي توک «تخیل» درلودو له کبله شعرونه بلل

کېږي. دلته د شعر هغه مېټريک وزن نه وي خو شعري کيفيت پرې خور وي. د وزن له مخې پر شعر او نثر د متن وېش اوس کې د تامل وړ دی؛ منثورو شعرونو دغه وېش له ستونزې سره مخ کړی. که وزن ته په کتو د متن وېش کېږي نو بيا داسې متنونه شته چې شعرونه بلل کېږي خو شعرونه نه وي؛ وزن په کې وي خو تخيل په کې نه وي. دغه ډول شعرونه، شعرونه نه دي نظم ورته ويل کېږي. په مقابل کې يې داسې نثرونه لرو چې وزن نه لري، خو شعر ورته وايه شي، وجه يې دا ده چې شعري کيفيت پرې خور وي. د شعر د توکونو له ډلې د تخيل تومنه په کې درنه وي. دغه وجه ده چې د شکل له مخې بايد شعر پر دوو ډولونو ووېشل شي؛ منظوم شعر او منثور شعر.

منظوم شعر هغه دی چې د وزن تر څنگ ټول شعري توکي؛ تخيل، احساس، عاطفه، مفکوره... ولري.

منثور شعر بيا داسې وي چې عروضي او مېټريک وزن نه لري خو تخيل، احساس، عاطفه، مفکوره... په کې وي.

استاد روهي د نظم/ شعر او نثر پر توپير او تاريخچه داسې ليکي:

«په ځينو وختونو کې د ازاد شعر او اهنگوال ادبي نثر خيمې څنگ په څنگ سره درېږي. ښايي د هر يوه خيمه معلومه وي خو نندارچي يې په تشخيص کې له ستونزو سره مخامخ کېږي. د دې لانجې د سپيناوي لپاره به د ازاد شعر او شاعرانه نثر اصطلاحات توضيح کړو.

له يوناني فيلسوف (ارستو) نه رانيولې تر نن ورځې پورې عام تصور دا دی چې هر نظم شعر نه بلل کېږي، ځکه د شعر اصلي جوهر خيال دی، نو که په نظم کې ذهني انځور (ايماژ) او خيال نه وي د شعر حکم وربانديې نه شي کېدی، د منطق پوهانو په نظر شعر مخيل کلام دی؛ وزن او قافيه يې لوازم دي. د دغې مفکورې پر بنسټ ځينو شاعرانو له وزن او قافيې سترگې پټې کړې او داسې شعرونه يې وويل چې متريک تقريباً عروضي وزنونه او قافيه يې نه درلودل. په انگرېزي کې دغه ډول شعر ته (Free Verse) او په فرانسوي کې(Verse Libre) وايي چې اصلي مانا يې ازاد نظم دی خو زموږ اديبان يې د ازاد شعر په نامه يادوي. ازاد شعر متريک (يعنې د نظم په کرښه کې اهنگواله بېلگه) او قافيه نه لري. په فرانسه کې ويکټور هوگو د نظم زاړه قيود لرې کړل، په جرمني کې نواليس د شپې په مدحه کې سندرې وويلې خو په اتهٔلس‌سوه‌يو کې يې د نثر په بڼه چاپ کړې. له دې نه مخکې د ميک فرسن نظمونه، چې (د اوسيان نظمونه) نومېږي، په اهنگوال نثر ويل شوي وو. په اتهٔلس‌سوه‌شپږدېرشم کال کې اليويسوس‌برتراند منثور نظمونه ويلي وو او د فرانسې نامتو شاعر شارل‌بودلر د هغه پيروي وکړه. د امريکې په متحده ايالاتو کې نامتو شاعر (والت‌وايټمن)

خپل اثر د وښو پاڼې په ازاد شعر ولیکه. هاینریش‌هاینه مشهور جرمني شاعر شمالي بحیره په ازاد شعر وویله. په دې لړ کې د هېنلي‌ماتیوارنولد، امی‌لووېل د پولي فونیک شعر نوښتگره او ستیفین‌کرین نومونه د یادونې وړ دي.

ازاد شعر مخالفان او مدافعان لري. په هر صورت دغه ډول شعر او د دغه شعر نوم د نړۍ د ډېرو شاعرانو؛ هوگو، وایټمن، هاینه له نومونو سره تړل شوی دی او د ادبیاتو په قاموسونو کې هم د ازاد شعر اصطلاح منل شوې ده.

د ځینو ادب‌پېژندونکو په نظر د ازاد شعر او ادبي نثر تر منځ توپیر د تخیل، شعري لوازمو او بدیعي مختصاتو پر اساس ممکن دی. د الیوت په عقیده د هر ازاد شعر تر شا د یو ډول اهنگ شبح شته. په عمده توگه ازاد شعر د شعر د میخانیکي کېدو پر ضد اعتراض دی. داسې هم ویل کېږي چې وزن د مادي شیانو او د شعر ذاتي توک نه دی اما په دې صورت کې شاعرانه نثر (Poetic Prose) او منثور شعر کې زیات ورته‌والی لیدل کېږي. ځینې ادب‌پېژندونکي وايي چې د دواړو تر منځ توپیر د نوښتگر لیکوال په قصد او ارادې پورې اړه لري. د ځینو نورو په عقیده منثور یا ازاد شعر کې د اهنگ ونډه زیاته ده او د دواړو ډولونو تر منځ د توپیر معیار شعریت دی. څرنگه چې په ازاد شعر کې فني او ظاهري خصایص نشته او که وي هم د نظم په اندازه نه دي نو باید د شعر د پېژندلو لپاره د شعر معنوي عناصر وپېژنو. د شعر معنوي عناصر عاطفه، مفکوره او تخیل دي. د تخیل (ایماژ، ذهني انځور) عمده لوازم تشبیه، مجاز، کنایه او استعاره دي. هر څومره چې په نثر کې د تخیل برخه زیاته وي به هماغه تناسب یې شعریت هم زیات دی.

سربېره پر دې ازاد شعر د شاعرانه نثر په نسبت یو ډول اهنگ لري. که څه هم دغه اهنگ به متریک نه وي.

د دې بحث له نغاړلو نه مخکې به د «سپین شعر» اصطلاح هم توضیح کړو، ځکه چې زموږ ځینې لیکوال ازاد شعر او سپین شعر په عین مفهوم استعمالوي.

سپین شعر په انگرېزي کې د (Blank Verse) یعنې سپین (خالي، تش) نظم په نامه یادېږي. د سپین شعر مفکوره د هیومانیزم (څوارلسمه-شپاړسمه پېړۍ) د نهضت تر اغېز لاندې ایجاد شوه. هیومانیستانو به ویل چې کلاسیک شعر قافیه نه درلوده. په انگرېزي کې سپین شعر د لس څپه‌ییزو بې‌قافیې مسریو څخه روغ شوی دی چې دویمه، څلورمه، شپږمه، اتمه او لسمه څپه یې خجونه (اکسنټونه) لري. دغه ډول شعر له ډرامې سره جوړ دی خو داستاني او فلسفي موضوعگانې هم په کې بیان شوې دي. ویل کېږي چې سپین شعر زیات مهارت او قریحه غواړي، که څه هم سپین شعر قافیه نه لري خو په عوض کې یې یو لړ نور ادبي صنایع استعمالېږي.

وايي چې د سپين شعر لومړی ويونکی (Surrey) دی. په لومړيو وختونو کې دغه ډول شعر ډرامې ته وقف شوی و، ملټن هغه په اييک شعر واړاوه. کله چې سپين شعر د نابغه ډراماټيسټ شکسپير په لاس ورغی نو سپين شعر د ممتاز شعر په توګه ومنل شو. د سپين شعر تر ټولو ستر استازي شکسپير، مېلټن، وردزورث، کېټس، شېلي، ټينېسن، براونېنګ، سوين برن، او نور دي. انګرېزي ادبپوهانو محاسبه کړې ده چې سپين شعر په مجموع کې د انګرېزي شعر درې څلورمه برخه تشکيلوي.

په دې وروستيو وختونو کې ځينې ادبي کره‌کتونکي سپين شعر په پراخ مفهوم استعمالوي او هر هغه شعر ته چې متريک بې‌قافيې شکل ولري سپين شعر وايي. پر دې اساس هغوی ازاد شعر د سپين شعر په نامه يادوي. د پښتو ادبياتو يو نامتو مؤرخ ليکي: ازاد پاړکي چې سپين شعرونه او بې‌قافيې شعرونه هم ورته وايي او ځينې کسان يې نوي شعرونه هم بولي؛ په ختيځ کې نوې پديده ده. په پښتو کې هم د ازادو شعرونو دودېدل د وروستۍ نيمې پېړۍ سوغات دی.

د سپين شعر، ازاد شعر او نوي شعر تر منځ د توپيرونو په باره کې بحث کول زموږ اصلي موضوع نه ده خو دومره يادونه په کار ده چې ازاد شعر ډېر ځله وزن او قافيه نه لري او له همدې امله هغه ته منثور شعر ويلی شو اما سپين شعر د خج په حساب د يو ډول اهنګ درلودونکی دی.»

(۴۱: ۱۸۳)

که پښتو شاعرۍ کې ازاد شعر مطالعه کوو او وزن د سېلابونو د شمېر په مانا اخلو نو بيا ازاد شعر کې وزن نشته، قافيه هم نه لري خو يو ډول اهنګ په کې دی. دغه اهنګ ازاد شعر د دې جوګه کړی چې حتی موسيقۍ سره ويل کېدی شي. پښتنو سندرغاړو ځينې ازاد شعرونه سندره کړي هم دي. لکه د نامتو شاعر پيرمحمد کاروان دغه ازاد نظم چې «هسې» نومېږي او هارون‌باچا سندره کړی:

**«هسې**

تا وې زړه کې مې خبرې
ما وې څه دي راته وايه
په موسکا دې وې چې هسې
ما وې هسې دې قربان شم
په دې هسې کې دې څه دي

څه خواږه دي که تراخه دي

دا ګلونه که اوبه دي

وایه څه دې چې په زړه دي

***

تا وې نه نه هېڅ هم نه شته

نه خواږه شته نه تراخه شته

نه ګلونه نه اوبه شته

خو بس هسې یو څه شته دي

نه پوهېږم چې دا څه دي

په دې زړه کې مې پراته دي

څه دردونه دي خواږه دي

کله لږ شي کله ډېر شي

لاس تر غاړې مې چاپېر شي

رایادېږي رایادېږي

نه هېرېږي نه به هېر شي

***

ما وې یا شومې بخیلې

ننواتې درلېږمه

خپلې ماتې ګوډې هیلې

دا خواږه خواږه دردونه

پاڅه ټول راسره نیم کړه

نیم به ستا نیم به زما شي

دا په تول راسره نیم کړه

تا وې نه کېږي شاعره

ما وې ولې ولې ولې؟

تا وې هسې هسې هسې

ما وې هسې دې قربان شم
تا وې ولې ولې ولې؟
ما وې هسې هسې هسې
۱۳۹۴/۱۹/۲»

(٦۱: ۱۵٦، ۱۵۷)

د ازاد شعر تر څنګ ټپې د پښتو ولسي ادب سرلاری ژانر دی چې د مېسرو د سېلابونو شمېر یې مساوي نه دی؛ لومړۍ مېسره یې (۹) سېلابه ده او دویمه یې (۱۳) سېلابونه لري خو موسیقیت یې نمونوي دی او سندرغاړو په بېلابېلو کمپوزونو کې ویلې دي. د پښتو عروضي او ولسي شاعرۍ هېڅ صنف کې تر ټپې زیات موسیقیت نشته.

استاد لعل‌پاچا ازمون د منثور او منظوم شعر د توپیر لړ کې داسې وایي:

«د منثور شعر په باب یوه تیوري دا ده چې: منثور شعر له مقید او دودیز وزن او قافیې نه د شاعرانه لفظونو ازادي ده، هغه کلام ته وايي چې د نثر په چوکاټ کې شعري توکي (خیال، عاطفه، احساس، فکر او اهنګ) ځان راڅرګند کړي.

ځینې منثور شعر ته سپین شعر هم وایي، خو زما په اند د منثور شعر او سپین شعر تر منځ په منځپانګه او هنریت کې نه بلکې د لیکلو په ترتیب کې یوه نرۍ پوله شته، هغه دا چې د سپین شعر د لیکلو ترتیب داسې دی چې جملې او فقرې یې لنډې او یو په بل پسې پیوسته نه لیکل کېږي، بلکې د نظم په څېر مېسره مېسره لیکل کېږي، یعنې هره جمله او فقره مېسره مېسره وي. یو خاص اهنګ لري، جملې یې هم زیاتره مهال پر ګرامري قواعدو برابرې نه وي. په منثور شعر کې بیا دغه ترتیب ته ډېر پام نه کېږي. سپین شعر د منثور نظم یوه بڼه ده.

منثور شعر عام دی، د سپین شعر په څېر یې په لیک کې بندیز نشته او نه د هغه په څېر ټوټه ټوټه لیکل کېږي. البته لیکنښې په دواړو کې بنسټیې دي. د هنر او ښکلا له مخې کېدی شي چې سپین شعر د منثور شعر یوه بڼه یا ډول وبولو.

په منثور نظم کې بیا موږ دوه متضاد نومونه ګورو چې نظم او نثر دي. له منثور نظم نه زموږ موخه مسجع نثر او یا هغه نثر دی چې هره کرښه یې د نظم په څېر ولیکل شي خو وزن نه لري.

منثور نظم هغه فورم دی چې وزن نه لري خو د لیکنې یو ترتیب لري، دلته نظم د موزون کلام په مانا نه، بلکې په منظمه توگه د نثر ټوټه ټوټه برخې لیکلو په مانا راځي. هغه نثري ټوټې چې په لیکلو کې یو ځانګړی نظم ولري او دغه نظم د یوې تسلسل لرونکې منځپانګې وي، دا هم له مقید او هم له نامقید وزنه ازاد دی.

د دغو ټوټه ټوټه برخو یوه نیمه ټوټه وزن هم لري، خو دلته تاکید پر وزن نه بلکې د نثري ټوټو په منظمه توگه داسې لیکل دي چې نظم ته ورته وي، د شاعرانه جوهر په لرلو سره ورته سپین شعر هم ویلی شو.

موږ په پښتو ادبیاتو کې د جوړښت له مخې د منثور یا نثري نظم دوه ډوله بېلگې لرو:

**۱- سجع‌وال نثري نظم:**

هغه منثور نظم دی چې نثري ټوټې په کې په سجع راټولېږي او یوه مېسره له بلې بېلوي. په دې برخه کې موږ د پیر روښان مسجع نثر لومړی بېلگه گڼو:

او بایزیده وکښه، په نوم د الله په نوم د سبحان

لپاره د ادمیان

چې سازېږي پرې کارونه د مردان...

**۲-** هغه منثور یا نثري نظم چې ټوټې په کې په یوه منظم منځپانگیز تسلسل سره په داسې توگه ولیکل شي چې نظم ته ورته وي، خو وزن نه لري. یو ځانګړی اهنگ لري، دغه اهنگ د سپین نظم یا منثور نظم ټوټې سره منظموي، سپین نظم هم ورته وایه شي. که سپین نظم شاعرانه جوهر او ښېگڼې ولري نو بیا سپین شعر دی. سپین شعر یو مخیل شعر دی چې له قافیې او وزنه خالي دی او عروضي اصول نه پالي. په لومړیو کې سپین نظم یا سپین شعر هغه ته وایه شه چې قافیه ونه لري، خو کله چې شعر له وزن نه ازادي واخیسته نو همدا سپین نظم یا سپین شعر رامنځته شو. سپین یا منثور شعر د جوړښت له مخې یو خاص نثري اهنگ لري چې دغه اهنگ یې په جملو یا ټوټو وېشي.

... د اسحق ننگیال څو منثور نظمونه چې د منثور یا سپین شعر جوهر او کیفیت لري، دلته رواړو:

## ... مصطفی جهاد ته

زموږ مړينه

پرېوځه

ارام ویده شه

زموږ مړينه داسې ده

لکه زوکړه مو چې وه

او زوکړه مو

لکه مړينه مو چې ده

هغوی چې د خپلو کورونو

پر دسترخوانونو

ډوډۍ خوند نه ورکوي

ژوندي دي

پرېږده!

هغوی چې د پردیو د کاروبار

د افیونو او الکولو په چینو کې

د لغړو فواحشو

د پستو او مرمرينو غولانځو پر غرونو

يوه شېبه خوب

زموږ د ټولو په ژوند نه ورکوي

ژوندي وي.

او پرېږده!

هغوی چې ویاړ ګڼي

د خپلو ناوو پېغلتوب

له هغوی نه

په پردیو کټونو کې واخلي

ژوندي وي.

او

زه او ته

چې ژوندي وو، مړه وو

نو

پرېوځه

ارام ویده شه!

زموږ مړینه

لکه زوکړه مو چې وه

او زوکړه مو

لکه مړینه مو چې ده.

۳۰/۵/۱۳۷۰ کابل

## درد

د پلار مړينه مې وليده

او د ورونو زړه‌چاودون هم

لوږې مې ډېرې وزغملې

او تندې هم

خو يوه يې دومره دردوونکې نه وه

لکه:

نشه چې نه وي پوره

او ښېښه پای ته ورسي

۱۷/٦/۱۳۷۰ کابل

شاعرانه لفظونه يا کلمې پر اصلي مانا سربېره ضمني مانا هم ښېندي. په دې ځای کې د کلمو پر مانا سربېره د غږونو تر منځ موزيکال او اهنگين تړون هم مطالعه کېږي.

بل منثور شعر د کلام له داخلي او معنوي موسيقۍ رامنځته کېږي.

د کلام داخلي موسيقي په کلمو کې د توريو تر منځ ترتيب او غږيز تړون دی.

معنوي موسيقي په کلام کې له خيال، فکر او عاطفې رامنځته کېږي.

منثور شعر له ذهني او عيني بيانه رغېږي. ذهني بيان د عواطفو ذکر دی او عيني بيان شاعرانه چاپېريال‌جوړونه يا فضا رامنځته کول دي. په منثور شعر کې دغه دواړه برخې موثرې دي. همدا برخې دي چې د مخامخ لوري د حواسو، عواطفو او تخييل په پارونه کې ونډه اخلي.»

(۲۰: و)

د نظم، شعر او نثر د توپیر لړ کې دومره نېژدېوالی دی چې د استاد روهي او استاد ازمون لوړو اقتباساتو کې ځای ځای د نظم او شعر کلمې یوه د بلې پر ځای راغلې دی.

دغه توپیر گران دی خو زه خپله هڅه کوم چې تر منځ يې نسبتاً واضح کرښه راوکاږم:

**نظم:** هغه وينا ده چې وزن ولري، اهنگ په کې وي، ممکن رديف و قافيه ولري... . كه سندغاړی يې سندره کوي په اسانه يې كولى شي خو شعري توكي تخيل، عاطفه، احساس، مفكوره په كې نه وي. لكه د خوشال‌خان طب‌نامه چې طبي نسخې دي او په نظم كې دي.

**«د ټوخي دارو**

مستیاره که ښه میده شي

د خوږې گوړې سره شي

په نهاره يې څوک خورينه

هر رنگ ټوخی ورکوينه

تبه هم پرې صحت مومي

درد او برېښ پرې د ملا درومي»

(۲۲: ۸٦۹)

**شعر:** هغه وينا ده چې اساس يې تخيل دی او نثر و نظم دواړو كې ويل كېږي. كه وزن په كې و منظوم شعر ورته ويل كېږي او كه وزن يې نه درلود نو منثور شعر يې بولي.

**نثر:** نثر دا دی چې وزن ته پام نه په كې كېږي، متن له ورځنيو خبرو اترو سرچينه اخلي. كه شعري توكي په كې وو منثور شعر دی او كه شعري توكي په كې نه ول نو ساده نثر ورته وايي، هغه چې په عربي نومؤنه يې مرسل نثر بولي. د نثر اړوند دغه وضاحت چې تاسې لولئ ساده نثر دی او د مصطفی سالک دغه ټوټه منثور شعر دی:

**سندره»**

هغه مهال چې د لمر وړانګې د مهرباني ناوې په څېر د نرګس په پستو پاڼو پروت شبنم د ناز په ګوتو ویښوي، زه ستا د مسلسل انتظار نوی پړاو پیلوم.

هغه مهال چې د شفق د وزرونو وروستۍ زرینې بڼکې له غره پنا شي او مرغان په خپلو منښوکو کې د بڼ شنو ونو ته نااشنا غمونه راوړي زما روح ستا په لور د شوق وزرې پرانېزي. هغه مهال چې ځنګل لکه د مولانا ملنګ د شپونکي شپېلۍ ته عارفانه اتڼ کوي او څانګې یې رڼو چینو ته ستوري راوړي، زه دې د تورو سترګو ازلي سُر او تال ته نوي راګونه جوړوم.

هغه مهال چې سپوږمۍ لکه حیاناکه ښاپېرۍ د غرونو په منځ کې راښکته شي او په خپل مرموز سندریز شور د جهیل خاموشي ماته کړي، په روح کې مې د درد خوږې څړیکې غزونې وکړي او د زړه له ژورو نه مې یوه نااشنا سندره په پورته کېدو شي.»

(۴۶: ۵۶)

**ازاد شعر:** دا د شکل له مخې د عروضي نظم قواعد نه مني، د مېسرو د سېلابونو شمېر مختلف وي خو یو ډول خاص اهنګ لري، د دې اهنګ په وجه موسیقیت په کې دی او سندغاړي یې سندره کولی شي، البته سندره کول یې د بشپړ نظم په نسبت ډېر کړاو غواړي.

د وزن له مخې ټپه ازاد شعر ته ورته ده خو موسیقیت یې کامل دی. ټپه ځانګړې چوکاټ لري؛ دوې مېسرې ده، لومړۍ مېسره یې (۹) سېلابه او دویمه یې (۱۳) سېلابه وي. بله ځانګړنه یې دا ده چې د دویمې مېسرې د پای غږ یې واول وي. دغه د پای خپلواک غږ د ټپې موسیقیت نمونوي کړی دی. ازاد شعر بیا ځانګړی چوکاټ نه لري؛ نه یې د مېسرو شمېر مقید دی او نه د مېسرو د سېلابونو شمېر؛ کېدی شي زر... مېسرې وي، یوه مېسره یې شپږ، بله لس او بله څلور... وي. حتمي نه ده چې ازاد شعر دې شعر وي؛ کېدی شي ازاد نظم وي؛ هله به ازاد نظم ورته وایي چې تخیل په کې نه وي او هغه وخت به شعر ورته ویل کېږي چې د تخیل په شمول د نورو شعري توکو اهتمام په کې شوی وي.

سپین شعر بیا بېل شی دی، د روهي صېب د پاسني لیک پر اساس ویلی شو چې منظم وزن لري؛ هره مېسره يې لس څپې ده او پر جفتو څپو يې خج راځي. که خیال په کې و سپین شعر به ورته وایي او که خیال ته پام نه و شوی نو بیا سپین نظم ورته وایه شي. پښتو کې دغه سپین شعر یا سپین نظم مروج نه دی.

## ۲ـ د پښتو نثر پرمختیایي بهیر ته لنډه کتنه

«د پښتو د ادبي تاریخ د لومړۍ دورې په لاس ته راغلیو اثارو کې  د نثر برخه تر نظم هغې خواره هم ده او د قدامت په لحاظ وروستۍ هم. دا په دې معنا چې زموږ د معلوم نظم تاریخ تر نثر هغې پخوانی دی. دا جریان په ځینو شرقي ژبو کې د نظم او نثر د پیدایښت له روایاتو سره سمون لري. د زیاترو شرقي ژبو د ادبیاتو تاریخونه چې موږ وګورو، هلته نظم تر نثر لرغونوالی لري. د مثال په ډول دري، اردو، هندکو او بلوڅي ژبو کې د لاس ته راغلو نظمونو بولګې تر نثر هغې پخوانۍ دي.»

(۷٦: ۱۵۳)

لاس کې د لرلو او نه لرلو له مخې د پښتو د نثر اثار درې ډوله دي؛ لومړی هغه چې د نثر نمونه یې راسره نشته، یوازې د اثارو نومونه راسره دي، لکه د ابومحمدهاشم ابن الزید السرواني د «سالو وږمه»، موږ ته یوازې د دغه کتاب نوم د پټې خزانې په حواله رارسېدلی دی، دا چې دغه کتاب نظم و او که نثر دا هم پوره مالومه نه ده، زلمی هېوادمل د دې کتاب اړوند خپل نظر کې داسې ښیي چې ګنې دا کتاب به نثر و:

«دا کتاب ابو محمدهاشم ابن الزید السرواني (۲۲۳-۲۹۷ هـ ق) لیکلی و. دا صراحت شته چې کتاب په پښتو و. دا چې کتاب منثور و، په پټه خزانه کې یې ښکاره څه نه دي ویلي، اما د: «په پښتو یو کتاب کښلی و.» له جملې څخه سړی اټکل کولی شي چې دا کتاب به پښتو نثر و.»

(۷٦: ۱۵۴)

بل کتاب د محمد بن علي بستي «تاریخ سوري» دی او بل بیا د شیخ کته «لرغوني پښتانه» دی. پټه خزانه کې د ځینو شاعرانو احوال له تاریخ سوري نه اخیستل شوي دي. له تاریخ سوري نه دا اخیستنه شیخ کته په لرغوني پښتانه کې کړې ده او بیا د پټې خزانې مؤلف له لرغوني پښتانه رانقل کړي دي.

(۲۵ :۳۴)

دویم هغه کتابونه دي چې هم یې نوم راسره دی او هم یې د نثر نمونې لاس کې لرو خو کتاب به بشپړ نه وي؛ تذکرةالاولیاء همداسې یو کتاب دی چې پوره نه دی ترلاسه شوی. یوازې اووه صفحې یې حبیبي صېب پیدا کړې او بیا له سریزې سره چاپ کړې دي. د پښتو نثر د پیل اړوند چې خبره کوو نو په اسنادو یې تر دې کتاب وړاندې نه شو ښېولی. له بده مرغه چې دا کتاب بشپړ نه دی ترلاسه شوی.

درېیم ډول هغه کتابونه دي چې هم یې نومونه راسره دي، هم یې نمونې لرو او هم بشپړ کتابونه ترلاسه شوي دي. دغو ډول کتابونو کې خیرالبیان لومړی کتاب دی چې بایزید روښان لیکلی او بشپړ ترلاسه شوی دی. تر دې روسته چې بل کتاب د یاد وړ دی هغه د پیر روښان د فکري او سیاسي مخالف اخوند درویزه مخزن‌الاسلام نثري کتاب دی. تر اخوند درویزه وروسته چې بل کتاب د حساب وړ دی او د پښتو غنیمت اثر دی هغه د خوشال‌خان خټک دستارنامه ده. دا درې واړه کتابونه د پښتو د ادبي تاریخ د منځنۍ دورې دي، منځنۍ دوره کې د پښتو نثر نور لیکوال او نور کتابونه هم لرو. دا درې یې د سر اثار دي او د نورو یادونه به هم کوو.

پر یادو او څو نورو کتابونو او ناثرانو بحث پیلوو:

## ۱ـ۲ تذکرةالاولیاء

د کتاب د څلورو پاڼو یا اوو مخونو د پیدایښت اړوند علامه حبیبي (۱۳٦۱) کې داسې لیکي: « پنځوس کاله پخوا زه د هلمند د ناوې د ادم‌خان په کلي کې د زړو کتابونو د پیدا کولو په اسره د هغه ځای په ماجتو کې ګرځېدم. لرغونې حجرې او د خاورو او ګرزونو ډکې طاقچې مې پلټلې چې ډېرې زړې او ورستې پاڼې او کاغذونه به هلته د خزدکو او خټکانو خوراک وو.

دې سره شوړېدلو پاڼو ته چا له دې سببه لاس نه وروړی چې د زړو خطي او چاپ سوو قرآنو پاڼې به هم ورسره وې او خلکو به په دې سبب چې د قران عظیم د څیرو او خوړینو سوو پاڼو بې‌احترامي ونه‌سي، دغه به یې په یوه زاړه نړېدلي قبر کې اچولې چې د انسان یا حیوان تر پښو لاندې نه سي.

خلک ساده او نالوستي وو، نه پوهېدل چې ښايي په دغو زړو گرز او دود وهلو پاڼو کې به د اسلافو د ارزښتمنو اثارو څخه د کوم گټه‌ور کتاب څو پاڼې هم وي... .

په دغه تمه او هیله یوه ورځ په یوه ماجت کې پر یوه خطي دودوهلې او د گرزو ډکه، خزدکو خوړلې نسخه پېښ سوم. دا د حنفي فقې د فروعو د کنزالدقایق یوه د هندي چاپ بې‌سر و پایه شوړېدلې نسخه وه چې د پاڼو په منځ کې یې څلور پاڼې په یوه بل پرتې وې خو د خزدکو د تطاول وار لا نه و وررسېدلی.

دا پاڼې دولس‌نیم سانتي متره په سور او پینځه‌لس سانتي متره اوږدوالی لري، خط یې بد او بې‌خونده نسخ، خو کله نستعلیق ته ورته دی... .

په لومړۍ لیدنه داسې ښکاره سوه چې دا پاڼې پښتو دي او تر لومړي مخ د مخه چې کومه صفحه سپینه ده د متن په خط (هذا کتاب تذکرت اولیا) پر کښل سوي دي.

د دې خط او املا لوستنه زما لپاره ډېر سخت کار و، لس کاله دا پاڼې زما سره نالوستې پاتې سوې، خو په (۱۳۲۰) ش کال چې ما د پښتانه شعراء لومړی ټوک چاپاوه نو مې وکړای سوای چې دا پاڼې گرده ولولم.»

(٦٢: ب)

حبیبي صېب سلیمان ماکو داسې راپېژني: «دی د بارک‌خان صابزي ماکو زوی دی، چې د کندهار په ارغسان کې اوسېده، د ماکو قبیله تر اوسه هم په لږ تعداد هورې اوسي او په ابدالیو (درانیو) کې شاملېږي.»

(٦٢: ۵)

سلیمان ماکو بیا د تذکرةالاولیاء د لیکلو حال داسې بیانوي: «وایم حمد و سپاس د لوی خاوند او درود پر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم چې دی بادار د کونینو او رحمت د ثقلینو، لوی لوی رحمتونه دې وي د هغه استازي پر آل او یارانو چې دواړه جهانه په دوی دي روښان، اما بعد زه غریب خاورې سلیمان زوی د بارک‌خان ماکو سابزي چې په ویاله د ارغسان هوسېږم او په دې مزکو پایېږم، په سن دولس شپږ سوه د هجري تللی وم او د پښتنخا په

راغو او کلیو گرځېدم او مراقد د اولیا او واصلینو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان موندل او د دوی په خدمت کې خاکپای وم او هر کله په سلام ورته ولاړ.

چې له دې سفره په کور کېښېنستم او تناکې مې وچاودلې د ښنو، بیا پاڅېدم او له ښېښتنه مې مرستون سوم چې احوال د هغو کاملانو وکاږم او دوی چې هغه ویناوې پاته کړې دي او ښېښتانه به لولي اوس.»

(۶۲: ۲۳)

د سلیمان ماکو د کتاب ترلاسه شویو پاڼو کې د ښېښتو د څلورو شاعرانو احوال خوندي دي، دغه شاعران شیخ بېټني، ملکیار غرشین، شیخ اسماعیل او قطب‌الدین بختیار دي. استاد حبیبي د ده د تذکرې اړوند وایي: «... سلیمان د رجالو د ژوندانه احوال او د دوی اخلاق او کورنۍ او هم ادبي موقعیت ښیي او په دې ډول یو پوه سړی او سترگور مورخ ښکاري، نو د ده کتاب په حقیقت کې د تصوف کتاب نه دی، بلکې د شعر او ادب یوه گرانبها مجموعه ده.»

(۶۲: ۷)

د ماکو پر نثر د پارسي اغېز شته او د عربي له اغېز خوندي نه دی، په ټوله کې دغه نثر روان دی، د سجع له تکلف خلاص دی او داسې نه دی لکه لسمه هجري کې د پیر روښان او یا اخوند درویزه متکلف مسجع نثرونه، البته کله کله یې متن کې سجع هم محسوسېږي. د سلیمان نثر کې د «او» تړوییکي استعمال زیات دی او کله خو غیرضروري هم دی.

«د سلیمان نثر د عمومي محاورې څخه لیرې نه دی، جملې یې پرې پرې دي، وضاحت لري، مقاصد لنډ لنډ ادا کوي، د یوې جملې خبر په بله پورې مغلق نه پربېږدي او ځینې هسې زاړه تعابیر او ادبي مصطلاحات هم لري چې اوس نشته. د مثال په ډول تناکې وچاودلې د ښنو، چې مقصد یې په خپل مسکن کې ارام کول او هوسایي ده.»

(۶۲: ۱۱)

د تذکرې له متنه د بېټ نیکه ذکر او شعر راوړو:

## «ذکر قدوة الواصلین شیخ مشایخ بیټني

چې د خدای په پېژندگلوۍ تر ټولو لوی او بزرگ، نقل کاندي چې شیخ بېټني هوسېده په غره د کسي باندې او هلته دېره او ده به هر کله ښېښتن باله او روزه به و، په شپو به د خدای په عبادت بوخت و.

نقل هسې کاندي یارانو چې په روزګار د شیخ بېټني کې د ده ورور چې سړبن نومېد او پر شیخ هم خورا ګران و، سړبن نه درلود زامن او هر کله به ویل خپل ورور ته، بېټني خپل زوی اسماعیل ورکاوه او لوی سو په کاله، خدای مهربان د اسماعیل په برکت سړبن ته نصیب کړه دونې زامن چې اوس تر وس تېر سو ګڼون د هغو، د اسماعیل مرقد مبارک واقع دی د کسي پر غره، چې زه هلته تللی وم.

نقل کاندي چې بېټنی سپین‌ږیری سو، نو ده هر کله ښتن ستایه او رب ته به یې درخواست کاوه چې زما په کاله او د سړبن او غرغشت په کول کې برکت کښېږده. بادار قبول کړ د ده درخواست او ډکه سوه زمکه د پښتنخا د دوی په کول.

نقل کاوه سي چې شیخ بېټني به ډېر تر ډېره دا سندرې لولولې او د کسي غره کې به ګرځېده په شپې:

لویه خدایه، لویه خدایه

ستا په مینه په هر ځایه

غر ولاړ دی درناوی کې

ټوله ژوي په زاری کې

دلته دي د غرو لمنې

زموږ کېږدی دي په کې پلنې

دا وګړي ډېر کړې خدایه

لویه خدایه، لویه خدایه

دلته لړ زموږ اور بل دی

ووږ کورګی دی، ووږ بورجل دی

مېنه ستا کې موږ مېشته یو

د بل چا په مله تله نه یو

هسک او مځکه نغښته ستا ده

د مړو وده له تا ده

دا پالنه ستا ده خدایه

لویه خدایه، لویه خدایه»

(٦٢: ٢٣، ٢۴)

پوهاند رښتین د سلیمان ماکو د نثر د لفظي برخې اړوند (١١) ځانګړنې راوړې دي:

«١- دا نثر نه دومره اسان او روان دی او نه دومره ګران او سخت دی بلکې د ساده نثر برابره نمونه ګڼل کېږي.

٢- جملې یې ډېرې اوږدې او کشالې نه دي، بلکې لنډې لنډې دي.

٣- دا نثر نه وزم‌وال او نه قافیه‌وال، بلکې یو ازاد او عادي نثر دی.

۴- د پښتو پخواني لغتونه په کې زیات دي او ژبه یې تر یوې اندازې سوچه ده. لکه ګڼون، کهول، ټاټوبی، سوبه، پاړکي او نور.

۵- ځینې عبارتونه او جملې یې د پښتو له اوسني رنګ نه لرې دي او د عربي جملو اثر په کې لیدل کېږي، یعنې د کلمو د وړاندې‌والي او وروسته‌والي له مخه د اوسني وخت له جملو سره زیات توپیر لري لکه دا عبارتونه: «شیخ بېټنی اوسېده په غره د کسي باندې. سړبن نه درلود زامن، لوی شه د سړبن له کاله. د کسي غره کې به ګرځېد په شپې.» چې اوسنی سم ډول یې داسې دی:

شیخ بېټني د کسي په غره باندې اوسېده. سړبن زامن نه درلودل. د سړبن په کاله لوی شو. د شپې به د کسي په غره کې ګرځېده.

۶- په دې نثر کې د پارسي په شان مضاف له مضاف اليه نه دمخه راغلی دی. لکه: په غره د کسي، زمکه د پښتونخوا، په مړانه د شيخ، په څېر د زمريو. چې اوس داسې ويل کېږي: د کسي په غره، د پښتونخوا په زمکه، د شيخ په مړانه، د زمريو په څېر.

۷- د دې نثر يو لوی خصوصيت دا دی چې استمراري ماضي‌گانې په يدل والا مصدرونو کې په موقوف صورت يعنې بې له (ه، ی) راوړي لکه: اوسېد، نومېد، گرځېد، گروهېد؛ چې ځينې خلک يې اوس اوسېدهٔ، اوسېدئ، اوسېدو وايي.

۸- سليمان ماکو په دې نثر کې د بل چا تابع نه گڼو، بلکې په خپله ده ته د دغه نثر راوېستونکی وايو.

۹- په دغه نمونه کې يو څو رواجي و مشهورې عربي او پارسي کلمې هم راغلې دي، لکه: برکت، نصيب، روزگار، درخواست، مرقد، عبادت، واقع؛ مگر دا ټولې کلمې په پښتو ليکنه کې رواج دي او ډېرې نااشنا نه ښکاري.

۱۰- په دې نثر کې د پښتو ځينې محاورې او اصطلاحگانې هم شته: ټاټوبی ورښندل، په کټارو پوپناه کېدل، تر اړخ تورې کښل، د دښنو مروړل، د غازيانو پارېدل او د زمريو په څېر ورتويدل.

۱۱- د دې نثر بل خصوصيت دا دی چې د فعلونو په اخره کې د ترنم (نه) راوړي، لکه: پاړکي لرينه، سندرې کړينه؛ او دا د پښتو د يو لرغوني اهنگ نمايندهگي کوي، ځکه چې دغه اهنگ په پښتو لنډيو کې، چې يو پخوانی طبيعي شعر دی، ډېر راځي.

د تذکرةالاولياء نثر په خپل وخت کې يو ښه نثر دی او د عبارت رواني او لنډيز يې غوره صفتونه دي. مگر سره د دې مونږ دغه نثر ته يو سپېڅلی او کامل نثر هم نه شو ويلی او يو ابتدايي نثر يې هم نه بولو.»

(۳۴: ۲۹، ۳۰، ۳۱)

د تذکرة الاولياء د ليکلو زمانه کې د بل کوم نثر نمونه نه لرو، دغه وخت پښتو د ليک ژبه نه وه، عربي او پارسي د دغه خطې د دربار او ليک ژبې وې. داسې وخت کې په پښتو نثر ليکل د ډېرې ستاينې حق لري. که نثر يې ډېر کمزوری هم وی نو داسې توجيه کېده چې دا مهال د پښتو د ليک لومړني وختونه وو او د هر کار ابتدا له نيمگړتياوو خالي نه وي. تر تذکرة الاولياء روسته بيا د نثر ليکلو برخه کې اوږده وقفه ده، دا وقفه کابو درې پېړۍ دوام کوي. لسمه هجري قمري پېړۍ ده چې پير روښان راځي او په پښتو نثر د باقاعده ليک لړۍ پيلېږي. دا پيل د خيرالبيان په ليکلو کېږي.

## ۲-۲ خیرالبیان

خیرالبیان د بایزید انصاري نثري کتاب دی چې په څلورو ژبو؛ پښتو، پارسي، هندي او عربي لیکل شوی دی. بایزید انصاري ته میا روښان او پیر روښان هم ویل شوي او مخالفانو یې بیا پیر تاریک باله. د پلار نوم یې عبدالله دی، قاضي و او د وزیرستان په کاڼي‌ګرم کې اوسېده.

روښان په (۹۲۷) هـ په جالندهر کې زېږېدلی. پوهاند رښتین یې «د پښتو نثر هنداره» کې په قبیله اورمړ پښتون بولي. اورمړ پښتانه دي که نه؛ دا بېل بحث دی. زلمی هېوادمل یې «د پښتو نثر اته سوه کاله» کې د ژوند زمانه (۹۲۶- ۹۸۵ هـ.ق) ښیي.

د خیرالبیان لومړنۍ نسخه په لومړي ځل د جرمني د ټیوبنګن پوهنتون  کتابتون کې مولانا عبدالقادر موندلې وه، چې بیا روسته د همدې نسخې له مخې کابل او پېښور کې چاپ شو.

«خیرالبیان د بایزید د خپلې وینا له مخې یو الهامي کتاب دی. (حالنامه)

د خیرالبیان د پرداخت شېوه هم په دې ګواهي لي چې بایزید دا کتاب الهامي بولي، لکه: او بایزید! وکښه خیرالبیان، په هسې الحان چې به یې لوست سورت الرحمن. زه عاجز بنده عامي یم، خپسر و تا و ته ګنهکار او بدکار ګنم له واړو ګناکارانو د محمد په امت کې علیه السلام. ولې امیدواري مې ستا و ښېګڼې و رحمت و بخشش و ته ده. راوبخښه و ما ته او زما یارانو او فرمان‌بردارانو او محبتي و ته ګناهان. بل مې زړه قرار شي او ستا و کلام و ته وزګار شي او سبحان.»

(۷٦: ۱۹۱، ۱۹۲)

له دې متنه داسې ښکاري چې پیر روښان ته خدای وایي خیرالبیان ولیکه، خو دی ورته وایي چې زه نالوستی او ګناهکار یم. دا حالت هغه حالت ته ورته دی چې جبراییل امین محمد ص ته وایي چې اقراء (ولوله)، خو محمد ص ورته وایي چې ما انا بقارٍ (زه لوستونکی نه یم) ... . همدا وجه ده چې مخالفانو به یې ویل چې بایزید د پیغمبرۍ دعوا کړې ده.

د خیرالبیان د شکلي جوړښت اړوند د پوهاند عبدالشکور رشاد نظر دا دی چې د بایزید خیرالبیان که ټول نه وي نو څه برخې خو یې ارو مرو نظم دي او تقویم‌الحق کاکاخېل مرحوم د خیرالبیان د سبک اړوند وایي: «نثر مسجع د شعر ابتدا ده، یعنې شعر چې نثر ته راشي نثر مسجع شي.»

(۷٦: ۱۹۴)

استاد هېوادمل د خیرالبیان د نثر اړوند د حبیبي صېب دا نظر راوړی او تاییدوي یې: « سره له دې چې د آهنگ د ساتلو لپاره روښان د پښتو جملې سره اړوي او د محاورې له جاري ډوله تخلف کوي، خو بیا هم د ده نثر له وضاحته او صراحته نه وځي، خپل مقاصد په فصاحت ادا کوي او له دې جهته خپل نثر ته یو خاص ملاحت هم بخښي.»

(۷٦: ۱۹۷)

اروانښاد رښتین د خیرالبیان د پنځو ټوټو د کتنې پر بنیاد د خیرالبیان د نثر ځانګړنې داسې بیانوي:

«۱- د خیرالبیان نثر په قافیه‌وال نثر کې داخلېږي او دې نثر ته په پښتو کې لومړی قافیه‌وال نثر وایو... . غالبه دا ده چې په پښتو کې د دې سبک مؤسس میا روښان دی... .

۲- د خیرالبیان په نثر کې ځینې جملې که څه هم وړې راځي مګر زیاتې جملې یې اوږدې دي او مطلب ترې په ښه ډول ژر نه اخیستل کېږي نو ځکه ساده او روان نثر ورته نه شو ویلی.

۳- د خیرالبیان نثر د معنی له مخه یو مذهبي او دیني نثر دی... .

۴- په دې نثر کې ډېر نامانوس او مشکل لغتونه نه دي راغلي، سره د دې هم د مذهبي مسلو د بیان له کبله د عربۍ اغېز په کې زیات لیدل کېږي... .

۵- د لغتونو د سوچه‌والي په برخه کې یې د پخوانو نثرونو خصوصیت ساتلی دی؛ مثلا پووندګلي، تورکښ، رنځ، ډار، څرنده، ترو، مزدک ټول د پښتو خالص او سوچه لغتونه دي... .

٦- په دې نثر کې مضاف له مضاف الیه نه دمخه راوړل شوی دی؛ لکه: میاشت د رمضان، اغاز د عید.

۷- په دې نثر کې د وصلیه (و) استعمال هم زیات دی؛ لکه: و میاشتې و ته دې ګوري.

۸- د دې نثر جملې اوږدې دي خو د عطف د تورو استعمال په کې لږ دی، مګر د قافیې تکرار په کې دی او یوه قافیه بیا بیا راځي.

۹- په دې نثر کې سربېره په عربي کلمو پارسي کلمې هم ډېرې دي او دغه اثر هم په کې لیدل کېږي؛ لکه: بازارګاني، ګواهي، آغاز او نور.

۱۰- دا نثر که څه هم ناوړه او مشکل ښکاري خو هغه وخت د دیني نثرونو لپاره دغه ډول نثرونو رواج موندلی و او دا اثر غالباً له پارسي نثرونو څخه په پښتو نثرونو لوېدلی و. په دې نثر کې ځینې جملې د اوسني وخت سره سمې دي؛ لکه: که څوک میاشت ووینې، روژه دې ولري. که یې نه ویني روژه دې نه نیسي.

۱۱- په دې نثر کې د (کوي، کړي) په ځای د (کا) استعمال هم ډېر دی؛ لکه: مشغولي کا، پورې کا او نور.»

(۳۴: ۵۶- ۵۹)

### د خیرالبیان د نثر نمونه:

«- او بایزید وکښه په اغاز د کتاب په ښه درست حرفونو، بسم الله تمام. زه نه ورکوم مزدوري د هیغو (هغه) کسانو چې کُښي بیا یې ورانوي یو حرف یا ټکی بیا یې کُښي چې یې درستېږي بیان.

- او بایزیده! وکښه هغه حرفونه چې په هره ژبه سازېږي د فایدې دپاره د ادمیان.

- ته دانا یې له هره څیزه، ما نه زده بیرون حروفونه د قرآن او سبحان!

- او بایزیده! د حرفونو کُښل په تا دي، د حرفونو ښرګندول، د نومونو ښوول په ما دي. وکښه زما په فرمان په مانند د حروفو د قرآن او کېږده په ځینې حرفو ټکي یا غړوندي یا نور نښان، بل حرفونه وپېژني آدمیان. ځینې حرفونه څلور وکښه عیان. زر به یې زده کا چې لولي سه (ساه) ورسره باسي له ځینو دوو وستري حرفونه سره آدمیان.»

(۳۸: ۴۲)

که د خیرالیان نثر مسجع نه وی نو د جملو او ترکیبونو پر نحوي جوړښت به د پارسي او عربي دومره اثر نه وی لکه اوس چې دی. د قافیوي او وزني قیوداتو په وجه خو پښتو شعر کې اوس هم د پښتو نحوي جوړښت ماتېږي او مسجع نثر هم تر یوې اندازې د شعر قیوداتو کې بند دی.

د پیرمحمد کاروان دغه بیت کې د لومړۍ مېسرې د اولې جملې او د دویمې مېسرې دواړو جملو نحوي جوړښت پښتو نه دی:

غر به په اوږو یوسې که ګام واخلې روان شې

ناست که یې نو سر په زنګانه به شي درپاتې

(٦١: ٢٩٣)

د لومړۍ مېسرې لومړۍ جمله داسې سمه وه: په اوږو به غر یوسې او دویمه مېسره به د پښتو نحوي جوړښت کې داسې راتله: که ناست یې نو په زنګانه به سر درپاتې شي. کاروان صېب د شعر د موزونیت او قافیوي مجبوریت په وجه پښتو جوړښت مات کړی او دغه ماتېدنه روا ده. روښان هم د سجعې په وجه د اکثرو جملو نحوي جوړښت مات کړی.

موږ دا دعوی خیرالبیان کې د هغو راغلو جملو او ترکیبونو پر اساس کوو چې نحوي جوړښت یې پښتو دی، لکه دا: «او بایزیده! د حرفونو کُښل په تا دي، د حرفونو څرګندول، د نومونو ښوول په ما دي.» چېرې چې وزني قید نه شته نو ساده پښتو جملې یې لیکلې دي.

## ۳-۲ مخزن‌الاسلام

مخزن الاسلام د اخوند درویزه ننګرهاري اثر دی. اخوند د بایزید روښان همعصر او فکري مخالف دی، اخوند درویزه د روښان د خیرالبیان په مخالفت کې مخزن الاسلام لیکلی. داسې ښکاري چې اخوند د بایزید خیرالبیان لوستی و، په دې وجه د ده نثر کې وزن او سجع د خیرالبیان د بیان اغېز دی. اخوند هم د پیر روښان نثر شعر بولي او مقابل کې یې خپل تخلیق ته هم شعر وایي.

«د اخوند درویزه (مخزن‌الاسلام) د ګڼو رسالو او مضامینو مجموعه ده چې زیاته برخه یې د آخوند رح خپلې لیکنې او ترجمې دي او ځینې برخې یې د ده د کورنۍ د غړیو لکه: ملا اصغر، اخوند کریمداد، رحیمداد (عبدالرحیم)

عبدالسلام، عبدالحلیم، او مصطفی محمد مسجع ټوټې او زیاتره هم رسا نظمونه دي، چې ځینې یې حتی د شعریت مزایاوې هم لري او د شعر درشل ته وررسېدلي دي.»

(۷۶: ۱۹۹)

«د اخوند درویزه په خیال او د هغه وخت په اصطلاح د مخزن سبک ته شعر ویل کېږي. دی وایي چې میا روښان به په پښتو شعرونه جوړول نو ما هم د ده په خلاف په شعر جوړولو شروع وکړه. تر دې چې په شعر کې ورنه مخکې شوم... .

له دې نه دا معلومه شوه چې اخوند درویزه مخزن ته شعر وایي، مگر موږ د نظم په قانون مخزن ته پوره شعر ویلی نه شو، البته یو نیمگړی شعر ورته ویلی شي. که په بل عبارت ووایو نو مخزن یو نیم‌منظوم نثر دی چې په مسجع او قافیه‌وال نثر کې رانغښتي او کامل شعر نه بلل کېږي.»

(۳۴: ٦۷، ٦۸)

«استاد رشاد د مخزن زیاتره رسالې نظم بولي... . خو د مخزن له دقیقې مطالعې نه سړي ته ښکاري چې ځینې رسالې یې نظم دي او په ډېر لږ کړاو ترې روغ نظمونه جوړېږي خو ځینې بیا دا خصوصیت نه لري او مطلب ترې دومره په اوږدو جملو کې بیان شوی چې د نظم حیثیت ته یې زیان رسولی دی. زما په پوهه په مخزن کې د آخوند درویزه راغلي بیانونه او رسایل زیاتره ضعیف نظمونه دي خو د مسجع نثر نمونې هم په کې شته... .»

(۷۶: ۲۰۳)

«۱- په عمومي لحاظ د مخزن سبک د خیرالبیان د سبک په شان دی، یعنې د میا روښان د مکتب تابع گڼل کېږي. دې سبک ته وزم‌وال او قافیه‌وال نثر ویل کېږي. مگر په خاصه توگه دا توپیر لري چې د مخزن عبارتونه زیات وزن هم لري او د خیرالبیان په جملو کې وزن او تول لږ دی او یوازې قافیه وال نثر دی.

۲- د مخزن د نثر زیاتې جملې لنډې او پرې‌کړې دي او کله کله اوږدې جملې هم جوړوي.

۳- د مخزن په نثر کې د مضمون ارتباط او پرله‌پسې‌والی په پوره ډول ساتل شوی دی.

۴- د مخزن په نثر کې که څه هم ګران لغتونه نشته خو د کلمو په ترتیب کې یې یو څه قدر تاو او کړکېچ لیدل کېږي؛ لکه دا جمله (هر چې ډېرو خلکو ویلي پی در پی دي) چې طبیعي او اصلي ډول یې داسې دی: (هر چې ډېرو خلکو پی در پی ویلي دي.)

۵- د مخزن په نثر کې عربي توري زیات او د پښتو توري لغتونه په کې لږ دي او په دې شي کې هم له خیرالبیان سره توپیر لري... .

٦- په مخزن کې د کوي پر ځای د کا استعمال زیات دی. دغه شان په کې د ترنم نه هم ډېر راوړل کېږي او په دې برخه کې یې د لومړۍ دورې د نثر خصوصیت ساتلی دی. لکه (لرینه، شینه) او نور.

۷- په مخزن کې د (دغه، خپل سر، یو له بله) کلمې په مخفف ډول (غه، خپسر، وبله ځبله) استعمالېږي او ځینې مفغنې کلمې هم د ویون له مخه لیکي، لکه: (تېبون= تیمم) او نور.»

(۳۴: ۷۱، ۷۲)

### د مخزن د نثر نمونه:

«په نامه د حق به وایم چې د حق له برکته، په قیامت مې بخره وشي د رسول له شفاعته، د رسول ثنا به وایم څو په ما ویلی شینه، ولې ډېره ده بې‌حده که سړي پیري ووایي دا ثنا به پوره نه شي تر قیامته. اول لږ بیان به وکړم دحضرت له پاکه عشقه او هم سوزه، بل ته هم څه اګاه شه د حضرت له پاکه درده هم د ده له پاکه محبته، بیا له نوسه به څه وایم چې دا نوس مې ډېره ډېره بدبختي کا، دی تر سپینو ویښتو پورې سستي کاندي د ښه خدای له ښه خدمته، دی د خدای د لارې غل دی او زما له کم‌بختیه زما مل دی. کاهل جن د حق له لوري طاعت نه کا، اګاه نه دی د رسول له مشقته. چې حضرت رسول څو لوړې ځکولې، بیا په لوړې تورې شپې یې رونولې. پر ځاږه باندې تیږه ده تړلې چې کولې شوې مضبوطې د ښه خدای له حیرانیه له هیبته، بل بیان به د حضرت له بزرګۍ له لویۍ به څه وکړم څو مې توان وروړسېږي، هم بیان به دغه شپې کړم چې حضرت په کې زوکړی، کافران شو ترمې ترمې له هیبته. هم بیان به د نبي له معجزو کړم، لکه بهتره معجزه د ده قران دی، له قرانه به څه وایم. له معراجه به وییېږم، په معراج یې لویه بخره له رحمته. بل بیان به د نبي د لښکرونو د یارانو له جنګونو به څه وکړم، لکه لاس یې کړه په توره، کافران وو تر مشرقه تر مغربه شرمېدلي له هیبته.»

(۲: ۹)

د مخزن متن کې د پښتو نحوي جوړښت ماتېدل هم وزني مجبوريت دی، اخوند چې خپل ليک شعر بولي نو خود به يې نحوي جوړښت ماتاوهٔ. که موږ د درويزه متن ته شعر وواېو نو وايو به چې شعر يې د وزن و قافيې له مخې خورا ډېرې ستونزې لري. البته چې د مخزن متن شعر نه دی، د رېښتين صبب په پاسني قول نيمگړی شعر ورته ويلی شو.

د مخزن د پاسنۍ نمونې د جملو پای کې برکته، شفاعته، قيامته، محبته، خدمته، مشقته، هيبته... کلمې د قافيې کلمې دي. دغو کلمو د مخزن متن ته يوه اندازه وزن ورکړی، ځکه خو اخوند خپل ليک شعر بولي.

تر روښان و درويزه روسته خوشال‌خان راځي، خوشال نظم او نثر دواړو کې په تول پوره ليک کوي، که نثر ليکي روان يې ليکي او که نظم وايي د وزن له مخې په تول پوره دی. دهٔ نه د اخوند غوندې د شعر او نثر توپير ورک نه دی.

## ۴-۲ دستارنامه

دستارنامه د خوشال‌خان خټک نثري اثر دی چې د اورنگزېب مغل په بند کې يې په (۱۰۷۶) هـ. ق کې ليکلی دی. دستارنامه يوه مقدمه او دوه فصلونه لري، چې لومړي فصل کې يې شل هنرونه دي او دويم کې يې شل خصلتونه راوړي دي او پای کې يې خاتمه راغلې ده.

د دې کتاب اړوند خوشال وايي: «په خاطر فاطر ورسېدل چې يوه موجزه مختصره رساله پښتو کړم انشاء، چې عبارت يې روان وي، قريب‌الفهم وي، دستارنامه نام کړم.»

(۲۳: ۸۰)

«پير روښان د ۹۷۰ هـ.ق په شا و خوا کې خپل خيرالبيان وليکه. په دغه کتاب کې يې ټولې مسجعې او مصنوعي جملې استعمال کړې او تر ده وروسته بيا اخوند درويزه ننگرهاري او نورو ليکوالو هم د دوی پيروي کوله... خوشال‌خان چې د ذوق خاوند يو افغان ليکوال و، د روښاني نثر ليکلو ناوړه طريقه يې نه کړه غوره... .»

(۷٦: ۲۹۲)

«په یوولسمه پېړۍ کې چې د پښتو نثر په باغ و بڼ د قافیه‌وال نثر کومه چپه راغلې وه او پښتو نثر یې له روانۍ او ساده‌ګۍ وېستلی و، د خوشال په وخت کې هغه باغ و بڼ بیا تازه‌ګي ومونده‌ له او د پښتو نثر له مېنځه د قافیې او سجع تکلف لرې شو. د دې کار لومړی بیرغ د خوشال په لاسو پورته شو.»

(۳۴: ۹۷)

«د خوشال په نثرونو کې د موضوع او مطلب له مخه دستارنامه یو غوره علمي اثر ګڼل کېږي او د سبک د روانۍ، اسانۍ او خوږوالي له مخه د بیاض نثر اوچت او سپېڅلی ښکاري.»

(۳۴: ۱۰۲)

«د خان وړې وړې فقرې په عبارت کې بې‌اندازې خوند پیدا کوي او ښځي د خبرو اترو رنګ ورکوي. داسې ښکاري چې خان په اوجره کې ناست دی، له چا سره خبرې کوي، هغه ترې پوښتنه کوي او دی لنډ لنډ ځوابونه ورکوي.»

(۳۴: ۱۰۲)

دغه روستي اقتباس کې د ربښتین صېب جملې د دوست‌محمد کامل مومند نظر ښکاري چې د خوشال د نثر باره کې یې ویلی دی.

«د خوشال‌خان نثر ډېر روان دی، ډېر بې‌تکلفه او ډېر ساده دی. د هغه په بیان کې نه تصنع شته، نه اړ و پېچ. چې څه یې په زړه دي هغه یې په خوله دي او چې څه یې په خوله دي هغه یې د قلم په څوکه راغلي دي.»

(۳۴: ۱۰۳)

دا پورته د تقویم‌الحق کاکاخېل نظر دی. ربښتین صېب دغه نظر د بیاض اړوند سم بولي خو د دستارنامې نثر کې د لږ تکلف او ګرانوالي خبره کوي.

«د هیئت په لحاظ د دستارنامې نثر ساده، روان، عام‌فهمه دی، ثقالت په کې نشته. جملې یې وړې وړې دي، د مطلب نه ډکې دي. د عربی-فارسی لغتونه، کلمې او ترکیبونه په کې راوړی شوي دي خو دا هم خوشال بابا د وړاندنیو نثر لیکونکو په شان نه دي راوړي. انداز یې مدلل دی.» (۲۳: ۴۵)

د خوشال د نثر اړوند کامل صېب بل ځای وايي:

«د خان عليين مکان نثر د پښتو ادب په تاريخ کې د بنياد حيثيت لري، هغه وړومبی پښتون اديب دی چې تر ډېره حده يې د پښتو نثر د غيرضروري تکلفاتو او د عربی فارسی د نامانوسو لفظونو نه ازاد کړ او د پښتو عام وينا انداز او د پښتو روزمره او محاورې ته بېخي نېژدې کړو.»

(۲۳: ۴۵)

«د خوشال بابا نه وړاندې د پښتو نثر ډېر زيات مکلف، مسجع او مقفع و او د يو پوهه ادبي نقاد په حيثيت يې چې د خيرالبيان او د مخزن په نثر کوم تنقيد کړی دی هغه هم دا دی چې د دې کتابونو انداز نه نظم دی او نه نثر؛ مجهول بيان دی. ځکه يې د دستارنامې د ليکلو په وخت د دې خبرې خيال وساته چې نثر روان، ساده او بېتکلفه پکار دی.»

(۲۸: ۲۲۱)

«د خوشال بابا نثر روان، سليس له تعقيده لرې، لنډې لنډې پرلهغښتې جملې لري، سجع او ثقالت په کې ډېر نشته او په دې توگه ويلای شو چې د خوشال بابا نثر د پښتو د اوسني نثر، چې پرمختيايي پړاوونه يې وهلي دي د بنسټ پخه خښته ده... .»

(۳٦: ۵۱)

دلته يوه يادونه ضروري ده چې تر خوشال دمخه د پير روښان مريد ارزاني خوېشکی د ساده نثر نمونه لري، دا نثر لاس ته راغلی دی، (۲۲) صفحې دی او د خپل وخت روان او عالي نثر دی.

ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي د ارزاني پر شعري کليات د خپلو څرگندونو لړ کې د ارزاني پر نثر هم تبصره کوي: «د ارزاني دا نثر ساده او روان دی. دومره سليس او خوږ چې د خپل وخت د تقاضو له مخه د نثري فن يوه ښه نمونه ده. دا ډېره د تعجب خبره ده چې د يو الهامي کتاب (خيرالبيان) يو پيروکار او عقيدتمند د خيرالبيان د عروج په زمانه کې د مسجع نثر په ضد يو داسې روان او ساده نثر ليکي. بله د کمال خبره دا هم ده چې په (٦۱۲) هـ کې د سليمان ماکو ليکلې تذکره د سجعې اثر لري خو د سجعې د الهامي اهنگ فضا کې ټوکېدلی دا نثر د سجعې څه التزام

نه لري. اګر چې هېوادمل صبب د ارزاني په نثر تر څه حده د سجعې د اثر قایل دی. «یو نیم ځای د خیرالبیان د مسجع‌نګارۍ اثر هم په کې لیده شي.۷»

د ارزاني د نثر یو څو نمونې:

د سړي اندامونه خدای کړي دي، د هر اندام بخره شته. سترګې خدای کتو لره کړې دي او خوله خدای خبرو لره کړې ده. او پوزه خدای دم لره کړې ده او غوږ خدای اورېدو لره کړی دی او پښې خدای یانهٔ لره کړې دي او زړه خدای یاد لره کړی دی. ۸

ګران هېوادمل صبب د ارزاني د نثر خصوصیات څه داسې بیانوي:

جملې یې اوږدې نه دي، بلکې لنډې دي. د جملو مبتدا او خبر یې څرګند او سره نژدې واقع دي. ګران بهرني لغات او ناوړه ترکیبونه نه لري.»

(د ارزاني کلیات: ۱۵۸، ۱۵۹)

خوشال بابا په ارادي ډول روان پښتو نثر لیکهٔ ګڼي دستارنامه کې د مسجع نثر لنډه‌کۍ نمونه هم شته چې پر مسجع نثر د خوشال د برلاسۍ وړتیا ترې څرګندېږي. خوشال چې شاعر و نو د مسجع نثر لیکل به ورته ګران نه وو. د مسجع نثر نمونه یې دا ده:

«پس د خدای د حمد و د ثنا، درود په مصطفی/ مصطفا او د ده په آل او په اصحاب په جمیع اهل هدا، زُمره اتقیا، وایم زه پیرو د نفس و د هوا، محبوس د غنا، ګرفتار د دام بلا، باني د دې انشاء، مؤلف د دې املا، چې باعث د دې تصنیف و دا.»

(۲۳: ۸۰)

دلته وینو چې تر کامو دمخه ټولو کلمو کې الف مشترک دی چې دا یې د قافیې مشترک توری دی.

«خوشال بابا د پښتو نثر د زوړ سبک نه څنګ وکړو او په پښتو نثر کې چې د شعر کوم رنګ و د هغې نه یې پښتو نثر بېل کړو او محاورې ته یې نېژدې کړو... د پارسي تراکیبو تاثیر د خوشال په نثر کې ځای ځای څرګندېږي... د خوشال بابا په نثر کې هم لکه د متقدمینو د فارسۍ- عربۍ ژبو ټکي تر نظره راځي... .»

(۳۵: ۲۴۲، ۲۴۳)

**له دستارنامې نه د خوشال د ساده نثر نمونه:**

**«دویم هنر**

## د علم چې کسب کمال باله شي

علم په لغت کې زده کولو وته وایي. هر چې وي اوس په اصطلاح کې تحصیل د علم عربي، فارسي و غیره وته چې شهرت د څوارلس علومو لري، علم وایي. هر چې دا علومه تحصیل کا، واړه ولولي هغه دانشمند، فقیه، فاضل، عالم، ملا باله شي. هغه چې په خپله زمانه کې په دا علوم کې د جواب څوک نه لري، هغه عالم‌العلماء باله شي، مخدوم الملک باله شي، علم داد د الهي دی، فیض نامتناهي دی. د دواړو جهانونو بزرګي په علم کې ده، د خدای شناخت چې سرمایه د واړه سعادت دی، په علم کې دی.

بیت:

چو شمع از پی علم باید گداخت

که بی‌علم نتوان خدا را شناخت

د پیغمبرانو متابعت په علم کې دی، هر چې علم بیامومي، میراث بیاموي د پیغمبرانو؛ «العلماء ورثة الانبیاء»

یانې په ځای کې د پیغمبرانو، دا شرف، بزرګي د علم، فکر کړی بویه چې تر کومه حده ده، چې د علم څښتن جانشین د پیغمبرانو شي، دا خو د دین لویي ده. د دنیا لویي هم په علم کې ده؛ که نداف او جولا وي چې دانشمند شي، بادشاهان یې تعظیم او تکریم کا، عالَم واړه د ده خدمتګار شي، که کیمیا ده، که سیمیا ده، که ریمیا ده، که نجوم دی، که طب دی، که حکمت دی؛ دا واړه په علم کې دي. څوَرلس علومه دانشمندانو د تحصیل شمارلي دي،

اما تر دا ډېر دي، د واړو په کار خدای خبر دی. د موسا د خضر شاګردي- استاذي خو به دې اروېدلې وي، چې د علم لُدني ښتن دي، هغو وته اکثر مالوم دي. ظاهري علومه چې په تحصيل سره ممکن دي چې څوک يې مومي، په تحفة الغياثي کتاب کې تر څلوېښتو شمارلي دي. دا خو د ظاهري علم حال دی. د باطني علم چې د مشايخانو دی؛ لکه علم ظاهري په تحصيل مونده شي، هسې علم باطني په تحصيل په زده کول مونده شي. د باطني علم ښتن پير، شيخ، مرشد، خليفه، مقتدا، امام باله شي. لکه علم ظاهري چې درجه په درجه چې پايه به پايه زده کېږي، هسې باطني په تزکيه، په تصفيه، په تلقين، په ارشاد زده کېږي. چې علم ظاهري وکا، لار يې و باطني ته جوړېږي. غرض چې د دواړو کَونو مراد مقصود، کامراني، کاميابي په علم کې ده. ذره، حبه له علمه بيرونه نه ده. خدای دې توفيق و هر چا ته ورکا چې تمام عمر په تحصيل د علم صرف کا او که نه هونبره خو دې وي چې محروم پاتو نه شي؛ چې د سړيو له حسابه ووځي د ځارويو په حساب باله شي، عام کالانعام شي بل اضل، د قابليت له دايرې نه بيرون پرېوځي، که بادشاهزاده وي، چې په نقصان کې پاتو شي، د دين د دنيا له دولته نااميد شي. که روستازاده وي چې د علم، له حکمته يې بخره وشي، د دين د دنيا د سعادت بزرګي وګټي. ...»

(۲۳: ۱۰۴-۱۰۶)

د خوشال نثر سره له دې چې د خيرالبيان او مخزن الاسلام تر نثر غوره دی، خو د عربۍ و پارسۍ له لغوي او نحوي اغېز خوندي نه دی:« خدای دې توفيق و هر چا ته ورکا چې تمام عمر په تحصيل د علم صرف کا» دغه مرکبه جمله کې (توفيق، تمام، عمر، تحصيل، علم او صرف) پښتو ټکي نه دي، عربي و پارسي ټکي يې په بې‌پروايۍ کارولي دي او سم پښتو نحوي جوړښت کې به دا جمله داسې وه: خدای دې و هر چا ته توفيق ورکا چې تمام عمر د علم په تحصيل صرف کا. په پرتليز ډول د خوشال نثر د خپل وخت ساده و روان نثر دی، اوسني نثر ته په کتو يې نثر کې نيمګړتياوې کمې نه دي.

خوشال د ليک په ډګر کې د خپلې کورنۍ سالار دی، له ده نه په الهام او د ده په لارښوونه د شعر و نثر د ليکلو لړۍ د ده زامنو ته اوږدېږي او تر لمسيو-کړوسيو يې رسي. د ده اولاده کې نامتو ناثران و شاعران وينو. تر ده روسته د ده د زوی عبدالقادرخان خټک پر نثر رڼا اچوو.

## ۵-۲ عبدالقادرخان

تر خوشال روسته د ده کورنۍ کې د پښتو نثر پیاوړي لیکوال پیدا شوي، له دې ډلې عبدالقادرخان خټک د سر سړی دی، دی په نظم کې د لوی نوم خاوند دی او تر څنګ یې نثر کې لاس لري. نثر کې یې د یاد وړ اثر «ګلدسته» دی، ګلدسته د پښتو مستقل یا تخلیقي اثر نه دی؛ دا د پارسي د ګلستان سعدي ژباړه ده. عبدالقادر دغه ژباړه په (۱۱۲۴) هـ. ق کې کړې ده. ګلستان د نظم او نثر مختلط متن دی. عبدالقادر هم د ګلستان نثر پر نثر او نظم یې پر نظم اړولی دی.

«د عبدالقادر نثر تر خوشال وروسته یو روان او اسان نثر دی. د دې نثر جملې د خوشال د بیاض په شان ورې او لنډې دي او دا صفت د نثر له روانۍ او اسانۍ سره پوره کومک کوي. د دې نثر عبارتونه صاف او مقصد یې ښکاره او څرګند دی. د عطف او ربط توري ډېر نه راوړي او دا یې یو غوره صفت دی. په ترکیبونو کې پښتو رنګ زیات دی مګر سره د دې هم د پارسي له اثر بېخي نه دی وتلی.»

(۳۴: ۱۰۷)

عبدالقادرخان خټک د ګلدستې د ژباړې تر څنګ څه نور خپل لیکلی نثر هم لري؛ پر دیوان یې د نثر نمونه شته او پر ګلدسته یې مقدمه لیکلې. د ده د نثر اړوند زلمی هېوادمل وایي:

«د عبدالقادرخان خټک نثرونه لکه چې د پوهانو خیال دی، د خوشال بابا د نثر لیکنې د سبک تابع دي، مګر د عبدالقادر نثرونه ځینې خاصې ځانګړتیاوې لري، یعنې دا چې د ده نثرونه په مجموعي ډول د خوشال بابا د نثرونو په پرتله یو څه د څرګندتیا، خوږلت او روانۍ خوا ته درومي. که څه هم ځینې ګران عربي ټکي د ده په نثرونو کې هم شته، خو دا تناسب په ډېره لوړه فیصدۍ کې نه دی واقع. ښاغلي ضیاء جعفري په خپله یوه اردو رساله کې ویلي دي:

(ژباړه): «عبدالقادرخان له خپل پلار نه هم سلیسه او زیاته صافه ژبه لیکلې ده او د پښتو نثر د سلاست او روانۍ خوا ته یې یو قدم اوچت کړی دی.»

ما چې د لوی خان کوم نثرونه کتلي دي، هغه هم له ځینو برخو پرته روان او خواږه دي، خو که د عبدالقادر په هغو کې څه زیات خوږلت محسوسېږي دا خبره باید طبیعي وبولو، ځکه که د خوشال بابا او عبدالقادر په نثرونو کې د

هغه زمان له معيارونو سره برابر يو څه پرمختيايي نخښې و نه ليدل شی، نو بويه چې په ادبياتو کې د تحول له پروسې انکار وکړو.»

(۷۶: ۳۴۸)

عبدالقادرخان د کورنيو رقابتونو په ټس کې له سياسته زړه‌توری شو، له اکوړي لاړ او نوښار کې يې واړول. پر گلدسته يې چې کومه سريزه ليکلې ده، دا د ده د خپل نثر نمونه ده چې لومړی دا راوړو، تبصره پرې کوو او ورپسې يې د ژباړې نمونه وړاندې کوو:

«پس مې له ډېرو فکرونو مصلحت دا وليد چې باقي عمر ځان ته د ناستې او پښې د قناعت په لمن کې نغښتی بهتر دی، مشغولا له کتابه، ورتله په لوري د مسجد چې سعادت د دنيا د اخرت دی، غنيمت گڼلی بويه. اکثر به تنها ناست وم، کله کله به بعضې ياران راغله استفاده به يې د علم عربي و فارسي کوله. بعضې دوستانو راڅخه گلستان کتاب لوست. ډېر ډېر به يې راته ويل چې د عربي د پارسي کتابونه ډېر دي، په پښتو ژبه کې کتابونه د پښتو نشته. ستا قوت د تصنيف د ترجمې البته شته، که تصديعه په ځان قبوله کړې، گلستان کتاب چې مطبوع او مرغوب د خاصو عامو دی، هم يې لوی سړي گوري نصيحت ترې اخلي، هم يې هلکان لولي برکت ترې اخلي، اساني ډېره وشي. اکثر خلک يې متن ولولي، دويم ځل يې معنا، که په پښتو ژبه ترجمه شي پښتنو ته به اسان شي. فايده به يې لويو هلکو ته ښه ورسي. زما هم بل شغل درپيش نه و، فارغ ناست وم، په شهر رجب کې شروع شه، په رمضان کې په کوتاه عبارت په طريق اختصار په اتمام ورسېده. اگر چې پښتو ژبه درشته ده نرمي نه لري، تلخ ده شيريني نه لري، اما اميدواري ده چې په تاثير د شيخ د کلام چې هم نرم دی هم شيرين، هم فصيح دی هم بليغ؛ دا ترجمه چې په پښتو ژبه کې ده په کې اثر د خوږوالي پيدا شي... .»

(۲۴: ۷۳، ۷۴)

دې متن ته چې گورو هم په کې د پارسۍ او عربۍ کلمې پرېمانې دي او هم په کې د پارسۍ د نحوي جوړښتونو اغېز ښکاري. تصديعه، مطبوع، مرغوب... د عربۍ کلمې دي او درپيش، تلخ، شيرين... د پارسۍ کلمې دي. په پښتو ژبه کې کتابونه د پښتو نشته، فايده به يې لويو هلکو ته ورسي، په شهر رجب کې شروع شه، اثر د خوږوالي پيدا شي... . که دا جملې د پښتو د خپل نحوي جوړښت مطابق ليکو نو داسې به وي: لويو هلکو ته به يې فايده ورسي، په رجب شهر (مياشت) کې شروع شه او د خوږوالي اثر پيدا شي. د عبدالقادرخان دې نمونو کې د پارسۍ د نحوي جوړښت اغېز دی.

د ژباړې يوه نمونه يې دا ده:

«حکايت: يو بادشاه په وژلو د يو بې‌گناه اشارت وکړ، بې‌چاره چې له حياته نااميد شه، هر چې په ژبه ورتله بادشاه ته يې ښېرې ښکنځل کړ. هر څوک چې لاسونه له ژوندونه پرېوينځي هر چې په زړه ورځې تر خولې وباسي. ...

بادشاه پوښتنه وکړه چې څه وايي؟ يو له وزيرانو چې نېک‌ذات مبارک سرشت و، عرض يې وکړ چې دوعا کاندي او هسې وايي چې هر څوک چې غوسه ونغري گناهگار سړی ببښي، احسان وکا، حق تعالی د احسان ښتن دوست لري. د بادشاه پرې رحم وشه، معاف يې کړ. له وژلو يې تېر شه.

بل وزير چې د ده ضد او مخالف و، بدنهاد او ښتن د عناد و، ويې وې چې دې سړي بادشاه ته ښکنځل او ناسزا ويل کول، تا په خلاف بادشاه ته عرض وکړ. بادشاه مخ د ده له خبرو وجاريوست، اعراض يې ورځنې وکړ، ويې فرمايل چې د ده دروغ ويل زما پسند شول، ستا له رېښتياوو ويلو؛ چې د هغه په دروغو کې مصلحت و او ستا په دا راستۍ کې خباثت. چې هوښيارانو ويلي دي دروغ چې له مصلحت سره آميز وي بهتر دي له هغو رېښتياوو چې فتنه‌انگېز وي.»

(۲۴: ۸۲)

د عبدالقادر د ژباړې نثر د ده تر تخليقي نثر کم نه دی، که ځای ځای يې د پارسۍ نحوي جوړښت پښتو ته راوړی دا يې تخليقي نثر کې هم شته. ژباړه يې عام‌فهمه ده، جملې يې لنډې دي او يو روان نثر دی.

## ۲ـ٦ گوهرخان

گوهرخان د خوشال بل زوی دی چې د نثر نمونه يې راپاتې ده؛ ده (۱۱۲۰ هـ.ق) کې د ورارہ افضل‌خان په غوښتنه له پارسۍ نه «قلب السير» پښتو کړی. دا د سيرتو کتاب دی. پر دې کتاب د خپل ليک لړ کې وايي:

«دا چې اکثر کتابونه له عربۍ پارسيانو بزرگانو و خپل عالَم و ته چې په تازي ژبه کې به يې فهم پرې ښه نه کېدو، پارسي يې د دوی د پاره ترجمه کړل. سهولت يې ښه وشو، مينه به يې پرې پيدا کړه. ډېر کتابونه د فقه، د مسايل د اخلاقو و غيره بزرگانو پارسيانو بيان کړل چې معلوم دي.

په پښتو کې دا رواج نه و. اخوند درويزه يو کتاب مخزن ويلی دی، حق تعالی دې وبښي. اکثر خلک تر فيض بياموند. بيا د موږه پلار مرحوم خوشال ختک، الله تقدس و تعالی دې په قبر نور کا، هر گونه کتابونه يې تصنيف کړل. داد يې د بلاغت و فصاحت و پښتو ژبې ته ورکړ، پارسي و ته يې په لذت نږدې کړه. غزل، رباعي، مخمس، ترجيع‌بند، ترکيب‌بند وغيره صنايع شعر يې ورکړ. د پارسي د شعر رواج يې و پښتو ورکړ، په عروض په قافيه يې درست ووې. د نظم و نثر يې ښه کتابونه بيان کړل چې خود په عالم مشهور دي.

...

نور بل سبب د کتاب دا و چې افضل‌خان زوی د اشرف‌خان نمسی د خوشال‌خان ختک کرلاڼي غفر الله له چې سن د هجري زر سل شل دی. د پلار و نيکه په ځای قايم مقام دی، ښه سرداري لري، نظر يې په نېکنامۍ په ابادۍ دی. په دا قحط الرجال کې دا هم غنيمت دی. اللهم تزد احسانه، حق تعالی دې شرم وساتي. نور سعيه کا د پښتو کتابونه له هره قسمه لکه پارسيانو کړي دي، مرتب شي. د نيکه شعر يې په بياضونو هر ځای متفرق و، د ده په تالاش چې څو مدت په دا سعي کې و، له هر چا به يې جمع کړ. ديوان يې مرتب کړ، بلکې کليات د شعر يې چې څه وو په نظم په نثر لکه دستارنامه، فراقنامه، فضلنامه، ديوان و غيره کتابونه يې واړه په کاتبانو په څو څو ځله وکښل. په اطراف به يې د شهرت د پاره و هر چا ته استول. حق تعالی يې توفيق د نېکۍ رفيق کړه. په مجلس کې به يې همېشه ويل چې که د چا په طبيعت قوت وي چې پښتو کتابونه لکه پارسيانو له عربۍ په پارسۍ ترجمه کړل، څوک يې په پارسۍ په پښتو ترجمه کاڼي. و ما ته به يې اکثر اوقات مخ راجاريوست، اگر چې زما قوت هومبره نه و، ليکن نظر مې په تضيع د اوقات وکړ، ومې ليده چې عمر گرانمايه صنايع درومي. په هر حال مې و دې محنت و ته ملا وتړله. نور مې اکثر د کتابونو مطالعه کړه چې که يو کتاب چې په قال او حال مزبوت او معتبر وي له پارسۍ ژبې نه يې په پښتو ترجمه کړم. دا کتاب مې بياموند چې نهايت په افعال په قال، په حال د مونږ د پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم پخته او معتبر و.»

(۳۴: ۱۰۹- ۱۱۱)

«د گوهرخان نثر تر ډېره د گلدستې نثر ته ورته دی او د خوشال د نثري مکتب تابع دی. دې نثر کې جملې لنډې دي او گونگوالی په کې نشته. پوره روان نثر هم نه دی ځکه ځينې ترکيبونه په کې وړاندې روسته راغلي دي لکه دا جمله: «داد يې د بلاغت و فصاحت د پښتو ژبې ورکړ.» پښتو کې دا جمله داسې سمه وه: «پښتو ژبې ته يې د فصاحت او بلاغت داد ورکړ. «وغيره صنايع شعر يې وکړ.» هم د پارسي په بڼه جمله ده. درانه عربي لغتونه په کې لږ دي، يوازې «تضيع» په کې راوړل شوی... .» (۳۴: ۱۱۱، ۱۱۲)

د ربښتين صېب د نظر خلاف که د گوهرخان نثر ته لږ دقيق وکتل شي د عبدالقادرخان د نثر غوندې روان نه دی، جملې يې تر هغه اوږدې دي او پارسي و عربي کلمې هم په کې زياتې دي. عام‌فهمي هم په کې تر عبدالقادرخان کمه ده.

د خوشال په زامنو کې نور نومونه اشرف‌خان هجري، صدرخان خټک او سکندرخان خټک دي چې پښتو نثر يې ليکلی؛ اشرف‌خان د دري ديوان د ځينو قصيدو پر سر د پښتو ځينې يادښتونه په نثر ليکلي دي، دا يې نمونه ده:

«الف: قصيده بې‌نقطه دلې يې په دکن کې هېڅا ځواب و نه کړ، غالباً چې د کابل په صوبه‌گرۍ کې يې هم څوک و نه کا.

ب: دا قصيده چې (په) مهم روح‌الله‌خان راغلی و. د ديانت‌خان په ويل ما وروستو له مهربانۍ وشوه، عرض يې وکړ. کار جوړ شه ولې ژر ومړ.

ج: دا قصيده مې د بادشاه استاد لره استولې وه، ډېره يې پسند کړه، ولې تر نظر يې د اورنگ‌شاه تېره نه کړه، په دا سبب چې خوشامد يې په کې نشته، گوره چې څه وايي.»

(۷٦: ۳۴۳)

د هجري دغه نثر کې عربي و پارسي کلمې شته، «قصيده بې‌نقطه» ترکيب کې د صفت و موصوف ځايونه د پښتو نه دي او «په مهم روح‌الله خان راغلی و، تر نظر يې د اورنگ‌شاه تېره نه کړه.» کې پښتو نحوي جوړښت مات شوی. خو په ټوله کې نثر رواني لري او لويه ښېگڼه يې دا ده چې جملې يې لنډې لنډې رواړې دي.

استاد زلمی هېوادمل د صدرخان خټک څو منثورې ټوټې راوړي: «دوه تنه حضرت لره راغلل پوښتنه يې ځنې وکړه چې ته وايې تر خليل‌الله تر موسی کليم‌الله تر عيسی روح‌الله بزرگ اعلا يم. له موسی سره کلام ملک اعلام بې‌واسطه کاوه. له تا سره هم چېرې پروردگار په خپله کلام کړی دی؟ حضرت عيسی مړ ژوندی کاونه او له تا نه کار معلوم شوی نه دی. ته له دويه ځان بزرگ کوې، اوس يوه معجزه موږ ته وښيه... .»

(۷٦: ۳۵۰)

پر دې سربېره يې د ادرم درخانۍ منظومې کيسې عنوانونه په نثر دي، دا يې څو نمونې دي:

«بلل د ادم‌خان چې درخانۍ په مصلحت د مور شباشب طلب کړه، ورسره روانه شوه. ادم‌خان په طريق د ننواتې د ميربامي حاجې‌خېل کره وروسته، يو څه مدت يې سره په ښه حال، په ښه وصال په اشتغال تېر کړ.

...

خبرېدل د ادم‌خان په ورکول د درخانۍ له زبانه د يوې بوډۍ او بددوعا يې کول د ادم‌خان په باب د ميربامي او هم له هغه چې خبر شو، جاروتل و خپل کور ته چې خپل کور يې مېشته په هغه... وخت په زاړه پير وو چې مشهور په زړه مېنه دی او هم هغه وخت چې ادم‌خان داخل په کور شو په رنځ د نسخوړي له ډېره غمه پرېوت. څلوېښت ورځې د درخانۍ له طرفه دستې د ګلو ورته راتلې، پرې پايېده، اخر يې له جهان فاني کوچ وکړ.»

(۳۴: ۱۱۳، ۱۱۴)

د صدرخان نثر کې د پارسۍ او عربۍ کلمې پرېمانې دي او د اکثرو ترکيبونو او جملو جوړښت يې د پارسۍ دی. متن يې د تخليقي پر ځای ټکي پر ټکي ژباړې ته ډېر ورته دی.

د سکندر د نثر نمونه: «خط په اشرف‌خان جيو چې هندوستان لره استولی شوی و، احوال د واړو په نظم کې راوړ شه.»

(۷٦: ۳۵۱)

د سکندرخان د نثر مستقل اثر نشته، د نثر لاس ته راغلې ځينې ټوټې يې د نظمونو عنوانونه دي. پر عنوانونو به د ډېرې تبصرې ځای نه وي تاسې يې متن وينئ او دغه عنوان کې «احوال د واړو» ترکيب د پارسۍ دی.

د دوی درې واړو منثورې نمونې داسې نه دي چې د پښتو نثر تله دې يې درنه کړې وي، ځکه يوازې څو نمونې دي خو دا ترې ښکاري چې دوی څرنګ نثر درلود.

## ۲. ۷ افضل‌خان خټک

د خوشال تر زامنو روسته افضل‌خان خټک پر پښتو احسان کړی، افضل‌خان د اشرف‌خان هجري زوی او د خوشال لمسی دی. ده د خوشال لیکونه راټول کړي، د کورنۍ غړي یې لیکلو ته هڅولي دي او خپله یې لیکل کړي دي.

د افضل‌خان خټک تر ټولو معتبر او مغتنم اثر تاریخ مرصع دی، د تاریخ مرصع یوه برخه له پارسي ژباړه ده، بله یې د افضل خان خپل نثر دی او بله برخه یې د خوشال نثر دی؛ دلته د خوشال د بیاض اقتباسات راغلي دي. استاد هېوادمل د عقاب خټک په حواله دغه اقتباسات (۱۲۰) بولي.

(۷٦: ۳٦۰)

تاریخ مرصع د(۱۱۲۳-۱۱۳٦) تر منځ بشپړ شوی دی.

(۷٦: ۳۵۷)

کامل مومند تاریخ مرصع پر دریو برخو وېشي: «اوله برخه یې د خواجه نعمت‌الله هروي د مخزن افغاني پښتو ترجمه ده. دویمه برخه د ځینو پښتنو امراوو له احوالو پیل کېږي او د خوشال بابا تر وفاته رسي. درېیمه برخه د پښتنو اولیاوو احوال او د پښتنو ځینې انساب دي چې ځینې برخې یې د مخزن افغاني ترجمه او ځینې برخې یې د افضل‌خان خپل لیک دی.»

(۷٦: ۳۵۹)

«دا نثر د خوشال بابا په پیروۍ لیکل شوی قوي نثر دی، خو د جملو جوړښتونه یې په ځینو برخو کې د نورو ژبو اغېز مني.»

(۷٦: ۳٦۱، ۳٦۲)

«د افضل‌خان نثر د خوشال او عبدالقادر له نثر نه وروسته د خپل وخت یو ښه او غوره نثر ګڼل کېږي. ... جملې او ترکیبونه یې اسان دي او روان دي. ډېر مشکل او نااشنا لغتونه نه راوړي، ورې او لنډې جملې استعمالوي او مطلب ترې ژر اخیستل کېږي. د عطف د تورو استعمال هم په کې لږ دی.

په دې نثر کې که څه هم د پښتو د لیک ډول رنګ غالب دی، مګر بیا هم د هغه وخت د طبیعي اثر په وجه او په تېره د ترجمې د اغېز له کبله ځینې عربي او پارسي کلمې په کې موجودې دي.»

(۳۴: ۱۲۳)

«ښاغلي تقویم‌الحق کاکاخېل خو لیکلي دي چې د افضل خان په نثر کې نه ساده‌ګي شته نه رواني، نه خلوص شته، نه زودبیاني. ژبه یې درنه ده او قلم یې محتاط دی او فکر یې ډېرو مصلحتونو بند کړی دی.

مګر زموږ په خیال د افضل‌خان د نثر دومره غندنه او له ساده‌ګۍ او روانۍ نه بېخي انکار کول هم د بې‌پروایۍ نښه ده. دا خبره سمه ده چې قلم یې محتاط دی او فکر یې محدود.

د خوشال‌خان غوندې ازادي، د فکر اوچتوالی، د قلم غورځنګونه په بل چا کې چېرته پیدا کېږي. د افضل‌خان د فکر ولکه د هغه په مقابل کې تنګه ده، مګر له نورو ټولو یې میدان وړی دی او د دې ډګر یو غښتلی پهلوان ورته وایو.»

(۳۴: ۱۲۵)

**د تاریخ مرصع د نثر نمونه:**

«بالملک القدوس، سبحان الله وبحمده، پاکي ده هغه خدای لره چې زمام یې د اختیار و اقتدار په قدرت کامله سره د خلقت د انساني په جناب ګردون اقتدار یې بادشاهان عالي تبارو سپارلی دی. باوجود چې تېغ خلقت انساني د داعیه د ریاست او سلطنت نه خالي نه دی. په دا هومره خلقت کې د دوی د وړاندې نه خویشان نه دوستان نه اقربا نه نوکران دم د ریاست او سلطنت وهلی شي. اوامر د دوی واجب وګڼي او له امره یې ګردن‌تابي سبب د عصیان شي او ظل الله باله شي. آثار د معرفت په دا کې صریح ظاهر لیده شي، که زړونه د بنده‌ګانو په قبضه کې د اقتدار الهي نه وی پس یو سړی څه وجود لري چې په دا هومره زرګونه مشتاقان او یوه معشوقه د سلطنت یوه بادشاهي په یوه بادشاه مسلم کېده چې اراده یې نه وي په اصحاب کبارو چې خلفای راشدین دي مخالفت په کې پیدا کا چې اراده بل رنګ وي زر کاله یوه ورځ کم ضحاک بادشاهي کا. په فرعون باوجود د مخالفت د حضرت موسی ع برقرار لري پس که بادشاهان دي که امراګان که سائر الناس دي د واړو زړونه او ارادې په ید قدرت کې د الهي دي.»

(۲۱: ۷۰)

د علم‌خانه دانش نمونه: «راوړي يې دي چې يوه بېزو وه، ترکاڼ يې وليد چې لرگی يې پرې کاوه. دوه مېخه ورڅخه وو، يو مېخ به يې په هغه لرگي کې ټک واهه، تر يو ځايه به شگاف وشه، بيا به يې هغه لرې کړه بل مېخ به يې پرې وواهه، په دا رنگ يې چار وه. هغه ترکاڼ چې څه کار ته پاڅېد، لاړ. بېزو راغله په هغه چوب کېناسته، پرې کاوه يې، دواړه خپې يې د لرگي په شگاف ننوتې، اول مېخ يې وکيښ چې بل ټک وهي، دواړه خپې يې محکمې په هغه لرگي کې ونښتې. بېزو په ژړا شوه دا يې ووې: «زما کار مېوه ټولول دي، نه اره څکول، هنر زما د ځنگل تماشا ده نه تبر تيشه.

ناگاه ترکاڼ راغی، هومره يې ووهله چې هلاکه شوه. دا مثال مې ځکه ووې چې د روزگری کار د بېزو نه دی او دا حکايت مې ځکه راوړ چې هر چا ته خپل کار په کار دی، قدم د خپلې اندازې دې نه باسي.»

(۳۴: ۱۲۱، ۱۲۲)

د افضل‌خان د نثر اوله نمونه که وگورو نو بنده مني چې د ده د نثر اړوند د تقويم‌الحق کاکاخېل مرحوم نظر سم دی خو دويمې نمونې ته چې گورو سم دم روان نثر دی؛ جملې يې لنډې او مانا کې يې ستونزه نشته. لومړي نثر کې جملې اوږدې دي، مانا کې يې ستونزه شته او د عربي و پارسي کلمې په کې خورا زياتې دي.

د خوشال د کورنۍ يو بل نثرنگار کاظم‌خان شيدا دی، دی په اصل کې د يوه نازکخيال شاعر په توگه پېژندل کېږي خو د شعر پر ديوان يې يوه مقدمه ليکلې چې دا سريزه دی د نثر ليکونکو ډله کې هم راولي.

گومان کېږي چې دی به د خوشال‌خان کړوسی، د اشرف‌خان هجري لمسی او د افضل‌خان خټک زوی وي. دی دې مقدمه کې تر يوه بريده ځان راپېژني، دغه گومان چې دی به د خوشال اولاده کې وي، نهٔ ترې ثابتېږي خو دا ثابتوي چې خټک دی: «راقم د دې صحيفې محمدکاظم، شيدا تخلص،خټک نسب، حنفي مذهب، نقشبندي مشرب (غفر الله تعالی ذنوبه و ستر عيوبه) په عرض د سخن شناس، روشن قياس رسوي، هر چند په نزد د خردمند، شان د سخن رفيع و بلند دی.»

(۵۱: ۴۰)

د کاظم‌خان شيدا شاعري پر دې مشهوره ده چې د پارسۍ د کلمو ډېرې کارونې له امله پرې پوهېدل سخت دي. دا سمه ده خو يوه بله وجه د ده د شعر نازکي هم ده چې څوک په اسانه پرې نه شي پوهېدلی. څه ډول چې د پارسۍ کلماتو د ډېرښت په وجه د ده شعر سخت دی همداسې يې نثر هم له پارسۍ کلمو مالامال دی، تر څنگ يې

عربي کلمات هم په کې کم نه دي. د ده د نثر يوازې يوه مقدمه راسره ده، د دې کمي په وجه دی د پښتو په نثر ليکونکو کې د ډېرې مطالعې حق نه لري. نثر يې هم داسې نه دی چې روان يې وبولو، عام‌فهمه ورته ووايو او د لوړې پايې ليکوال يې وبولو.

بنايي په عادي نثر کې ترې بل مشکل نثر نه وي، څومره چې په شعر کې نامتو دی، همدومره په نثر کې لوېدلی دی. کېدی شي سريزه يې د نثر په نيت نه وي ليکلې؛ په غيراختياري ډول داسې ليک ترې شوی.

(۳۴: ۱۶۷)

د نثر نمونه: «... او په تقدير د خلاف نقصان د صناعت مبني په بداهت وګڼه اميد چې ژرف. نګهبان باانصاف و شګرف رايان بې‌اعتساف خاصه هغه افراد چې په طنطنه د خيال مستفيده وي او زمزمه د سحر حلال يې مستحضره وي په تقليل د مضامين مضائقه نه فرمايي او تنقيص د صنايع کې راته معذور ووايي او په صفا د بادي النظر مشاهده د عيب و هنر شي او په ضيا د خرد متميز د نېک و بد او التفات د خاطر يې اقتضا د «خذ ما صفا دع ما کدر» په کسوت د ايضاح کې جلوه پيرا کا... .»

(۵۱: ۴۴)

«... دغه نثر پښتو نما پارسي يا پارسي نما پښتو ده، مشکل پسندي د شيدا طبيعي خصوصيت ښکاري، د هغه د نثر نه که د پښتو د اضافت حروف لرې کړی شي نو بيا به دا خبره ګرانه شي چې دغه نثر ته څوک د پښتو نثر ووايي.»

(۱۲: ۲۳۲، ۲۳۳)

د شيدا دې نثر کې د پارسۍ تر کلمو عربي کلمې زياتې دي، نو داسې هم ورته ويلی شو چې پښتونما عربي يا عربي‌نما پښتو ده. که لږ واضح نظر وايو نو په کار ده چې دغه متن د پښتو تر ټولو پېچلی او بې‌مزې نثر وبولو؛ نه د نورو ژبو د کلمو کمی په کې شته او نه روان دی. مانا په اسانه نه ترې اخيستل کېږي او جملې يې اوږدې دي.

تر دې روسته لسګونه نومونه دي چې پښتو کې يې د محتوا له مخې پر بېلابېلو موضوعاتو ليکل کړي، د بحث د اوږدېدو په وجه ترې تېرېږو او يوازې پر هغو ليکوالو او اثارو خبرې کوو چې تر نورو يې نومونه ځلانده دي او کار يې د ډېر ارزښت وړ دی.

## ۲ـ ۸ پټه خزانه

د پټې خزانې مولف محمدهوتک د میرویس نیکه د زوی شاه‌حسین د دربار رسمي منشي او لیکوال و، پټه خزانه یې نامتو اثر دی چې په (۱۱۴۲هـ) کې یې لیکلی دی. پټه خزانه د پښتنو شاعرانو تذکره ده.

مشران څېړونکي وایي چې د پټې خزانې نثر عام‌فهمه روان او ساده دی، ابهام او پیچلتیا په کې نشته.

(۷۶: ۴۳۵، ۴۳۶)

د پټې خزانې نثر کې مشکلې کلمې نشته، جملې یې لنډې او پرې کړې دي، د عطف توري په کې لږ دي، مطلب په اسانه او روانه ژبه بیانوي او پر مطلب یې پوهېدل اسان دي. دا د (۱۲مې) پېړۍ تر ټولو خوږ نثر دی، دا نثر د ختیکو تر نثر هم زیات خوندور او محاورې ته نېژدې دی. سره له دې د عربۍ او پارسۍ له اغېز خوندي نه دی.

(۳۴: ۱۴۸، ۱۴۹)

**د نثر نمونه:**

«... اما بعد، په دې پوه شئ چې وینا د انسان غوره خاصه ده او د نطق تاج هغه د کرمنا تاج دی، چې خالق تعالی د ادم پر سر نسکور کړ او په هره زمانه کې خدای تعالی په انسانانو کې غوره شاعران او د وینا خاوندان پیدا کړل، چې شعرا تلامیذ الرحمن وګڼل شول او د دوی ویناوې هر کله داسې خوږې دي چې د انسان زړه انشراح په مومي او د خوږو زړو مرهم دي.

زه چې محمدهوتک یم او په اصل پښتون په کندهار کې اوسم، له ډېره ده چې په ویلو د داسې ویناوو بوخت یم او د شپې او ورځې مې همدغه کار دی او دا ډېر وقتونه تېر شول چې ما غوښتهٔ چې زه د پښتو شاعرانو تذکره وکاږم او د دوی احوال سره راټول کاندم، مګر زمانې ما ته فراغ نه راکا او دا هیله مې په زړه کې وچه شوه، ځکه چې پر کندهار د ظلم او جفا تور تم پروت و او هېچا ارام نه درلود او نه فراغ؛ ګاهې به مغولو چپاوونه کول او ګاهې به د ګرګین د ستم سوران وو.

اوس چې حق تعالی موږ خلاص کړو له هغو ظلمونو څخه او فارغ سوهٔ زړونه زموږ او زموږ ملک حاجي میرخان علیه الرحمه (میرویس نیکه) دوی له کندهار ویاستهٔ او پښتانه یې د دوی له جوره ازاد کړل نو زما زړه فارغ شو له اندوهه

او قلم مې راواخیست، هغه وخت چې زما له ارادې خبر شو زموږ د پښتونخوا د سترګو تور، امام المسلمین و ابن قاتل الرفضه و الکافرین، شاه حسین، ادام الله دولته الی یوم الدین... .

نو یې زه وغوښتم خپل دربار ته او ما ته یې تشویق وکا او الطاف یې ښکاره کا چې دا خپله اراده پوره کاندم او د پښتنو شاعرانو حال سره راټول کاندم، ځکه چې زموږ پادشاه او د ښالمخېلو د زړه سر شاه‌حسین خلدالله ملکه و سلطنته په خپله هم د ښې وینا خاوند او د پښتو د شعر شوقمن دی، نو ما وغوښتهٔ چې ژر تر ژره دا کتاب وکښلی شي او د پښتنو شاعرانو احوال ټول کړ شي.»

(۷۴: ۴، ٦)

له دغه متنه ښکاري چې د پټې خزانې جملې لنډې دي او پرې پوهېدا کې یې ستونزه نشته، خورا روان او د خپل وخت ښکلی نثر دی. د عربۍ او پارسۍ اغېز په کې له ورایه ښکاري. د عربۍ کلمې په کې خورا ډېرې دي او د پارسۍ هم په کې شته؛ «اما بعد چې پیل پرې شوی او انشراح، فراغ، الطاف ...» عربي کلمې دي. شاه‌حسین ته القاب او دوعاګانې خو ټولې عربي دي. وقتونه کې ونه د پښتو روستاړی دی خو کلمه د پارسي وقت ده، ګاهې، اندوه... پارسي کلمې دي او پر کلمو سربېره د عربۍ او پارسۍ د جملوي جوړښت اغېز هم په کې ښکاري؛ «فارغ شوه زړونه زموږ او وغوښتم خپل دربار ته»، د عربۍ جملوي جوړښت دی چې فعل د جملې سر کې راځي. «له ډېره ده چې په ویلو د داسې ویناوو بوخت یم» کې بیا د پارسي اغېز ښکاري؛ پښتو کې به دا جمله داسې راتله: له ډېره د داسې ویناوو په ویلو بوخت یم. د عربۍ او پارسۍ نحوي جوړښت په کې دی خو د ختکو تر نثر په کې کم دی. په ټوله کې چې نثر ګورو د پښتو رنګ په کې پیاوړی دی او کابو اوسني نثر ته نېژدې نثر ښکاري. پاچایانو ته عربي القاب خو حتی اوس هم عربي کارول کېږي او دا د دربار په ادابو کې شامل دي.

## ۹-۲ پیرمحمد کاکړ

شاعر او لیکوال و، د احمدشاه بابا د زمانې دی او د شاهي کورنۍ استاد و. (۱۲۱٦هـ) شا و خوا مړ شوی او کندهار کې دفن دی. د شعرونو د دیوان تر څنګ یې د «معرفت الافغاني» په نوم نثري کتاب لیکلی، د مالوماتو له مخې د پښتو لومړنی درسي کتاب دی، د پښتو د زده‌کړې لپاره لیکلی شوی. ښکاري داسې چې د محاورې او خبرو اترو د زده‌کړې لپاره لیکل شوی او د فعلونو د ګردان نمونې لري. په (۱۳۴۱ش) کې هند او (۱۳۵٦ش) کې کابل کې چاپ شوی.

**د نثر نمونه:**

«ښکار که وکړې باک نشته، ښکار مباح دی، ښکار ښه دی کله کله. کښت خواري غواړي، د کښت اوس وخت نه دی، د کښت وخت لاپسې دی، کښت ډېر مه کوه، واک به دې پرې نه رسېږي، اوبه به پرې وچې شي، حاصل به دې له لاسه ووځي، خواري به دې ابطه شي. شهزاده صاحب په ښکار ووت، په ښکار به ووځي، په ښکار وتلی دی. سږ کال پرېواني ده، کاختي دې رب نه راولي، کاختي نشته، خدای دې سر د شهزاده صاحب لري چې سرچشمه د جود دی. ورېښم زينت د ښځو دی او نارينه‌وو لره خدای او رسول ناروا کړي دي. هم په دغه رنګ سرهٔ زر او سپين زر ناروا دي؛ پرهېز دې مردان مسلمانان ورځنې ډېر کړي، چېرې چې په اغوستن سره د دوی ځان سزاوار د اور کړي او ګوتې په قدر د يوه مثقال د سپينو زرو که حاکم يا قاضي يا مفتي وي د پاره د مهر د کاغذ په لاس کړي باک يې نشته.»

(۳۴: ۱۵۹، ۱۶۰)

رښتين صېب وايي چې دغه نثر د خټکو سبک ته ورته دی، مګر يو خاص شکل لري او د پټې خزانې له نثر سره ډېر نېژدې دی. د تعليمي موخې په وجه له نورو نثرونو سره توپير لري. جملې يې پرې کړې دي، واضح دي او ګراني په کې نشته. يو ساده او روان نثر ورته ويلی شو خو د عربۍ او پارسۍ له اغېزه ساتلی نه دی.

(۳۴: ۱۶۰)

د نثر دې نمونې ته چې ګورو د خټکو نثر ته ورته‌والی يې د تامل وړ دی، ځکه دغه نثر تر هغه واضح دی او جملې يې لنډې لنډې راځي. د عربۍ او پارسۍ هومره اثر هم پرې نشته لکه د خټکو پر نثر چې دی. دا کتاب او نثر چې زده‌کړه‌ييزه موخه لري نو ليک يې اسان کړل شوی. د نثر زياته برخه د پښتو له نحوي جوړښت سره تطابق کوي خو خال خال د پښتو له ګرامر وځي، لکه «ورېښم زينت د ښځو دی، پرهېز دې مردان مسلمانان ورځنې ډېر کړي، د دوی ځان سزاوار د اور کړي، د پاره د مهر د کاغذ په لاس کړي.» پښتو کې د دغو جملو ښه داسې راتله: ورېښم د ښځو زينت دی، مسلمانان مردان دې ډېر پرهېز ورځنې کړي، د دوی ځان د اور سزاوار کړي او د کاغذ د مهر دپاره په لاس کړي.

منځنۍ دوره کې نور ناثران هم لرو خو دلته د ټولو یادونه بحث اوږدوي. د دې وخت پر نامتو اثارو او نامتو لیکوالو بحث وشو او دا ښکاره شوه چې پښتو نثر له اوومې قمري پېړۍ تر دیارلسمې قمري پېړۍ پورې څنګه مزل کړی. نور له دې دورې وځو او معاصرې دورې ته ورځو.

## ۲-۱۰ معاصره دوره

زموږ کار له دې سره نه دی چې د پښتو ادبیاتو تاریخي دورې کله پیلېږي، کله پای ته رسي او پر کوم اساس یې تر منځ د بېلتون کرښه کاږل کېږي. دا کار د ادبیاتو د تاریخ دی او د ادبیاتو تاریخ هغه اثار او لیکنې څېړي چې ادبي وي یا په بله وینا هنري ارزښت ولري. موږ د پښتو نثر پر پرمختیا یا بدلېدا خبره کوو، که دا نثر ساینسي هم وي موږ بحث پرې کوو او که ادبي هم وي موږ ته د بحث وړ دی.

د پښتو ادبیاتو معاصره دوره د مولوي احمد له لیکنو پیلېږي، د راحت زاخېلي له «کونډه نجلۍ» لنډې کیسې پیلېږي او که د پښتو غزل بابا امیرحمزه شینواري په غزلګویۍ پیل شوې د ادبي ډګر دا بحث د ادب تاریخ بحثونو کې کېږي. موږ په عموم کې پر معاصر نثر خبره کوو.

زموږ د معاصر نثر پیل هله کېږي چې پښتونخوا کې د انګرېز راج دی او دوی غواړي پښتو زده کړي، دلته پښتو ورو ورو د لیک و لوست ژبه کېږي او پښتو سره مسلکي چلند پیلېږي.

«انګرېزانو د خپلې واکمنۍ د ټینګولو دپاره د پښتو ژبې زده کولو ته اړتیا درلوده. له دې کبله هغوی یو شمېر د قلم خاوندانو ته بلنه ورکړه چې د دوی دپاره پښتو درسي کتابونه ولیکي. د دغو لیکوالو په ډله کې د مولوي احمد، میراحمدشاه رضواني او منشي احمدجان نومونه د خاصې یادونې وړ دي. د دوی د لیکنې ژبه معیاري ده او د لیکنې سبک یې هنري ارزښت لري. په خپله راحت زاخېلي هم له انګرېزانو سره ناسته ولاړه درلوده خو دا نه ده مالومه چې هغه به کوم اثار د انګرېزانو په سپارښتنه لیکلي وي که نه؟»

(۳۹: ۲۲۳)

د ارواښاد روهي «د پښتو ادبیاتو تاریخ» نه پورتني اقتباس کې څلور نومونه راغلي، موږ د دغو څلورو نومونو پر نثر بحث پیلوو او د نن لیکوالو ته یې رسوو.

## ۲-۱۰- ۱مولوي احمد

په کال (۱۲۴۱) هـ.ق د پېښور په اشنغر کې زېږېدلی او (۱۳۰۱) هـ. ق کې مړ شوی. عالم و، او درس و تدریس سره یې کار و. انګرېز پادري هیوز سر د اشنایۍ په وجه د انګرېزانو د پښتو استاد شو. ده څو کتابونه لیکلي او ژباړلي. د کتابونو له ډلې یې «ګنج پښتو» تدریسي کتاب دی، واړه واړه حکایتونه په کې دي، دغو حکایتونو کې د پښتو خپل حکایتونه دي او له عربي و پارسي هم په کې ژباړل شوي. له ګنج پښتو نه د نثر یوه نمونه:

«د بخیل سړي هم مال زیاتېږي او هم یې غم زیاتېږي، یعنې دوه تاوانه ورته پېښېږي. لکه یو بخیل سړی و چې ډوډۍ یې له شاتو سره خوړله، ناګهانه په کوڅه کې چا مېلمه ورته اواز وکړو، ده په تلوار سره هغه ډوډۍ لرې کړله او چې شات یې لرې کول مېلمه پرې راغی، شات یې لرې نه کړی شول. لیکن د بخیل ګومان دا و دی به یوازې شات نه خوري، نو ورته یې ویل چې خوره کنه او که شاتو ته دې مینه نه کېږي؟ مېلمه ویل چې ښه ده شات خو ډېر ښه څیز دی، ولې به یې نه خورم. جوړ لاس یې پورې کړل، شات یې څټل، چې څه قدر یې وڅټل نو هغه بخیل ته یې وویل چې بې‌شانه ښه خوند لري. بخیل ویل چې رښتیا دي، مزه یې شته خو ډېر یې مه خوره؛ د سړي زړه سېزي. مېلمه وویل چې بې‌شکه ډېر ښه وایې، زړه سېزي، مګر ستا زړه سېزي.»

(۳۴: ۱۹۵، ۱۹۶)

د مولوي احمد د نثر دغه نمونه په پښتو محاوره برابره او خوږه ده، جملې یې لنډې او پرې کړې دي او مطالب یې ښکاره دي.

د مولوي احمد نثر موږ ته د نوي نثر د پیل زېری راکوي؛ دا نثر په کامله مانا د پښتو محاورې مطابق دی، د پارسي او عربي نثر اغېز پرې نه ښکاري. روان، ساده او بې‌تکلفه نثر دی.

ده د محمود غزنوي تاریخ هم ژباړلی، چې د ژباړې د اغېز په وجه سراسر په کې د پښتو ګرامري جوړښت ماتېږي او دغه خوند چې د دې حکایت نثر کې دی، نه لري: «جمع کوونکو د تاریخونو په مبارکو قلمونو سره په پاڼو د تصنیفونو خپلو هسې لیکلي دي چې سلطان محمود غزنوي یو بادشاه و چې نېکبختي د دنیا او دین یې نصیب شوې وه... .»

(۳۴: ۱۹۴)

دغه نثر ټول د پښتو ګرامر خلاف روان دی او په اصطلاح په کامله مانا ملايي ژباړه ده. ژباړې سره د لومړۍ ژبې د ګرامر انتقال حتی د نن ژباړو کې هم ليدل کېدی شي.

د مولوي احمد تخليقي نثر وينو چې ټول ګرامري جوړښت يې پښتو دی او ښکلی نثر دی. داسې به ووايو چې دا مهال د پښتو تخليقي نثر تر پخوا ښه شوی و خو د ژباړې برخه کې د ليکوالو/ ژباړنو تجربه کمه وه او پر دې نه پوهېدل چې ژباړه باید څه خېل وي.

د ګنج پښتو اړوند د ځينو پوهانو نظرونه داسې دي:

«... پروفيسر افضل رضا ليکي:

«د نثر په لحاظ ګنج پښتو يو ستر معياري منثور اثر دی، نثر يې ساده، روان او خوږ دی. جملې يې لنډې دي.»

د مولوي احمد د ليک په هکله پروفيسر محمدنواز طاير صېب ليکي:

«ګنج پښتو د خوږو او سبق‌اموزه کيسو يوه دلچسپه مجموعه ده چې د پښتو په روزمره او محاوره کې په ساده او روانه ژبه ليکلی شوی دی.»

په دې هکله ډاکټر خيال بخاري صېب ليکي:

«لنډه دا چې د تنګي مولوي احمد وړومبی سړی و چې پښتو نثر يې د قافيې او سجعې د بې‌خرته استعمال نه ازاد کړو او د پارسۍ-عربۍ د مشکل الفاظو دروندوالی يې ترې نه وويستو او دا يې په يوه نوې لاره روان کړو. ده په فطري انداز کې د روان او ساده نثر او د روزمرې محاورې استعمال له رواج ورکړو.»

د مولوي احمد ګنج پښتو د فن له مخه او هم د مقصد له مخه يوه ښکلې فن‌پاره ده. دا کتاب که يو لوستونکی خپله لولي يا يې نورو ته اوروي نو د دې په لوستو يا اورېدو کله هم بنده نه مړېږي. اصل کې د دغه کتاب په ژبه کې دومره زيات کشش دی او حکايتونه يې دومره زيات زړه‌راښکونکي او جاذب توجه دي چې بنده د دې بيا بيا لوستل غواړي.

د تدريس دا يو اهم اصول دي چې سبق دې زيات نه زيات دلچسپ او جاذب توجه کړی شي. چونکې دا کتاب بنيادي طور سره انګرېزانو ته د پښتو د زده‌کړې دپاره ليکلی شوی و نو په دې کې د دلچسپۍ او د ژبې د روانۍ د عنصر ډېر زيات خيال ساتلی شوی دی او هم دغه عنصر د دغه کتاب د مقبوليت سبب هم دی.» (۱۲: ۲۹۲، ۲۹۳)

## ۲ـ ۱۰ـ ۲ منشي احمدجان

اصل کې د غزني د مقر دی خو زده کړو ته پېښور ته تللی. (۱۳۳۰ش) کې د (٦۹) کلونو په عمر مړ شوی دی. انګرېزي يې زده وه او د انګرېزانو د پښتو استاد شو. «د افغانستان تاريخ»، «هغه دغه» او «د کيسه‌خوانۍ ګپ» يې نامتو اثار دي. وايي د پښتو ګرامر يې هم ليکلی و خو موږ نه دی ليدلی. د افغانستان تاريخ يې د مېلسون نومي انګرېز له تاريخه ژباړلی. د انګرېزي لږ اثر په کې ښکاري خو په ټوله کې ژباړه داسې ده چې د ژباړې ګومان نه پرې کېږي. د کيسه‌خوانۍ ګپ او هغه دغه يې پښتو نثر کې د بدلون نمونې دي او د پښتو زده کړې لپاره ګټور کتابونه دي.

(۳۴: ۲٦۵، ۲٦٦)

له تاريخ افغانستان نه د نثر نمونه: «د دې مراد ترسره کېدو په دوهمه ورځ مير واعظ (ميرويس) د کندهار خلک راغونډ کړل او يو تقرير يې وکړو. هغه ووې چې زه په خپل ايمان وايم چې زما مطلب ستاسو ازادول دي او ازادي يو داسې بې‌بها شی دی چې د دې د پاره دا سازشونه او جنګونه روا وو. تورګين‌خان د ايران تورزن او بې‌مثله سپاهي له منځه وووت، اوس کندهار چې د دې طاقتور مغول يې همېشه په بهادرۍ مقابله کړې ده، د هغو پوځونو وروستو کول څه ګران نه دي چې د اسپهان د ايجراګانو په کمان کې دي. اخر هغه خپل تقرير په داسې لفظونو باندې خلاص کړ چې د وطن د يو خواخوږي له خولې سره مناسب او د ازادو ځوانمردانو د اورېدو لايق و. هغه دا ووې که چېرې په تاسو کې داسې څوک وي چې هغه د دې ازادۍ په مزو باندې چې تاسو ته له اسمانه راغلې ده، زړورتيا نه شي کولی، يعنې په دې ازادۍ باندې خوشاله نه وي نو هغه دې په ډکه خوله ووايي، هېڅوک به ورباندې څه غرض ونه‌کړي. هغه بې‌شکه د دې خوشال رياست د پولې نه بهر چېرته د نوي ظالم بادشاه په تکل تلای شي. ټولې جمې ورسره خواخوږي وکړه. هر يو د دې خپلې ازادۍ حفاظت ته تړي ناست وو.

(۳۴: ۲۲٦، ۲۲۷)

**له کيسه‌خوانۍ ګپ نه:**

«**ادم درخانۍ:** درخانۍ په سوات کې د برې بازدرې د يو تاووس‌خان نومي پښتون لور وه او د پاياوخان نومي يو پښتون چنغله وه. يوه ورځ د درخانۍ د ترور د لور واده و، په هغه کې يې د کوزې بازدرې يو ادم‌خان نومي خانزاده باندې سترګې خوږې شوې «ټپ له دواړو لاسو خېژي» هغه هم پرې زړه بايلود. دې اور داسې لمبه وکړه چې د واده پـه خلاصـېدو او د

مېلمنو د رخصتېدو نه پس دواړو په لاره کې هرو مرو يو بل ته په غلا غلا کتل، ماسخوتن په اوجره کې چې ادم‌خان يوه گوته رباب ووهلو نو يو سوړ اسوېلی يې وکړو او ميرو، بلو خپلو خوږو يارانو ته يې د زړه حال ووې... .»

(۳۴: ۲۲۷، ۲۲۸)

د دواړو نمونو عبارتونه او جملې ساده او روان دي، هر څوک پرې پوهېږي. د پښتو متلونه، خوږې محاورې په کې رانوتي دي او ادبي خوند په کې پيدا شوی دی. مطلب په سپېڅلو لفظونو او لنډو جملو کې ادا کېږي. اوږدې او کړکېچنې جملې په کې نشته، سلاست او رواني لري، د لغتونو سوچه‌والی، د متلونو، محاورو او اصطلاحاتو راوړل د دې نثر مهمې ښېگڼې دي. لومړۍ نمونه کې د انگرېزي (کمان) راغلی؛ دا د ژباړې اغېز دی. منشي احمدجان د پښتو نثر د نوي سبک موسس دی او ده غوښتل داسې ليکل وکړي چې عام خلک پر پوی شي، دې لړ کې دی وايي: «ما چې به څه وليکل نو د کور مېرمنو يا نورو پښتنو ته به مې اورول، بيا به مې ترې پوښتنه کوله چې تاسو پرې پوه شوئ که نه؟ که کوم عبارت به گران او مشکل و نو هغه به مې بدل کړو تر څو چې قناعت به مې حاصل شو.»

(۳۴: ۲۲۹، ۲۳۰)

که دغو دواړو نثرونو ته پرتليزه کتنه وشي نو تر لومړۍ نمونې د دويمې نثر خوږ او روان دی. دا ځکه چې لومړۍ نمونه ژباړه ده، تاريخ دی او د کيسې خوږلني نه لري. دويمه نمونه تخليقي پښتو نثر دی او د کيسې خواږه پرې گډ دي نو ځکه تر لومړۍ نمونې خوږ او روان دی.

«د منشي احمدجان د ليک په هکله ډاکټر بخاري ليکي:

«د مولوي احمد نه پس منشي احمدجان د دغه طرز نثر ته نوره هم ښکلا وبښله، منشي صېب د «هغه دغه» او «د کيسه‌خوانۍ گپ» په ليکلو د پښتو نثر د جديد نه د جديدتر په لور وړواچولو. دې سره يې د مزاح‌نگارۍ دپاره هم لاره هواره کړه.»

د منشي احمدجان د نثر په هکله پروفيسر محمدنواز صېب ليکي. «دی د پښتو نثر د دوو مشهورو کتابونو «هغه دغه» او «د کيسه‌خوانۍ گپ» مصنف دی. په دې دواړو کتابونو کې د جديد نثرنگارۍ خواص ډېر نمايان دي. په پښتو ادب کې د طنز و مزاح ابتدا هم د دې کتابونو نه شوې ده... .»

... که موږ د پښتو ژبې د يو څو نامتو محسنانو نومونه اخلو نو د منشي احمدجان ذکر په نولسمه او شلمه صدۍ کې خامخا راځي. منشي صېب د پښتو نثر د جديد طرز سره اشنا کړو او راتلونکو ته يې لاره هواره کړه. «د کيسه‌خوانۍ

گپ» او «هغه دغه» اگر که د شلمې صدۍ د شروع لیک دی خو داسې ښکاري چې گنې دا کتابونه چا اوس لیکلي دي.»

(۱۲: ۳۴۷، ۳۴۸)

## ۲ـ ۱۰ـ ۳ میراحمدشاه رضواني

د پېښور د اکبرپورې و، (۱۲۷۹هـ) کې زېږېدلی او (۱۳۵۳هـ) کې مړ شوی دی. لوی عالم و او د (شمس العلما) په لقب ملقب و. پر انگرېزي پوهېده او ډېر کتابونه یې لیکلي دي. «شکرستان افغاني» او «بهارستان افغاني» یې د ښوونځیو لپاره دوه تدریسي کتابونه دي، دغو کتابونو کې ډېره برخه خوښؤنې دي او څه یې خپل مضامین دي.

(۳۴: ۲۳۲، ۲۳۳)

**له بهارستان افغاني نه یې د نثر یوه نمونه:**

«پښتون په څه پېژندی شي؛ شلَتې اوربشې به خوري، جوار به چیچي، چې سوړ سوکړک یې له کومي نهٔ تېرېږي نو د بل د کور رنې شلومبې به یې کتغ کوي. کور کې به یې پوزکی نه وي، په تشه لنگه به ځملي. د سابون لاس به یې نه رسي نو جامې به په مزرو رنگوي. جام به یې د خاورو کنډول یا د لرگي کونډۍ وي او دسترخوان به یې د خسنو شکرۍ. د بوخچې په ځای به یې گوډی په ترخ کې پروت وي. کډه به یې په سر ترلې وي. چې ډېر مېَن یې راشي پیتي به ورله پاخه کړي، غوړو ته به د زمري سترگه وایي. چې نینې په لاس ورشي د ټیکلي سود به پرې کوي. یو څپرگوټی به یې جوړ کړی وي او دوه- څلور شلېدلي کټونه به په کې پراته وي، تک تور چیلم به ورته پروت وي، تمباکو به ورسره نه وي، هټۍ له به ځغلي، هټۍوال ته به وایي هله یو چیلم تمباکو راکه، د اور ډېلی به ورسره نه وي، څپیاکه به لوگی کړي او چیلم به وڅکوي. دوه-درې جریبه ځمکه به یې وي، هغې ته به دوتر وایي، سر به پرې ماتوي، مرگونه به پرې کوي، کال و سر به په کې لگیا وي خاورې په سر ایرې په ټوپل، چې درمند تیار شو دړوالي به راشي، غله به ترې وتلي، قرض کې به یې یوسي. دی به لکه چې و هغسې به پاتې شي، جینگې داړې، بوټ وربوز، تش تور کور ته به راروان شي. دا یې گټه دا یې حال.»

(۳۴: ۲۳۵، ۲۳۶)

د رضواني نثر خوندور، د پښتو په سوچه کلمو ښایسته، په محاوره برابر یو ساده او روان نثر دی. د نثر فکر او مضمون کلیوال ژوند پورې اړوندېږي نو ځکه یې کلمې هم له کلیوالي ژونده انتخاب شوې دي او د خبرو ډول یې کلیوالي دی. په دې وجه پر غوږونو خوږ لګي او لوست یې سترې کول نه کوي.

(۳۴: ۲۳٦)

د رضواني د دغه نثر جملې لنډې دي، ګونګ نه دی، د نورو ژبو د ګرامر اغېز په کې نه شته او پردۍ کلمې په کې خورا لږې دي. د پښتو داسې نږه کلمې په کې دي چې ننني نثرونو کې هم نه کارېږي. تر هرې جملې روسته فعل دی، ځینې جملې سره ګنډه کېدی شوې او پای کې یې یو فعل پوره مانا رسولی شوه خو دې سره به بیا د نثر دغه خوند نه و او رواني به په کې نه وه. دغه نثر د پښتو د هغو نثرونو غوره نمونه ده چې پردۍ کلمې په کې لږې دي.

«رضواني صېب که یو خوا د خپلو کتابونو په ذریعه د مختلفو لیکوالو د نظم و نثر څه برخې محفوظې کړې دي نو دې سره سره یې د پښتو ژبې د زده‌کړې لارې د غیرپښتنو دپاره هم ازادې کړې دي او پښتو ژبه یې د سکولونو او کالجونو ژبه د جوړولو کوشش کړی دی. د ده ژبه ساده، صافه، روانه او بامحاوره ده. دې سره سره د مزاح خوند په کې هم شته او دا هغه خاصیت دی چې د ده لیک ته یې یو مخصوص رنګ ورکړی دی.

په دې هکله ډاکټر سید خیال بخاري صېب لیکي:

«د نوي نثر په پیش‌روګانو کې د... مولوي احمد سره د میراحمدشاه رضواني نوم هم راځي. شمس العلماء رضواني که یو خوا په شکرستان افغاني او بهارستان افغاني کې د زوړ نظم د نثر نمونې وړاندې کړې دي نو دې سره سره یې په خپله هم څو جدید مضامین په ساده او بامحاوره نثر لیکلي او په کې یې شامل کړي دي. په دې کې بعضې په مزاحیه انداز کې هم دي. نو موږ دا ویلی شو چې رضواني د منشي احمدجان نه هم مخکې د مزاحیه مضامینو او کیسو ابتدا کړې ده.»

... رضواني صېب د پښتو ژبې هغه لیکوال دی چې پښتو ژبه یې د جدید رجحاناتو په لور ورسمه کړه. هغه د پښتو ژبې د جدید نثر د علمبردارانو نه شمارلی شي او حقه خبره دا ده چې د مولوي احمد او منشي احمدجان سره که د ښاغلي رضواني صېب نوم وانه‌خېستی شي نو دا به د هغه سره بې‌انصافي وي.»

(۱۲: ۲۲۹، ۲۳۰)

## ۲ـ ۱۰ـ ۴ سید راحت راخیلی

په (۱۳۰۳ هـ.ق) د نوښار په زاخېلو کې زېږېدلی. پېښور کې يې مروج علوم لوستلي، شاعري يې کړې او د پښتو له نوموتو ليکوالو دی. پېښور کې لومړنی پښتو اخبار «افغان» د ده په اهتمام راوتلی. د لسګونو کتابونو ليکوال دی. پښتو کې لومړنی ناول «د ماه رخ ناول» هم ده ليکلی. ډېرې مقالې يې د پېښور په اخبارونو کې خپرې شوې دی. په (۱۳۸۳هـ.ق) کې وفات شوی دی.

(۳۴: ۳۰۴-۳۰٦)

لومړنۍ پښتو لنډه کيسه «کونډه جينۍ» هم ده ليکلې ده.

**د نثر نمونه يې:**

**«ښکالو**

د سپېلمۍ لويو لويو ګڼو بوټو او ګورو پاڼو کې هوسۍ له ځر نه سر پورته، شخوند يې بند کړو، غوږونه يې بوڅ کړل، اريانه ودرېدله، داسې چې له ځانه نه وه خبره. ملخ د سپېلمۍ په شنه پاڼه ورو ورو، غلی غلی راغی، د هوسۍ غوږ ته نږدې شو. هوسۍ! څه دي؟ ولې حيرانه يې؟ ولې خپه يې؟ اوهو! دا اوښکې، ولې واښه نه خورې؟ سپرلی تېر شو... واښه اوچ شو څه؟ که تږې يې؟ هوسۍ په يوه نېب يوه طرف ته سترګې بکې کړې دي او غوږونه تکې!

ملخ بيا ووې، د چا ښکالو ده څه؟

هوسۍ ديکه اوخوږه، هو! نهٔ واښه وچ دي او نهٔ تږې يم، ښکالو ده، د چا ښکالو، تشه ښکالو، بس ښکالو! د چا د ياد ښکالو!

ملخ: پوهـ نه شوم؟

هوسۍ: ته لا نه وې، دا سپېلمۍ وړې وړې وې، زه او اشنا مې دلته څرېدو، ښکالو شوه. ما دغه شان غوږونه بوڅ کړل. دغه شان، اشنا مې دغه شان ووې، همدغه شان لکه تا چې ووې...! ډز شو... موږ توپ کړ، زه لرې لاړم، آهـ ...! پل مې واخيست، وينې پسې لاړم، آن د بادشاه تر باغه... د بادشاه د زوی سرکلی و...! ډمې ګډېدې، غوښې ورتېدې، بېګمې خندېدې. ملکه په تخت ناسته وه، زما د سترګو په اوښکو پوهـ شوه، لکه چې ته پوهـ شوې. اخر زنانه عالَم و، ما

ووې بي‌بي مېرمنې! زما د ... تيکې ستا باورچي‌خانه کې ورتېري، خو دا څرمن يې ما ته راکړه، زه به يې په يوه ونه کې اوېزانده کړم... ورته به گورم، د زړه سود به پرې کوم.

ملکې ووې: نه څرمن تا ته نه شي درکولی. سوېلو ووې نه، هېڅېرې نه! دې نه به مونږ تمبل جوړوو.

گوره غوږ کېږده! نن د هغه بادشاه د زوی سنت دی...، تمبل وهلی شي. دغه اواز اورې؟ دغه زما د... د څرمنې تمبل دی... په ما يې اواز خوږ لگي، زما پرې سود کېږي، ښکالو ده... زه پرې پوهېږم، ته پرې نه پوهېږې...سود پرې کوم سود!»

(۳۴: ۳۰۶، ۳۰۷، ۳۰۸)

د راحت د نثر اړوند اجمل ختټک وايي: «دی ډېر سليس، روان، عام‌فهمه او په محاوره برابر رنگين نثر ليکي او د پوخ تللي مضمون په ليکلو کې پوره لاس لري.»

(۳۴: ۳۰۹)

د راحت دغه د نثر ټوټه چې گورو د پښتو د يو عالي نثر څرکونه په کې ليدل کېږي، د پښتو نثر چې د نورو ژبو تر ډېر تاثير لاندې و دلته يې اغېز ډېر کم شوی دی. د جوړښت له مخې له پښتو گرامر سره سر خوري او پردۍ کلمې په کې لږې دي. پر دې سربېره يې نثر پر دې خوندور دی چې جملې يې لنډې او روانې دي. د جملو دغه روانۍ کې د کيسې لاس هم شته، ځکه د کيسې نثر بايد وي داسې چې ورځنۍ مکالمې ته نېژدې وي. په ټوله کې راحت د پښتو نثر کې نوې سا پو کړې او د پښتو پر خپله لار يې روان کړی.

«راحت زاخيلي په (۱۹۰۸م) کې د پښتو لومړنی او اووۀ ورځنی اخبار (افغان) خپور کړ او له دې امله دی د لومړنيو پښتو ژورنالېستانو په کتار کې هم درېږي. راحت صېب ځينې اثار په پښتو ترجمه کړي دي او د حمزه شينواري په قول «د بلې ژبې نه نثر په نثر او نظم په نظم پښتو کې چې راحت صېب ترجمه کوي داسې بل زوی پښتنې دونيا لا نه دی پيدا کړی.»

(۳۹: ۳۳۹)

راحت پښتو نثر کې د انقلاب نوم دی؛ لومړنی پښتو ناول ده لیکلی، لومړۍ پښتو لنډه کیسه د دهٔ ده او له ادبیاتو ورها خوا د ژورنالیزم ډګر کې لومړنی پښتو اخبار ده چاپ کړی. دی د پښتو ادب او پښتو نثر له لویو محسنانو دی.

## ۲- ۱۰- ۵ مولانا عبدالقادر

مولانا په (۱۹۰۵م) کې د سوابۍ په ټوپۍ کلي کې زېږېدلی. د پېښور په اسلامیه کالج او د علیګړه پوهنتون کې یې زده کړې کړې دي. تحصیل یې د ماسټرۍ تر کچې دی. تر تحصیل روسته یې اسلامیه کالج کې د سربښوونکي په توګه دنده ترسره کړې، ډیلي کې د «نن پرون» مجلې او آل انډیا راډیو د پښتو څانګې مشر پاتې شوی او دغه لړۍ یې تر دې راورسوله چې پېښور پوهنتون کې د پښتو اکېډمۍ په ایجاد سره د دغه ادارې مشر شو. دې لړ کې د ده خدمتونه ښکاره دي؛ ان خیرالبیان چې ورک و جرمني کې یې پیدا کړ او پښتنو ته یې دا ورکه خزانه په لاس ورکړه. ده پښتو او پښتو نثر ته شعوري کار کړی، هڅه یې کړې چې پښتو سیاله ژبه وي او په تول تللی نثر ولري.

(۳۴: ۳۹۷- ۳۹۹)

د نثر باره کې دی وایي: «په شاعر باندې هېڅ تړون نشته، هر څه چې وایي ویلی یې شي، مګر د نثر دپاره ډېر فکر په ډېر هنر او د علم لوی امبار پکار دی، نثر لیکل ډېره خواري، پر له پسې فکر او لویه سینه غواړي.»

(۳۴: ۳۹۹)

پښتو کې د خپلو کلمو د رواړو پلوی دی «کوم ځای چې د پښتو خپل توري وي، په هغه ځای د نورو ژبو توري راټومبل هېڅ جواز نه لري. هر مضمون چې لیکونکی وربانديې قلم رااخلي پکار دي چې هغه د خپلې ژبې د تنې بودې او هر ګوټ پېر نه ښه خبر وي. که داسې نه وي نو پښتو لیک به هېڅېرې سمه پښتو نه وي. پښتو نثر لیکونکي دې سوچه پښتو لیکل په ځان فرض وګڼي، ولې د دې فرض پوره کولو دا معنا نه ده چې د هرې علمي یا فني اصطلاح دپاره دې خامخا بېوقره او په زور ټکي او اصطلاحات پیدا کړی شي.»

(۳۴: ۳۹۹، ۴۰۰)

دی د نثر لپاره دا لاندې اصول بیانوي:

«۱- چې کوم ځای کې د پښتو خپل لفظ یوه معنا په ښه واضحه او موزونه طریقه ظاهرولی شي نو پردی لفظ اخیستل زیاتی او غلطي ده.

۲- ژبه عام‌فهمه پکار ده خو چې اسان الفاظ موجود وي نو ګران په زور تالاش کول نه دي پکار.

۳- د ژبې په خپله تنه بوده کې که موزون الفاظ یا اصطلاحات وضع کېدی شي نو منع نه وي خو په دې کې د لغوي اقتدار، نحوي صحت او ذوق سلیم شرایط لازمي دي.

۴- خامخا ضد کول یا دعوا لرل چې زموږ ژبه مکمله ده او د هرې معنا د اظهار کیفیت په کې پیدا کېدی شي نو نور چا ته حاجت نشته او بیا د لغوي اقتدار او ذوق سلیم نه خلاف لغات یا اصطلاحات وضع کول یا ترکیبونه جوړول د ژبې د ترقۍ لار کې حایل دي. سایکل ته جولاګاډی ویل یا موټر، سټېشن و غیره له بل نوم جوړول بې‌فایدې کوشش دی. د دې نه برعکس ځای بې‌ځایه پردي الفاظ راننویستل لکه محترمې قانتې خور چې بې‌شمېره مثالونه ورکړي دي؛ شاپنګ له ځم، شېو کوم، هغه راته ملاو شو، وغیره د ژبې شرمول دي.

۵- د الفاظو د اخیستو په صورت کې به اخذ د هغه ژبو تر منځه وي د چا سره چې اخیستونکې ژبه قرب اشتقاق او نژادي پیوند او سمون خوري او یا یې تاریخي، مذهبي، جغرافیایي یا تجارتي تعلق او ارتباط وي، پاتې شوی وي او یا لري؛ لکه جاپاني او چیني، سنسکرېټ او اکثرې هندوستاني ژبې، عربي، پارسي، ترکي پښتو او اردو یا لاتیني، یوناني او اکثرې یورپي ژبې، که په دې ونه شوه نو بیا دې موزونیت ته کتی شي.

٦- د پردو ژبو نه د ضروري او لابدي الفاظو اخیستل پکار دي او په موزونه طریقه خو د دې تمامو شرایطو معیار ذوق سلیم دی. د هغې فیصله به منلی شي.

بې‌ضرورته او بې‌وجې خپل الفاظ ترک کول یا د نورو ناموزون الفاظ اخیستل د ذهني غلامۍ او تعلیمي خرابۍ بدترین ثبوت دی او همدغسې ښکاري لکه د ننني زمانې د مشرق زلمو خلکو چې خپل کړه وړه پرېښوده او د مغرب په چال روان شو. هغه ترې نه جوړ نه‌شو او خپل یې هر څه وبایلل. د مشرق ننني تعلیم‌یافته زلمي دې د ځان ننداره په دې چشمو وکړي.»

(٦٨: ۱۳۵، ۱۳٦)

د مولانا له لوړ اقتباس څرګنده شوه چې د پښتو یا پښتو نثر لپاره یې څه غوښتل؟ خو نثر کې یې ښکاري چې د خپلې غوښتنې خلاف یې بې اړتیا د عربي کلمې کارولې دي. «د لغوي اقتدار، نحوي صحت او ذوق سلیم شرایط لازمي دي.» جمله کې یوازې «د، او، دي» پښتو دي نور ټولې کلمې عربي دي. «ذوق سلیم او قرب اشتقاق» ترکیبونه د پښتو نحوي جوړښت خلاف دي. د مولانا د نثر ډېرې پردۍ کلمې پر پښتو کلمو اوښتی شي، داسې چې عام‌فهمه به هم وي.

زما په اند د ده اصول د پښتونخوا د نثر لپاره دي او پښتونخوا کې ژبې دغه کلمې هضم کړې دي. د پښتونخوا نثر له بده مرغه اوس کې د مولانا تر وخت لا ډېرې پردۍ کلمې بې اړتیا هضم کړې دي. د دې وجه ژبې سره سطحي چلند دی او لوستې طبقه د خپلې پوهې څرګندونه هم په دې کوي چې خبرو او لیک کې یې څومره عربي، اردو او بلاخره انګرېزي کلمې دي. انګرېزي خو دومره ورګډه شوې چې یوازې فعلونه د پښتو راوړي نور ټولې کلمې د انګرېزي او یوه اندازه د اردو وي.

د مولانا زمانه کې پښتو علمي ډګر ته ورګډېږي، پېښور پوهنتون کې د پښتو اکېډمۍ ایجاد پښتونخوا کې پښتو ته نۀ هېرېدونکی کار وکړ او لا روان دی. ډېر شمېر کتابونه یې چاپ کړل، علمي سېمېنارونه یې جوړ کړل او د انګرېزۍ-اردو ماحول کې یې پښتو سیالۍ ته برابره کړه. پښتونخوا کې بل داسې ادرس نه شته چې پښتو او پښتو ادب ته یې تر پښتو اکېډمۍ ډېر کار کړی وي. مولانا د دغه ادرس له مؤسسانو دی.

د کوزې پښتونخوا د نثر لیکونکو یادونه د مولانا پر یاد پای ته رسوو. د دې مانا دا نه ده چې دلې د پښتو نور ناثران نشته؛ شته، خورا نامتو خادمان او د عالي نثر څښتن شته خو موږ تاریخ نه لیکو، د څو نماینده کسانو له نثرونو د پښتو نثر حالت څرګندوو. د دغه حالت د څرګندولو لپاره د همدې درنو یادونه کافي وه. اوس بره پښتونخوا کې د څو نامتو نثر لیکونکو پر نثرونو تمېږو چې د برې پښتونخوا د نثر حال راته وایي.

### ۲-۱۰-۶ عبدالحی حبیبي

په کال (۱۲۸۹ش) کندهار کې زېږېدلی. لومړنۍ زده‌کړې یې کندهار کې کړې دي او تر زده‌کړو روسته کندهار کې ښوونکی شو. (۱۳۱۰ش) کې د کندهار د طلوع افغان مدیر شو، اووه‌لس کاله یې طلوع افغان وچلاوه. (۱۳۱۹ش) کې

کابل ته وغوښتل شو او د پښتو ټولنې مدير شو، د معارف سلاکار شو، د پښتو ټولنې مشر شو او د ادبياتو پوهنځي رياست يې وکړ. سياست ته هم تللی؛ د کندهاريانو وکالت يې کړی.

دی په پښتو و پارسي د لسګونو نثري اثارو ليکوال دی او شاعري يې هم کړې. پښتو نثر کې يې تحقيقي او تخليقي ليکل کړي. ادبي او تاريخي څېړنو کې د لوی نوم خاوند دی.

د (۱۳٦۳ش) د ثور په شلمه وفات او د کابل د خواجه انصار هديره کې دفن شوی.

(۳۴: ۳۱۵- ۳۱۹)

د نثر نمونه يې، دی د ښکارندوی غوري پر قصيده خپله تبصره دا ډول کوي:

«د ښکارندوی دا قصيده د پښتو ادب يو شهکار دی او د شاعر مهارت او استادي او د قريحې غښتلوالی او سپېڅلتوب ځنې ښکارېږي. لومړی مزيت چې په دې قصيده کې ليدل کېږي د کلام سلاست او رواني او بلاغت دی، چې هېڅ تعقيد او ابهام نه لري او شاعر په خورا مهارت خپل مقاصد په ساده او سپېڅلو عباراتو ادا کوي.

که څه هم ښکارندوی ښاروال او درباري سړی و خو کلام يې د غرو د ژبې کلکوالی او استحکام لري او ډېر د پښتو نادر لغات او مواد په کې شته چې پخوا ژوندي وو او ما د کتاب په حاشيو کې دروښوول. دا لغات موږ ته دا راښيي چې پښتو خورا وسيعه ژبه وه او اوس يې ډېر پخواني کلمات له رواجه لوېدلي دي؛ لکه ختيځ، لويديځ، لرمل، برمل او نور چې اوس يې په عوض کې موږ عربي يا پاړسو کلمات وايو.»

(۱۷: ۵۰۵، ۵۰٦)

د حبيبي صېب له دغه نثره ښکاري چې روان نثر لري او جملې تر اړتيا زياتې نه اوږدوي. وينو چې د عربی کلمې په کې ښې پرېمانې دي؛ ځينې کلمې يې د اړتيا له مخې دي خو د ځينو يې پښتو بديلونه شته او د ځينو د راوړو خو هېڅ اړتيا نه وه، مثلاً د کلکوالي تر څنګ د استحکام اړتيا نه وي. د عطف وييکی «او» ډېر کارېدلی، د متن لومړنۍ دوې جملې داسې راتللی شوې: د ښکارندوی دا قصيده د پښتو ادب يو شهکار دی، د شاعر مهارت، استادي، د قريحې غښتلوالی او سپېڅلتوب ځنې ښکارېږي. دلته درې وارې «او» داسې راغلی چې اړتيا يې نه وه.

دغه نمونه کې د عربي زياتې کلمې راغلې دي، له همدې امله پر متن پوهېدا د هر چا کار نه دی. دا د حبيبي صېب د نثر ځانګړنه ده چې عربي کلمات لکه د خپلې ژبې عادي کاروي. د عربي نومونو د جمعې حالت هم هماغه د

عربي راوړي، لکه مقاصد او عبارات چې پښتو کې مقصدونه او عبارتونه راځي. ځینو عبارتونو کې یې د پښتو نحوي جوړښت هم مات شوی؛ «ډېر د پښتو نادر لغات او مواد په کې شته.» جمله کې «ډېر» پر خپل ځای نه ښکاري، دا جمله به داسې غوره وه: د پښتو ډېر نادر لغات په کې شته.

«اوس یې ډېر پخواني کلمات له رواجه لوېدلي دي.» جمله به داسې ښه وه: اوس یې پخواني ډېر کلمات له رواجه لوېدلي دي. د اصل بڼې سمه مانا دا ده چې ډېر پخواني کلمات له رواجه لوېدلي خو لږ پخواني یې نه دي لوېدلي، د لرې‌والي او نېژدې‌والي مانا په کې پټه ده خو د جملې موخه د ځومره‌والي ده.

رښتین صېب د ده نثر اړوند وايي: «نثر یې خوږ او روان دی، د خپل مطلب د پاره ډېر ښه دلیلونه راوړي او له خپلې څېړنې څخه ډېره ښه نتیجه اخلي، بې‌فایدې او بې‌نتیجې لیکنه نه کوي. تش جذباتي شیان نه لیکي. دا بېله خبره ده چې یو وړوکی مطلب په اوږدو عبارتونو کې څرګندوي. د ده په نثر کې عربي کلمې هم ډېرې راځي.»

(۳۴: ۳۲۱)

دا د حبیبي صېب د څېړنیز نثر نمونه وه. تخلیقي نثر کې یې بیا دومره ډېرې عربي کلمې نشته، دغه نثر کې خو په نشت حساب دي:

## « د پلار مړي د اختر خولۍ

یوه خولۍ وه په خونه کې شا و خوا رغښته، دې او هغه په پښه وهله، کره وره روغه شوې وه. . .

سره له دې چې نوې وه، بیا هم خورا خیرنه وه، ښه نه ایسېده.

ما چې دا خولۍ ولیده، ټولو په سپکه سترګه ورته کاتهٔ. . .

نو زه به هېښ وم چې دا خولۍ د چا ده؟ لوړه بله خولۍ هم ځړېده چې خورا بربېښندوکې وه، په ډېر درناوي پر ځای پرته وه، هر چا په درنه سترګه لیدله.

له دوړو څخه په نري ټوکر پټه شوې وه، تر ټوکر لاندې لا هم ځلېده. . .

دا په وربښمو روغه وه، د اختر ورځې ته سمه پرته وه، ها بله لږ لږ له اومړو سپېنسو سره نښلولې شوې وه.

روژه تېره شوه، د اختر په ورځ ګهيځ هغه روغه او بربېښندوکې خولۍ په خورا ښه ډېل او ډول د بډای د زوی پر سر شوه، دغه کوچنوټی چې په نورو ښو ښو ځلانو کاليو کې ډوب و، دا ښکلې خولۍ هم د ده پر کوټې شوه.

بلې خوا ته مې ليدهٔ چې يو اسکېرلی او ترټلی کوچنی هلک کوم ګوټ ته ولاړ و، سرو ربړداوه، د اختر په نويو کاليو کې يې بل هېڅ نه درلودهٔ، ما وليده چې هغه خرڅوړه ناوړه خولۍ د ده پر کوټې وه... .

راته څرګنده شوه چې هغه د پلارمړي د اختر خولۍ وه، نو ځکه په سپکه د هر چا په پښو کې رغښته او مروړله کېده... .

ويش! لکه چې زموږ سره زړه‌سوی او خواخوږي نشته.»

(۱۱: ۲۸۱)

د حبيبي صېب دغه نثر دومره له پرديو کلمو پاک دی چې يتيم ته يې د پلارمړي مرکبه کلمه کارولې، حال دا چې يتيم پښتو خپله کړې کلمه ده. ما ته دې متن کې هېڅ پارسي، عربي او يا له عربي مغفنه شوې کلمه نه راښکاري، له نړه پښتو کلمو جوړ شوی نثر دی. که د پښتو متن داسې بېلګه وړاندې کوو چې هم نړه وي او هم عام‌فهمه وي نو دا به تر ټولو لومړنی انتخاب وي.

د تحقيقي متن غوندې «او» وييکی هم بې‌اړتيا په کې کارېدلی نه دی.

## ۲ـ ۱۰ـ ۷ قيام‌دين خادم

په (۱۳۲۵ هـ.ق) د ننګرهار کامه کې زېږېدلی. د پارسي او عربي دود زده‌کړې يې ننګرهار، پېښور... کې کړې دي او هند ته هم پسې تللی. صرف، نحوه، منطق، تفسير، حديث او نور يې ويلي. د ښوونې او ليکنې بېلابېلو ډګرونو کې يې کار کړی او تر شلو ډېر ادبي، ديني... کتابونه يې ليکلي او ژباړلي دي.

(۳۴: ۳۲۵ـ ۳۲۹)

د خادم صېب د نثر اړوند پوهاند لال‌پاچا ازمون وايي:

«استاد پر عربۍ او اردو ژبو پوهېده او له انګرېزۍ سره هم بلد و. د ده مطالعې او علمي استعداد د ده پر نثر هم اغېز کړی دی، کله نا کله داسې زيږ پښتون شي چې په ليکنه کې کره پښتو محاورې، اصطلاحات، پښتني ترکيبونه او د غرو رغو شډله او زيږه ژبه کاروي خو کله بيا د مطالعې، زده‌کړې او پوهې اس زين کړي او د غرور په نيلي داسې مست ټوپونه وهي چې د عربۍ او دري ژبې کړلېچونو ته مخه کړي او هغه سخت ترکيبونه او ميرزايي لغات راوړي چې تحليل او مانا يې غور غواړي. دلته يې بيا يوه بله څېره رابنکاره شي.»

(۲۰: ی- ک)

د ساده نثر نمونه يې:

**«افغاني ثقافت**

ايا موږ خپل افغاني ثقافت لرو؟

مخکې تر دې چې د دغه سوال جواب ووايو، لازمه ده چې د ثقافت د معنی بيان وکړو، ځکه تر څو چې ثقافت و نه پېژندل شي بحث ورڅخه عبث دی.

دلته دوه نورې کلمې هم شته چې يوه يې تهذيب او بله يې تمدن دی. د تهذيب اکثره په علمي او اخلاقي ښايست اطلاق کېږي. تمدن، عمران، اجتماعي ارتباط او نېک سلوک ته راجع دی. د يو قوم ثقافت د دغه قوم خپل تهذيب او تمدن ته وايي چې په دې کې علوم، فنون، اخلاق، سياست، قانون، مذهب، او اجتماعيات داخل دي.

اوس د سر سوال ته ځو چې ايا موږ خپل افغاني ثقافت لرو که نه؟ ځواب دا دی چې هو، موږ خپل افغاني ثقافت درلود او لرو يې. ځکه چې په پښتونخوا (اريانا) کې چې کوم اقوام او قبايل اوسېږي، د دوی استوګنه دلته سوونو او زرګونو کالو ته رسېږي، نو د دغو قبايلو او عشايرو ګډ ګوزران چې د طبيعي او جغرافيايي تقاضا له کبله، چې هر قوم بل ته احتياج درلود، پيدا شو. دغه ګوزران د دغه يو تر بله مربوط نژادونو او اقوامو په منځ کې يو ځان ته مخصوص تهذيب و تمدن يعنې «ثقافت» منځ ته راووړ.

له دې څخه به څوک انکار و نه کاندي چې افغان قام او د ده نور اريايي ورونه چې په لويه پښتونخوا کې له زرګونو کالو څخه اوسېدل، دوی خپل مخلوط، خپل يو رنګ او متحد علوم، فنون، معارف، اخلاق، عمرانات، صنايع، قوانين او مذاهب درلودل چې د دغو له مجموعې څخه يو مخصوص ثقافت پيدا شو. زه اوس دلته دا اوږده خبره چې

هغه نو څه شي دي چې باید په ډېرو کتابونو کې بیان شي؟ نه شم څېړلی، مګر دومره ضرور وایم چې موږ یعنې پښتون یا افغان قوم له ډېرو پخوانو اعصارو څخه خپل ثقافت او اجتماعي روح درلود او لرو یې.

د خپل ثقافت ساتنه د یو قام د بقا او استقلال دپاره ډېره ضرور او لازمي ده او د خپل ثقافت ساتنه د خپلې ژبې موسیقی، ادبیاتو، مستظرفه صنایعو، رقص، علومو، فنونو او اجتماعي روح، روایاتو او اخلاقو د ساتلو او مترقي کولو پورې اړه لري.

له ډېر پخوا څخه بیا د میرویس‌خان او احمدشاه بابا پورې افغانستان خپل ثقافت ساتلی او روزلی دی. تر دې وروسته د «افغاني ثقافت» نمر ورځ په ورځ زېړېدو چې څو په نوې دوره کې ورته بیا توجه پیدا شوه. تر دې دمخه موږ خپل ثقافت تقریباً هېر کړی و. موږ هېڅ نه پوهېدو چې موږ څه شی یو او که نه؟ موږ څه شی درلودل او که نه!؟

اوس چې د علم زمانه ده باید موږ خپل ثقافت ته پوره توجه وکړو او د خپل ثقافت په تقویه کولو سره خپل قومیت او ملیت ټینګ کړو تر څو چې په دونیا کې ابرومند ژوند وکړی شو.»

(۲۰: ۴۲۲، ۴۲۳)

د دې نثر جملې لنډې دي، روان دی او لوستونکي ته لوستو کې ستونزه نه پیدا کوي. البته د کلمو انتخاب بیا لوستونکی اړوي چې قاموس ته مراجعه وکړي. دلته د عربي داسې کلمې راوړل شوې دي چې پښتو بدیلونه یې ول او یا پښتو خپلې کړې عربي کلمې وې. عشایر او مستظرفه دوې داسې کلمې دي چې ما قاموس پسې وکوت، تر ما د لږ سواد څښتن ممکن د نورو کلمو د مانا لپاره هم قاموس ته اړتیا ولري. عشایر د قبایلو کلمې تر څنګ راوړل شوې کلمه ده، مانا یې قبایل ده. د دې کلمې راوړو ته خو له سره اړتیا نه وه، ځکه قبایلو بشپړه مانا رسوله. بې‌اړتیا څنګ تر څنګ د مترادفو کلمو راوړل د اوسني نثر عیب دی. د مستظرفه صنایعو پر ځای موږ ښکلي هنرونه ترکیب لرو چې د خادم صېب تر سوچه عربي ترکیب عام‌فهمه دی. د ثقافت لپاره بر پښتانه فرهنګ کلمه ډېره کاروي خو کوز پښتانه ثقافت ډېر راوړي. تهذیب هم کوزني ډېر رواړي، بر کې یې تمدن بدیل راښکاري. د دغو کلمو راوړلو نه ښکاري چې نثر یې د کلمو د انتخاب له مخې د لر بر ګډوله ده.

ډېرې عربي کلمې چې جمع شوې دي د عربي د قاعدې مطابق دي؛ صنایع، مذاهب او اعصار که د پښتو په قاعده جمع شي نو صنعتونه، مذهبونه او عصرونه ترې جوړېږي چې غوره بڼه یې هم دا ده، ځکه لړلوستي هم پرې پوهېږي چې دا بڼې د صنعت، مذهب او عصر جمعې دي.

داسې عربي کلمې هم راوړل شوې دي چې ساده او عام پښتو بدیلونه یې شته؛ د اعصارو پر ځای وختونه او د رقص پر ځای ګډا لرو.

لهجوي اغېز هم په کې ښکاري؛ ... روایاتو او اخلاقو «د» ساتلو او مترقي کولو پورې اړه لري. دې جمله کې تر ساتلو دمخه «د» که پر «په» واوړي نو معیاري به شي. داسې: په ساتلو او مترقي... .

په ټوله کې خادم صېب د عالي نثر ځښتن دی خو عربي کې د زده‌کړو اغېز به ارومرو راڅرګندېږي. د دوی وخت کې د پښتو سوچه کولو ته دومره پام هم نه کېده لکه اوس چې کېږي. ځینو خو د خپل علم د ښکاره کولو لپاره هم د نورو ژبو د کلمو استعمال کړی.

د خادم صېب پاسنۍ لیکنه علمي ده خو کله چې ادبي لیکل کوي نو بیا یې نثر تر دې نمونې خوږ شي او ډېرې عربي کلمې په کې نه وي. دا بېلګه ولولئ:

**«د کلیو ژوند: یوه منظره**

د ننګرهار په سیمه کې دغسې یخني نه وه، لکه نن چې په کابل کې ده. نه ځمکه په واورو پټه وه او نه د هوا د سوړوالي درجه (۲۲) د صفر نه لاندې وه، بلکې اوړی و، هوا توده او خلک د شنو ونو لاندې د ډکو ویالو په غاړه سیورو ته کېناستل. د لمر تاو زیات و او پوټکی به یې سېزلو.

دهقان په خپل پټي اوبه راسمې کړې وې او د اوبو په منځ کې یې په غویانو پسې غاښور اچولې وه، دی او غویي یې په اوبو کې تر زنګنو ډوب ګرځېدل، له دې خوا یې غاښور ډکوله، هغه خوا یې وړله او له هغه خوا یې دې پلوُ راوړله.

زما ملګری چې نوی له ښاره راغلی و، دا منظره ورته عجیبه ښکاره شوه او ویې ویل راځه چې له دغه دهقان سره خبرې وکړو. ما ویل ښه ده کنه، ما ویل: زلمیه ښه چارې، ده ویل: چار دې ښه شه، هر کله! زما ملګري ویل ځوانه دا څه کوې؟ ده ویل: دې ته د لندې غاښور وایي. ما ویل وروره دا د لندې غاښور پټي ته څه ګټه لري؟ ده ویل: هر پټی چې بې‌حاصله، خاوره یې مړه او ترخه شي او دغسې د لندې غاښور چې زموږ د دهقانانو په اصطلاح یې ګډال بولي؛ ورته لازمه ده.

زما ملګري ما ته وکاته، ویل یې: پوه شوې؟ هره خاوره چې بې‌حاصله، مړه او ترخه شي، ګډال ورته لازم دی. زما ملګری چې یو تعلیمي او منور زلمی دی، هر شي ته په دقت ګوري. ما ورته وخندل، ویل مې: دهقاني علم دی.

په دې کې يوې ښځې چې تور کالي يې اغوستي وو له سره يوم او کټوۍ راکوزه کړهٔ، په پوله کېناسته، زلمي د يوې کنۍ راماته کړه، په دې حال چې دی او غويي يې د سره پورې په ختو ککړ وو، قلبه يې ودروله، راغی کېناست. ښځې زموږ خوا ته پلو ونيو، په دې حال کې چې د تور پړوني لاندې يې نيم مخ ښکارېده، خاوند ته يې وخندل ويل يې: نن خو به ښه وږی شوی يې، سباناری لږ ناوخته شو. ده ويل: هو والله، بيا يې غږ کړو: مېلمنو راځئ، سباناری وکړئ. موږ ويل: سلامت اوسې. زلمي ډکه کټوۍ اوګره زر زر وخوړه او خپل کار ته پاڅېده. ښځه يو وار بيا په پاڅېدو کې موسکۍ شوه، ويل يې: زه ځم چې چيلم درته راوړم. ده ويل: ښه.

زما ملګری چې ډېر کنجکاو و، ما ته يې ويل: ښه په دې کار، دې زحمت او دې کار باندې دا خلک ولې له موږه قوي، تندرست او مسعود دي؟ ما ورته ويل: په همدې کار، زحمت او ساده‌ګۍ سره.»

(۲۰: ۳۴)

دې دويمه بېلګه کې سره له دې چې عربي او پارسي کلمې شته خو هومره نه دي لکه لومړۍ بېلګه کې چې دي او دلته هغسې ګرانې کلمې هم نه شته چې قاموس کتلو ته اړتيا شي. د نثر له نومه څرګنده ده چې د کلي د ژوند منظره ده نو د خبرو بڼه يې هم د کلي ده.

نثر کې بې‌اړتيا اوږدوالی شته، لکه درواخله د پيل جمله؛ د ننګرهار په سيمه کې دغسې يخني نه وه. دا جمله داسې لنډېدی شوه: ننګرهار کې دغسې يخني نه وه. بله بېلګه: ښه په دې کار، دې زحمت او دې کار باندې دا خلک ولې له موږه قوي، تندرست او مسعود دي؟ د جملې سر داسې لنډېدی شو: ښه په دې کار او دې زحمت دا خلک ولې... . د مسعود عربي کلمې پر ځای به نېکمرغه کلمه غوره وه.

د استاد خادم ځينې هنري نثرونه شعري کيفيت لري، خپله خادم صېب يې مثنور شعر بولي او ډاکټر لعل‌پاچا ازمون وايي: «که موږ د استاد ځينې نثرونه راواخلو، پر جملو او فقرو يې وويشو نو د سپين شعر بهترينې بېلګې دي. بېلګه يې: «ګله تر څو به دې دا نګهت، دا خوشبويي او دا خوږه وږمه په خپلو نازکو پاڼو کې رابنده کړې وي، پرېږده چې له ګلشنه غېږ راچاپېره کړي!...»

اوس همدا نثر کولی شو، د سپین نظم یا سپین شعر په بڼه ولیکو:

گله!

تر څو به دې

دا نگهت

دا خوشبویي

او دا خوږه وږمه

په خپلو نازکو پاڼو کې

رابنده کړې وي

پرېږده!

چې له گلشنه غېږ

راچاپېره کړي!...»

(۲۰: ز- ح)

استاد ازمون نظم‌پوهنه کې ډاکټري کړې او شعر باندې یې ډېر لیک کړی. دی پوهېږي چې دغه نثري ټوټه څومره د وزن و اهنگ له لوري د سپین شعر په تله پوره خېږي. زه دومره پوهېږم چې د دې ټوټې پر ترکیبونو شعري کیفیت خور دی او یا به ووایم چې دا ټوټه منثور شعر دی.

استاد د خادم صېب د نثر باره کې وړاندې وایي:

«د استاد خادم د منثور شعر کمال دا دی چې دی د نثر داخلي او معنوي موسیقي سره ښه غاړه کوي. څکه خو یې د نثر ژبه هم تصویري، مجازي او نامستقیم بیان کوي. د استاد په نثر کې ذهنیت او عینیت شاعرانه چاپېریال برابروي چې همدغې ځانگړنې یې پر لوستونکیو اغېز ښندلی دی. د کلمو په غوراوي او شاعرانه ترکیبونو جوړولو کې حساس دی. ژبه یې د حسي کلمو د عواطفو په رنگ کې یو عیني انځور وړاندې کوي.» (۲۰: ح)

## ۲ـ ۱۰ـ ۸ ګل‌پاچا الفت

الفت صېب په (۱۲۸۷ هـ.ش) په لغمان کې زېږېدلی. کابل او ننګرهار کې یې غیر رسمي زده‌کړې کړې دي. د لیک او چاپ بېلابېلو ادارو کې یې دندې ترسره کړې دي، حکومتي ماموریتونه یې کړي او د پښتو مدرس پاتې شوی.

الفت صېب شاعري کړې او نثر یې لیکلی. نثر کې یې تحقیق او تخلیق دواړه شته. رښتین صېب د ده نظم تر نثر لوړ بولي: «الفت له (۲٦) کالو راسې د پښتو ادب د پاره زیات کتابونه لیکلي دي. په نظم او نثر دواړو کې پوره لاس لري خو شعر یې تر نثر څخه اوچت ګڼل کېږي.»

(۳۴: ۳۳۹)

د رښتین صېب دا نظر د حیرانۍ دی، ځکه کابو ټول د نظر خاوندان په دې نظر دي چې د الفت صېب نثر تر نظم لوړ دی. حبیبي صېب د رښتین صېب خلاف داسې وايي: «د پښتو ادب چې په خپل سمسور بڼ کې یو ښکلی او رنګین ګل غوړولی هغه بې له شکه «ګل‌پاچا الفت» دی. دی فطرتاً شاعر و، شاعري او نازکخیالي په خټه وراخښلې شوې وه. که به یې نظم لیکه هغه به ضرور خوږ، روان او له معانیو ډک و، خو نثر یې تر هغه لا ښکلی، لطیف او په ګټورو نقطو پسوللی او ګټور و، هغه لفظي او ښکلې ماناوې چې ده په منثورو ابداعاتو کې ځایولی سوای کټ مټ داسې وې لکه سره اوډلی او پر له پسې شعر! د قلم رابطه یې یوازې له الفاظو سره نه وه؛ له زړه سره هم نغښتې وه، احساس او عاطفه یې دونې په ادبي تخلیقاتو کې نغښتله چې هره ټوټه به یو عاطفي شهکار و.»

(۷: ۱۴)

استاد زرین انځور د الفت د شعر او نثر پرتله داسې کوي: «د الفت نثر د هغه د نظم او شعر نه په زیاته پیمانه د پښتو ژبې د معاصر جریان لپاره اغېزمن جوت شوی او جوتېږي، ځکه یې نو باید د معاصر بشپړ انتقادي نثر مخکښ وبولو.»

(۷: ١٦)

د الفت نثر او نظم دواړه ساده دي؛ په دې مانا چې لوستونکی په اسانۍ پرې پوهېږي، په کې دربلبېږي نه او قاموس کتو ته اړتیا نه پیدا کېږي. دی خپله د نثر د ساده‌ګۍ اړوند داسې وايي:

«**ساده‌ګي:** کوم صفتونه چې د ښې انشاء دپاره په کار دي هغه دا لازموي چې باید لیکوال د ساده سبك پیروي وکړي او شعر و ادب دې د خلکو فکر او فهم ته نېژدې کړي.

په اوسني عصر کې چې طبقاتي امتیازات له مینځه تللي یا د تلو په حال کې دي، د خواصو هغه آسماني مقام ځمکې ته راټیټ شوی او عوامو ته اوس (کا الانعام )څوك نه شي ویلی.

شعر او ادب هم باید اوس د دیموکراسۍ او سوسیالېستۍ اقتضاآتو ته وګوري او د ځو تنو له حسن نظر نه عمومي التفات او عام مقبولیت «بهتر» وګڼي. متن کې بهتر کلمه نه وه؛ له خپل ګومانه مې ورزیاته کړه.

که مونږ په عمومي ډول د شعر او ادب تاریخي سیر او اوسنی موقف په نظر کښې ونیسو دا به ومنو چې تر ډېره حده د شعر و ادب مخه د جاه و جلال له بارګاه نه د خلکو درګاه ته را ګرځېدلې ده او خپله قبله یې بدله کړې ده.

څنګه چې په اوسني ادب کې خلک او وطن د غزلې سر وي باید د ادب ژبه هم د خلکو له فکر او فهم سره برابره وي او لیکوال داسې کلمات او تعبیرات انتخاب کړي چې د عوامو ذهن ته نژدې وي. اوس هغه وخت نه دی چې په نظم او نثر کښې به له لفظي او معنوي صنایعو نه ډېر کار اخیستل کېده او په استعارو او اشارو به خبرې کېدې، په نثر کې به هم سجع، قافیه یا وزن موجود وو، جملې به ډېرې اوږدې او کړکېچنې وې، یو مطلب به ځو ځله په ځو ډوله په غریبو الفاظو اداء کېده، مکررات او مترادفات به ډېر زیات او د پېریانو ژبه به وه چې خاص یو ځو تنه پرې پوهېدای شوه او بس.

اوس د خلکو د پوهولو دپاره په آسانه او ساده سبك څه لیکل په کار دي چې ګټه یې عامه وي او ډېر خلک ترې نه استفاده وکړي. اوس د وخت قیمت چا ته دا اجازه نه ورکوي چې د کوم ادبي اثر په مطالعه د اغلاق او اشکال په وجه ډېر وخت ضایع کړي.

د دې زمانې ځینی لیکوال او پوهان هم ساده انشاء ښه ګڼي او مشکل سبك ته په ښه نظر نه ګوري. ځینې وایي هغه انشاء چې ډېرې قلقلې په کې وي او ډېر ځلبل لري یعنې لکه رعد او برق ځلېدل او غرېدل یې زیات وي د لېکونکي عجز او تصنع ښیي، دا راز هنر ښودنه د واعظانو کار دی، په شعر او ادب کې ساده‌ګي لوی صفت دی نه کاکه‌توب او طمطراق، څومره چې د چا فکري او معنوي پانګه زیاته وي هغومره یې سبك ساده او روښانه وي. مغلق او پیچیده لیکل غالباً د لیکونکي له علمي او معنوي فقر څخه پیدا کېږي؛ هغه څوك چې د عبارت په ډول و سینګار پسې ډېر ګرځي او له لفاظۍ نه ډېر کار اخلي خپل معنوي فقر د الفاظو په برق او زلق پټوي.

رحمان بابا هم خپله انشاء ساده بولي او همدغه ساده انشاء د هر چا په نزد ډېره مقبوله ده.»

(۵: ۴٦، ۴۷)

د الفت صېب دغه نثر علمي دی، دلته یې د خپل نظر خلاف ګرانې کلمې هم راوړې دي خو تخلیقي نثر یې بیا د خیال او فکر بهترین امتزاج دی او د شعر خواږه پرې ګډ دي. دی چې د نثر اړوند کوم نظر لري همداسې ساده نثر یې دی، خال خال ګرانې عربي کلمې هم په کې راځي خو هغه دومره نه دي چې د نثر مانا سخته کړي.
محمدصدیق روهي د ده د تخلقي نثر اړوند داسې لیکلي: «د الفت نثر په حقیقت کې شعر دی... . یو ځلې چې څوک د الفت د کوم اثر په لوستلو پیل وکړي نو د هغه مقناطیسي خاصیت یې نه پرېږدي چې په اسانۍ ځان ترې خلاص کړي.» (۷: ۱۵)

پوهاند محمداسماعیل یون د ده د نثر د شکل اړوند داسې وایي: «په شکلي لحاظ الفت غواړي خپله د فکر مرغلره د عاطفې په اوبو ومینځي او د ساده، عام‌فهمه او روانو کلمو په لوپټه کې یې تاوه کړي. هغه ساده‌ګي یو صفت ګڼي، له تکلف، تصنع او ځان جوړونې څخه خپله لار بېلوي... .»
(۷: ۱٦: ۱۷)

د پورتنیو ادعاوو د زباد لپاره د الفت صېب لاندې نثر ولولئ:

**«سبا**

هغه ورځ، چې تر اوسه یې نه د لمر وړانګې د غرونو په سرو لوېدلې دي او نه یې د پېښو او واقعاتو مطلع چا ته معلومه ده، د سبا په نامه یادېږي.

دا ورځ لکه یوه پټه معشوقه له هر چا نه پټه ده او د سحر نسیم یې هم له مخه پوړنی نه دی لرې کړی.

دا نه ده معلومه، چې دغه ورځ به څه له ځان سره راوړي او څه به له ځان سره یوسي.

د چمن په ګلونو به شبنم ورويي او که ږلۍ؟

یو اشنا به په سرو سترګو له بل نه بېل کړي او که دوه خواږه یاران به غاړه په غاړه کړي.

دا ورځ له دغه مجهولیت او معماتوب سره د هر چا په زړه کې محبوبیت لري او هر څوك ورته په اُمید ګوري.

د هر چا کار او زیار د سبا ورځې د ښه والي دپاره دی او د نن ورځې د عمل نتیجه د سبا ورځې په لمن کې لټوي.

هر څوك هيله لري، چې د نن ورځې زحمت به د سبا ورځې په راحت بدل شي او سبا به له نن نه ښه وي.

په همدغه اسره د ژوندانه مشقت سپکېږي او د اُميد مزی غځېږي، د نن ورځې بندي د سبا ورځې ازادي په خوب کېويني او همدغه راز خوبونه د غمونو تله سپکوي.

چا چې نن د خوښۍ او خوشحالۍ ډولۍ کاله ته راوړې ده، هغه يقين لري، چې سبا ته به د زوی پلار شي او له دغې خوشحالۍ نه به بله خوشحالي پيدا شي، دا غولوونکی سبا هېڅکله نه سبا کېږي او تر قيامته دوام لري.

د ژوندانه ټول خوږوالی په همدغه شي کې پټ دی، که دغسې سبا ته څه اميدونه لرو د ژوندانه تحمل هېڅکله نه شو کولی.

ځمکه او اسمان په همدغې ورځې پسې سر په څېرۍ سرگردانه گرځي او د اتيا کالو بوډا هم له دغې ورځې نه نااميده نه دی.

که د سبا ورځې مينه زمونږ له زړونو نهٔ راوځي مونږ بيا ژوند نه شو کولی، ځکه چې زړونه سړېږي او ارزوگانې مري.

که مونږ له سبا سره خپل تعلقات قطع کړو ډېر تاوان به وکړو او خپل ژوند به فاني وگڼو.

په دغسې حال کې مونږ بيا اوږده فکرونه نه شو کولی او د مريخ سفر رانه پاته کېږي.

د سبا ورځې فکر زمونږ په اخلاقي ژوند کې هم ډېره اغېزه لري او د بشر هر راز مادي او معنوي ترقيات ورپورې تړلي دي.

دهقان د همدغې ورځې دپاره کار کوي او باغوان په باغ کې نيالگي ږدي، د خرما زړي په ځمکه کې کرل او د خرما له ونو نه خرما ټولول د هغوکسانو کار دی، چې سبا ته اميدونه لري او د نن ورځې په تنگه دايره کې ايسار نه دي.

څومره، چې د انسان ذهن او دماغ ترقي کړې ده، په هره اندازه چې انسان لوی شوی او پوه شوی دی هغومره يې له سبا سره تعلق زيات شوی دی، د سبا ورځې غم خوړل، د سبا دپاره فکر کول د سبا ورځې ضرورت او احتياج په نظر کې نيول د ډېرو پوهانو او د ډېرو لويانو کار دی. زه لوی او کوچنی په همدې پېژنم، چې يو ډېر لرې گوري او بل ډېر نژدې گوري. د يوه سبا هم ډېر لرې او د بل لنډ دی.

د مسلمان سبا پس له مرگه هم شته، د ده نظر باید ډېر لرې ځار وکړي او ابدي ژوند په نظر کې ونیسي.

ابدي ژوند همدغه دی، چې سړی له سبا نه غافل نه وي او د سبا اندېښنه ورسره وي.

نن او سبا هغه دوه مېلمانه دي، چې یو ځي او بل راځي، مونږ له یوه سره وداع کوو او د بل په خدمت مشغولېږو.

زمونږ خدمت باید د سبا ورځې دپاره وي او خپله اینده په نظر کې ونیسو، د عقل او دوراندیشۍ تقاضا همدغه ده.»

(۷: ۱٦٦)

د الفت تحقیقي نثر کې چې تر تخلیقي نثر عربي کلمې زیاتې دي پړه به یې پر علمي اړتیا او یا د ژبې پر کمي ورواچوو چې د هر مفهوم لپاره کلمې نه لري. دا حقه خبره هم ده، ځکه الفت صېب د نثر استاد دی او د ښه نثر پر ځانګړنو پوهېږي. البته دا هم حق دی چې ځینې داسې پردۍ کلمې یې هم راوړې دي چې پښتو بدیلونه ورته لرو. د ده د علمي لیک نمونه دلته ولولئ، دې نمونې نه پر نثر د الفت صېب د پوهې اندازه لګي او هم په کې د ده د تخلیقي او تحقیقي نثر توپیر په ډاګه کېږي:

«ښه انشاء: هغه ده چې دا صفتونه په کې وي:

**وضاحت:** د ښې انشاء یو مهم صفت وضاحت دی، په لیك او وینا کې باید هېڅ قسم ابهام التباس او خفا نه وي موجوده او دا کار هله کېږي چې د کلماتو دلالت په خپله معنی باندې واضح او روښانه وي.

په جمله کې باید ډېر آدات، روابط او عوامل رانشي او نه په کې د ضمیرونو تشتت او ډېر تعدد ولیدل شي. د جملو سبك باید جلي وي او عبارات داسې اتصال او ارتباط ولري چې هېڅ راز تعقید او التباس په کې نه وي.

معترضه جملې باید ډېرې نه شي او په خبره کې بچی، نمسی او کړوسی پیدا نه شي.

**صراحت:** صراحت دا دی چې په انشاء کې د تالیف او ترکیب ضعف نه وي او الفاظ له مقصودو معناګانو سره تناسب ولري.

د صراحت او وضاحت فرق دا دی چې هر صریح واضح وي مګر هر واضح صریح نه وي.

د عوامو کلام واضح وي مګر صریح نه وي ځکه چې د ترکیب او تالیف ضعف پکې وي.

صراحت هغه وخت په کلام کې پیدا کېږی چې الفاظ فصیح وي او د بیان طرز داسې وي چې معاني یو په بل بار نه وي، هره معنا ځان ته حیثیت ولري، د فصل او وصل مراعات په ښه شان شوی وي او د عطف و استیناف ځایونه معلوم وي.

**ضبط:** له ضبط څخه مقصد دا دی چې په کلام کې زیاتې او بې‌ضرورته برخې نه وي او د حذف و اضمار په واسطه د کلام تمکین او متانت په ښه شان ساتل شوی وي.

**طبیعت:** یعنې په کلام کې له تکلف او تصنع څخه کار نه اخیستل. څنګه چې په وینا کې فصاحت ښه دی او تفصح (په تکلف سره فصاحت ښودنه) ښه نه ده، ادبي صنعت هم باید په طبیعي ډول وي او په دغه باب کې له تکلف او تصنع څخه کار وانخیستل شي.

غرض دا چې په انشاء کې صنعت، ښکلا او رنګ‌آمیزي په داسې ډول وي چې هر چا ته به طبیعي معلومېږي نه دا چې صنعت او ښکلا به په کې ښېخي نه وي او ادبي رنګ به نه لري.

د ادب ګرانوالی هم په همدغسې دقیقو مراعاتونو کې دی چې سړی باید د هر شي اندازه وساتي او د هنر بار په کې په نظر کې ونیسي.

ادبي ذوق ډېر نازك مزاج لري او ترضیه یې ډېر ګران کار دی. د هنر خاوندان د عوامو په شان نه دي چې په محض سرو او شنو رنګونو وغولېږي او په مصنوعي ګلونو د حقیقي ګلانو ګومان وکړي.

**سهولت:** سهولت آسانی ته وایي، په انشاء کې د سهولت مراعات او په آسانه لاره تلل په کار دي.

څنګه چې بې‌لارې تګ ښه نه دی دغه شان آسانه لاره پرېښودل او په ګرانه لاره تلل هم ښه کار نه دی.

د انشاء خاوند باید کوشش وکړي چې د ژبې آسانه او بې‌تکلیفه لاره پیدا کړي او په پیچومو او لوړو ژورو سر نه شي.

ځینو بلغاوو ویلي دي پام کوئ چې په خپلو خطابو او ویناوو کې له ډېرو عمیقو الفاظو او مشکلو تعبیراتو نه کار وانخلئ.

د لفظ او معنا حسن په آسانی کې ولټوئ او د لاس غوټه په خوله مه خلاصوئ.

**انسجام:** په لغت کښې د اوبو جریان ته وایي  د بلغاوو په نزد هغه کلام منسجم دی چې لفظي او معنوي تعقیدونه په کې نه وي او د اوبو په شان رواني ولري.

تاسې فرض کړئ چې په یوه لښتي کې اوبه ډېرې ورو او ډپ روانې دي چې لکه یو ډنډ معلومېږي او په بل لښتي کې د اوبو جریان ګړندی دی او رواني یې زیاته ده په همدغه وجه دا اوبه او هغه اوبه د پاکی او صفایی په لحاظ د هر چا په نظر کې ډېر فرق لري.

د یوه او بل انشاء هم د روانی او انسجام په لحاظ مختلف مدارج لري او هماغه انشاء زړونو ته ژر لاره پیدا کوي او د عام مقبولیت درجې ته په بیړه رسېږي چې رواني یې زیاته وي. لکه چې د رحمان بابا د شعر په نسبت چا ویلي دي:

ستا اشعار دي رسېدلی تر هر ځایه هر پښتون ته

د اوبو په شانې وینم ستا د شعر رواني

**اتساق:** د معانیو ټینګ اتصال او ارتباط ته اتساق وایي که د کلام تناسب ښه وساتل شي او جلمې یو له بله بې‌ربطه نه وي نو په انشاء کښې دغه صفت پیدا کېږي او د انشاء حسن زیاتوي.

**جزالت:** ښه معاني په مناسبو الفاظو اداء کول جزالت دی. د معنا او مقصد د اداء کولو دپاره مختلفې لارې موجودې دي، ځینې تعبیرات سپك او رکیك وي ځینې ښه او مهذب وي، سړی کولی شي چې یو مطلب په رکیك او ناوړه تعبیر هم پوره اداء کړي چې هېڅ خفاء او اشتباه په کې نه وي مګر د ادب او قلم له ژبې سره دغه راز تعبیرات نه ښيي، ادیب او لیکوال باید ښه عبارت پیدا کړي او د معنا شرافت وساتي.

(۵: ۴۳ـ ۴۶)

## ۲ـ ۱۰ـ ۹ عبدالروف بېنوا

د مُلا عبدالله زوی په ختې علیزی دی. په (۱۳۳۲هـ.ق/۱۹۱۳م) د کندهار پاشمول کې زېږېدلی دی. د عربۍ او پارسۍ دود علوم یې لوستلي؛ عربۍ کې یې دیني او ادبي زده‌کړې کړې دي. د تحقیق او لیکوالی ببلابېلو ادارو کې یې پر مختلفو څوکیو کار کړی او دې برخه کې د مطبوعاتو تر وزارته رسېدلی دی.

شعر لري، تحقیقي نثر یې لیکلی او ادبي نثر یې تخلیق کړی. ډرامه لیکنه کې د «ننني افغانستان» لومړنی سړی دی او منثور شعر یې لیکلی. «پښتونستان» او «اوسني لیکوال» یې ګټور کتابونه دي. روسی پښتوپوهـ ګیرس د بېنوا «پرېشانه افکار» تر ټولو غوره اثر بولي او وایي نثر یې د ټاګور د نثري شعرونو تقلید دی.

(۳۴: ۳۵۳)

د نثر نمونې يې: د پښتو شاعران باید څه وکړي؟ په نوم لاندې لیکنې نه دغه راخیستې برخه کې ښکاري چې ښېنوا شعر کې د مترقي فکر وړاندې کولو پلوی دی؛ ادب د ادب لپاره نظریې پر ځای ادب د ژوند لپاره نظریه مني:

**«د پښتو شاعران باید څه وکړي**

باید پښتانه زلمي شاعران له موهوماتو او خرافاتو څخه ځان راوګرځوي او تر هر څه دمخه د ولس او ټبر ویښوالی په نظر کې ونیسي او پښتنو شاعرانو ته په لوړ ږغ ووایو: (تر څو پورې؟) اوس باید د زنخدان له کوهي څخه د همت په مزي د وطن‌پرستۍ په رسۍ د فداکارۍ او عمل میدان ته راووځو. په پلار او نیکه یا د مړو په ستاینه نه خلاصېږو، دنیا مو ویني د لافو او پټاکو په جامه کې پټېدلی نشو، دنیا تېزه روانه ده او هر څوک چې د دې تېزۍ مخه ونیسي هغه به نیست او نابود شي. موږ له قافلې نه ډېر وروسته پاته یو، پښتني همت او ټینګ عزم پکار دی چې د همزولو سره ځان سم کړو او د تمدن په کاروان پسې ځان ورسوو. د خوب دوره تېره شوه، د ملت ویښول یوازې د زلمیو شاعرانو وظیفه ده بس... .»

(۱۰: ۱)

د نثر دغه ټوټه واضحه ده، رواني په کې ده، اضافي کلمې او جملې په کې نه ښکاري، هره جمله ځانګړی پیغام لېږدوي. د ربط ویيکی «او» یو-دوه ځایه اضافي راغلی. متن کې د کندهارۍ لهجې اغېز شته؛ «پاته او ږغ» د نصابي لهجې د «پاتې او غږ» کندهاري بدیلونه دي. د پارسۍ او عربۍ کلمې یې په بې‌تکلفۍ راخیستې دي.

د نثر دغه دویمه بېلګه یې بیا د هنري نثر نمونه ده:

«پرې مې ږدئ چې خپل دردونه درته بیان کړم. زه تا خپل دوست ګڼم خو ته هم زما ارزوګانې او پټو دردونو ته په پټه سترګه مه ګوره. هېڅکله زه تا د دروغو او غوړه‌مالۍ په الفاظو نه غولوم، نه د خپلو خبرو په مقابل کې ستا څخه د صلې انتظار لرم. خو هغه ښېداد صیاد ته ولې څه نه وایې؟ ګوره! د خپل نفسي خواهش دپاره یې هغه ښکلې مرغۍ په قفس کې ساتلې ده. دا مرغۍ باید ستا د بوستان زېب او زینت وي. پر څه چوپه او د قفس کونج کې غلې پرته ده...؟ مات کړه، دا د اوسپنې زوړ او تور قفس مات کړه او دا ښکلې مرغۍ ازاده کړه چې ستا بوستان ته بیا رونق ورکړي، آهـ! پر خوله مې لاس مه نیسه، پر مې ږده چې دردونه درته بیان کړم! دې خونخوارو لېوانو ته مه خانده، دا دی ګوره ستا په رمه یې خېړې سرې کړې دي او لا نورې یې هم سترګې سرې دي. خدای دې چې د شپون سترګې بلې خوا ته شي، که نه، دا رمه خو هېڅ خدای پیدا کړې نه وه، لاښ لا څه چې وینه به یې هم ځمکې ته پرې نه ږدي.

مهربانه شپونه! مه پرېږده، دا رمه د لېوانو مخکې همداسې مه پرېږده؛ دا رمه ما او تا ته سپينې شيدې راکوي او له وړيو څخه يې پاسته او نرم پوستينان جوړوو. دا لا څه که ضرورت شي خپل ځان او وينې هم زموږ مخکې قربانوي. نو... آهـ! پر خوله مې لاس مه نيسه، پرېږ مې ږده چې خپل دردونه درته بيان کړم!»

(۳۴: ۳۵۵)

دغه نمونه هم له روانۍ او عام‌فهمۍ برخمنه ده. پارسي او عربي کلمې په کې دي. متن دا ستونزه لري چې مخاطب يې کله مفرد وي او کله جمع شي. د پرېږ مې ږدئ پر ځای که پرېږ مې ږده عبارت راغلی وی نو لا به ښه و، ځکه متن کې ډېر ځايونه مفرد مخاطب دی. ارزوګانې پر ځای ارزوګانو ښه سمه ده، په پټه سترګه که په يوه سترګه ړانده ته کنايه نه وي نو محاوره داسې ده چې په پټو سترګو مه ګوره. د متن دغه برخه: «خدای دې چې د شپون سترګې بلې خوا ته شي، که نه، دا رمه خو هېڅو خدای پيدا کړې نه وه، لانس لا څه چې وينه به يې هم ځمکې ته پرې نه ږدي.» ګونګتيا لري.

دغه ټوټه د ګل‌پاچا الفت «بې‌ګنا بندي» ادبي ټوټې سره ورته‌والی هم لري، کابو دواړو ټوټو کې يو پيغام پروت دی؛ دواړه ټوټې د خبرو ازادي غواړي.

د ښنوا صېب د نثر اړوند رېښتين صېب داسې وايي: «د ښنوا د ليکلو سبک تر ډېرې اندازې له خپل محلي رنګ څخه وتلی دی او د هر ځای پښتانه پرې پوهېږي. مطلب دا چې د ده د ليکنې ډول شريک پښتني سبک ته ډېر نږدې شوی دی. دی په خپله ليکنه کې د کوزې پښتونخوا کلمې په پراخه ټنډه راوړي؛ لکه «هېڅو...» او دا کار که له يوې خوا د فکري پراختيا لويه نښه ده نو له بلې خوا د پښتو ادب د عام‌فهمۍ، اسانۍ او يووالي دپاره هم ډېره ګټه لري.»

(۳۴: ۳۵۷)

## ۲ـ ۱۰ـ ۱۰ صدیق‌الله رښتین

پوهاند صدیق‌الله رښتین د مولوي تاج‌محمد زوی، په ختیځ مومند دی. په (۱۲۹۸هـ.ش) د مومندو په غازي‌اباد کې زېږېدلی. زده‌کړې یې له کوره پیل کړې دي او له ابتدایي تعلیم روسته د ننګرهار د هډې نجم‌المدارس ته تللی، تر هغې روسته د کابل عربي دارالعلوم کې شامل شوی. زده‌کړې یې عربۍ او پارسۍ کې کړې دي خو پښتو او ادب سره د ځانګړې مینې په وجه یې پښتو شعر او نثر لیکل پیل کړي. عربي مقالې یې لیکلې دي، له عربي او اردو یې پښتو ته ژباړې هم کړې دي.

د کابل له دارالعلوم تر فراغت روسته په کال (۱۳۱۸ش) کې د پښتو ټولنې د ابتدایي غړي په توګه منل شوی، دلته یې پر مختلفو موقفونو کار کړی او تر ریاسته په کې رسېدلی. پر دې سربېره د معارف سلاکار پاتې شوی او د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي استاد و. دی خپله وایي چې څلوېښت کلنۍ کې یې تخمیناً اته سوه مقالې لیکلې دي. د پوهاند رشاد په قول د (۷۹) کلونو په عمر (۱۳۷۷ش) کې وفات شوی او د تالیفاتو شمېر یې کابو اویا ښوول شوی.

(۱۱: ۴۶۹)

زموږ د موضوع پښتو نثر اړوند یې معتبر کتاب «د پښتو نثر هنداره» لیکلی چې د ډېر ارزښت وړ دی؛ د دې کتاب تر لوستو روسته بنده ته ښکاري چې پوهاند صېب پر نثر ډېر ښه پوهېده او نورو ته ورښیي چې نثر باید څه ډول وي.

دی د پاخه علمي نثر څښتن دی او د هنري نثرونو ژبه یې خوږه ده. دلته یې د نثر بېلګې راوړو، لومړی نمونه د علمي نثر ده:

### «سپېڅلی ادب

د یوې ژبې د ژوند او پرمختګ دپاره د سپېڅلي او عالي ادب پالنه د روح او سا مثال لري. تر څو چې یوه ژبه د سپېڅلي ادب په ګاڼه ښایسته نه شي، تر هغې یې لوړتیا او وړاندې تګ ګران ښکاري. ښه او لوړ ادب هغه دی چې د خلکو احساسات وخوځوي، خویونه او عادتونه یې ورسم کړي او د نېکۍ او خیر په لور یې ولېږدوي.

منلی او سپېڅلی ادب هغه دی چې هر څوک د خپل حال سره سم د ژوندانه په لارو چارو پوهوي او د ژوندانه هدف او مقصد ورته په یوه ښه رنګ کې وړاندې کړي. رښتینی او سپېڅلی ادب هغه دی چې د چاپلوسۍ، غوړه‌مالۍ،

بېځايه ستاينې او دروغو سره پاک وي. د سپېڅلي ادب لوی صفت دا دی چې د ولس په زړونو کې يو نه هېرېدونکی اثر وشيندي. کوم ادب چې د يو قوم پرېوتی ژوند اوچت نه کړي او د ازادخيالۍ او لوړهمتۍ روح په کې وانه‌چوي هغه هېڅکله د لوړ او سپېڅلي ادب د سرليک لاندې نه راځي. ښه ادب هغه دی چې د خلکو د ګټې دپاره د خلکو په خوږه او اغېزناکه ژبه وليکل شي.

د يوې ژبې د لوړتيا دپاره له نظم څخه نثر ته زياته توجه پکار ده، نظم يو ذوقي شی دی مګر نثر د ژوندانه يو ضروري او لازمي توکی دی. نو ځکه د مصري ژبې ادب سربېره په شاعرانو پوهو ليکوالو عالمانو ته هم زياته اړتيا لري. ښه وينا، ښه نثر، غوره نثر له سلو شعرونو نه زيات اثر شيندي. رېښتيني شاعران هم د يو قوم سترګې دي خو هاله چې د يو لوړ هدف خاوندان وي؛ هر څه، هر څه نه وايي او هره ورځ په بېل بېل رنګ نه ناځي. د ښه ليکوال او ښه شاعر لوی صفت دا دی چې فکر يې پوخ، عقيده يې ټينګه او ژبه يې خوږه او پاکه وي. هغه شاعر او ليکوال چې د شعر مرغلرې په پېړو خرڅوي او همېشه د طاقت بوت ته په سجده پروت وي؛ هغه د رېښتينو، اصلي شاعرانو او ليکوالو په صف کې د ودرېدو حق نه لري. دغه شان څوک چې يو لوړ مرام په خوندورو او سپېڅلو الفاظو کې نه شي څرګندوی نو هغه هم د لوړو اديبانو په ډله کې نه شي راتلی او نه سپېڅلی او ښکلی ادب کولی شي چې د پاک وجدان او د روغ فکر خاوندان تل خوشال او خوښ‌من وساتي.»

(۳۳: ۲۴)

په ساده ژبه روان نثر دی. جملې يې پرې‌کړې دي او هره جمله بېل مفهوم لېږدوي. ژبه يې د هنري نثر خواږه هم لري. رښتين صېب پر ګرامر پوهېده او ژبپوهنيز کتابونه يې ليکلي خو دې نثر کې يې د اوسنيو معيارونو له مخې د عطف د ځينو توکو سمه کارونه نه ده شوې. ځای ځای که يو د بل پر ځای راغلي وی نو سم به وو. د بېلګې په ډول دې جمله کې: «منلی او سپېڅلی ادب هغه دی چې هر څوک د خپل حال سره سم د ژوندانه په لارو چارو پوهوي.» دلته «د خپل حال سره» عبارت کې د «د» پر ځای «له» سم راځي، «له خپل حال سره» او «په لارو چارو» کې د «په» پر ځای «پر» سم دی، داسې: «پر ځای». خال خال ځينې تقريبي مترادفې کلمې يوه د بلې تر څنګ راغلې دي. خويونه او عادتونه، د نېکۍ او خير، چاپلوسۍ او غوړه‌مالۍ، هدف او مقصد... ترکيبونو کې که يوه کلمه راغلې وه نو مانا يې رسوله. «سربېره په شاعرانو پوهو ليکوالو عالمانو ته هم...» دلته دې جمله کې چې پوهو راغلي نو عالمانو ته اړتيا نه وه، اصل کې خبره د عالمانو او پوهانو اړوند ده هم نه؛ د ليکوالو او شاعرانو پرتله ده او د «پر» پر ځای په وييکی راغلی. د متن روستۍ جمله کې چې خوشال صفت راغلی نو خوښ‌من ته اړتيا نه وه او له خوښ نه خوښ‌من جوړول خو بېخي پکار نه وو. ځای ځای داسې عربي کلمې هم راغلې دي چې پښتو بديلونه يې شته.

دا دویمه نمونه بیا د هنري نثر بېلګه ده:

**«ستا مینه**

زه لا وړوکی وم، د دونیا په سود او زیان نه پوهېدم، یوازې د مور او پلار، ملګري او اشنا مینې مې په زړه کې ځای نیولی و.

په همدغه وخت کې پاک خدای ستا مینه زما د زړه په پردو کې واچوله په ډېره مینه مې د مینې مرغلره په سیپۍ کې وساتله. د ژوند شپې او ورځې تېرېدلې، زه د ژواندانه په پاټکو قدم په قدم مخ په پورته تلم، زما د سترګو د وړاندې رنګارنګ پردې ښکته پورته کېدې، وختونه بدلېدل، عمرونه اوښتل. د زمانې راز راز نقشونه مې لیدل، خواږه ترخه، ښه او بد دا هر څه راباندې تېرېدل. د غم چپاوونه، د خوشالۍ موسمونه پر له پسې تلل او راتلل. مګر ستا مینه پل په پل زما د ژوند ملګرې وه، زه هېڅ وخت په هېڅ حال او هېڅ شان کې ستا مینې ځانله نه یم پرېښې، ما ډېرې رنګینې او ښایسته څېرې ولیدې، ډېر زړه‌وړونکي نازونه او مکیزونه مې وکتل، ډېر ګلالي او پیۍمخي شیان مې له نظره لاندې باندې شول، زمانې ډېر چالونه ولوبول خو هېڅ شي ستا مینه زما له زړه نه ونه‌وېستلی شوه.

خلکو هر څه هر څه ووې، قسماقسم نومونه یې راباندې کېښودل؛ چا لېونی، چا ساده، چا څه او چا څه وبللم، مګر... زما په زړه کې د نورو مینو ځای نه و. له لومړۍ ورځې څخه د زړه پرېکړه دا وه چې:

خلک به هر څه هر څه وایي

زه زوړ اشنا په نوي یار نه بدلومه

مجنون ته به چې چا د نورو مینو سپارښتنه وکړه نو ده به ورته خپلې مینه‌ناکې سترګې واړولې او په یو متین غږ به یې وویل:

دغه زړه مې د لیلا په مینه پُر دی

په کې نشته دی د نورو مینو ځای

که زه ووایم چې ما د مور په غېږ کې ستا د مينې جلوه ليدلې وه، ما د خپل هېواد په کاڼو بوټو، خاورو او شګو کې ستا د ښايست ننداره کړې وه نو دروغجن به نه يم. ستا د مينې اغېز دومره زيات او پوخ دی چې تر اوسه يې کومې بلې مينې ځای ونه‌شو نيولی. نه پوهېږم چې په کومه لار، په کومه دريڅه د زړه کور ته داسې پټه ننوتله چې هېچا ونه‌ليدله. هر چا ورته اريان وکتل، هر څوک ورته ګوته په غاښ ودرېد، هر چا ته يوه نااشنا لوبه وښکارېده. خو زه وايم چې د خدای ښښنه ده، فطري زېږنده ده: (خدايه ته په زړه کې اچوې دا مينې) په داسې مينه هېڅوک د ملامتۍ ويلو وړ نه دی، په خدايي او فطري مينه هېڅوک ګرم نه شي بلل کېدی.

ګرانې مينې!

د خپل ژوند ډېرې خوږې شپې مې ستا په مينه سبا کړې دي، ما د زړه په سندوخ کې شامدام ستا مينه لکه خزانه ساتلې ده، زه تل ستا په مينه ځان ډېر شتمن او بډای بولم. ما په ډېرو سختو وختونو کې ستا د مينې زرزري زنځير له لاسه نه دی ورکړی. زما د زړه خونه ستا د مينې پلوشو داسې روښانه کړې ده چې ډېر خلک يې له رڼا او برېښنا نه خوندونه اخلي.

نه! ما ته تر هر څه او هر چا زياته ښايسته يې.

ستا د ښايست ګلونه دومره ډېر دي چې هېڅوک يې په صفت نه مړېږي، ستا د ښايست ونې ګور سيوري ته اوس ډېر ستړي لاروي دمه کوي او يو ساعت په هوسايۍ او ارامۍ تېروي.

زه ټول عمر ستا د ښايست په رنګينو وړانګو پسې لی په لی وګرځېدم، په غرونو-رغونو، سيندونو، دريابونو کې مې ستا د ښکلا او جمال ذرې ولټولې، ستا د ښکلې ونې، ښايسته سترګو، تورو زلفو، سورکو شونډو تماشې ته مې ولسونه په ټنګ‌ټکور راوستل.

ستا د خوشبويه زلفو وږمې ټوله نړۍ داسې مسته کړه چې اوس هم ستا په يادو سندرې وايي، ستا د ليدو هڅه کوي. په تا پسې شونتيې رڼا کوي، په تا پسې ډيوې په لاس ګرځي. اوس ستا د ښايست انګازې له هرې ناوې، هرې درې، هرې ماڼۍ، هرې منارې او هر بڼ څخه پورته کېږي. ته اوس د سپوږمۍ په پلوشو کې خلکو ته ځان ښيې، غرونه او سيندونه ستا د ښکلا بدلې وايي.

د شعر او ادب خاوندان، د علم او پوهې څښتنان، ستا له يادو، ستا له نومه د خوند-لذت غونچې جوړوي او ستا خوږ نوم هر ځای په مينه اخيستل کېږي. ورځ په ورځ دې مينان ډېرېږي او ستا د مينې له مرغلرو څخه هارونه جوړوي.

ته د مین په زړه، د شاعر په قلم او د ادیب په فکر کې داسې ننوتې یې چې پس له مرګه به هم ورسره ملګرې یې، اوس تا هر څوک پېژني او هر څوک دې په مینه غواړي.

نو زه به هم په جار ووایم:

اې زما ګرانې پښتو!

تل تر تله تازه او ښېرازه اوسې.»

(۱۱: ۴۷۴)

عموم کې دا یو خوږ نثر دی، په ادبي ټوټو کې د دې ځای نه وي چې بنده ووایي ځینې کلمې او یا جملې په کې زیاتې راغلې دي؛ دلته کلمې او جملې که زیاتې هم وي خپل خوند لري. د وییکو د یو بل پر ځای راتلل هم دې ټوټه کې نه ښکاري.

## ۲- ۱۰- ۱۱ محمدصدیق روهي

په کال (۱۳۱۳ش) کې د خوست په اسماعیل‌خېلو-مندوزیو ولسوالۍ سموات کلي کې زېږېدلی. د همدې ولسوالۍ څېرېن لیسه کې یې زده‌کړې وکړې، بیا د کابل دارالمعلمین ته لاړ، دې ځای نه چې فارغ شو کابل پوهنتون کې یې ادبیات ولوستل او (۱۳۴۷ش) کې یې د لبنان د بیروت له امریکایي پوهنتونه د ښوونې او روزنې فلسفه کې ماسټري واخیسته.

ښوونکی او استاد و، د پښتو ټولنې غړی پاتې شوی، د کابل مجلې مسول مدیریت یې کړی او د علومو اکاډمۍ تر ریاسته رسېدلی.

لومړیو کې یې منظوم شعرونه ویلي، بیا یې منثور شعر ته مخه کړې او د تحقیقي نثر برخه کې د لوی نوم خاوند دی. که پښتو کې د ښه نثر خبره کېږي نو د ارواښاد روهي نوم به ضرور اخېستل کېږي. که چا یې نوم وانه‌خیست نو خبرې یې نیمګړې دي. د منظومو او منثورو شعرونو برخه کې یې نوم لوړ نه دی خو علمي نثر یې زیاته ځلا لري. «د

ځېړنې لاربښود»، «ادبي څېړنې» او «شعرپېژندنه» يې نامتو اثار دي. ټول اثار يې تر لسو اوښتي دي او لسګونه مقالې يې ليکلې دي. د پښتو تر څنګ يې په دري هم ادبي ټوټې ليکلې دي. په دري يې علمي ليکنې هم شته.

د کانديد اکاډمېسن محمدصديق روهي د نثر اړوند د استاد غضنفر د وينا يوه برخه داسې ده: «د استاد روهي د نثر په حصه کې به دوه-درې خبرې وکړم: زما په خيال زموږ ژبه علمي نثرونو ته او علمي سبک ته اړه ده. په دې برخه کې زموږ مشکلات ډېر دي، موږ د استاد روهي له ليکنو او د ده د نثر له طرزه، له روشه، د پښتو لپاره د يوه عمومي علمي سبک په جوړولو کې ډېره استفاده کولی شو. خصوصاً ځوانان، استادان، څېړونکي دې دا نثر او د دوی ليکنې بيا بيا ولولي؛ دوی ته به يوه لاره پرانيستل شي او ډېر به ځنې زده کړي.

د ده د ليکنو يو کمال دا دی چې بېځايه اطناب په کې نشته، خبره نه اوږدوي، هغومره خبره کوي چې لري يې.

د ده د نثر يو بل کمال دا دی چې ډېر واضح دی، وضوح په کې ډېره ده. واضحه ليکنه دا ده چې يو ځل يې ولولې ورباندې پوی شې او د دې وضوح دوې لويې وجې دي:

١- يوه وجه دا ده چې د لغتونو په رااخيستلو کې د خاصو تمايلاتو ښکار کېږي نه، بلکې مالوماتو ته او علم ته وفادار وي. هغه کلمه غوره کوي چې د هماغه مطلب په رسولو کې په کارېږي. دا خصوصيت د استاد روهي په نثر کې ډېر زيات دی او په علمي او مالوماتي ليکنو کې ډېره ورته اړتيا ده.

٢- د ده د ليکنو د وضوح يو بل لوی علت دا دی چې څه يې لوستي دي پر هغو باندې ښه سم پوی شوی دی، بيا يې په خپلو ليکنو کې ورځنې استفاده کړې ده. کله کله سړی د علمي نمايې تر اغېز لاندې راشي، پردۍ خبرې ولولي، سم ورباندې پوی نه شي، بيا يې راواخلي، نه دی سم ورباندې پوهېږي او نه هم بل پرې پوهولی شي. استاد روهي له ډېرو لږو پوهانو څخه دی، البته متاسفانه کاشکې ډېر وی، څه چې يې ليکلي دي، پر هغو سم پوی شوی دی نو ځکه موږ هم ورباندې سم پوهولی شي.

د استاد نثر سره له دې چې مالوماتي نثر دی، علم ته وفادار دی، واضح دی، ډېر روان لوستل کېږي. د روانۍ پر قدر باندې زما غوندې خلک، چې ټول عمر يې نطاقي کړې وي، ډېر ښه پوهېږي. روان نثر هغه دی چې ته يې کله لولې، دا ژبه دې په کې بنده نه شي، د ده نثر دا خصوصيت لري او دا د ښايست يوه لويه نښه ده.»

(خوست کې د محمدصديق روهي اړوند سيمينار کې وينا)

د استاد روهي علمي نثرونه ساده دي، د استاد غضنفر د خبرې په تایید چې په یو ځل لوستو بنده پرې پوهېږي خو کله بیا د موضوع د پیچلیتا او د موضوع اړوند ټرمينالوجۍ په وجه متن گرانېږي. لومړۍ د هغه نثر نمونه چې بنده په اسانه پرې پوهېدی شي: «د ځینو ادبپوهانو په عقیده ټول ادبي جریانونه په درو ډولو وېشل کېدی شي: فوکلوري ادب، کلاسیک ادب او موډرن (نوی یا معاصر) ادب.

فوکلوري ادب چې ځینې یې گړنی (شفاهي) ادب یا ولسي ادب بولي له کلاسیک ادب سره د مضمون او شکل له پلوه توپیر لري.

فوکلوري ادب چې د عوامو له ذوق سره برابر دی، د کلاسیک ادب په اندازه له تصویر څخه کار نه اخلي، بلکې ډېر ساده دی. له بلې خوا د فوکلوري ادب اتلان د مبالغې په توگه ستایل کېږي او خیالي او خرافاتي پېښې هم په کې زیاتې دي.»

(۳۹: ۴۴)

پر دې نثر د پوهېدو ستونزه نشته، البته که لوستونکی د ادبپوهنې ډېر مبتدي نه وي. استاد نثر کې د عربي کلمې په خلاص مټ رااخلي، داسې عربي کلمې هم راوړي چې پښتو بدیلونه یې شته او ده خپله هم کارولي. کله د خالصې پښتو کلمې له لهجو هم رااخلي، د کلمو انتخاب کې دقت کوي، هغه کلمه انتخابوي چې د مانا د سم او بشپړ لېږد لپاره مناسبه وي او د پردیو کلمو او خپلو کلمو ټاکنه کې گوري چې خپله او که پردۍ کلمه متن کې ښه لگي. «د ځینو ادبپوهانو په عقیده ټول ادبي جریانونه په درو ډولو وېشل کېدی شي.» جمله کې دویم «په» سم نه دی؛ پر ځای به یې «پر» وییکی سم و. د «عقیده» کلمې پر ځای که «باور» کلمه راغلې وه غوره به وه؛ عقیده کلمه عقیدوي/ دیني مسایلو ته ډېره جوړه ده.

دا دویمه نمونه بیا تر لومړۍ گرانه ده او د موضوع د گرانوالي په وجه لوستونکي نه ډېر دقت غواړي:

«**تشریحي نثر**

دغه ډول نثر له تعریفونو، جریانونو (پروسو)، تعمیمونو، مفکورو او پرنسیپونو سره اړه لري او له دې امله هیجاني او بدیعي اړخونه یې تقریباً د نشت برابر دي.

له تشریحي نثر څخه زیاتره د علمي تحلیل، ترکیب، مقایسې او تصنیف لپاره کار اخیستل کېږي، ځینې یې توضیحي نثر هم بولي.» (۴۱: ۱۷۹)

د دې ټوټې کابو نيمې کلمې عربي دي، څو په کې پښتو بديلونه لري او استاد دې برخې ته ډېر پام نه کوي. موضوع داسې ده چې دغه پاراگراف تر شاربلو روسته پر څو صفحو بدلېدی شي. روهي صېب دا ډول ليکل مسلکي خلکو ته کوي، دی غواړي چې مسلکيان لوړه پوهه ولري او پر دې متونو پوی شي، که نه پوهېږي مطالعه وکړي او ځان پرې پوی کړي.

د گرامر له مخې بيا کومه ستونزه په کې نه وي.

دلته به يې د هنري نثر بېلگه هم راوړو:

**«شاعر ته**

شاعره! ما ته يو داسې شعر جوړ کړه چې د غمونو او دردونو په وخت کې يې له خپل ځان سره زمزمه کړم او خپلې اوښکې پټې ورسره وبهوم.

شاعره! ډېره موده کېږي چې زما له سترگو څخه يوه اوښکه هم نه ده لوېدلې، ايا ته زما پر حال افسوس نه کوې؟

شاعره! زه د خپلو زخمونو لپاره علاج او پټۍ نه غواړم؛ زما پرهارونه نور هم وچېره، پرېږده چې له ډېره درده چيغې پورته کړم.

شاعره! ته پوهېږې چې يکنواخت او بېذوقه ژوند له مرگ څخه هم بدتر دی، ما ته داسې سندرې ووايه چې د غفلت او بېذوقۍ له خوبه مې ويښ کړي.

شاعره! ته له خپل قلم څخه د اسرافيل شپېلۍ جوړه کړه چې مړه ذوقونه په نڅا راولي او د ژوند کاروان د بدبختۍ له هديرې نه سر راپورته کړي.

شاعره! وايي چې ستا د قلم رنگ د شهيد له وينو څخه هم زيات مقدس دی، ته دې خپل قلم ته رنگ واچوه او ما ته د ژوند شعار وليکه.

شاعره! ما ته د خپل شعر په نسخه کې ترياک مه ليکه چې زما ذهن مسموم کړي، زه داسې شعر نه غواړم چې زما د اعصابو د تخدير لپاره ليکل شوی وي.

شاعره! نن سبا چې شرافت او شهامت، عشق و محبت و صلابت ته تسلیم شوي دي، ما ته جرئت راکړه چې د بتانو له بنده‌ګۍ څخه ځان وژغورم او د زرپرستۍ پر ځای بشرپرستي خپل شعار وګرځوم.

شاعره! ما مه پرېږده چې د ژوند په کږو لارو روان شم او د بت‌پرستۍ او فرعونیت تر ارابو لاندې مې هډوکي ټوکر ټوکر شي.

شاعره! ته د خپل شعر مرغلرې بېوزلو او غم‌ځپلو کسانو ته وړاندې کړه. پرېږده چې ژوندځپلي خلک ستا د مرغلرو امېل غاړې ته واچوي او د خوشالۍ او اطمنان څپې یې پر شونډو خپرې شي.

شاعره! ته مه پرېږده چې ستا د شعر نغمې د خیال په وزر سپرې شي او اسمانونو ته والوځي، ته خپلې نغمې د ځمکې پر مخ د خلکو لپاره مهار کړه.

شاعره! ته د ځمکې انسان یې، د اسمان له پرښتو سره ځان مه مشغولوه، د دې پر ځای چې د اسمان په لمن کې د خیال ګلان وکرې، ښه به دا وي چې له خپلې ځمکې څخه رېښتینی ګلستان جوړ کړې.

شاعره! زه پوهېږم چې ته خپل درد په بې‌دردۍ نه بدلوې، ستا لپاره بې‌دردي لوی درد دی. راشه د خپل شعر په څپو کې د هر چا زړونو ته درد ورولېږه او همدردي په کې پیدا کړه.

شاعره! هغه دی د اسمان لمنې سرې شوې، بلبلانو په باغونو کې د نوي سهار ترانې وغږولې، غوټۍ له ډېرې خوشالۍ نه د ګل په شان وغوړېدې، مګر ستا غم‌ځپلی روح هماغسې ویده دی او خپلې نغمې نه شروع کوي.»

(۱۱: ۵۰۸)

د استاد دې ادبي ټوټه کې ډېرې داسې جملې او کلمې شته چې په وتو یې مانا نه ژوبلېږي، لکه درواخله «شاعره!» کلمه، که عنوان کې یې پرېږدو او له نور ټول متنه یې وباسو؛ مانا کې هېڅ کمی نه راځي خو د هر پاراګراف مخې ته راتلو یې ټینګار زیات کړی او متن کې ښکلې ښکاري.

موږ وويل چې استاد د پردیو او خپلو کلمو تر منځ پښتو نه غوره کوي، هغه کلمه رااخلي چې متن کې ښکلې راځي. د بېلګې په ډول دغه جمله کې دوې کلمې پښتو بدیلونه لري او موږ یې پرې بدلوو: «شاعره! زه د خپلو زخمونو لپاره علاج او پټۍ نه غواړم.» شاعره! زه د خپلو ټپونو لپاره درملنه او پټۍ نه غواړم. دغه بدله ښه یې نګه پښتو شوه خو

هغه رواني او ښکلا چې اصل جمله کې ده دویمه کې نه ښکاري او پردې کلمې په هغه کچه په کې نشته لکه علمي نثرونو کې یې چې راځي.

یودوه ځایه د وییکو استعمال هم سم نه دی؛ «د خیال په وزر...» جمله کې د «په» پر ځای «پر» سم و او «ته خپل درد په بېدردۍ نه بدلوې.» جمله کې هم د «په» پر ځای «پر» سم دی.

## ۲ـ ۱۰ـ ۱۲ مجاوراحمد زیار

«پوهاند مجاوراحمد زیار په کال (۱۳۱۴ش) د ننگرهار د شینوارو په حصارک کې زېږېدلی. لومړنۍ زده‌کړې یې خپل کلي کې پیل کړې دي او کامه کې له شپږم ټولگي فارغ شوی. بیا یې څلور کاله عربي دیني علوم او پارسي ادب لوستلي. منځنۍ او ثانوي زده‌کړې یې د کابل ابن سینا او کابل دارالعلوم کې کړې دي. لېسانس یې د پښتو ادبیاتو او فلسفې له څانگې اخیستی. «استاد زیار له (۱۹٦٦) تر (۱۹۷۲) زېږدیز کاله پورې د سویس له برن پوهنتون څخه په ټولیزه او آریاني ژبپوهنه، ادبپوهنه او توکمپوهنه (اتنالوجۍ) کې د ماسترۍ او ډاکترۍ غوره بریلیکونه ترلاسه کړل.»

(د بشیراحمد بشیر لیکنه، نېټ نه)

کابل او پېښور پوهنتونونو کې یې استادي کړې، برلین او انگلستان کې هم مدرس پاتې شوی. علومو اکاډمۍ کې یې د څېړونکي په حیث کار کړی او مجلې او ادبي ټولنې یې چلولې دي.

هنري او څېړنیز نثر لیکي او شاعري یې کړې. که ووایو پښتو ژبپوهنه کې تر اوسه سیال نه لري مبالغه به مو نه وي کړې. شاوخوا دېرش ادبي او څېړنیز کتابونه لري او گڼې مقالې یې لیکلې دي. په پارسي یې هم لیکل کړي.

څه چې استاد زیار یې نامتو کړی هغه پښتو ژبپوهنه ده او د استاد زیار د نوم په اورېدو سره د پښتو نږه (خالص) متن د بنده سترگو ته درېږي. دی تر وسې وسې نږه پښتو متن لیکي، د متن د خالصې لپاره مړې پښتو کلمې راژوندۍ کوي، له گړدودو وییونه رااخلي، د نورو ژبو کلمې راژباړي، خپله یې جوړوي او چې دغو ټولو لارو کې پښتو بدیل پیدا نه کړي نو د نورو ژبو له کلمو استفاده کوي. متن کې یې د نورو ژبو د کلمو سلنه ډېره لږه ده.

د پښتو متن د نرۀوالي په وجه يې متن خورا ګران شوی؛ حتی د ژبې او ادب لارويان يې له متنه په اسانۍ استفاده نه شي کولی. مجبوربږي قاموسونو ته مراجعه وکړي، دغه قاموسونه هم ډېر کله هغه وي چې دهٔ د کتابونو پای کې ورضميمه کړي او د يوه ځانګړي قاموس په ليکلو يې د څېړونکو کار يو څه اسان کړی. دغه قاموس يوازې د استاد زيار د متن د وضاحت لپاره کاربږي.

د ده ځانګړي سبک لارويان پيدا کړي خو دغه لارويان يې هم د ده غوندې ډېر خالص نثر نه شي ليکلی او يا يې نه ليکي. د ده دغه سبک کلک مخالفين هم لري، مخالفين/ منتقدين يې وايي چې ژبه يې له پوهاوي لرې کړې. د ده او د مخالفينو تر منځ يې د څېړنو او ژبې پر سر د انتقادي او ځوابي ليکنو تبادلې هم چاپ شوې دي.

د استار زيار متن ساده او پوره روان نه دی، يوه وجه يې نرۀ پښتو او بله يې دا ده چې ژبې سره ډېر مسلکي چلند کوي، تر وسې وسې يې لنډوي او د ژبنيو توکو پر ځای کارونه يې کله کله له محاورې لرې کوي.

دا يې د نثر يوه نمونه: «**مانا (Meaning) څه ته وايي؟**

هسې خو له لويه سره چې «ژبه» مو په ذهن کې وګرځي او يا يې نوم په خوله اخلو، پر ذهن مو وار له واره د دغې پديدې دنده راووري او هغه دا چې يو وګړی له يوه بل سره غږېږي، موخه يې يو څه ورلېږدونه ده او پر هغه د دويم وګړي (اورېدونکي) پوهونه ده، نو همدغه پوهونه يا پوهاوی د دود له مخې لنډ پر لنډه «مانا» بولو. ان زموږ د دوديزو پښويه ليکوالو له لنډ-تنګ پېژنده «ژبه د پوهولو او راپوهولو وسيله ده.» هم دا راجوتېږي چې ژبه له مانا سره اړاو تړاو لري.

په ترڅ کې دا هم هېره نه کړو چې د اروپايي او بيا آرياني خپلوانو ژبو، لکه پارسي ژبې په څېر په ورځنۍ (و) ګړنۍ او ان ليکنۍ- ادبي پښتو کې «مانا» ويی په راز راز ماناوو کارول کېږي: د (ارزښت او ګټه) په مانا، لکه: (ته چې څه وايې، ما ته کومه مانا نه لري؛ دا څه مانا لري چې يو بل سره واچوم؛ دا يو بې‌مانا کار- کسب دی چې ته يې کوې.) د (زور، غيرت، وړتيا...) په مانا، لکه: (په تا کې دا مانا نشته چې يو کار ترسره کړای شې.) يا (ته يو بې‌مانا هلک يې، هېڅه دې له لاسه پوره نه دي.) په بې‌مانا کې له (مانا) سره د (ايمان) ټکر هم راتلای شي؛ د (موخې، مطلب) په مانا (دا څه مانا لري چې تل مې کور ته راروان يې؛ ستا د دې خبرو- کړو وړو په مانا هېڅ پوهه نه شوم!)... .

هو، که ووایو: (د دې ټکي یا ویي مانا څه ده؟) یو دود او ساده یا امیانه پېژند (تعریف) پر لاس راکوي او ټاکلي تخنیکي (علمي) پېژند ته مو ورنژدې کوي.»

(۱۷ :۴۵)

دلته متن کې وینو چې استاد متن خالصوي، د بېلګې په توګه د ګرامر لپاره یې پښویه، د تعریف لپاره پېژند، د رابطې لپاره اړاو تړاو، شفاهي لپاره ګړنی... کلمې کارولې دي. د ژبې دغه دودیز تعریف هم چې استاد راوړی اړولی یې دی؛ دودیزو پوهانو په دې کلمو وړاندې کړی: «ژبه د افهام او تفهیم وسیله ده.»

په نتیجه کې به ووایو چې د استاد زیار نثر تر وسې وسې سوچه پښتو نثر دی، ګرامري ستونزې نه لري او پرې پوهېدنه د هر چا کار نه دی. البته د استاد زیار له برکته د پښتو مړې کلمې راژوندی شوې دي او له سره یې کارول پیل شوي دي.

د استاد زیار پر نثر بل عنوان کې هم بحث شوی، دلته پر همدې بسنه کوو.

## ۲- ۱۰- ۱۳ اسدالله غضنفر

اسدالله غضنفر د پښتو د مشهور او لوړ شاعر محمدصدیق پسرلي زوی دی. په کال (۱۳۴۷ش) د کندوز ولایت په چهاردره ولسوالۍ کې زېږېدلی. لومړنۍ زده‌کړې یې د کندوز په شېرخان لیسه کې کړې دي، د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي یې لېسانس اخیستی او بیا یې له پېښور پوهنتون نه پښتو ادبیاتو کې ماسټري کړې ده.

رسنیو کې یې کار کړی، لنډې کیسې یې لیکلې دي، ژباړې یې کړې دي او پر ادبي او ټولنیزو لیکنو سربېره د ادب او ژبې برخه کې څېړنیزې لیکنې لري. څه باندې لس کتابه یې چاپ دي او له مختلفو ادرسونو یې سلګونه مقالې چاپ شوې دي.

د معاصر پښتو نثر لوی نوم دی، د لیکوالۍ او ښه نثر لیکلو برخه کې یې معتبر کتاب «د نثر لیکلو هنر» لیکلی دی. نثر یې د روانۍ او وضاحت له مخې نمونوي دی. که څوک د فصیح او روان پښتو نثر لوستلو پسې ګرځي نو د

غضنفر صېب نثر لومړنی ادرس دی. تخليقي نثر يې عالي دی او د ژباړو نثر يې داسې دی لکه د ده خپل تخليق چې وي. د استاد غضنفر د نثر اړوند د علم‌گل سحر وينا داسې ده: « زه چې کله د استاد غضنفر ليکنه لولم لکه چې يو شيرين‌زبانه سړی راته خوږې کيسې کوي او زه ترې هم خوند اخلم او هم معلومات.» (د کليد راډيو له نېټ نه)

بصيرالحق عادل د غضنفر صېب پر کتاب «څراغ» د يوې ليکنې لړ کې وايي: «د استاد پر نثر نورې خبرې نه کوم. خو فقط دومره وايم چې د ښه نثر لپاره دوه شيان مهم دي، وضوح او رواني؛ د استاد نثر د دغو دواړو صفتونو څخه مالامال دی.

کله چې مې څراغ لوستو، داسې فکر مې نه کاوه چې څه لولم؛ بلکې داسې تصور مې کاوه چې يو څوک راته خبرې کوي او زه ورته غوږ غوږ يم او دا کمال يې په ټول کتاب کې و. دا مثال د استاد د نثر د «وضوح او روانۍ» ښه ثبوت دی.»

(له نېټ نه)

د استاد د نثر دا نمونه درسره ولولئ:

**«د هره ورځ ليکلو اهميت**

د (۱۳۸۴) کال په سرطان کې د استاد عبدالله بختاني د زوکړې د اتيايمې کاليزې په وياړ په قلم ټولنه کې غونډه وه. په نوموړې غونډه کې استاد بختاني وويل چې په څلوېښت کلنۍ کې يې له ځان سره فيصله وکړه چې هره ورځ به لږ تر لږه دوه ساعته ليکلو او لوستلو ته بېلوي او که د سختې ناروغۍ په څېر لوی مشکل نه وي په دې پروګرام کې به ناغه نه راولي. استاد وويل په تېرو څو څلوېښت کلونو کې يې همدا پروګرام عملي کړی او اوس د لسګونو اثارو څښتن دی.

اوس چې دا جملې ليکم د (۱۳۸۸) په جوزا کې د استاد بختاني تر اويا ډېر کتابونه چاپ شوي دي. استاد نن سهار راته وويل چې د ټولو ليکل شويو اثارو شمېر يې يوسلواوو ته رسېږي. په (۱۹۸۵) کال کې چې په پېښور پوهنتون کې محصل وم، اروانښاد حمزه شينواری پوهنتون ته راغلی و. يوۀ محصل ورنه د ليکوالۍ او شاعرۍ په کار کې د بري د راز پوښتنه وکړه. د غزل بابا ورته وويل: «زه کوښښ کوم چې هره ورځ يو څه وليکم، تاسې هم دغسې کوئ.»

د هره ورځ ليکلو په برکت به د قلم څښتن په رواني لحاظ د قلم له کار سره وصل پاتې شي. فرانسوي ليکوال اندره‌مورا ويلي دي چې يو څوک له هغې شېبې وروسته ليکوال بلل کېږي چې ليکوالي ورته تر نورو چارو مهمه واېسي. څرنګه چې زموږ په څېر خواره او نالوستې ټولنه کې د قلم په کار کې خاصه اقتصادي انګيزه نشته نو که څوک غواړي په روحي لحاظ له دې مسلک سره وصل واوسي او ليکوالي تر بل هر کار مهمه چاره وربښکاره شي؛ بهتره ده هره ورځ يو څه وليکي. دا ليکنه ضرور نه ده بشپړه او د چاپ وړ وي، منظور دا دی چې له ليکوالي سره يې رابطه ونه‌شلېږي.

د ژوند مشکلات، اړتياوې او واقعيتونه د قلم پر څښتن د قلم کار هېرولی شي خو که دی په شواروز کې لس دقيقې هم ليکلو ته ورکړي، دغه کانه به نه ورسره کېږي.

فکرونه او خيالونه کورنۍ کوترې نه دي چې والوځي او بېرته راشي؛ زموږ فکرونه او خيالونه سارايي کوترې دي چې يوازې شېبه-نيمه زموږ د کور د بام په څنډه کېني. ليکوال که د نن احساس نن قلمبند نه کړي بل وخت ممکن په ګوتو ورنه‌شي. دا د هره ورځ ليکلو بله ګټه ده.»

(۵۸: ۱۴۱)

د استاد دغه نثر هېڅ ځای داسې غوټه نه لري چې لوستونکی يې د مانا اخيستو کې فکر وکړي، ساده روان نثر دی. د غضنفر استاد ټول نثر همداسې دي.

دی د کلمو انتخاب کې دې ته نه ګوري چې عربي ده، پارسي ده او که پښتو؛ دې درو ژبو کې چې د هرې ژبې چې وي راوړي يې، دی دې ته ګوري چې متن کې ښه ولګي. «د ژوند مشکلات، اړتياوې او واقعيتونه د قلم پر څښتن د قلم کار هېرولی شي خو که دی په شواروز کې لس دقيقې هم ليکلو ته ورکړي، دغه کانه به نه ورسره کېږي.» دې جملو کې د مشکلات، او شواروز لپاره نږه پښتو کلمې ستونزې او شپه-ورځ دي خو استاد نه دي راوړې.

د عطف وييکو کارونه يې د ننني ګرامر پر اساس ده خو يو-نيم ځای سرغړونه شته، دغه نمونه کې «د قلم پر څښتن» عبارت کې د «پر» پر ځای «له» سم راتلو او « د کور د بام په څنډه کېني» جمله کې د «په» پر ځای «پر» مناسب و.

د نسبتي صفتونو برخه کې د استاد نثر ته زما پام دی، ډېر کله يې د دري غوندې اصلي حالت کاروي، د پښتو د طبيعت مطابق يې مغيره بڼه نه راوړي: « منظور دا دی چې له ليکوالي سره يې رابطه ونه‌شلېږي.» دلته د «ليکوالي» پر ځای «ليکوالۍ» بڼه غوره وه. د نمونې لومړي پاراګراف کې يې بيا «کلنۍ او ناروغۍ» راوړې دي چې همدا يې

سمې بڼې دي. د کلمې اصل او بدلې بڼې د استعمال ځېل موارد لري. لیکوالي مې خوښېږي او له لیکوالۍ مې نه کېږي. دلته که لیکوالي او لیکوالۍ کلمې یوه د بلې پر ځای راشي نو د پښتو طبیعي ګرامري جوړښت به یې مات کړی وي. د پښتو پر کومو لهجو چې د دري اغېز دی، د هغو لهجو ډېرو لیکوالو دغه تاثیر منلی. استاد چې د کندوز دی او کندوز کې دري د ورځني ماحول ژبه ده نو پر لهجه یې دغه اغېز شته.

اوس به د استاد د ژباړې یوه نمونه راوړو:

**«بزرګان**

په صحرا کې مېوه کمه وه. خدای پاک ځېل استازی ورواستاوه چې خلکو ته ووایي چې هر څوک دې د ورځې تر یوې زیاته مېوه نه خوري.

خلکو د استازي اطاعت وکړ. د دوی راتلونکو نسلونو هم له دغه قانونه غاړه نه غړوله. د دې اطاعت په برکت مېوه زیاته شوه، دومره زیاته چې اکثره وخت به په ونو کې ورسته شوه خو خلکو د پخواني دود لمن ټینګه نیولې وه؛ په مېوې به مچان بنېدل، نه یې ځپله خوړه، نه یې ګاونډیو ته ورکوله.

خدای پاک یو بل استازی ورواستاوه چې خلکو ته ووایي چې د مېوې خوراک زیات کړئ او ګاونډیو ته یې هم ورکړئ. خلکو وویل: دی راغلی دی چې مونږ د پلار-نیکه له رواجه راوګرځوي، مونږ یې نه منو. استازي دلیلونه وویل او دوی وواژه.

څه نوره موده تېره شوه، نوي زلمي راپیدا شول. هغوی ته چې په ونو کې د مېوو ورستېدل او وچې شونډې ګرځېدل ښه ښکاره نه شول، خلکو ته یې وویل: اوسني ضرورتونه نور دي او پخواني نور وو، راځئ پخواني دودونه مات کړو!

ډېرو خلکو د دوی پیروي وکړه او هغو کسانو چې ځانونه ورته بزرګان ښکارېدل د پخوانو دودونو پیروي ته ادامه ورکړه.»

(۵۹: ۱۷۷)

د استاد دغه متن د ژباړې پر ځای ځېل لیک ښکاري، وړې وړې رواني جملې دي، ژبه یې ساده ده او وضاحت په کې دی. د کلمو ټاکنه کې استاد ځپله ځانګړنه ساتلې او په خلاص مټ یې له عربي او دري انتخاب کړی. « خلکو د

استازي اطاعت وکړ.» جمله داسې هم راتلی شوه: خلکو د استازي ومنله خو کله چې استازی د خدای دی نو دیني اړخ خپلوي، مسله چې ديني شي نو تر منلو اطاعت ښه لګي. «ډېرو خلکو د دوی پیروي وکړه.» دا جمله کې پیروي دري کلمه داسې ختمېدی شوه: ډېرو خلکو یې ملا وتړله یا ډېرو خلکو یې ملاتړ وکړ. خو استاد ځکه پیروي رواړې چې دغه متن حکایت دی او د پیروي پر ځای ملا وتړله یا ملاتړ وکړ ترکیبونه د حکایتي پر ځای ژورنالېستیک انداز ښکاري.

د پښتو نثر پرمختايي بهیر ته لنډه کتنه هم همدلته ختموو. لره-بره پښتونخوا کې د پښتو نثر نور ډېر لوی نومونه شته، پکار وه چې د دې هر نوم پر نثر بحث شوی وی خو یو ځل بیا تکراروم چې موږ د افرادو له نثره د وخت د نثر حالت مالوماوۀ، د همدغو درنو پر نثرونو بحث دغه حالت یو څه راظاهر کړ او همدا کفایت کوي.

## ۳ـ د نثر تخنيکي خواوې

که د نثر ليکلو په وخت د دغه برخې موضوعاتو ته پام وشي نو زموږ نثر د مانا، عام‌فهمۍ، روانۍ او لنډون له مخې غوره حالت ته رسېدی شي. دلته هغه موضوعات دي چې نثر ته ضرور دي.

### ۳ـ ۱ فصاحت

لغت کې څرګند، ښکاره، صريح او واضح ته وايي.

درياب قاموس کې يې مانا داسې ده: «د کلام خوبي، خوش کلامي، بلاغت، ژبه‌ورتيا، ښې طريقې سره خبرې کؤنه، په محاورو سره خبرې کؤنه»

(۶۹: ۹۸۸)

پښتو پښتو تشريحي قاموس يې مانا داسې راوړي: «د خبرو رواني، ښه او تېزه ژبه، هغه کلام چې د تاليف د ضعف، تنافر او لفظي و معنوي تعقيد څخه خلاص وي. بيان، ظهور. فصيحه کلمه دغه عيبونه نه لري: د استعمال غرابت، د تورو تنافر او د قياس مخالفت.

فصيح کلام دغه عيبونه نه لري: د کلمو تنافر، لفظي تعقيد، معنوي تعقيد، د تکرار زياتوالی او د اضافاتو پرله‌پسې‌والی. (۱۴: ۳۳۱۶)

د فصاحت اړوند د مطالعې لړ کې د پوهانو له سره ورته او مختلفو نظریو سره مخ کېږو، ځينې پوهان فصاحت بېل او ورسره ډېره يادېدونکې کلمه بلاغت بېل بولي خو ځينې يې سره ګډوي. د ياد وړ خبره دا ده چې دې بحث کې د عالمانو مطلق اکثريت بېلګې هم له شعرونو دي. شعري بحثونو کې پر فصاحت خبرې کېږي او بايد چې وشي خو مانا يې بايد دا نه وي چې نثر کې د فصاحت خبره مطرح نه ده يا فصاحت د نثر لپاره اړين نه دی. څنګه چې شعر فصيح او نافصيح کېدی شي همداسې نثر کې د فصاحت د مراعات او نه مراعات خبره کېدی شي.

«د فصاحت اصل مانا څرګندوالی دی. دا په جمله کې هم وي او په کلام کې هم؛ د جملې فصاحت دا دی چې جمله د کومې ژبې وي نو چې د هغې ژبې د امروزه مطابق وي. دروندوالی، اوپرهوالی او بازاري الفاظ په کې نه وي. په غوږونو بده نه لګي. په ځينې ځينې کلام کې داسې ټکي په کار راوستی شوي وي چې بې‌کچه ډېر ګران وي او بغير د لغات کتو نه پرې سړی نه شي پوهېدی. کله کله داسې الفاظ هم په کلام کې راځي چې سړي له ترې کرکه ورځي، لکه دا شعرونه:

لږ خوراک تنکی کولې بويه د ښځې

مرد هغه چې ډېر خوراک کا ډېرې خړې

خوشال بابا

چې هنر ګڼې ياري د زورورو

زه رحمان کومه بول په دا هنر

رحمان بابا

کله کله په کلام کې د عامې قاعدې نه مخالفت شوی وي؛ لکه د مذکر نه مونث يا د مونث نه مذکر جوړ شوی وي لکه د خوشال بابا په دې شعر کې:

ته په دا حسن جمال چې درته ګورم

نه پوهېږم ښاپېری يې که سړی

خوشال بابا

حالانکې د سړي مونث ښځه دی. کله کله د واحد نه جمع او د جمع نه واحد جوړ شوی وي یا د جوړښت په حساب ټکي وړاندې وروستو شوي وي چې د ګرامر د عامې قاعدې خلاف وي. دغه شان تکرار یانې یو لفظ بیا بیا استعمالول. غرض دا چې د دې نه یو څیز هم په کلام کې راشي نو هغه کلام به فصیح نه وي.»

(۶۳: ۳، ۴)

ښه ده دلته د دې اقتباس د دوو جملو پر یوه کلمه خبره وکړو چې د لیک په وخت پام ورته وکړو: « بغیر د لغات کتو نه پرې سړی نه شي پوهېدی. کله کله داسې الفاظ هم په کلام کې راځي چې سړي له ترې کرکه ورځي.» سړی نه شي پوهېدی او سړي له ترې کرکه ورځي. دلته د «سړی/سړي» کلمې راوړل محدودیت رامنځته کوي؛ دویمه مانا یې دا ده چې ښځې پرې پوهېږي او ښځې ترې کرکه نه کوي. که زه د مرحوم لیکوال پر ځای وی ما به لیکل چې بنده نه شي پوهېدی او بنده له ترې کرکه ورځي. زما په نظر دلته د «سړی/سړي» کلمې راوړول د فصاحت عیب دی.

«فصاحت په کلام کې وي او هم په کلمه کې؛ د کلام فصاحت صرف دا نه دی چې الفاظ دې فصیح وي، بلکې دا هم ضروري ده چې د کومو الفاظو سره دغه ترکیب راځي د هغوی جوړښت، شکل و صورت، ځای ځایګی او مقام سره دې خاص تناسب او توازن ولري.»

(۲۵: ۳۰۶)

«ابن اثیر د ترکیب او تالیف له مخې د یوې خبرې د فصاحت لپاره درې شرطه ټاکلي دي:

۱- د الفاظو ټاکل او اختیار دی چې د ځلېدلو مرغلرو حکم لري چې له ترتیب او تنظیم نه مخکې یې باید په غوره کولو یانې د هرې دانې په نصبولو له ښکلې سلیقې او پوره دقت نه کار واخیستل شي.

۲- د یوې کلمې له بلې سره د ترتیب او تنظیم او پیوندولو مسله ده چې د یوه قیمتي او لوړبیه امېل... حکم لري. د دې جواهرو او مرغلرو هره دانه باید له مخکې او وروسته دانو سره پیوند او تناسب ولري.

۳- په بېلابېلو فرصتونو (وختونو) او مختلفو ځایونو کې یې کارؤنه او ترې ګټه اخیستل دي چې د ځای او مکان حکم یې ټاکل شوی دی او دغه جواهر او مرغلرې دې هلته وکارول شي. لکه کله چې مرغلرې په یوهٔ مرصع تاج کې کارول کېږي، کله په یوهٔ ښکلي امېل... کې او کله په ډېرې ظریفې او لړزېدونکې غوږوالۍ کې. د پورته یادو شوو ځایونو لپاره یو شکل او هیئت دی چې د دې مرغلرو ښکلا او موقعیت فقط په یاد شکل کې څرګند او ځلېږي.»

(۷۰: ۴۸، ۴۹)

د لیک د فصاحت لپاره له پورته ټول بحثه څو مهمې خبرې راوځي چې باید د لیکوال په حیث پام ورته وشي.

۱- د داسې کلمو له انتخاب دې ډډه وشي چې تلفظ یې سخت وي. پښتو کې ځینې نوې جوړې شوې کلمې همداسې دي او داسې کلمې هم شته چې زړه پښتو کې وې خو اوس یې کارېدنه ختمه شوې. مثلاً د «جملې» لپاره د «غونډلې» کلمه او یا «د عوض کولو» لپاره «ونجول»... چې د ژبې مسلکي نه وي د دغو کلمو تلفظ ورته سخت دی.

۲- د ګرامري اصولو مخالفت هغه که د لهجې د اغېز په وجه وي او یا هم پر ګرامر د نه پوهېدا له امله. مثلاً وایو چې زما پلار لوستی او هوښیار سړی ده. زموږ په ځینو لهجو کې د «دی» پر ځای «ده» راځي، که مو دغه د لهجې اغېز لیک ته راغی او یا نه پوهېدو چې ګرامر څه وایي نو مانا یې دا ده چې لیک مو فصیح نه دی.

۳- د داسې کلمو او جملو استعمال فصاحت ژوبلوي چې انسان یې په اورېدو بې‌خونده احساس وکړي یا په بله وینا هغه کلمې و نه کاروو چې د هر چا په وړاندې یې نه شو ویلی. د بېلګې په توګه غول، کونه، کوس... . داسې جملې هم شته چې کراهت په کې وي: د فلاني/ فلانۍ تشه څوک نه شي ډکولی. دا جمله د یو چا لوړ ښوول دي خو د تشې د ډکولو دویمه مانا هم شته چې مکروه ده.

د مکروه کلمو استعمال ټولنیزو رسنیو کې ډېر لیدل کېږي، سیاسي مشرانو ته تبصرې چې وکتل شي بنده حیران کړي. حتی د نوموتو سپورټیې... څېرو پر عکسونو او لیکنو چې څه وړ تبصرې کېږي سراسر له فصاحت لرې دي. ځینې چې خپله سیاسي لیکنې کوي او ځانونه لیکوال هم بولي له کوڅه‌یي ادبیاتو کار اخلي. مشر انسان به وي داسې کلمې به یې لیکلې وي چې لوستنه یې بنده خَولې کوي. د نمونې لپاره د عصمت قانع دا سپارښتنه درسره ولولئ چې د ټولنیزو رسنیو کاروونکو ته یې د ګیلې په ډول ټویټر کې لیکلې:

«ستا ولې کونه سوزي، پر خواجه‌غار ولسوالۍ دې اور بل دی. ستا په برېتو یې درومنډم سیکولره، ډېر د خرهٔ رنګ دې دی. نجسه په دا نجسه قواره، دا شل کاله دې څه کول ستا وغیم، دووس سړی یې. که دې بلاک کړم... درځم لرګي درمنډم. دا د یارانو منطق دی.

د خدای لپاره ښکنځل فسق وګڼئ او په لیکلې بڼه یې مه کوئ.»

(د عصمت قانع له ټویټره)

۴- تر وسې وسې د داسې کلمو له کارونې ډډه چې لوستونکی د قاموس کتنې ته مجبوروي. کله به د یوې مانا د لېږد لپاره عام‌فهمه کلمه نه پیدا کېږي، که داسې حالت و نو بیا کېدی شي هغه کلمې هم وکارول شي چې قاموس کتو ته اړتیا پېښوي.

۵- د کلمو تکرار فصاحت ژوبلوي. یوازې د کلمو نه، د جملو تکرار ښه نه دی، حتی د ښې خبرې بیا بیا ویل د فصاحت عیب دی. ځینې پوهان خو ان د تورو تکرار د فصاحت زیان بولي.

د کلمې د تکرار یوه بېلګه: زه د شیخ زاید پوهنتون د پښتو ژبې او ادبیاتو د درېیم ټولګي محصل یم. درېیم ټولګي کې (۵۱) محصلان دي. د درېیم ټولګي له محصلانو (۴۶) نرینه او (۵) یې ښځینه دي. د درېیم ټولګي نګران استاد ظاهرشاه زهیر دی. د درېیم ټولګي د لومړي سمېسټر مضامین (۸) دي او د درېیم ټولګي د دویم سمېسټر مضامین (۹) دي. زموږ استادان وایي چې دوی د درېیم ټولګي له محصلانو خوښ دي.

دلته درېیم رتبې عدد او د ټولګي کلمې ډېر تکرار متن بې‌خونده کړی دی. دې متن کې د دغه تکرار مخه نیول کېدی شي. په همدې مانا یې دویمه بڼه وګورئ چې تکرار په کې نه شته: زه د شیخ زاید پوهنتون د پښتو ژبې او ادبیاتو د درېیم ټولګي محصل یم. زموږ صنف کې (۵۱) محصلان دي چې (۴۶) یې نرینه او (۵) یې نجونې دي. نګران مو استاد ظاهرشاه زهیر دی، لومړي سمېسټر کې (۸) او دویم کې (۹) مضامین لرو. زموږ استادان وایي چې له موږ خوښ دي.

دې دویم متن کې یوازې یو ځل «درېیم» ذکر شوی، یو ځل «ټولګي» کلمه، دویم ځل یې پر ځای «صنف» راغلی او ځینې نورې غیرضروري کلمې هم حذف شوې دي. لومړۍ بڼه کې «دی او دي» مرستیال فعلونه ډېر تکرار شوي او دویم کې کم شوي. همدا متن تر دې هم ساده کېدی شي.

یوې لیکنه کې د یوې خوږې جملې تکرار هم ښه نه دی. البته کله به لیکنه کې د یوې-نیمې جملې تکرار اړتیا او یا ښکلا وي؛ هغه صورت کې تکرار عیب نه دی. تکرار قبیح نه، تکرار حسین به ورته وایهٔ شي.

د لیکوالۍ یو کتاب کې یې ویلي چې تکرار د لیکوالۍ عیب دی، خو دا خبره یې ډېر ځایه راوړې، خپله د دې خبرې تکرار د فصاحت عیب پیدا کړی. یو ځل چې دا خبره وشوه کافي ده، ټینګار پرې کېدی شي خو ډېر تکرار یې بې‌خوندي رامنځته کوي.

که تکرار اړتیا وه نو د مترادفو کلمو له کارونې ګټه اخیستی شو. که یو ځل مو متن کې ښوونځی ولیکۀ نو دویم ځل مکتب لیکل کېدی شي. د ټولګي پر ځای صنف او د ښوونکي پر ځای ښوونکی هم راتلی شي. ځینې مترادفې کلمې به له نورو ژبو وي خو د هغو کلمو استعمال چې پښتو خپلې کړې دي، عیب نه دی.

د تورو د تکرار په برخه کې بیا ډېر احتیاط ضروري نه دی. کله کله خو د توري تکرار د عیب پر ځای ښکلا رامنځته کوي. د همدې پاراګراف دې لومړیو دوو جملو کې «ر» تکرار شوې خو بده نه لګي. شعر کې خو ډېر کله ښکلا ده او موسیقي زېږوي. البته که د کوم توري تکرار د متن لوستنه سختوله نو بیا ښه دا ده چې د کلمې بدیل راوړل شي او یا یې ځایونه بدل شي.

د تړوییکو استعمال ته پام پکار دی؛ چې، او... چې کوم متن کې ډېر راځي لیکنه سترېوونکې کوي؛ ما د یوې مشهورې راډیو د یوه پرېزېنټر خپرونې پر دې نه اورېدې چې د هرې جملې سر کې به یې «چې» تړوییکی وایه. د ځینو لیکوالو لیکنې یا کتابونه چې پروف ته راځي «او» د عطف توری په کې ډېر زیات او بېاړتیا وي.

روستۍ خبره دا چې کلمو ته دې د زرګر د قیمتي غمیو په نظر وکتل شي.

٦- که د متن پر لومړي ځل لوستو مانا و نه لېږدېده، لوستونکی یې بیا لوستو ته مجبور شو او یا خبرې کوۀ مخاطب درته وویل چې پر خبره مو پوی نه شوم او یا مو هم خبرو او لیک دویمه نامطلوبه مانا لرله نو مطلب یې دا دی چې لیکنه او خبره کې مو د فصاحت کمزوري ده. د همدې عنوان ځینې اقتباسات داسې دي چې په اسانه مفهوم نه ترې اخیستل کېږي. همدا لیکوال چې فصاحت رازده کوي خپله هم د فصاحت ستونزې سره مخ دي. ممکنه ده چې د بنده لیک کې هم مانا ورکه وي او یا نور یاد عیبونه ولري، که همداسې وي نو د دې کرښو لیکونکی خپله هم دا ستونزه لري. انسان نیمګړی دی، تاسې لوستونکي هم همدې ستونزې سره پنجې نرموۀ. د دې حالت مانا دا نه ده چې پر خپل حال یې پرېږدو. پکار ده ډېر پام وکړو چې تر ممکن حده ښکلی او فصیح نثر ولرو.

شعر بیا بدل دی، کله دا یاد عیبونه ښکلاوې ګڼل کېږي خو شعر هم پر خپل ځای خپل فصاحت لري چې باید شاعر پام ورته وکړي.

## ۳ـ ۲ بلاغت

بلاغت لغتاً بلوغ، کمال او یا انتها ته د رسېدو په مانا دی. قاموسونو یې مختلفې ماناوې رواړې دي. درياب کې یې مانا داسې ده:

«د کلام بېعيبه او مانداره ادايېگي»

(۶۹: ۱۶۰)

او پښتو-پښتو تشريحي قاموس يې اړوند ليکي:

«سوچه وينا، د معنی او مطلب نه ډکه وينا، د وينا لوړه درجه، رسېدلې وينا، روانه وينا، په ادبي اصطلاح د داسې کلمو راوړل چې د مخاطب د سويې سره برابرې وي او کلام د بېمعنی الفاظو څخه پاک وي.»

(۱۴: ۴۰۱)

د فصاحت بحث کې مو ويلي ول چې ځينې پوهان فصاحت او بلاغت مترادف بولي، په همدې وجه ځينو قاموسونو کې د بلاغت مانا هم فصاحت راوړل شوې.

«د بلاغت لفظي مانا ده انتها ته رسېدل. د علمای معاني په نزد بلاغت د کلام په علم کې شامل دی او هغه کلام چې فصيح وي او د حال د تقاضو او ضرورتونو په مطابق وي کلام بليغ بللی شي. د کلام دغه صفت ته بلاغت وايي. ځکه د ادب په اصطلاح کې د موقعې مناسب او فصيح خبرې کول بلاغت دی. داسې د بلاغت دپاره دوه شرطونه پوره کول ضروري دي:

۱- د موقعې مناسبت يا مقتضای حال کېدل

۲- د خبرو فصاحت»

(۲۵: ۸۰)

«د بلاغت لغوي مانا کمال ته رسېدل دي ولې په ادب کې د موقعې او محل مناسب فصيحو خبرو کولو ته بلاغت ويلی شي ياني هغه قاعدې زده کول چې په هغې سره کلام اثرناک، خوندور او موزون جوړېدی شي. د دې دپاره دوه ځيزونه ډېر ضروري دي؛ يو دا چې د يو مطلب او مفهوم د اظهار دپاره مختلفې طريقې بيانول زده وي چې د موقعې په اعتبار هغه طريقه يا انداز خپل کړی شي. دويم دا چې په کلام کې ښايست او خوبي پيدا کړی شي او د بلاغت علم دا دواړه قاعدې لري؛ يوې ته علم بيان او بلې ته علم بديع ويلی شي.»

(٦٣: ٥)

له دې اقتباسه څرګندېږي چې د بديع و بيان زده‌کړه د بلاغت مرستياله ده، موږ چې بديع و بيان کې کوم صنعتونه او لارې ګودرې زده کوو په مټ يې کلام کې بلاغت رامنځته کېږي.

«بلاغت لغت کې د کمال او بلوغ په مانا دی او د دې موخه د مقصد رسول دي. په دې وجه نه شو کولی د کلمې په چوکاټ کې يې وڅېړو؛ ځکه کلمه په ګوښې ځان رسا نه ده او د ويونکي پوره مقصد نه رسوي. پر دې اساس بلاغت په خبرو او خبرې کوونکي پورې اړوند دی.

الف: د کلام بلاغت: د خبرو بلاغت د حال له غوښتنې سره مطابقت دی او په حقيقت کې د خبرو د بلاغت موخه هماغه ده چې حافظ يې وايي: «هره خبره خپل وخت او هره نکته خپل ځای لري.» ياني خبرې بايد د اورېدونکي د وضعيت، موقعيت او حالت مطابق وي. که حالت اوږدو خبرو ته جوړ و خبرې دې اوږدې شي او که نه حالت د لنډون و نو خبرې دې لنډې شي. که اورېدونکي انکار کاوه نو خبرو کې ټينګار پکار دی او که منکر نه و نو ساده او عادي دې وشي.

طبيعي ده که د حالت د غوښتنې مطابق خبرې و نه شي کلام کې به بلاغت نه وي. البته بليغ کلام بايد د فصاحت له عيبونو هم پاک وي.

... د حالت غوښتنه په وخت، ځای او د متکلم او مخاطب په رواني حالت پوره اړه لري. ويناوال بايد اورېدونکي سره د مناسباتو رعايت وکړي... .

ب: د متکلم بلاغت: بليغ متکلم هغه څوک دی چې پر بليغو خبرو برلاسی وي. ياني د فصيحو کلمو د راوړو تر څنګ د دې وړتيا ولري چې حالت ته په کتو سره په اسانۍ فصيحې کلمې وکاروي او فصيحې خبرې وکولی شي.»

(٦٦: ٢٥ـ ٢٨)

د فصاحت و بلاغت بحث کې یوه مهمه خبره دا ده چې د بلیغ کلام لپاره فصاحت حتمي دی خو د فصیح کلام لپاره بلاغت حتمي نه دی. که موږ د اقتصادي ستونزو او یا اقتصادي پراختیا کومه ناسته کې د مطالعې پر ارزښت خبرې کوو او یا مقاله وړاندې کوو دا خبرې/ مقاله به فصاحت ولري؛ ټول ګډونوال به پوی شي چې مطالعه کومې ګټې لري خو بلاغت به په کې نه وي، ځکه موږ د حالت مطابق خبرې نه دي کړې.

«یوه وینا تر هغې اغېز نه لري چې پر فصاحت سربېره د حال له غوښتنو سره برابره نه وي، خو داسې کلام چې په کې فصاحت او د حال د غوښتنو انځور یو ډول څپاند وي، بلیغ بلل کېږي او د وینا دغې صفت ته بلاغت وايي.

یو مضمون هغه وخت بلیغ بللی شو چې الفاظ یې پر ځای، عبارتونه یې غوره او بشپړ او د ټول مضمون مفردات (خاکه) مرتبه او پوره وي. د مضمون د بېلا بېلو برخو څرګنداوی مناسب او ټوله مانا دومره زړه راښکونکې وي چې پر نورو هم اغېز وشېندي.»

(۷۰: ۷۱)

که د ښوونځي د لومړي ټولګي زده‌کوونکو ته د غوره لیکوالۍ لارې ګودرې ورښیو، ژبه به مو فصیحه وي او سمې لارښوونې به ورته کوو خو د بلاغت اصول به مو تر پېښو لاندې کړي وي، ځکه د لومړي ټولګي شاګرد چې لا یې لیک نه دی زده نو لیکوالي څه رنګ ورزده کولی شو. همدا د حالت له غوښتنې سرغړاوی دی.

که لنډ-تنګ وخت کې مو خلک راایسار کړي ول اوږدې خبرې ورته کوو خبرې به مو ښې وي خو بلاغت ته مو پام نه دی کړی. او که بیا وخت ډېر و او د موضوع تفسیر ضرور و نو بیا په کار ده د موضوع پر ټولو ضروري اړخونو کافي بحث وشي.

د لیکنو په برخه کې لیکوال موضوع ته په کتو د مقالې او یا کتاب چوکاټ غوره کوي. کیسه‌لیکوال موضوع ته په کتو د ژانر انتخاب کوي؛ که کیسه لنډه وه، په لنډه کیسه‌ګۍ او یا لنډه کیسه کې یې راوړي او که اوږده وه نو بیا ښه دا ده چې د ناول په اډانه کې یې راوړي.

عادي ژوند کې د غم په وخت د خواشینۍ څرګندونه کوو او د ښادۍ په وخت د ښادۍ اړوند کارونه کوو؛ پښتانه وايي مړی په ژړا ښکلی ښکاري او ښادي په ګډا، همدا د حالت پېژندنه ده چې جنازو کې خواشیني یو یا ژاړو او ښادیو کې اتڼ کوو. که عکس کار وکړو خلک به د لېوني ګومان وکړي.

د ماسترۍ دوره کې استادې يوې ازمايښتي ازموينه کې پوښتنه کړې وه چې رحمان بابا په کوم کال زېږېدلی او مړ شوی دی؟

زما د ځواب نچوړ داسې و: ضرور نه ده د رحمان بابا پر پيدايښت او مړينې بحث وشي، پر دې موضوع خورا ډېر ليکل شوي خو نتيجه دا ده چې هېڅا هم دا نېټې ثابتې کړې نه دي او چندان گټه هم نه لري. پکار دا ده چې د دهٔ پر شعر خبرې او کار وشي.

استادې چې ټولگي کې نمرې ښووې ما ته يې هېڅ نمرې نه وې راکړې. ما ويل استادې دا ولې!؟ ويل ته ښه وايې خو تا «ټو ده پواينټ» خبره نه ده کړې. ټو ده پواينټ د استادې کلمات ول، مانا دا چې پر اصل هدف نه يې غږېدلی. حال دا چې لېسانس کې مې پر همدې موضوع مقاله وړاندې کړې وه، د دې مقالې له برکته استاد ممتازو محصلانو کې حساب کړی وم.

ما دواړه ځايه يوه خبره کړې وه خو خبره دا وه چې يو ځای کې مې حالت نه و پېژندلی او بل ځای مې پېژندلی و، ځکه خو يوې خبرې يو يا خپل ځای کې ارزښت پيدا کړ او بل ځای کې هېڅ حساب پرې ونه‌شو.

که دغه عنوان کې د شعرپوهنې پر صنعتونو بحث کوو سم بحث به وي خو بليغ به نه وي. دلته چې څه ليکو پکار ده چې د بلاغت تشريح وي.

## ۳ـ۳ سلاست

نور چې د چا پر نثر خبره کوي نو بيا ليکي/وايي چې نثر يې فصيح، بليغ او سليس دی. دا د سلاست صفت چې د فصاحت و بلاغت تر څنګ راځي نو څه رڼا پرې اچوو. د سلاست پر ځای «رواني» کلمه هم کارول کېږي.

دهخدا کې د سلاست لغوي مانا نرمي، اساني، رواني... ده او اصطلاح کې د کلماتو رواني ده چې اسانۍ سره تلفظ شي او ګران الفاظ په کې نه وي.

سلاست يوازې د نثر صفت نه دی، د شعر هم دی.

«سلاست روانۍ ته ويلی شي. دا هله راځي چې کلام کې نوي او نااشنا الفاظ استعمال نه شي، بلکې داسې الفاظ استعمال شي چې هر څوک ورسره اموخته وي او روزمره استعمال کې وي.»

(۲۵: ۲۳۸)

که سلاست د اسانو کلمو د کارونې په مانا واخلو نو بيا بايد چې ګرانې کلمې له ژبې وايستل شي، خو ګرانې کلمې چې د کومې مانا د بيان لپاره دي د هغې مانا بيان به بيا په کومو کلمو کوو. بله دا چې د ګرانو او اسانو کلمو تر منځ بېلتون هم اسان نه دی؛ څنګه به حکم کوو چې دا کلمه اسانه او دا يې ګرانه ده؟ که د مترادفو کلمو تر منځ غوراوی وي نو وبه شي خو هغه کلمې چې بديلونه نه لري د ګرانۍ او اسانۍ ټاپه نه شو پرې وهلی. که ګران هم وي کاروو به يې.

که سلاست د کلمو پر ځای ترکيبونو، فقرو، عبارتونو او جملو کې مطالعه کوو نو بيا خبره اسانېږي او په اسانۍ سره کولی شو چې د کلمو په ادلون بدلون سره فقرو، عبارتونو او جملو کې سلاست راوړو.

که د متن د لوستو په وخت دربلېدو او متن مو روان نه شو لوستی نو مانا يې دا ده چې متن کې سلاست نه شته. کوم متن چې په اسانۍ لوستل کېده سليس دی. د سليس لپاره چې اسانه کلمه کاروو نو د «سليس متن» پر ځای غوره دا ده چې «روان متن» ووايو.

پېښور کې د «شا و خوا» ترکيب بڼه «خوا و شا» ده. ما به چې شا و خوا ويل د پېښور ملګرو به په موسکا زما د ترکيب بڼه ناسمه بلله. ما به ويل چې دا زه يې کاروم دا يې غوره بڼه ده. زما دليل دا و چې د خوا د «و» ګاونډ کې چې

تړونی «و» راشي، زما لپاره يې تلفظ ګرانېږي، نو ځکه يې پېښورۍ بڼه غوره نه ده. که شا مخکې راشي او خوا ترې وروسته شي نو بیا د غږونو ټکر نه راځي او تلفظ يې اسانېږي.

که متن په لوړ اواز لولو خو روان يې نه شو لوستی، زياتې وقفې په کې راتلې، د مخکنيو کلمو د روستيو غږونو او د ورپسې کلمو د مخکنيو غږونو بې‌خونده ادغام راتلو نو متن کې د سلاست کمی دی. که دا نه ول نو متن سليس يا روان موصوفېږي.

استاد غضنفر پر سلاست لنډه‌کۍ مقاله ليکلې، مقاله ډېره عالي ده نو ټوله يې رااخلو:

«موږ (شپه ورځ) وايو خو (ورځ شپه) نه وايو، ځکه چې ويل يې سخت دي. همدا د اسانه ويلو وجه ده چې په ولس کې ادم و درخانۍ او ليلا و مجنون اورو، نه درخانۍ او ادم يا مجنون او ليلا.

هغه کلام چې روان ويل کېږي د بلاغت عالمانو سليس کلام بللی دی. سلاست د ليکنې د ښکلا يو شرط دی.

يو وخت خوشال‌خان ته د تورې او قلم خاوند وويل شول. دا خبره مشهوره شوه او هغوی چې له کليشه شوي فکر او سولېدلې ژبې سره ډېر حساسيت نه لري د خوشال لپاره په خپلو ليکنو کې تر ننه پورې همدا عبارت راوړي. د دې عبارت د شهرت او پاتې کېدو يوه وجه دا ده چې اسانه ويل کېږي. که دلته قلم اول او توره ورپسې راشي، د عبارت په سلاست کې کمی راځي خو مانا يې پياوړې کېږي، ځکه د خوشال د قلم رڼا د هغه د تورې تر ځلا هم زياته وه.

که د مانا د دقت او د کلام د رواني تر منځ ټکر راځي او ليکوال مجبورېږي چې يو انتخاب وکړي نو په هغو ليکنو کې چې د مالوماتو رسول يې اصلي مقصد وي، د مانا دقت ته ترجيح ورکول ضروري دي. په هنري ليکنو کې هم د مانا ځرګنده صدمه د زغملو نه ده خو په پاسني مثال کې مانا ته ډېره ښکاره صدمه نه ده رسېدلې، ځکه خو ان د ځينو لويو ليکوالو په ليکنو کې نوموړی عبارت لوستلی شو.

موږ ممکن داسې متل و نه لرو چې په ويلو کې يې تکليف احساس کړو. متلونه د لويو تجربو او ژورو فکرونو پيداوار دي خو دغه مانوي محصولات که د روانو جملو قالب و نه مومي، معمولاً د متل مقام ته نه رسېږي او خوله په خوله نه ګرځي.

ليکوال په پټه خوله ليکنه کوي. د ليکنې له تمامولو وروسته د متن په لوړ اواز لوستل به د ده پام هغو جملو ته په اسانۍ سره واړوي چې سليسې نه دي. د رحمان بابا د کلام رواني د هغه د وينا د شهرت يوه اصلي وجه ده. رحمان

بابا هغو شاعرانو ته چې کلام یې روان نه دی، غونډژبي شاعران وایي. غونډژبی هغه څوک دی چې ژبه یې نښلي، بنده بنده کېږي. یوازې ښه شاعر نه بلکې ښه لیکوال هم غواړي چې په غونډژبیو کې حساب نه شي.»

(۵۸: ۱٦۵، ۱٦٦)

## ۳ـ ۴ د نثر اوږدوالی او لنډون

زه چې د چا عادي لیک هم لولم د ښه نثر سترګی ورته په سترګو کوم؛ که څوک پر خپلو شخصي یادښتونو او نورو لیکنو د مانا اړوند نظر رانه وغواړي هم، لومړی یې نثر کې اضافي کلمې او جملې ګورم او املا ته یې پام کوم.

یوه کلیوال کلي کې د ښادیو د ډزو پر بندیز د کلي د یو تړون لیک راوښود، ویل که د څه زیاتونې یا کمونې اړتیا وي چې په کې وشي. د لیک پیل په «لکه څرنګه چې» شوی و، دې پیل یې خوند رانه کړ. لکه څرنګه چې ترکیب کلیشه شوی او هغوی متن پرې پیلوي چې لیکلو سره ډېره بلدتیا و نه لري.

د پوهنتون چېپټرونه مې تر زده کولو مخکې د املا او نثر له مخې جوړول؛ په ناسمه املا لیکل شوی متن په ګرانه لولم او چې نثر یې بې‌خونده وي نو بیا له لیک مفهوم نه شم اخیستی؛ نیمګړتیاوو کې یې ورکېږم.

زموږ اکثر لیکوال کلمو سره محتاط چلند نه کوي، بې‌ګټې جملې راوړي او د یوې مانا تکرار کوي. که کلمې وړیا نه وی نو بیا به بې‌انصافه چلند نه ورسره کېده.

د کلمو د سپما اړوند د استاد زیار نظر داسې دی:

«سپما، دا مانا چې تر وسې وسې او وروستنی بریده په لږو وییو کې ډېره مانا او مطلب وړاندې شي. بې له دې چې ابهام او ګونګوالی پېښ شي، یوه خبره چې په یوه جمله کې راتلی شي، دوو ته باید ونه رسېږي او یوه جمله چې له پنځو توکو څخه جوړېدی شي، په کار نه دي، اتو یا لسو توکو ته ورسي. البته په ادبي او هنري ډګر کې د یو مطلب څو څو رازه څرګندول له سپما څخه سرغړاوی نه ګڼل کېږي، هغه هم په دې شرط چې نوې نوې مانیزې او بدیعي رنګارنګۍ منځ ته راوړي، د چا خبره تکرار حسن اوسي، نه دا چې تشه لفاظي بنه ولري. له بده مرغه زموږ ډېر لیکوال د ډېر پخواني ختیز دود تر اغېز لاندې د هممانیزو وییو او جملو بیا بیا کارول د خپل لیکني سبک ستر توک ګڼي. سپما په کړاوړون (فعلي ګردان) کې هم ډېره پاموړو بلل کېږي او هغه دا چې له بېلابېلو ګړدودي ځېلونو یې هماغه لنډ دا امرل کېږي. لکه د (پوه شوم) پر ځای (وپوهېدم) یا د (ډوډۍ وخوړلی شوه) پر ځای (ډوډۍ وخوړل شوه) په وییغونډونو

کې، لکه: کابل پوهنتون د (د کابل پوهنتون)، (کابل ښار) د (د کابل ښار) پر وړاندې په نویزونو کې، لکه (رسنۍ) د (خبري یا خپرندویه رسنۍ) پر وړاندې.»

(۴۳: ۲۰)

زموږ د لیکنو اطناب (اوږدوالی) هم د غیرضروري کلمو د کارونې له امله دی او هم پیش نه پیشم خان جوړوو؛ وړه خبره وي سره کشوو یې، د بیان لپاره یې بې‌ضرورته جملې، حتی پاراګرافونه راوړو.

د ساده کلمو پر ځای ترکیبونه راوړو، مترادفې کلمې کاروو، دعطف د توریو ډېر استعمال کوو، اضافي جملې راوړو او په ټوله کې لیکنه اوږدوو.

راځو پر یادو مواردو بېل بېل تمېږو:

## ۳-۴- ۱ د یوې کلمې پر ځای د ترکیب راوړل

پېښور پوهنتون کې مو د ماسترۍ د پارچو ځوابولو ته ځلور ساعته وخت درلود، دغه ځلور ساعته به مو لیکل کول. ځینو استادانو او ملګرو به مشوره راکوله چې پارچو کې ډېر لیکل وکړئ؛ نومرې په لوېشتو درکوي. مانا دا چې ډېر لیکل ډېرې نومرې اخلي.

ما به که د استاد حبیبي نوم لیکه نو «لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي» به مې لیکه، د استاد نوم به نیمه کرښه ونیوه او پارچه به مې په لوېشتولو ته پوره جوړوله. خوشال خان مې «خان علیین مکان خوشال‌خان خټک» لیکه، دغو نومونو سره مې نور القاب هم غوټه کول او نورو نومونو ته به مې هم خپل القاب لرل. لومړۍ پارچه کې مې (۲۸) او لسمه کې مې (۳۸) صفحې لیکل کړي ول. دا ټول لیکل ضرور نه وو؛ خبره مو اوږدولو ته جوړوله. دغه اطناب زموږ اړتیا وه؛ نومرې مو پرې زیاتولې، خو زه چې ځینو لیکنو ته ګورم، نومرې نه پرې زیاتېږي خو زموږ د پارچو غوندې یې سره کش کړې وي.

د اوکراین هېواد د غنمو تولید کې نوم لري. د اوکراین نوم اورېدو سره مو لاس په لاس د روسیې او اروپا ګاونډی هېواد ذهن ته راځي او پر دې پوهېږو چې اوکراین هېواد دی نو اړتیا نه شته چې تر څنګ یې هېواد ذکر کړو او

تر اوکراین دمخه د اضافت «د» هم اضافي دی. داسې لیکل یې پکار دي: اوکراین د غنمو تولید کې نوم لري. دویمه جمله کې مو هېواد او د اضافت «د» وغورځول خو مانا یې ورسوله.

د کندهار ولایت انار مشهور دي. ټول پوهېږو چې کندهار د ولایت نوم دی نو اړتیا نه شته چې ولایت دې ورسره راوړل شي. داسې دې ولیکل شي: د کندهار انار مشهور دي.

پرون/ نن ورځ مې مینه ولیده. دلته ورځ اضافه راغلې. پرون/ نن مې مینه ولیده.

سېپټمبر میاشت کې وطن ته درځم. دلته میاشت ته اړتیا نه شته؛ سېپټمبر کې وطن ته درځم. د اکټوبر په (۲۸مه) نېټه مې ازموینه ده. دلته نېټه اضافه ده. د اکټوبر پر (۲۸مه) مې ازموینه ده، پوره جمله ده.

خپل لاسونه مې ووینځل. د خپلو لاسونو وینځل معمول دی؛ که د نورو مو وینځلي ول نو بیا دې ذکر شي چې د مور لاسونه مې ووینځل. لاسونه مې ووینځل جمله بشپړه مانا رسوي.

## ۳-۴-۲ د هممانا کلمو راوړل

هیله او امید مې دا دی چې نن به مې پلار کلي ته راورسي. هیله او امید مترادفې کلمې دي، د دواړو راوړل اقتصادي نه دي. هیله مې دا ده چې نن به مې پلار کلي ته راورسي.

د نجونو د مکاتبو او ښوونځیو بندول عاقلانه کار نه دی. مکاتب او ښوونځي هممانا کلمې دي، د یوې راوړل مانا بشپړوي. د نجونو د ښوونځیو بندول عاقلانه کار نه دی.

نجونې او هلکان بېلابېلو ټولګیو او صنفونو کې زده‌کړې کوي. ټولګیو چې راغی صنفونو ته اړتیا نه وه او یا صنفونو چې راغلی ټولګیو ته اړتیا نشته. داسې: نجونې او هلکان بېلابېلو ټولګیو کې زده‌کړې کوي.

زما خبرو پر دوی مثبت تاثیر او اغېز وکړ. دلته تاثیر او اغېز هممانا کلمې دي. زما خبرو پر دوی مثبت اغېز وکړ، د مانا له مخې پوره جمله ده.

 څېړونکو او محققانو ته پکار ده چې څېړنه او تحقیق کې له ډېر دقت نه کار واخلي. څېړونکو ته پکار ده چې تحقیق کې له ډېر دقت نه کار واخلي. بشپړه مانا رسوي.

پکار نه ده چې هسې د متن د اوږدوالي لپاره هممانا کلمې یوه د بلې تر څنګ راوړل شي. دا پخوانی دود نن پېرودونکي نه لري.

## ۳-۴-۳ د سربلونو او اوستربلونو غیرضروي کارؤنه

د سربلونو او اوستربلونو د سمې کارؤنې لپاره پر ګرامر پوهېدا ته اړتیا ده، پر ګرامر چې سم نه پوهېږو نو هم یې ډېر کاروو او هم یې یو د بل پر ځای راوړو. بې‌اړتیا کارؤنه یې متن اوږدوي او یو د بل پر ځای کارؤنه مانا کې بدلون راوړي. پر خپل ځای کارؤنه یې ګرامري بحث دی، هغه پرېږدو او دا چې اطناب رامنځته کوي پر دې تمېږو؛ څو اوږدې او لنډې جملې څنګ په څنګ راوړو چې دویمې بڼې یې غوره دي:

په پوهنتون کې یم.   پوهنتون کې یم.

دویمه جمله کې «په» سربل نشته خو بشپړه مانا یې رسولې.

پر کتاب باندې عینکې ایښې دي.   پر کتاب عینکې ایښې دي.

دویمه جمله کې «باندې» اوستربل لوېدلی خو مانا نیمګړې شوې نه ده.

له رومینې څخه ریحانه تکړه وه.   له رومینې ریحانه تکړه وه.

دویمه جمله کې «څخه» اوستربل نه دی راغلی خو مانا بشپړه ده.

له خوست څخه تر کابل پورې (۲۴۰) کیلومتره لاره ده.   له خوسته تر کابله (۲۴۰) کلیومتره لاره ده.

دلته دویمه جمله کې د «څخه» پر ځای خوست پسې زور «ه» نښلول شوی چې د څخه لنډ بدیل دی او د «پورې» پر ځای هم کابل پسې زور «ه» نښلول شوی چې تر پورې لنډ دی. که خوست او کابل د «ت او ل» کانسونېنټونو پر ځای په واول ختم وی نو بیا د زور نښلولو ته هم اړتیا نه پېښېده. لکه دې جمله کې: له خوشال‌مېنې تر رحمان‌مېنې (۲۰)

کیلومېتره لار ده. دې جمله کې د خوشال‌مېنې او رحمان‌مېنې پای کې «ې» واول راغلی. البته د دغو دواړو نومونو اصل حالتونه خوشال‌مېنه او رحمان‌مېنه دي، دلته په مغیره بڼه راوړل شوې دي؛ زورونه یې پر اوږدو یاګانو اوښتي خو څه په کې زیات شوي نه دي.

له دوی څخه ښکلي ځوانان نشته.    تر دوی ښکلي ځوانان نشته.

دویمه جمله کې د لومړۍ جملې «له» سربل دویمه جمله کې پر «تر» اوښتی او «څخه» سربل ختم شوی خو مانا یې لومړۍ غوندې بشپړه ده. پرتلیز حالت کې تر «له» «تر» سربل غوره هم ښکاري.

تر کوره پورې ورپسې وم.    تر کوره ورپسې وم.

دویمه جمله کې د «تر» اوستربل «پورې» نه دی راوړل شوی خو مانا یې پوره رسولې ده.

د سربلونو اوستربلونو سمه زده‌کړه مختلفو حالتونو کې د متن د لنډېدا سبب کېدی شي.

ځینې فعلونه هم لنډوی شو: د مړ شو پر ځای ومړ. د تم کېږو پر ځای تمېږو، د پاتې کېږو پر ځای پاتېږو، د ویده کېږو پر ځای ویدېږو، د لاندۀ کېږو پر ځای لندېږو، د ژوبل کېږو پر ځای ژوبلېږو... .

که پر ګرامر مو سر خلاص وي نو په اسانۍ سره کولی شو چې د متن د اوږدوالي مخه ونیسو.

## ۳- ۵ پېچلی نثر

یو د شکل او بل د مانا له مخې نثر پیچلی کېږي؛ چې الفاظ مو سخت وي، ګرامر ته پام نه وي شوی، د ښه نثر پر ځانګړنو نه پوهېږو... او په دې وجو مو متن پیچلی کړی وي، مانا دا چې متن مو د شکل له مخې ګران شوی دی او که د مانا له مخې مو پر ګرانه موضوع لیکل کول، د بیان لپاره یې اسانې کلمې یا جملې نه وې، که کلمې اشنا هم وې خو له متنه په اسانه مفهوم نه شو اخیستل کېدی مانا دا چې دا پیچلتیا د موضوع د سختوالي په وجه ده.

لومړی د نثر پر دویمه پیچلتیا تمېږو او بیا د شکل له مخې پیچلتیا باندې خبره کوو:

د شعر یو مشهور تعریف دی: په ښکلې او اهنگینه ژبه د خیال او فکر عاطفي تړون ته شعر وایي. دا د شعر اصطلاحي پېژندنه شوه خو ادب سره نابلد کس به پرې پوی نه شي چې اوس نو دا شعر شو څه شی. دغه نابلد کس ته به نورې پوښتنې پیدا شي: ښکلې ژبه څه ته وایي؟ اهنگینه ژبه څه خېل وي؟ خیال څه دی؟ فکر له خیال سره څه توپیر لري؟ او عاطفي تړون څنګه وي؟

زما په فکر شعر و ادب سره نابلده خلک پرېږده؛ د بلدو هم په اسانه سر نه پرې خلاصېږي، د چا چې سر پرې خلاص دی هغوی سره هم د الفاظو داسې یاري نه وي چې نورو ته د شعر اړوند خپل ټول ما في الضمیر ولېږدوي. بله یې دا چې د شعر متفق علیه تعریف شته نه، هر څوک له شعره خپل برداشت لري، دلته نو د نظریو اختلاف خبره لا پسې پېچلې کوي.

درست ټولنیز علوم همداسې دي، ساینس غوندې کوټلې خبرې په کې نه وي. د ادب د پېژند باره کې د سېنټ‌اګستین خبره ده: «که له ما نه تپوس نهٔ کوئ نو زه پرې پوهېږم او که له ما نه تپوس کوئ نو بیا پرې هېڅ نهٔ پوهېږم.»

(۳۱ :۷۷)

موږ ورځني ژوند کې هم اورو چې د دې حالت بیان ته الفاظ نه لرم، مانا دا چې حالت نه شم بیانوی. علومو کې هم ځینې بحثونه داسې دي چې یا خو پوهان مناسب الفاظ نه ورته لري او یا یې بیان ساده کار نه وي، که عالم یې لیکي او یا وایي، هم به پرې پوهېدل اسان نه وي.

ټولنیزو علومو کې تر ټولو ګران نثرونه فلسفي نثرونه دي چې د هر چا سر نه پرې خلاصېږي، په لومړي ځل مخامخېدو خو پرې پوهېدنه خورا سخته ان ناممکنه ښکاري. د فلسفې اړوند مې لوستي ول چې کوم موضوعات د فلسفې غېږه کې وي مانا دا چې دغه موضوع لا پر علم اوښتې نه ده او فلسفه چې کومه موضوع نهایي کړي نو بیا پر علم واوړي. د دې مطلب دا دی چې فلسفه د هغو مسلو حل لټوي چې لا حل شوې نه دي. کله یې چې لاینحل موضوعاتو سره کار دی نو بحثونه یې پای نه لري او متون به یې پېچلي وي.

که موږ وپوښتل شو چې ژوند څه دی، روح څه دی، ښکلا څه وي... ؟ ځوابونه به یې راته سخت وي، یا به خپل برداش لرو خو داسې بیان به یې اسان نه وي چې اورېدونکی یا لوستونکی راته ووایي چې بس اوس پوی شوم.

د داسې نثرونو نمونې وړاندې کوو چې کلمات یې ساده دي خو په اسانه نه پوهېږو چې لیکوال څه وایي:

« **دیالکتیک څه ته وایي؟**

د دیالکتیک مانا جدل او مناظره ده. په زړه فلسفه کې هم په دې مانا پروت دی. د حقایقو د کشف لپاره د جدل لار د لومړي ځل لپاره سوکرات پرانیسته. سوکرات به خلک په کوڅه او بازار کې رانیول، سوالونه به یې ترې کول، بحث به یې ورسره کاوه؛ د بحث او جدل په وسیله به یې خلکو ته ځینې حقایق ښوول. سوکرات هېڅکله نطقونه او وعظونه نه کول، مقالې یا کتابونه یې نه لیکل. یوازې له خلکو سره به یې خبرې کولې. سوکرات د حقایقو پلټنې لپاره د جدل لاره غوره کړې وه.

اپلاتون هم د دې سبک پیروي وکړه. دی په خپلو اثارو کې همېشه سوکرات ښیي چې له خپلو دوستانو سره پر بحث بوخت دی. له یو سوال څخه بل سوال پیدا کېږي، له یوې موضوع څخه بله موضوع منځ ته راځي، له تاییدونو څخه تردیدونه راوځي، همدارنګه د بحث او جدل په وسیله نوي نوي حقایق راپیدا کېږي. د جدل یا دیالکتیک یوه مانا خو بحث او یا ډیالوګ دی، مګر د اپلاتون په نظر یوه بله منطقي مانا هم لري او هغه دا ده چې د جدل په وسیله فکر له ابتدایي مفاهیمو څخه لوړو مفاهیمو ته خېژي، له ټیټو فقرو څخه جګو فقرو ته پورته کېږي، یانې په عمومي ډول دیالکتیک د فکر هغه حرکت ته وایي چې فکر له محسوساتو څخه مجرداتو ته پورته بیایي.

ارسطو د جدل او تحلیل په منځ کې فرق کوي. د ده په نظر کې د تحلیل موضوع اثبات دی، یانې داسې یو استنتاج چې په حقیقي اساساتو بنا وي او جدل د احتمالي عقایدو په باره کې استدلال دی. دلته دیالکتیک په منفي مانا استعمال شوی دی.»

(۶۴: ۵۴، ۵۵)

د دې متن لومړی پاراګراف ساده دی او په اسانه پرې پوهېږو چې لیکوال څه وایي خو دویم پاراګراف کې خبره ورو ورو پېچلتیا ته روانېږي. هغوی چې فلسفي موضوعاتو سره بلد نه وي ممکن د دویم پاراګراف تر لوستو روسته کتاب پرېږدي او ووایي چې دا یې څه سره ویلي. البته څوک چې دا ډول موضوعاتو کې دلچسپي لري هغوی به پرې پوهېږي، خوند به ترې اخلي او زده‌کړه به ترې کوي.

د پښتو شاعری لوی نوم حمزه شینواری د شعر تر څنګ نثر هم لیکي، دی د تصوف لاروی دی او تر څنګ یې فلسفي مطالعه او لیک لري. د تصوف او فلسفې ګډون او د موضوعاتو سختۍ یې نثر کې پېچلتیا رامنځته کړې ده. د «انساني انا او پوهه» په نوم یو کتاب نه یې یو پاراګراف رااخلو او ګورو چې ورو ورو یې بحث پېچلی کېږي او هر څوک

یې د لوستو حوصله نه لري. تر متن رااخیستو دمخه به دا ووایم چې یوازې د کتاب نوم لوستو سره به هم پوښتنه راسره پیدا شوې وي چې انساني انا څه شی وي.

«انساني انا څه شی دی او ماهیت یې څه دی؟ په دې کې د مادینو او روحانینو همېشه اختلاف راغلی دی او تر اوسه موجود دی، خو په دې روانه صدۍ کې ځینې داسې مادیون هم پیدا شول چې هغوی په دې هکله د روحانینو نظریې ته ترجیح ورکړ؛ لکه فرانسوي دانشور سارتر چې په خپله د خدای د وجود نه منکر دی خو سره د دې هم وایي چې په انساني وجود کې یو داسې عنصر هم موجود دی چې هغه د مادي کاینات جز نه دی او زموږ هم دا خیال دی چې که چېرې یو انسان په یو هکله روحاني یا غیرمادي نه وی نو موږ به هېڅېرې دا موجوده علوم او فنون نه وی حاصل کړي، ځکه چې دا خو یو ځلانده حقیقت دی چې د انسان مادي وجود خو د مادي کاینات جز دی او څرنګه چې د مادي کاینات هر جز هره لمحه په تحول او تغییر کې دی، انساني جسم هم ترې مامون نه دی او که چېرې په انساني وجود کې یو داسې عنصر موجود نه وی چې د انساني حواسو مدرکات یې محفوظ نه شوی ساتلی نو عالمِ بشریت به تر اوسه د هر علم او فن د حصول نه محروم و. ان تر دې چې د ریاضي غوندې یقیني اصول به هم وهمي او غیریقیني وی او موږ به هېڅېرې د دې قابل نه وو چې دوو او دوو ته څلور ووایو. دا ځکه چې د یو مفهوم د حاصلېدو نه پس به په جسم کې تغیر او تحول واقع کېدی او د دې تحول په وجه به هغه حاصل شوی مفهوم قایم نه شو پاتې کېدی. اګر که د دې په هکله مادیون هر څومره دلایل وړاندې کړي او علم ته د تجربې پیداوار ووایي خو په دې خبره منلو مجبورېږي چې په انساني وجود کې د یو داسې عنصر وجود تسلیم کړي چې دا پرلپسې د تجرباتو نه حاصل شوی علم محفوظ وساتي او د مادي جسم د تغیر سره یې محوه کېدو ته پرېنه‌ږدي او که هغه حاسه یا عنصر هم مادي وي نو بیا د هغه د نه متغیر کېدو کوم ضمانت دی او چې متغیر کېږي هغه علم به هم ضرور محوه کېږي کوم چې د تجرباتو نه حاصلېږي، ځکه چې انساني وجود چې د هغوی په خیال محض مادي دی او ماده هره لحظه متغیره ده نو هغه حاسیه به هم ارومرو تغیر مومي، ځکه چې هغه هم مادي ده. لېکن سر له دې چې هغه علم محفوظ ساتي نو مالومه شوه چې هغه عنصر یا حاسه مادي نه ده.»

(۵۳: ۱، ۲)

دا بحث ډېر پېچلی نه دی، په اصطلاح ابتدایي فلسفي بحث دی چې د بنده سر پرې خلاصېدی شي خو دغه ابتدایي متن یې هم لوستنه کې پوره دقت غواړي؛ که سرسري پرې تېر شو نو مفهوم به یې ګران شي او یا به هېڅ پوهېدلي نه یو چې څه مو ولوستل.

«د فلسفې لنډ تاريخ» د نويد ارين کتاب دی، د دې کتاب د «ارادیت» په نوم عنوان متن دلته راوړو:

«د روسو او کانټ فلسفي رومانتيسيزم راوپېژانده چې په ادب، سياست او فلسفه کې خپور شو او فلسفي رومانتيسيزم په وجود راغی. دې ته اراديت هم وايي، د رومانتيسيزم مرکزي ټکی د عقل دوښمني وه، یانې د عقل دوښمن و.

د کانټ د فلسفې پر تهدابونو هېګل د خپلې جدلي فلسفې ودانۍ ودروله او د دې خبرې د ثابتولو هڅه يې وکړه چې ذهن او شعور حقيقت کبری يا مطلق حقيقت دی او هر څه چې واقع کېږي د حقيقت مطلق په منشا کېږي. نو هر څه چې کېږي صحيح کېږي. له دې څخه هيله‌لرونکی فکر پيدا شو، مطلب دا چې حالاتو او واقعاتو ته دې په خوشبينۍ سره وکتل شي، د مثال په توګه که په يوه پېښه کې د يو چا ښنه پرې شي شکر دې وکاږي چې يوازې ښنه يې له منځه ولاړه يا دا چې د ښنې پرې کېدلو ګټه وکړه؛ کېدلی شي د ښنې په درلودلو سره يې کومه ګنا کړې وی، مګر اوس يې د ښنې د پرې کېدلو له کبله د کولو توان نه لري.

د هېګل په فلسفه کې ذهن او عقل پر هر څه لاسبري لري او د عقل ځای تر هر څه لوړ دی، البته اراديت د عقل سخت دوښمن او د ناهيلۍ د سوچ خاوند دی. مطلب دا چې ژوند له وير، غم، کړاو، رنځ او تکليفه عبارت دی او هره پېښه د انسان لپاره بد حالت او بده وضعه راولي. په ناهيلي فکر کې تل د اشياوو منفي او تياره اړخ ته کتل کېږي؛ مثلاً که يو چا يوه کاميابي ترلاسه کړه نو دا هم ده لره کومه ګټه نه کوي چې تر بريا وروسته ناکامېدل لا زيات ځوروونکي وي.»

(۹: ۱۵۴)

يو ځل بيا تکراروم چې دا بحثونه هغوی ته اسانه دي چې فلسفه ډېره لولي خو هغوی ته پېچلي دي چې نوې يې د فلسفې مطالعه پيل کړې وي او يا هسې پرې ورپېښ شوي وي.

«د فلسفې کليات» د ډاکټر علي شيرواني اثر دی چې محمدحامد ژواک پښتو کړی، له دې اثره يو لنډکی متن رااخلو چې د پورتنيو متنو په نسبت پېچلی دی:

**« علت ته د معيار اړتيا**

هغه پوښتنه چې دلته مطرح کېږي او په ځواب کې يې د حکيمانو او متکلمانو تر منځ د نظر اختلاف شتون لري، دا ده چې «د ماهيت د اړتيا علت څه دی؟» ياني عقل په ماهيت کې کومه ځانګړتيا ويني چې د هغې ځانګړتيا لپاره د هغه د علت په احتجاج حکم کوي؟ او په بله خبره: کومه ځانګړتيا د شي له ځانګړتياوو څخه لامل شوې ده چې د هغه شي د وجود له علت څخه لاس ته راځي؟

د حکيمانو نظر: حکيمان باور لري علت ته د اړتيا مناط او ملاک، د شي امکان دی. د هغوی په باور هر ممکن څنګه چې ممکن دی او يوازې د دې لپاره چې نسبت يې عدم او وجود ته يو ډول دی، علت ته اړتيا لري او د ملاک په پايله کې د ذاتي وجوب او ذاتي امتناع د وجوب علت دی.

د متکلمانو نظر: متکلمان باور لري علت ته د ملاک اړتيا حدوث ده، نه امکان. ياني شی څنګه چې حادث دی او د نه شتون سابقه لري، علت ته اړتيا لري او له علت څخه استغنا به د ملاک په پايله کې زماني قِدَم وي. ياني هر موجود چې زماني قديم وي او وجود يې د نه شتون سابقه و نه لري، حتماً واجب الوجود او له علت څخه مستغنی دی.»

(۵۲: ۱۵۷)

د دې متن پېچلتيا کې د موضوع د سختۍ تر څنګ د ژباړې او ډېرو عربي کلمو راوړل هم رول لري. دې ټولو نمونو کې د پېچلتيا يوه بله وجه هم ده او هغه يوازې دلته ده؛ موږ تر نمونو دمخه او روسته متون پرېښي دي او ټول کتاب راوړل خو دلته امکان هم نه‌لري. که ترې مخکې او روسته برخې مطالعه شي نو بيا يوه اندازه اساني په کې راځي.

پايله کې وايو چې د فلسفي متونو تر څنګ نور متون هم شته چې عام لوستونکي يې لوستو کې ستونزو سره مخېږي او دا ممکنه هم نه ده چې ټول موضوعات په ساده او فصيحه ژبه بيان شي؛ ځينو بحثونو کې به پېچلتيا منو او زغمو، دا پېچلتيا به په ډېره مطالعه او ډېر دقت له منځه وړو.

د ماناوي پيچلتيا تر څنګ بله هغه شکلي پېچلتيا ده. دا پيچلتيا د مبتدي ليکوالو نثرونو کې ليدل کېږي او داسې نثرونه هم شته چې ليکوال يې باتجربه وي خو د خاصې سليقې پر اساس يې نثر له پوهاوي ويستی وي؛ مثلاً د نړه نثر پلوی به وي.

که مو متن د یو خبر لپاره ډېرې مبتداوې ولرلې مانا به تتېږي، لوستونکی به ډېر دقت ته اړ کېږي او هله به ارامېږي چې خبر ولولي.

د معترضو جملو ډېره کارونه هم نثر پیچلی کوي. ځینې لیکوال د لنډون په خاطر معترضې، چې استاد زیار یې منځپېښې بولي، جملې راوړي، دا یې نثر لنډ کړي خو پیچلی یې هم کړي. زموږ د همدې پاراگراف دویمه جمله کې معترضه جمله ده. که مو د لنډون پر ځای د متن اسانۍ ته پام کولی نو جملې به داسې وې: ځینې لیکوال د لنډون په خاطر معترضې جملې راوړي. معترضو جملو ته استاد زیار منځپېښې جملې وایي.

بېضرورته د پردیو داسې کلمو استعمال چې لوستونکی قاموس کتو ته اړ کوي هم د نثر پیچلتیا ده.

کومه مرستندویه موسسه کې کارکوونکي ملگري د سمون لپاره دا متن راولېږه:

«د پروژې هدف: په کلیو کې ټولنیز وحدت، پایدارې سولې، د انسانانو حقوق د دین اسلام له نظره، حل منازعات، تحلیل منازعات، عملیاتي پلان جوړوني، عامه پوهاوی او مباحثوي غونډې او ورکشاپونه دایروو او د هدف د لاسته راوړنې لپاره او د شوراگانو غړي کلیوالو ته د دغه موضوعاتو مورد عامه پوهاوی ورکوي او که کومه داسې شخړه پیدا شي چې یا په ترافیکي اصولو پورې مرتبط نه وي او یا هم په عدلي او قضایي چارو پورې مرتبط نه وي او د دوی تر وسه وي نو د شورا غړي هغه شخړې حل کوي او په لیکلې بڼه یې بیا زمونږ سره شریکوي او موږ یې ثبت کوو.»

ما داسې بدل کړ:

د پروژې هدف: په کلیو کې ټولنیر وحدت، پایداره سوله، د اسلام له نظره د انسانانو حقوق، د منازعاتو تحلیل او د منازعاتو حل، عملیاتي پلان جوړول، د هدف د لاسته راوړو لپاره د عامه پوهاوي مباحثوي غونډې او ورکشاپونه جوړول.

د شوراگانو غړي کلیوالو ته د پورته موضوعاتو اړوند عامه پوهاوی ورکوي.

که داسې شخړه پیدا شي چې ترافیکي اصولو پورې مربوط نه وي او یا هم عدلي او قضایي ارگانو پورې اړوند نه وي، حل یې د شورا د غړو په وس کې وي نو د شورا غړي یې حلوي. موږ سره یې لیکلی راپور شریکوي او موږ یې بیا ثبت کوو.

رالېږونکي ملګري ولیکل: ډېره مننه، سخت خوند یې وکړ. ما ویل که اصل متن دې رالېږلی وی او ما ژباړلی وی نو تر دې به غوره و. ویل یې چې ژباړه نه ده، زموږ مشر لیکلی. د دې مشر له متنه برداش اسان نه دی او د دغه پیچلتیا وجه دا ده چې مشر پر پښتو ګرامر نه پوهېږي. دلته مو د مشر متن کې سمون وکړ، دې سره یې پیچلتیا یوه اندازه کمه شوه خو که همدا متن داسې چا لیکلی وی چې پر ګرامر یې سر خلاص وی او د لیکلو تجربه یې زیاته وی نو بیا به تر دې سم شوي هم غوره متن راغلی وی.

## ۶ـ۳ مختلط نثر

د نړه نثر تر څنګ د داسې نثرونو بېلګې هم شته چې د نورو ژبو کلمې په کې خورا ډېرې کارېدلې وي. دا کارؤنه د اړتیا پر اساس نه وي؛ د بېپروایۍ په وجه وي. پخوانو به د دې لپاره د نورو ژبو کلمې په ژبه راوړې چې ځان لوړ وښیي. په لغاتو غړېدا ترکیب خوست کې شته؛ وایي فلانی په لغاتو غړېږي. مانا دا چې د نورو غوندې ساده نه غړېږي، هغه کلمې کاروي چې نور یې نه کاروي.

چا د یوې کلمې د مانا پوښتنه رانه وکړه، ما ویل دا کلمه چېرې راغلې؟ ویل ما شعر کې استعمال کړې، اورېدلې مې ده خو پر مانا یې سم نه پوهېږم. ما ویل دا نو کلمو کې شعر نه دی ویل شوی؛ کلمې ته شعر ویل شوی.

اوس د ژبې ګرانوالی د علم نښه نه بلل کېږي، د ژبې اسانۍ ته کمال وایهٔ شي. اوس یې چې څوک د نورو ژبو په کلمو ګرانوي، نه پوهېږم چې موخه به یې څه وي، خو ما چې پوښتلي راته ویلي یې دي چې پښتو د هر مفهوم د افادې لپاره کلمې نه لري نو ځکه د نورو ژبو کلمې راوړي. هو، هېڅ ژبه په ګوښي ځان د ټولو مفاهیمو لېږد نه شي کولی خو دا به هم انصاف نه وي چې د خپلې ژبې ساده او خوږه کلمه پرېږدې او پر ځای یې د بلې ژبې کلمه وکاروې. ځینو لیکوالو سمه پښتو نه وي زده، دا ځکه چې زده‌کړې یې بله ژبه کې کړې وي او یا ماحول کې د نورو ژبو راج وي. هره وجه چې ده، ده نو، خو موږ داسې نثرونه لرو چې درې-څلور ژبې په کې راټولې وي.

د کلاسیکې دورې نثر کې چې د عربۍ او پارسۍ کلمې دي لامل یې دا دی چې هغه وخت پښتو نوې نوې علمي ډګر ته ورګډېده، لیکوالو یې عربي او پارسي کې زده‌کړې کړې وې او مخبېلګې ورسره نه وې. اوس حالت بدل دی؛ هم د ښو نثرونو بېلګې شته چې له لوسته یې زده‌کړه وکړو او هم بېشمېره پښتوپوهان شته چې متون مو راسم کړي.

(۲۰۱۹م) کال د جنوبي پښتونخوا په کوټه کې د «پښتو ادب د نیمې پېړۍ مزل: فکري او نظري رجحات» په نوم سېمینار و، له نېکه مرغه ما هم ګډون په کې کړی و. هغه سېمینار کې تکړه لیکوال سمیع‌دین ارمان د «په ناول کې د صنفي کړداونو نفسیاتي څېړنه» په نوم مقاله واوروله. ما چې اورېده د مانا له پلوه په تول پوره مقاله راښکارېده خو ستونزه دا وه چې پوره نه پرې پوهېدم، ځای ځای به مانا رانه ورکه شوه. زه به پر خپلې کم‌پوهۍ اعتراف وکړم خو دا وخت کابل پوهنتون کې پي ایچ ډي سکالر وم او ماسټري مې هم پېښور پوهنتون پښتو څانګې نه کړې. مانا دا چې تر سېمینار دمخه اتۀلس کاله د پښتو ټولګیو کې ناست وم، شپږ کاله مې پښتو تدریس کړې وه او په ټوله کې مې څلوردېرش کاله پښتو اورېدلې وه. له دې ځانګړنو سره سره چې زه پر پښتو مقاله پوره پوی نه شم نو د لیکوال پښتو به هم د پوښتنې وړ وي.

د چایو دمه کې ارمان صېب سره یوۀ مېز ته برابر شوم، له مقالې مې خپل برداشت ورته ووایه خو داسې راښکارېده چې درانه لیکوال ته د نظر څښتن ورښکاره نه شوم. هغه مقاله په هماغه بڼه چاپ شوې هم ده، د مقالې لنډیز دا دی چې د لیکوال په خپل قلم دی:

«په معاصره ادبي نړۍ کې د تېرې یوې پېړۍ نه که کوم شعبه علم نۀ صرف خپل امتیازات په منظمه توګه رابرسېره کړي دي او خپل حیثیت یې د یو اکېډمېک ډېسپېلین په طور په تمامي علمي جهان منلی دی نو هغه د صنفي بیانیو مطالعات دي.

صنفي بیانیې اصلاً د جېنډر سټډیز محصولات او معقولات دي چې په یوه ټولنه کې د صنفي شناخت ما لهُ وما علیهِ (اصول و مبادیات) په ګوته کوي. د بدیهي حیاتیاتي افتراق، چې په خپل ساخت کې د یکسانیت شتون ته د زمان و مکان د بدلون باوجود جریان وربښي خو صنفي شناخت کې یې ټولنیز اقدار، معاشرتي جوړښت، سماجي جبر، معاشي اختیار او مذهبي سروکار متعدد، متنوع او بېلابېل مظاهر رامنځ ته کوي. د صنفي بیانیو مطالعات په خپل تعین قدر کې د بشریاتو، کولتوري او نفسیاتي علومو د قضایا نه خپله صغری کبری رسموي او عملیاتي منهج ته یې سیخوي او چې په بل پړاو کې کله د نظري سطحې تنقیح ته داسې قبولیت ملاؤ شي چې د اکثریت اوسط دانش اقالیم هم رالړزوي نو بیا دا د اجتماع د علم نه د راتېرېدو پس د عملي سیاست میدان ته راورسي. د صنفي بیانیې دا ارتقایي سفر په صعودي منهج هم ترسره کېږي. لکه د «کرما» د فلسفې او د عدم تشدد او غیرمزاحمتي بیانیو مثالونه زموږ وړاندې دي.

په اکاډمي کچ د صنفي مطالعاتو اولنۍ باقاعده رسمي شعبه د امریکا په «سېنډیاګو سټېټ پوهنتون» کې په کال نولس سوه اویایم (۱۹۷۰ز) کې پرانیستی شوه. دې مطالعاتو ته د فېمینېسټ موومېنټ دویمې څپې لهر ویو فېز یو

قسمه تېزي وروښيله. د صنفي شناخت عناصر د تنقيد ولکه کې راغلل او د زنانه صنفي شناخت کې مقبول عناصر لکه حيا، نرمي، عفت، قرباني، خدمت، شفقت او اطاعت د محکومۍ د دوام وسايل وګڼلی شول.

د نرواکۍ له خوا خپل مقتدر حيثيت ته د دوام لپاره د دغه صلاحيتونو بې‌ځايه غيرمعمولي تاکيد د زنانه انفرادي انساني شناخت کې يو ردعمل راپيدا کړو او بيا دې ردعمل ته په ادبي دونيا کې «تانيثيت» ډېره علمي سهاره ورکړه. دې پړاو کې د تحرير او تقرير تمامي سرمايه د مرد مرکزي نکته‌نظر بالعکس د نوي سره د تانيثي نکته‌نظر په پيمانو د کتلو او تللو په اقدام تاکيد دوام ومونده او د تقرير او تحرير سرمايه کې د زنانه په شناخت کې د تخيلي، سماجي، معاشرتي او حقيقي وجود متنوع صورتونه رابرسېره شول. په مشرقي ادب کې عموماً د صنفي توازن خلاف د نسواني تشخص استحصال او محکوميت په ګوته شو. په پښتو نان‌فېکشن او فېکشن کې هم دا رويه ډېره برسېره ده. خو د يوويشتمې پېړۍ په پښتو ناول کې داسې صنفي کردارونه هم په نظر راځي چې د زنانه ذات د ترفع روح ور په کې ځرک وهي. د هغې د وجود د لطافت د هغې د فکر و عمل او وجدان و ادراک په هره وړه لويه هڅه کې ځرګند وي. د روايتي زنانه کردار د ستريو ټايپ نه ډېر لرې لرې دلته د طاقت، علم، اقتدار، فيصله‌سازۍ، اختيار او استادسازۍ يوه غيرمعمولي مظاهره په نظر راځي او دا د کوم تقليد او اتباع نتيجه نه بلکې د تخليقي الوت، تمثيلي دانش او ناوليانه حکمت يوه نمونه برېښي. ځکه چې د افاقي تصوراتو اتې ته يې د مقامي (انډېجنس) ټولنې زمان و مکان کې واقعيت وربښلی دی. د پښتو ناول کې د صنفي بيانيې حرکيات دلته يو بل رخ اختياروي او د دې رخ ډانډې د صنفي شناخت روايتي عناصرو ته نهٔ صرف چېلېنج ورکوي بلکې د زنانه صنفي شناخت کې د توازن سره سره د ترفع، صعود او امتياز برتري هم په ډېره موزونه او ناقابل ترديد ادبي پيمانو رامنځ ته کوي.»

(۴: ۱۸۴، ۱۸۵)

پورتني متن کې د عربي، پارسي، انګرېزي کلمې په ازاد لاس راټولې شوې دي، اردو هم لري. د دې تر څنګ داسې نثرونه هم شته چې دومره د يوې ژبې تر اغېز لاندې وي چې بنده فکر کوي د ليکوال ذهن ته به د بلې ژبې کلمې نه ورتلې ګنې پر ځای يې هغه راوړې او خپلې دا يې پرېښوې. د مولانا عبدالقادر دا نثر د عربي له کلمو مالامال دی، پارسي هم لري:

«د پښتنو د دور حاضر مفکرين د ګذشته لس-پنځهٔ‌لس کالو راسې د لفظ آريه او د هغې د قسماقسم مشتقات اثر لاندې داسې راغلی معلومېږي چې سړی ورته حق حيران ولاړ وي، د دې ښاغليو ځلمو تمام تحريرات د ارين او آريه په پرده کې داسې نغښتي دي چې پښتون وګړی يې حتماً آريه وګرځولو او د مستقبل د دور مورخ که چرې هم د

دې دور د ليکونکو په رايې استناد وکړي نو د هغهٔ په زړه کې به د پښتون د سامي‌النسل يا بل څه کېدو شبه هم رانشي. ما هم د يو پښتون محقق په حيثيت په دې نظريې غور کړی دی او دا راته معلومه شوې ده چې د دې مسلې د بين‌الاقوامي دور به داسې نازک وخت کې راپورته کېدل او بيا داسې اشاعت موندل او د پښتنو د ځنو ځلمو په علمي ژوند حاوي کېدل بې‌وجې نه ده.»

(۶۸: ۱۰۵)

دا دويم ډول نثرونه نسبت لومړي ته عام‌فهمه دي خو خبره دا ده چې د نورو ژبو اغېز په کې دومره دی چې بنده مختلط نثر ورته ويلی شي. د پښتو لومړني نثرونه هم همداسې دي خو ځکه مو مختلط و نه بلل چې هغه وخت پښتو اوس غوندې ارته ژبه نه وه او د عربۍ و پارسۍ په تقليد ليکل کېدل.

د دويم ډول نثر يوه بله نمونه:

«ناول د داستان ترقي‌يافته يا نوی شکل دی. دې دواړو اصنافو کې د قيصې د حرکت نه علاوه نور ډېر مشترک خاصيتونه هم شته چې دلته يې موږ وضاحت کوو، خو په مختصره توگه دا ويل شايد ځای ولري چې ناول د داستان نه زېږېدلی صنف دی. د داستان خراش-تراش د ناول په شکل شوی دی. د داستان ارتقايي صورت د ناول په کړه‌وړهٔ کې ليدی شي او د داستان جديدترين شکل ناول دی. د داستان او ناول مشترک خصوصيات دا دواړه صنفونه يو بل سره تړي بلکې دغه خصوصيات د دواړو صنفونو تر منځه د پُل حيثيت لري، په دې وجه يې وړومبی مشترک خصوصيات په لنډ شکل ليکو او بيا امتيازي خصوصيات.»

(۲۷: ۱۸)

روستۍ بېلگې نه د نمونې په ډول ځينې پردۍ کلمې باسو:

ناول د داستان پرمختللې يا نوې بڼه ده. دې دواړو صنفونو کې د داستان پر حرکت سربېره نورې ډېرې گډې ځانگړنې هم شته چې دلته يې موږ وضاحت کوو، خو کېدی شي په لنډه توگه دا ويل ځای ولري چې ناول له داستان نه زېږېدلی صنف دی. د کيسې خراش-تراش د ناول په بڼه شوی دی. د داستان پرمختيايي بڼه د ناول په کړه‌وړهٔ کې ليدی شي او د داستان تر ټولو نوې بڼه ناول دی. د داستان او ناول گډې ځانگړنې دا دواړه صنفونه يو بل سره تړي بلکې دغه ځانگړنې د دواړو صنفونو تر منځه د پُل حيثيت لري، په دې وجه يې وړومبی گډې ځانگړنې په لنډ ډول ليکو او بيا بېلبښتي ځانگړنې.

ځينې نورې کلمې هم پښتو کېدی شوې خو څکه مو نه کړې چې بيا به يې فصاحت ژوبل شي او نثر به د نږهوالي په وجه له عام‌فهمۍ لرې شي؛ دا به يې بيا نور عيبونه شي. موږ دا نه وايو چې پښتو کې دې پردۍ کلمې نه وي، موږ وايو چې د ساده پښتو کلمو پر ځای دې د نورو ژبو کلمې نه کارول کېږي.

## ۳ـ ۷ نږه يا خالص نثر

پر پښتو نثر چې بحث کېږي نو د پښتو نږه نثر ارومرو ذهن ته راځي. داسې نثر چې تر وسې وسې سوچه پښتو کلمې به کې کارول شوې وي. د ځينو پښتو ليکوالو په ځانگړي توگه د پښتو ادبياتو د ځوانو محصلينو برداشت دا دی چې پښتو هله پرمختللې گڼل کېدی شي چې له متنه يې پردۍ کلمې ووځي. خلک هم له دوی دا پوښتنې کوي چې دې فلانې شي ته پښتو کې څه وايي او ښستانی شی سوچه پښتو کې څه دی. موږ نه به د کابل پوهنتون لېسانس دوره کې دا پوښتنه ډېره کېده چې «کله‌کشک» ته پښتو کې څه وايي؟ ډېر کله به دا پوښتنه د هېواد د نورو خوږو ژبو ويونکو د مختلفو څانگو له پښتنو محصلينو کوله او هغوی به بيا هڅه کوله چې د پښتو ادب له محصلينو يې زده کړي. دې سره به پښتنو محصلينو ته ښوول کېده چې گنې پښتو کمزورې ژبه ده. زه د نورو ژبو محصلينو نه يم پوښتلی خو د نورو څانگو پښتنو محصلينو به پوښتلم. ما نه به يې چې څنگه کله‌کشک وپوښت په دې پوښتنه به مې ورځواب کړ: چا چې پوښتنه در نه کړې هغه نه پوښتنه وکړه چې لړلو ته پارسي کې څه وايي؟ ځينو محصلينو به تر لږ غور روسته راته وويل چې شور دادن ورته وايي کنه، ما به ويل چې نه شور دادن خو ښورولو ته وايي. دا د لړلو پوښتنه ترې وکړه. ما د محصلينو پوښتنې ته ځواب نه ورکاوهٔ؛ ما سيالۍ ته برابرول څو دري‌ژبو ته وښيي چې دري کې هم هر مفهوم ته کلمې نه شته. حقيقت خو دا دی چې پښتو تر پارسي/ دري ډېره نږه ده خو دې مېراتمړي کله‌کشک ته کلمه نه لري. کله به مو دا پوښتنه داسې ځوابوله چې پښتنې کله‌کشک نه کوي. کله‌کشک وړهٔ کې د مخ ښکاره کولو ته وايي چې تر ډېره د مينې ديدن تداعي کوي.

د نړۍ هېڅ ژبه ټولو مفاهيمو او ټولو توکو ته نومونه نه لري، ان عربي چې ډېره پراخه ژبه ده د نورو ژبو نومونه معربوي او يا يې پوروي. پښتون چې زما مخې ته اينبي شيان کمپيوټر و پرېنټر نه دي جوړ کړي نو نوم به هم د جوړوونکو وي. کاغذ و کتاب پښتو نه دي، موبايل، قلم و پنسل، عينکې يا چشمې، شيرين‌داني، چای، سېگرټ، سېگرټ‌لايټر، موس، کيبورډ، پياله، سېگرټ داني، مېز، چوکۍ دا ټول هغه څه دي چې زما د ليکلو ماحول کې دي. زما

د لیک د کابو څلور متره مربع ځای د کاري او اړینو وسایلو ټول نومونه پردي دي. که موږ د تخنیک و ټېکنالوژۍ وولس وی نو د دغو ډېرو شیانو نومونه به پښتو ول.

د ژبې پرمختګ دا نه دی چې نړه دې وي، ژبه هله پرمخ تللې حسابېږي چې علم په کې تولید شي، د ادارې ژبه وي او ډوډۍ پرې پیدا کېږي. که ژبې دا ځانګړنې ولرلې نو پرمختللې ژبه ورته وایهٔ شي. انګرېزي چې پر نړۍ راج چلوي خالصه نه ده، د زیاترو کلمو ریښې یې چې وپلټل شي یوناني او لاتین ته رسي. خو پرمختللې ژبه ده او هېڅوک هم انکار نه شي کولی. زما نظر دا دی چې انګرېزي په زده‌کړه کې خورا ګرانه ژبه ده خو چې د علم و اقتصاد ژبه ده نو ګرد نړۍوال یې زده کوي.

له دې بحثه دا برداشت و نه شي چې ګنې موږ دې پښتو همداسې پرېږدو؛ نه دې یې زړې کلمې راټولوو او نه دې نوو پدیدو ته نومونې کوو. دا د ژبپوهانو کار او مسولیت دې چې کار ورته وکړي، مړې کلمې یې راژوندۍ کړي او نوې ورته جوړې کړي. دا چاره دې داسې نه وي چې د متن لیکلو په وخت هېڅ پردۍ کلمې ته اجازه نه ورکوو. دا هم ژبنی اصل دی چې ژبه کې پردۍ کلمې وي او زموږ پوهانو خو ان فیصدي ورته ټاکلې؛ دوی وایي چې (۲۵) سلنه پردۍ کلمې دې راپور شي.

محمدګل‌خان مرحوم به د خلکو خولو کې پښتو سموله، چا به چې خربوزه ویل، ورته ویل به یې چې خټکی یې وبوله او په ژوندیو لیکوالو کې د سر نوم د درانه استاد مجاوراحمد زیار دی چې متن یې تر نورو ټولو پښتنو لیکوالو سوچه دی. نور ډېر ځوانان/ پېغلې شته چې د پښتو نثر نړه‌والي ته یې کار ویلی. ټولنیزو رسنیو کې داسې پښتو وینم چې د ژبې د یو لاروي په حیث مې نه زده ده او نه مې هم سر پر خلاصېږي.

ما چې کومې پښتو نوې جوړې شوې او زړې کلمې زده دي لیک کې یې کاروم خو هغه کلمې کاروم چې لوستونکو ته ګرانې نه وي. یو-نیم ځای خو خپله هم ځینو ترکیبونو کې ګوتې وهم چې لنډ شي او په اسانه تلفظ شي. د خپلې خوستۍ لهجې ځینې کلمې هم لیکنو کې راوړم. خو په انقلابي ډول د ژبې له سوچه‌والي سره جوړ نه یم، ځکه دا ژبه سختوي او له پوهاوي یې لرې کوي.

د نمونې په ډول د درانه استاد پوهاند زیار دا متن درسره ولولئ چې د ژبې یا نثر اړوند نظر یې هم په کې څرګندېږي:

«هسې خو په نوي پښت کې هم داسې «زوړپال» کم نه دي چې د ناڅانګوالۍ او کمکينۍ د ولولې او ګروم (عقدې) له مخې يې د زړو استادانو ليکوالي ځان ته مخبلګه کړې، هغه هم د عربېزم او پارسېزم له پلوه؛ نه له پښوييز پلوه. په دې راز د هغوی په څېر دوی هم يواړخيزه هغه هم نيم-نيمګورې لاره پر مخ اخيستې ده. نو که په رښتيا يې پر جهاني او هېوادني کچ د خپلې مورنۍ پښتو د سرڅنې، سيالۍ او ننګونې ولوله درلودی، دواړه ارونه به يې د يوې کاغذپاڼې يا ييکۍ غوندې د «يوې کره ليکلارې» دوه نه بېلېدونکي او بشپړوونکي مخونه بللای!

په تېره د ژبپوهانو دا ننګونه (خبرداری) چې پر نړۍوال کچ ګردې ليکنۍ ژبې ورځ تر بلې د نويو نويو علمي، فرهنګي او تخنيکي جاجونو (مفاهيمو) له څپان (سمندري توپان) سره لاس و ګرېوان دي او بيا يې دا سپارښتنه چې په دغه ژوندجګړه کې يو لړ نااړين پښوييز ارکاييزمونه، نه د ګړدودي يووالي د لارې خنډ شي او نه د وييپانګيز پراخوالي! نو که د دغې ننګونې او سيالۍ پر وړاندې يې پوهان، فرهنګيالان، ليکوال او سياستوال بې‌توپيره، په هر ډول چې لا سوګندخوړلي پاتې شي، مانا به يې دا وي چې د ژغور او پايښت پر ځای يې په لوی لاس د نېستۍ ګړنګ ته ورځکوي او ځنې لاس پر سر کېږي!

هو، دا چې هم د زاړه پښت تر وييپانګيزې ناغېړۍ نيمګړتيا او د نوي پښت پښوييزې او لا په ترخ کې يې وييزې دې، د پښتو لارې لېلې (سبک و ستايل) شتون له پوښتنې سره مخامخ کړی، نو په دې توګه هر هغه پښتو ليکوال او څېړنوال يا کره‌کتونکی چې ځان يا بل د يوهٔ ادبي يا څېړنيز سبک نوښتګر يا پليونی ګڼي، بايد د لارښوونو او لارښودونو له لارې پر «يوه کره پښتو ليکلار» له څلورګوني وييپانګيز اندول سره يو پرتليز (نسبي) هومره لاسبری په کړن کې رازباد کړای شي؛ که نه د «کره سراسري پښتو» پر ځای به د دغه يا هغه لنډ-تنګ «ګړدود» او ورسره د پارسي-عربي او اردو-انګرېزي د لارې لېلې پليوني او کاپي وي!»

(۴۴: ۱۳، ۱۴)

درون ډاکټر زيار دې متن کې راښيي چې ژبې سره څه ډول مسولانه چلند وشي، پوهانو او ليکوالو ته کوم کارونه ورغاړې دي خو د سپارښتنو دا متن په اسانۍ د پوهاوي نه دی.

د استاد د متن د ګرانۍ يوه وجه نره پښتو کلمو ته ډېر پام دی او بله وجه يې دا هم کېدی شي چې معترضې جملې يا غونډلې په کې ډېرې راځي. دی د متن د لنډوالي لپاره معترضې جملې راوړي او پر ګرامر د ډېرې پوهې په وجه ټولې هغه کلمې حذفوي چې په حذف يې د مفهوم لېږد کې کمی نه راځي. د کلمو د دې حذف له وجې متن د مانا له مخې نيمګړی نه وي خو لوستو کې ډېر پام غواړي او د روانۍ د کمي احساس په کې کېږي.

د نږه نثر دا یوه بله بېلګه ده چې پر غونډله‌پوهه (نحوه) بحث کوي:

«د غونډله‌پوهې لنډ قاموسي پېژند (تعريف): غونډله‌پوهه د ویيونو او غونډونو يو داسې اوډون دی چې ښه‌جوړې غونډلې رامنځته کوي او له دې سره هغه يو شمېر دویونه (قواعد) څېړي چې په ياد شوي اوډون اړه پيدا کوي.

په لنډ ډول، دلته ګورو چې د غونډله‌پوهې اره او بنسټيزه سکالو غونډله ده او نورې خبرې هم پر همدې غونډلې راڅرخي، يا يې په رغندو (يووستوو او ترړښتي) ټوکونو اړه لري او يا يې په بېلابېلو ډولونو، رغښت، اوب او اوډ. له همدې پلوه په پښتو کې هم د نورو ډېر ژبو په لاروی دغه پښوييزه څانګه «غونډله‌پوهه» نومول کېږي.»

(۴۲: ۲۱۶)

که هدف نورو ته د علم لېږد وي نو بيا غوره دا ده چې متن په عام‌فهمه ژبه وي او که هدف د پښتو نږه کول وي نو بيا همداسې نږه نثرونه پکار دي خو دلته مو د علم برخه خوارېږي. نه نږه نثرونه غوره دي او نه هم مختلط نثرونه ښه دي؛ منځلاري غوره ده، د خپلې ژبې د اسانو کلمو پر ځای پردۍ کلمې کارول که تفريط بولو نو د عام‌فهمو او دود مستعارو کلمو پر ځای د نويو جوړو شويو پښتو کلمو حتمي کارول هم افراط دی.

## ۸ـ۳ لهجوي نثر

«ژبپوهان وايي چې کوم ګروپي تغير چې په وييز او غږيز سېسټم کې ليدل کېږي يا پېښېږي هغه لهجه بلل کېږي... . په بله وينا د يوې ژبې هر ويونکی د دغې ژبې د يوې لهجې ښکارندويي کوي او يو له بله د بېلابېلو بيولوژيکي، سوسيالوژيکي او جغرافيايي دريځونو په لرلو سره د هماغې يوې ژبې په استعمال او کارولو کې توپيرونه لري. مګر څنګه چې دا فردي توپيرونه به خپلو منځو کې دومره سره لوی نه وي نو دې هر يوه ته موږ لهجه يا ډيالېکټ نه؛ idiolect (فردي لهجه) وايو او په دې ډول له دغو فردي توپيرونو يا ايدياليکټونو هماغه ډلې-ټپلې په پام کې نيسو چې سره يو راز او يو ګډ سيمه‌ييز يا ټولنيز خصوصيت ولري. نو وايو د پلانۍ سيمې، ډلې يا ټبر لهجه... . کوم بريدونه چې د يوې ژبې ګړدودنه او لهجې سره بېلوي هغه وييز، ګړني، غږيز، صوتي، ګرامري او لېکزيکي توپيرونه دي.»

(۶۷: ۴، ۵)

لهجې د ژبې ښکلا ده او د وييپانګې د پراختيا بهترين ادرس دی. د پښتو هره لهجه پر خپل ځای خپله ښکلا لري او هره لهجه داسې څه لري چې د ژبې د بډاينې سبب کېږي. که لهجو سره علمي چلند وشي؛ لغوي پانګې يې راټولې شي، څېړنې پرې وشي نو بې له شکه تر اوسنۍ پښتو به کره او بډايه پښتو ولرو، خو که چلند مو د علمي پر ځای د فوقيت پر احساس يا لهجوي تعصب ولاړ وي نو بيا به ناندريو اصلي کار رانه پاتې کړی وي او حاشيو کې به بوخت يو.

که متن ته د خپل ګړدود داسې کلمې وردننه کړو چې نورو لهجو کې نه وي او نره پښتو وي نو دا به مو پر ژبه احسان وي خو په افراطي بڼه نه؛ خال خال او د اړتيا په وخت کارؤنه به يې غوره وي او که معياري کلمې هم د خپلې لهجې د تلفظ پر اساس ليکو او د ټولو لهجو والا همداسې وکړو نو بيا خو به مو د يوې کره پښتو د رامنځته کېدو پر ځای ناکره پښتو ته کار کړی وي.

ټولې ژبې مختلفې لهجې لري خو د ليک په مهال يې له معياري هغې کار اخېستل کېږي. موږ له بده مرغه لا پر دې نه يو سره جوړ چې معياري لهجه يانې څه؟ ځينې پوهان خو مو خپله لهجه کره او نورې ناکره بولي. پر همدې اساس يو له بله د ليکنو تبادله هم کوي او د دغو تبادلو ژبه هم کله کله تونده وي. د هېڅ سيمې لهجه په ګوښې ځان معياري نه ده خو که ټولې لهجې سره راټولې شي نو بيا داسې معياري لهجه ترې راوځي چې د هرې سيمې پښتون ته به د پوهېدا وړ وي. له ښه مرغه پښتو همداسې يوې لارې ته برابره شوې خو شته لا ځينې پوهان چې دې برخه کې د کارونو خنډ کېږي.

که په خپله لهجه ليکل کوو نو د ګټې پر ځای تاوان کوو؛ ليک د دې لپاره دی چې ولوستل شي او د ليکوال هدف دا وي چې ليک يې ډېر خلک ولولي. که دې هدف ته ځان رسوو نو بيا به ګړدودي تعصب شا ته کوو او په معياري لهجه به ليکل کوو.

د لهجې توپير عادي چاره ده؛ له يوې سيمې بلې ته لېږد، د عمر توپير، د ژوند شرايط او علم د يوه کس لهجه له بله بدلوي. «... د لهجو د منځته راتګ جريان د ژبې له پيدايښت څخه تر نن ورځې پورې جاري دی. د ژبې څخه د لهجو د منځته راتګ پروسې تر څنګ د ژبې ويونکي هڅه کوي چې د ژبې څخه د لهجو د منځته راتګ او زېږېدلو قوت کم شي، ځو ژبه خپل ځان لومړی ملي او له ملي څخه نړۍوال پړاو ته ورسوي. يا په بله وينا: په هر اندازه چې يوه ټولنه د تکامل په ابتدايي پړاو کې وي په هماغه اندازه د يوې ژبې لهجې هم زياتې وي، مګر څومره چې ټولنه پر مخ ځي په هماغه اندازه له ژبې څخه د لهجو منځته راتګ کمېږي.» (٦٠: ١٠)

د اوسنۍ نړۍ چټک مختګ دا زمینه جوړه کړې چې بلاخره ډېرې لهجې پر یوې واوړي؛ نن د راډیو او ټي وي زمانه ده، د دونیا هر ګوټ کې چې یو، د خپلې ژبې رسنیو ته په یو نه یو ډول لاسرسی لرو. دغې چارې سره دا نېکمرغي تړلې چې د انشعاب پر ځای اتفاق رامنځته کېږي. خو دا هله چې پر دې سره جوړ یو چې معیاري لهجه یانې څه. له بده مرغه موږ رسنیو کې هم په خپل ګډوډ ګړېږو. د لهجو د یووالي امکان ډېر دی، حتی داسې نظریه شته چې نړۍ پر کلي بدله شوې نو یو وخت به دا کلی په یوه ژبه خبرې کوي. مانا دا چې یو وخت به ټول انسانان په یوه ژبه خبرې کوي. دا به وخت نیسي موږ به پر نن خبره کوو او ګورو چې څه روان دي او څه باید وشي.

زموږ پر لیک د لهجې اغېز جوت دی؛ د خوستي لیکوال نثر کې به د خوست د لهجې تاثیر وي، د کندهاري هغه پر نثر به د کندهاري ګډوډ اغېز وي، د ختیځ د لیکوال پر نثر د ختیځو لهجو او د پښتونخوا د لیکوالو پر نثر د پښتونخوا د لهجو اغېز کېږي. دا په لاشعوري توګه کېږي خو که په شعوري توګه د تعصب پر اساس وشي دا مو کار خرابوي.

پښتو کې د لهجو شمېر خورا زیات دی، زه چې د خوست کوم کلي کې اوسم، څلورو طرفونو ته لهجې بېلې دي چې یوه تر بلې توپیر کوي او منځ کې زموږ د کلي لهجه بېله ده. حتی زما و زما د نیکه لهجه توپیر کوي. زما د نیکه ژوند چاپېریال، عمر او زده‌کړې بېل ول او زما بېل دي. پورته یادونه وشوه، چې دا انفرادي توپیرونه دي، موږ دا توپیر لویوو او په ټوله کې د دې وېش پر بنسټ مخکې ځو چې پښتو لهجې پر دریو لویو ډولونو وېشي:

«۱- لوېدیځه لهجه: چې د کندهارۍ لهجې په نوم هم یادېږي او د تاریخي افغانستان په لویدیځو او جنوبي سیمو کې ویل کېږي. په دغه لهجه کې د پښتو دوه ځانګړي توري (ښ او ږ) د (ش او ژ) اوازونو غوندې تلفظ کېږي او بل مهم ځانله‌توب یې دا دی چې په کومکي فعلونو کې یې د (ش) اواز پر (س) بدلېږي، یانې (وشو، شوی دی، شته، نشته) کلمې پر (وسو، سوی دی، سته او نسته) کلمو باندې بدلېږي.

۲- مرکزي لهجه: چې د منځنۍ لهجې په نوم هم یادېږي او د افغانستان په مرکزي سیمو لکه: غزني میدان-وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا او نور سیمو کې ویل کېږي. په دغه لهجه کې د پښتو ځانګړي توري (ښ او ږ) په خپل اصلي اواز تلفظ کېږي او د تلفظ په وخت کې یې د ژبې منځنۍ برخه له پورتني تالو سره نښلي.

۳- ختیځه لهجه: چې د ننګرهارۍ لهجې په نوم هم یادېږي او د ننګرهار، مومند، باجوړ، اشنغر او یوسفزیو سیمو کې ویل کېږي. په دې لهجه کې (ښ او ږ) د (خ او ګ) په څېر ویل کېږي.» (٦٠: ٦٩، ٧٠)

د ګړدود دغه درېیم ډول ته یوسفزی ګړدود هم وایي او دغه نوم تر ننګرهاري ګړدود ډېر مشهور دی.

## ۳ـ ۸ـ ۱ کندهاری لهجه

ګورو چې پښتو نثر کې د کندهاري ګړدود کارؤنه په څومره کچ ده. کندهاري لیکوال دوه ډوله لیکل کوي، یوه ډله یې د نصاب پښتو لیکي او د بلې ډلې لیک کې د کندهاری لهجې اغېز ښکاري. زما په فکر د کندهار لیکوالو کې دغه دویمه کټه ګوري لیکوال نامتو او ډېر دي. د دوی د لیک پر ژبه او املا دواړو بحث کېدی شي خو دلته پر ژبني بحث تمېږو.

د کندهاری لهجې د یوه نامتو لیکوال محمدمعصوم هوتک د لیک یوه نمونه رااخلو:

**«ایا د معیاریت هڅه بري ته رسېدلې ده؟**

د ژبې معیاریت د یوه پروسیجر په لاسلیک او د یو دوو درو کتابو په تالیف بري ته نه سي رسېدلای. دا د معیاریت پر لور لومړي ګامونه دي خو دا د پټي سر دی، پټی وروسته سورور دئ. بري ته لا ډېر ګړنګونه پاته دي چې ووهل سي. په پروسیجر کي راغلي لارښووني چي له ښوونځي نیولې بیا د ټولو مطبوعاتو او میډیا په ګډون هر ځای عملي او منل سوي نه وي، د بري ادعا کول یوه شاعرانه باټه ده. انفرادي هڅي خو د ډېرې ستاینې وړ دي مګر کافي په هیڅ ډول نه دي. تر څو ژبه له تاداو څخه کره نه سي، له ښوونځي څخه کره ژبه ونه ښوول سي، په ښوونځي کي بیا د دولت پروګرام ورته عملي نه سي، ژبه کره کېدلای نه سي. اوس به سمدلاسه هغومره ګوله اخلو چې هضمولای یې سو، چي یوه مو هضم کړه بله به اخلو. دا که کلونه نیسي، که لسیزي نیسي، که پیړی، چاره نسته.

که مو د «کډې مي بارېږي، زوی مي راملا کړه» فارمول پر تطبیقاوه، دغسې ژبه به ځیني جوړه کړئ لکه دا نن چي یې په راډیوګانو او انټرنیټ کي اورئ او لولئ یې.» (۷۵: ۱۱۸)

که د دې نثر لیکوال نامالوم هم وي له متنه یې رامالومېږي چې د کندهاري ګړدود ویونکی دی. دلته متن کې د نصابي پښتو د «شي» مرستیال فعل پر ځای «سي» راغلی، د «پاتې» پر ځای «پاته» لیکل شوی، د «نشته» پر ځای «نسته»، «فارمول پر تطبیقاوه» عبارت که نصابي پښتو کې و نو د «پر» په عوض به «پرې» لیکل کېده.

«فارمول پرې تطبیقاوه» به و، «دغسې ژبه به ځینې جوړه کړئ»، جمله کې به د «ځینې» پر ځای «ترې» راغلی و. دلته یوې بلې ګډوډۍ ته د اشارې موقع ده: ځینې د بعضې په مانا او ځنې د ترې په مانا سم راځي. دغسې ژبه به... دلته «دغسې» سم راځي خو که لیکوال د کندهار نه وی ممکنه وه چې د «دغسې» پر ځای یې «داسې» لیکلي وی.

رسېدلای، کېدلای او هضمولای ممکن نصابي پښتو کې رسېدلی، کېدلی او هضمولی لیکل شوي وی. دا بېل او د املا بحث دی خو کندهاري ګړدود کې همداسې تلفظ کېږي نو ځکه الف په کې دی. د پښتونخوا لیکوال یې بې‌الفه لیکي او د نصاب پښتو کې هم بې‌الفه نمونې شته. د «پر» وییکي سمه کارؤنه د کندهاري ګړدود امتیاز دی، د نورو ګړدودو لیکوال په کې تېروځي، نو دلته یې سمه کارؤنه شوې.

املایي بحث ته نه ځو خو وینو چې املا یې نصابي لیکدود سره توپیر کوي؛ «چې، هځې، مې» ځکه په دې بڼه لیکل شوي چې کندهارۍ لهجه کې همداسې په لنډه «ي» تلفظ کېږي.

د ګران هېواد د ملي سرود شاعر دروند مشر عبدالباري جهاني چې د کندهار دی، نثر کې یې د کندهار د لهجې اغېز وینو، د ده د نثر څو نمونې رااخلو: «د پردیو لښکرو او حملو ښایي هیڅ وخت دونه پښتانه نه وي قتل کړي لکه هغوی چې د خپلو قبیلو په منځ کې د تربورګلویو او د لویو او وړو قبیلو تر منځ په دښمنیو کي قتل سوي دي.»

(۱۶: ۱۷۴)

د «دومره» پر ځای یې «دونه» کلمه راوړې، «هېڅ» یې «هیڅ» لیکلی او د «شوي» پر ځای «سوي».

«خټک د پښتنو د نورو لویو قبایلو په څېر یوه لویه قبیله ده او په زغرده ویلای سو چې له نورو ټولو قبایلو څخه یې لوی امتیاز په دې کي دی چې خوشحال خټک پکښې زېږېدلی دی. د خوشحال‌خان ژوند پخپله د پښتنو د فرهنګي، پوځي او سیاسي ژوند یو لوی او ځانګړی فصل دی. خټک له ډېرې زمانې راهیسې په همدغه اوسنۍ سیمه کي، چې د یوسفزیو له مځکو څخه نیولې د سیند د دریاب تر څنډو پوري غځېدلې ده اباد دي.»

(۱۶: ۱۲۰)

دلته «ویلای سو، پکښې او مځکو» د کندهاري ګړدود ښکارندویي کوي.

د کندهاري ګړدود پلوي لیکوال د کلمو اوښتې بڼې هم راوړي، مثلاً د غږ پر ځای ږغ لیکي، د زنکندن پر ځای زکندن، د ځمکې پر ځای مځکه... .

دلته د علامه عبدالشکور رشاد مرحوم د نثر یوه وړه نمونه رااخلو:

«هلمند د افغانستان دوهم لوی رود دئ، د دې رود سرچینه د بابا په غره کي ده، دغه سرچینه له کابله څخه شپېته کیلومتره د غرب و خوا ته واقع ده. هغه پخوانی او لرغوني لار، چي له بامیانه پېښور ته تله او موږ به هغه د وربښمو لار بلله، هغه د دغي سرچینې په شل کیلومترئ کي تېره سوې ده... .»

(۳۲: ۸۹۸)

د غرب و خواته، تېره سوې ده د کندهاري ګړدود جوتې نمونې دي، له کابله څخه هم کندهارئ لهجه راښکاري؛ نصابي لهجه کې به له کابل څخه لیکل کېده او یا له کابله څخه شپېته پر ځای به له کابله شپېته... . د کندهار د لیکوالو متن کې دوهم هم د لهجې تاثیر راښکاري، د دوهم سمه بڼه دویم ده خو دوی یې دوهم لیکي. د موږ بله بڼه مونږ ده چې د پښتونخوا لیکوال یې لیکي او نصابي کې هم لیدل کېږي خو کندهاري لیکوال یې تل موږ لیکي، ځکه دې لهجه کې موږ ته ورته بې له نونه تلفظ کېږي. همداسې زمونږ نه لیکي زموږ یې لیکي. دا کندهارئ بڼې یې ځکه غوره دي چې لنډې دي.

د کندهارئ لهجې د یوهٔ نامتو لیکوال ډاکټر عبدالرازق پالوال د «معیاري پښتو» کتاب پر پښتئ دا کرښې راغلې دي:

د پخوانئ ختیځې پښتو له نوني څخه و اوسنئ ختیځې پښتو ته پرتلیزه کتنه

ژبه د پوهونې او پوهېدنې هغه صوتي سېمبولیکه وسیله ده چې ودې او تکامل یې بشر د انسانیت و تکاملي پړاو ته او د لیک ایجاد یې انسان د مدنیت و تکاملي پړاو ته رسولی دی.

لومړئ خپله ژبه سمه زده کئ!

بیا په ورغېږئ او پر ورغېږئ!

بیا لیکنه په وکئ او لیکنه پر وکئ!»

د همدې معیاري پښتو له دننه دا متن هم درسره ولولئ:

«پښتانه داسې نه ول لکه تر اسلام وروسته چې داسې سوي دي. که به څوک ابوجهل پېژني او بیا افغانان ووینې چې یوه د جاهلانو ټولنه ده، نو به خود داسې فکر ورپیدا سي چې دوی د هغه ابوجهل له زاته څخه دي. دا ځکه چې د دوی غونډ اکثریت د لیک او لوست خاوندان نه دي او لا د زده کړې او پوهنې ضد هم دي. دوی په سل کې پنځه نیوي (۹۵٪) بې‌سواده (بې‌لیک او لوسته) وګړي دي. هغه پنځه سلنه (۵٪) چې به هم څه لیک او لوست کولای سي، هغه یې هم تر کماله پورې رسولی نه دی. ځکه نو دوی هم نیمګړي بللای سو. نو ټولنه او هېواد نه په وګړو ودان وي او نه هم په نیمګړو. د هېواد ودانېدنه په رسېدلې ټولنې او یا په سړیو سره کېږي. ټولنه هغه وخت رسېدلای سي چې حکومت یې خپل وي، ځکه چې حکومت د ټولنې اقتصاد ورسموي. د ټولنې اقتصاد په کرهنې (زراعت) او ورهنې (صنعت) پورې تړلی دی. کله چې په ټولنې کښې ورهنې وده او پرمختګ موندلی وي نو د دغې په وسیله سره کرهڼه هم پرمخ تلای سي. هر کله چې دغه دواړې چارې لاس په لاس تر لوړې پوړۍ پورې رسېدلې وي نو په ټولنې کښې تر چلاو په پورته سرمایه پیدا کېږي او د هغې یوه برخه بیا د پوهانو او هنرمندانو و روزنې او پالنې ته وقف کېدای سي. له دغې لارې څخه علم او هنر هم وده کولای سي.»

(۱۳: ۱)

د پالوال صېب د کتاب د پښتې نمونه کې د ربنتین صبب په نومونه وصیله واو د کندهاري ګړدود ښکارندویي کوي؛ و اوسنۍ پښتو ته، و تکاملي پړوا ته. وړغېږۍ د نصابي پښتو د وغږېږۍ کندهارۍ بڼه ده.

دویم متن کې سوي دي، په سل کښې پنځه‌نیوي، دواړې چارې، و روزنې د کندهارۍ لهجې استازي کوي. د ډاکټر پالوال نثر کې د ژبې نږه‌والي ته هم پام شوی خو د دې بحث ځای دا نه دی.

## ۳ ـ ۸ـ ۲ مرکزي لهجه

د مرکزي لهجې اکثر لیکوال نصابي متن لیکي، لکه د کندهار د لیکوالو جوت توپیر نه په کې ښکاري. خال خال یو نیم لیکوال لیدل کېږي چې پر نثر یې د لهجې اغېز شته. ممکن د غزني کوم لیکوال د شي پر ځای سي ولیکي، کېدی شي احمدزی لیکوال د کور مې احمدابا کې دی پر ځای ولیکي چې کور مې احمدابا کې ده. د خوستۍ لهجې لیکوال به د له کور څخه راغلم پر ځای ولیکي چې له کور نه راغلم... .

## ۳ـ ۸ـ ۳ یوسفزۍ لهجه

د یوسفزۍ لهجې ویونکي هم لیک په نصابي پښتو کوي، د ننګرهار د استاد زیار له متنه دا نه مالومېږي چې لیکوال د ننګرهار دی، د استاد زرین انځور متن د لیکوال لهجه نه درته ښیي، د استاد صمیم نثر چې ګورې د ټولو لهجو شات په کې ګډ دي، د استاد اسماعیل یون له نثره نه درښکاري چې لیکوال لغمانی دی، د استاد ازمون نثر نه نهٔ ځرګندېږي چې لیکوال شینواری دی، د پوهاند یارمحمد یزال نثر نه نهٔ مالومېږي چې ډاکټر صېب دې د لغمان وي... .

د ذکر شویو نومونو د خبرو لهجه د دوی د لیک لهجه نه ده؛ د ښه پر ځای خه تلفظوي، د کوم پر ځای کم وایي، ټول نه کېدی شي یو نیم د واخیست پر ځای واغیشت وایي... .

خو! د همدې لهجې د پښتونخوا د لیکوالو له لیکه جوتېږي چې متن د پښتونخوا د لیکوال دی. د لهجې اثر په کې ښکاره دی. زما په فکر وجه یې دا ده چې دوی د افغانستان نننۍ جغرافیه کې زده‌کړې نه دي کړې او د پښتونخوا پښتو لیک، نصاب او چاپېریال بدل دي. د لهجې پر اغېز سربېره د پښتونخوا د لیکوالو د لیک ژبه ډېره بدله ده، د دوی نثر اردو کې د زده‌کړو په وجه هم خورا ډېر متفاوت شوی دی.

«ډرامه څه ته وایي؟ که دا تپوس د پښتو ادب یو طالب علم نه وشي نو د هغه مازغه یو ساعت له چکر به اوخوري او بیا یو لوري ته د هغه خیال به هغه کتابونو ته اوځغلي په کوم کې چې هغه ډرامې لوستلې وي او بل طرف به یې خیال ټي وي او رېډیو ته لاړ شي، د کوم نه چې هغه ډرامې لیدلې او اورېدلې وي. ولې که هغه ته دا اوویلی شي چې په دې درې قسمو کې د ډرامې څه خوبۍ ضرور شته ولې دا دواړه مثالونه د یوې مکملې ډرامې نه دي، ځکه چې ډرامه په سټېج ښودلی شي او کتابي ډرامې د ناول او افسانې په شانتې لوستلی شي.»

(۷۷: ۱۴۸)

دلته دې متن کې د اردو په لار د عربۍ اغېز هم جوت دی خو پر دې نه تمېږو ځکه دا زموږ د اثر بل بحث دی؛ دلته د لهجې اغېز ګورو: تپوس، د یوسفزۍ لهجې معمول کلمه ده. موږ یې سوال یا پوښتنه بڼه ډېره کاروو. یو ساعت له چکر به اوخوري. د لهجې استازي کوي. اوځغلي کې د لهجې پته لګي. ښودلی شي او لوستلی شي هم د لهجې اغېز ښیي.

د پښتونخوا ليکوال که د هرې لهجې دي اکثر يې په يوسفزۍ لهجه ليکل کوي، دا لهجه پښتونخوا کې معيار گرځېدلې. د ډاکټر عرفان خټک يو متن رااخلو چې دننه په کې د دوو نورو درنو خټکو د نثر نمونې هم دي، د دريو واړو متن کې د يوسفزۍ لهجې اغېز ښکاري:

«د پير روښان د مذهبي او ادبي تحريک په سبب د يو داسې علمي، ادبي او مذهبي سبک او مکتب روزنه او پالنه اوشوه چې د پښتو ادبياتو د ودې او ارتقا اساس ثابت شو.

دغسې تحريک د ارزاني او دولت لوانړي په څېر څو عاليفکره شاعران او اديبان هم اوزېږول او د همدغې ادبي تحريک په وجه د اخوند درويزه غوندې عالم او ليکوال هم مېدان ته رااووتو. دغه رنگ د روښانيانو او درويزه دوه داسې مکتبونه او سبکونه رامېنځ ته شول چې د پښتو ادبياتو په تنه-بوده کې يې نوې نوې تېغې رااوټوکولې.

پښتو ادب يې د موضوع، اسلوب، ساخت او بڼې تر مخه په جديدو لارو سم کړو. روښاني تحريک په پښتو ادب کې په اول ځل د مسجع او مقفی نثر بنياد کېښود او د نثر دغه ځانگړی سبک د روښاني تحريک د پښتو ادب د خدماتو په لړ کې اهمه کارنامه ده او دغه راز د روښاني مکتب په اثر کې ارزاني په بشپړه توگه يو ديوان د پښتو ادب جولۍ ته وسپارلو او دولتخان لوانړي په پښتو کې رُکني عروض تطبيق کړل.

د روښاني مکتب په سبب د پښتو کلاسيکي ادب د ښېرازي به باب له د خوشالياتو ماهر او د عصر حاضر ستر محقق او استاد محترم ډاکټر اېم اقبال نيسم خټک ليکي:

«د بايزيد روښان مکتب په پښتو کې د کلاسيکي ادب سرخېل گڼلی شي. دغه مکتب د پښتو کلاسيکي ادب ښه ښېرازه کړی دی. پښتو ادب په دغه مکتب د ادبي خدماتو له مخه په ځای فخر کولی شي.»

محترم ډاکټر راجوليشاه خټک ليکي:

«پير روښان د خپل مسلک به اشاعت کې مذهبي مباحثو، رسالو او کتابونو ليکل او د مخالفتونو سره يې پښتو ادب ته ډېر څه ورکړي دي. په اصل کې دا تحريک د پښتو د ادب په اسمان هغه وږومبۍ کرښې دي کومو چې پښتو ادب ته د يو روښان او ځلاند سحر زيری ورکړی دی.»

په پښتو شاعرۍ کې د الفنامو رواج هم د روښاني تحريک د اثر ترمخه پيل شوی دی.»

(۲٦: ۱۱۵، ۱۱٦)

«اوشوه، اوزبېرول، رااووتو، رااوتوکولې او ګنلی شي» نه ښکاري چې ليکوال د پښتونخوا دي. تر فعلونو دمخه الف راوړل د پښتونخوا نثر کې عام دي. پر دې سربېره نورې نښې هم شته چې متن پښتونخوا ته منسوبوي.

د پښتونخوا د نثر اړوند زه دا نظر نه ورکوم چې ګنې معياري نه دی، ما يې د دوی په اصطلاح د لوی کور د پوهنې له نصابي پښتو سره پرتله وکړه. ما مخکې ويلي چې هېڅ لهجه په يوازې ځان معياري نه ده. د پښتونخوا ليکوال چې څه ليکي په بشپړه يوسفزۍ لهجه نه دي؛ د يوسفزۍ لهجې اغېز په کې زيات دی. دوی د يوسفزۍ لهجې ډېرې ګرډودي بڼې نه راوړي، پر ځای يې د کلمو له نصابي بڼې ګټه اخلي.

# ۴ـ ادبي، علمي، ژورنالېستیک او اداري نثرونه

## ۱ـ۴ ادبي یا هنري نثر

د نثر د پېژندنې لړ کې رامالومه شوه چې په یوهٔ حساب نثر دوه ډوله دی؛ ساده نثر او ادبي یا هنري نثر. که علمي لیکل کوو نثر یې ساده وي خو که د ادب د تخلیقي نثري ژانرونو لیکوال یو نو نثر مو هنري وي. ادبي وینا کې تر ټولو لومړی شرط هنریت دی، کومه وینا یا لیکنه چې هنري ارزښت و نه لري ادبیات یې نه بولو.

ډاکټر صېب یارمحمد یزال راته ویل داسې ادب هم شته چې چندان هنري ارزښت به نه لري خو په حیرت او حکمت به یې ادب کې د مطالعې ځای نیولی وي؛ لکه متلونه. نور کمالونه هم شته چې تخلیق ځان د ادب چوکاټ ته ننباسي، لکه فلسفي او علمي شعرونه، حکایتونه او نور.

«هنریت یا هنري ارزښت هغه ځانګړنه ده چې ادبي او نورې عامې عادي لیکنې سره بېلوي. د هنري یا ادبي نثر په لیکنه یا د نثري ادب په پنځونه کې د لیکوال ذوق، احساس او تمایل د یو مطلب یا واقعیت د افادې لپاره بنسټیز ارزښت او اهمیت لري. لیکوال هغه څه چې لیدلي، اورېدلي، احساس کړي او یا یې په ذهن او خیال کې تېرېږي، بیانوي، خو د تحقیقي او علمي لیکنو په څېر دلیل راوړلو ته هېڅ اړتیا نه لري.

د ادبي یا هنري نثر په پنځونه یا لیکنه کې تخیل ستر نقش لري، خو د لیکوالۍ په دغه ډګر کې له دغه ځواک (تخیل) څخه مرسته غوښتل یوازې او یوازې تر هغې لازم دي چې پېښې ته د باور وړ ښکلا او ځلا ورکړي. په هغې کې د منلو او کشش داسې جذبه او ځواک پیدا کړي چې زړونو ته په اسانۍ او ژر لار وکړي، نه تر دې اندازې او یا په

دې بڼه چې هغه ادبي ليکنه سليم عقل او انساني پوهې ته د منلو او قبلولو وړ و نه برېښي او په دې وسيله د خبرې ارزښت کم يا بېخي له منځه لاړ شي.»

(۷۲: ۳۹)

## ۴ـ ۱ـ ۱ د کيسې نثر

د ادبي نثري ژانرونو له ډلې د کيسې پر نثر خبره کوو؛ لنډه کيسه، لنډه‌کۍ کيسه، کيسه‌ګۍ او ناول ټول د داستاني ادب ژانرونه دي، ژبه يې کابو يو ډول ده خو موضوع ته په کتو لويه يا وړه کيسه ترې جوړېږي. که يوه وړه کيسه وه کيسه‌ګۍ په ترې جوړېږي، که لږه لويه وه لنډه کيسه به ترې ليکل کېږي او که کيسه کې کيسې وې نو د ناول چوکاټ به ورته پکار وي، خو ژبه يې بيا هم يوه ده. د کيسې د نثر په باره کې چې خبره کېږي نو ما ته د شاکر دا بيت رايادېږي:

نه نېغ دي، نه کاږهٔ دي، نه ولاړ دي، نه پراته دي

څه بل شانې خواره واره دي يار ستا بانه

دا ځکه چې د کيسې نثر نه خو د کوڅې نثر دی او نه هم شعر غوندې د کلام لوړ ظرافت ته اړتيا لري. دا نثر د عادي محاورې تر نثر عالي دی او د علمي ليکنو تر نثر ساده ده. داسې نثر دی چې هم به هنري ښکلاوو ته پام په کېږي او هم به له عادي محاورې نه وځي.

«که چېرې موږ د يوې لنډې کيسې يا ناول ژبه هم د تحقيق ژبه کړو نو ګومان نه کوم چې په سلو کې پېنځه کسان زموږ ناولونه يا کيسې ولولي، ځکه له تحقيق سره د څېړونکي کار دی نه د ولس، پر همدې بنسټ موږ بايد د ناول ژبه هنري کړو؛ چې هم په کې روانوالی وي او هم ساده‌والی. په دې مانا چې جملې يې اوږدې او له تکلفه ډکې نه وي او بايد محاوروي بڼه ولري. داسې محاوره يا خبرې اترې چې د ويونکي سويه او ځای يې په پام کې نيول شوی وي.»

(۴۸: ۹۵)

د کيسې نثر د لا ښکلا لپاه پکار ده چې ليکوال د زړو تشبيهاتو او ترکيبونو پر ځای نوي وکاروي. تشبيهات او ترکيبونه چې زاړه شي نو بيا يې پخوانی اغېز له منځه ځي.

«...ناول ليکوال بايد نوي ترکيبونه، اصطلاحات او محاورې هم وکاروي، ځکه زاړه الفاظ کارول او يا پر هغې باندې په کراتو کراتو شخوند وهل د يو ليکوال ناکامي ده.»

(۴۸: ۹۶)

دا خبره پر خپل ځای سمه ده خو کيسه کې د کرکټر د پېژندنې لپاره دا هم کېدی شي چې زاړه ترکيبونه، اصطلاحات او محاورې وکارول شي. دغه کارؤنه موږ ته د کرکټر سويه رابنيي او داسې حالت سره مخېدل د داستاني ادب معمول چاره ده.

که د کيسې کرکټر معمولي شاعر وي نو پخواني تشبيهات به کاروي او که لوی شاعر مو کرکټر و نو نوې او په زړه پورې تشبيه‌گانې به ترې اورو. که ملا غږېده عربي کلمې به ډېرې کاروي، نصيحت به کوي، دوعاگانې به کوي او ځان به تر نورو لوړ بولي. که کروندگر مو غږاوه نو په ساده کليوالي لهجه به غږېږي. د پوهتون استاد به محصلان په ازموينه وېروي او د ښوونځي معلم به لښته گرځوي او شاگردان به په وهلو ډاروي... .

د کيسې نثر مختلفو حالتونو کې مختلفې بڼې خپلوي، خو ليکوال يې بايد پر ادبي چلونو برلاسی وي. کيسه کې د مناسبې ژبې استعمال د لويو ليکوالو کار دی، کم‌تجربه ليکوال ممکن د کيسې ژبه د کوڅې پر هغې واړوي او يا کليوال عادي کس د پوهنتون د فارغ او يا دولتي مامور په ژبه وغږوي.

د کلماتو کارونې ته پام ضرور دی، زموږ د ورځني ژوند ځينې کلمې هم د کيسې د ژبې په تول برابرې نه دي:

«يو وخت پر دې نه پوهېدم چې په اوسنۍ زمانه کې جوړې شوې اکثره کلمې (لکه پيوستون، مهاليز، روزنيز) ولې د کيسې د نثر لپاره مناسبې نه دي، حال دا چې ځينې يې لکه (پوهنتون) مناسب دي؟

وروسته بيا متوجه شوم چې اکثره نوې جوړې شوې کلمې د کيسې په نثر کې ځکه پردۍ لگي چې زموږ په عادي ژوند کې (چې معمولاً کيسه د هغه په باب ليکو) دغه کلمې ډېرې نه راځي. د کيسې راوي هم نوې جوړې شوې کلمې د روايت په وخت تقريباً نه استعمالوي. د کيسې راوي د پيوستون تر ټکي د (ملگرتوب) کلمه غوره گڼي او تر دې جملې چې «زه درسره پيوستون اعلانوم.» دا جمله غوره بولي چې «زه درسره ولاړ يم.» راوي د پوهنتون د کلمې له استعماله ځکه مخ نه اړوي چې په عامه محاوره کې پوهنتون ته پوهنتون وايو.»

(۵۸: ۵۱)

د کیسې د نثر اړوند د استاد غضنفر پاسنی نظر د منلو دی خو داسې هم کېدی شي چې کرکټر د پښتو گرامر استاد وي، که همداسې وه نو بیا به مهالیز او روزنیز کلمې هم کارول کېدی شي او که کرکټر انقلابي شخص و نو پیوستون کلمه به هم ترې اورو.

که له شاعرانه او ژورنالېستیک نثر سره د کیسې د نثر توپیر واضحوو نو د استاد غضنفر دا مثال مناسب دی چې د یوهٔ مفهوم لپاره په دریو بېلو جملې راوړل شوې دي:

«شاعرانه: زه په داسې حال کې چې لمر وربانديې وروستۍ شغلې شیندلې، د وطن د اوراخیستي زړه لوگو کوڅو ته ورسېدم.

ژورنالېستي نثر: زه ماښام مهال، په داسې حال کې چې جنگ و او کوڅې له خلکو تشې وې، کابل ته ورسېدم.

کیسه‌ییز نثر: زه کابل ته ماښام ورسېدم، جنگ و، په کوڅو کې څوک نه ښکارېدل.»

(۵۸: ٦٦)

دریو واړو جملو کې روستۍ بې‌تکلفه او فصیحه ده، د کیسې نثر د غړېدو نثر ته نېژدې وي او د غړېدو نثر کې تکلف نه وي.

«د کیسو په نثر کې تر انتزاعي کلمو حسي کلمې غوره دي، تر دې جملې چې: هغه کار کوي. دا بهتره ده چې: لور یې په لاس کې دی، لؤ کوي. څکه وروستۍ جمله سترگو ته درېږي.»

(۵۸: ۸۰)

دلته روستۍ جمله کې سترگو ته درېدو نه هدف انځورگري ده او انځورگري ادبیاتو کې ارزښت دی:

«منظرکښنه د ادبي یا هنري نثر ډېره مهمه ځانگړنه او بنسټیز توکی دی. لیکوال دا چاره د تخیل په ملتیا د لیکوالۍ په ځانگړي مهارت په الفاظو یا کلمو کې ترسره کوي. په هنري ادبي نثرونو کې معمولاً درې ډوله منظرکښنې وړاندې کېږي:

۱- د طبیعي او قدرتي منظرو انځور، لکه: ځنگلونه، غرونه، سیندونه، لمر، سپوږمۍ او ... .

۲- د ټولنیز ژوند او چاپېریال د منظرو انځورؤنه، لکه: کلی، کور، کوڅه، سړک، بازار، لارې او داسې نور.

۳- د انساني جذباتو، احساساتو، عاطفي، رواني او روحي حالاتو منظرکښنه

دا چې انسان په فطري توګه د طبيعي او ټولنيز چاپېريال ښکلې فضا خوښوي او له ليدلو څخه يې خاص خوند اخلي، ځکه نو د هنري نثر ليکوال هڅه کوي چې د خپل لوستونکي لپاره يو د فطري، طبيعي او يا ټولنيز ژوند منظر په کلمو کې وړاندې کړي، چې د هغه خوښ شي او خوند ورڅخه واخلي.»

(۷۲: ۴۲)

## ۴ـ ۱ـ ۲ د ادبي ټوټې نثر

ادبي ټوټه ظاهراً نثر دی، خو داسې نثر چې کله به يې شعر بولې. داسې نثر چې نه کيسه ده او نه هم خوشې خبرې، کله مانا په کې اولويت وي او کله بيا لفاظي تر مانا مخکې وي. که کيسه وي په رنګينو الفاظو بيانېږي او که هسې د خپلو خيالونو بې‌ترتيبه اظهار وي هم څوک محاسبه نه ورسره کوي؛ الفاظ دومره رنګين وي چې لوستونکی يې له لوست خوند اخلي.

نثر يې داسې نه دی چې اصول پرې پلي شي؛ کله به نحوي جوړښت په کې ماتېږي پروا به نه کوي او کله به تکرار په کې وي خو خوږ به لګي. کله به په رنګينو الفاظو منظمه خبره په کې کېږي او کله به په اصطلاح له يوهٔ غرهٔ بل ته ټوپ په کې وهل کېږي.

نوم يې هم متفق عليه نه دی؛ څوک يې ادبي ټوټه بولي، څوک نثري شعر ورته وايي، چا انشايه ورته ويلي... .

«ادبي ټوټه د نثري هنري ادبياتو يو ځانګړی ډول دی چې ادبپوهان يې د ادبي ټوټې، منثور شعر او لطيف ادب په نومونو هم يادوي. د پېژندنې په لړ کې يې ويل کېږي چې ادبي ټوټه اصلاً نثري ليکنه ده خو شعري کيفيت لري. نثري ليکنه خو يې ځکه بولي چې د شعر د اصلي او اساسي توکي يا ځانګړنې «وزن» له قيد څخه ازاده وي. په دې ډول ليکنو کې د لوړې انشاء خيال ساتل کېږي؛ د تشبيهاتو، استعارو او کنايو کارول په کې زيات دي.»

(۷۲: ۳۱۴)

سحر یوسفزی «ادب څه دی؟» کې انشايه ورته وايي، دی وايي: «دا د مضمون او مقالې نه ډېره پس پيدا شوې ده، دا صنف هم د مغرب نه راغلی دی، دا يو ډېر وړوکی، غير مرتب او غير مسلسل او شاعرانه توکی دی. په يو خاص چرت (Mode) کې چې د بنده خيال د يوې خبرې نه بلې خبرې ته او د يو خيال يا ياد نه بل ياد ته ځغلي، د هغې ډېر ازاد بيان وي. په دې کې ليکونکی په خپل ځان او په خوا و شا باندې ډېر په ازاد مټ ولې نيمگړې خبرې کوي. په دې کې په يوه خبره باندې پرلپسې د يو مقصد له خاطره ليک نه کېږي.»

(۷۷: ۲۳۰)

سيدمحی‌دين هاشمي د ادبي ټوټې اړوند د سحر يوسفزي د نظر خلاصه راړوې چې يوه برخه يې دلته رااخلو:

«په دې ډول ليکنه کې ليکوال ځان د خپلو جذبو څپو ته سپاري، خيالات لوړ ژوړ، خواږه ترخه، د ډېرو رنگونو او د يو ځای بل ځای وي. چُرت په کې يو وي، خو خيالونه په کې هومره ډېر وي چې د دغه ليکنې په وخت ذهن او مغزو ته راتلی شي. په دغه ډول ليکنه کې يو خاص او ځانگړي منزل لوري ته تگ او مزل نه وي؛ کاواکه يون وي، کله يوې خوا، کله بلې خوا ته يو قدم ږدي نو دوه گامه بېرته پر شا راځي. بس د خپلو ذاتي جذبو او دروني احساساتو يوه ازاده څرگندونه وي، کله کله بيا په کې ډېر روښانه يادونه او خيالونه راپيدا شي او کله بيا پکې تته څېره يا جذبه راښکاره شي او بيا ژر په تيارو کې ورکه شي. په دې ډول نثر کې شاعري کېږي.»

(۷۲: ۳۱٦)

ادبي ټوټو کې هر ډول موضوعات راتلی شي؛ کېدی شي د سياست خصوصاً زموږ د سياست بدرنگۍ وژاړي، کېدی شي د طبيعت ننداره وړاندې کړي، کېدی شي د عشق و جمال سندرې وي... .

«ادبي ټوټه د شکل په لحاظ د نثر په جامه کې وي خو مقاله يې ځکه نه بولو چې تخيلي ژانر دی او داستان يې ځکه نه بولو چې د کيسې عناصر نه لري.» (۵۸: ۱٦۳)

محی‌دين هاشمي يې د شکل له مخې پر دوو ډولونو وېشي: «لومړی هغه ادبي ټوټې چې د لوړې انشاء خيال په کې ساتل کېږي او له موضوع څخه په کې تشه لفاظي زياته وي... . دويم: حکايوي ادبي ټوټې: دا د ادبي ټوټو هغه ډول دی چې لږ و ډېر حکايتي بڼه لري؛ د يو حقيقت په هکله په زړه‌پورې توضيح او تشريح وړاندې کوي، خو دا توضيح او تشريح تر ډېره په داسې رنگينو الفاظو کې نغښتې وي چې پر بشري احساس او عواطفو ژوره اغېزه کوي.»

(۷۲: ۳۲۲، ۳۲۳)

د هاشمي صېب د همدې وېش له مخې د دواړو ډولونو نمونې راوړو، لومړی نمونه د لومړي ډول نثر ده چې مصطفی سالک لیکلې ده:

«**شلېدلی هار**

د تخلیق په ورځ پوهېدم چې د عدم له قافه د نورونو ښاپېرۍ راتلونکې ده.

ته وې چې خوږو سترګو دې پر مړه ځمکه د ژوندانه زرين تخم وشينده. ته وې چې لومړۍ شغله دې لمر او دويمه سپوږمۍ شوه.

د سینې باغي بغاوت دې د غاړې هار وشلاوه او مرۍ يې لکه ستوري خورې ورې شوې.

ته ولاړې خو زه په دې هیله انتظار کوم چې ګوندې د خپل هار د خورو ورو مریو په تلاش کې بېرته راوګرځې.»
(۴۶: ٦٧)

دا دويمه بېلګه حکايوي بڼه لري:

«**يوازې**

ماشومان، ځوانان او سپين‌ږيري د پسرلي ميلې ته روان وو، زه هم له دوی سره ولاړم او په ډېرو ګڼو خلکو کې ننوتم.

هلته د پښې اېښودو ځای نه و او بې‌حسابه مخلوق راغونډ و.

نه پوهېږم چا له ما نه پوښتنه وکړه چې ته يوازې يې که څوک درسره شته؟

ما وويل: زه يوازې يم.

همدغه وخت زه د يوازې پر مانا پوهـ شوم او دا راته مالومه شوه چې په ډېرو خلکو کې هم سړی يوازې ويلای شي.»

(٦: ٣٩)

دا درېيمه بېلګه د مرحوم استاد عبدالشکور رشاد ده چې په زرينو کلمو يې د وطن حال ژړلی او ډيلي کې جمنا ته زړه تشوي:

**« د جمنا پر غاړه**

آ جم، آ جمنا! آ بهانده جمنا!

لږ تم سه! واوره! واوره!

زه يو نتلی پردېس پښتون يم، د دې سيمې هرې کنډوالې ته چې ګورم د خپلې روښانې ماضي او تيارهٔ حال د مقايسې له شرمه د لېونو په څېر له ودانيو تښتم او د وحشيو غونډې له سړيو ترهېږم.

هو، په رېښتيا سره زه ګومان کوم، هر چا ته به هغومره سپک ابسم لکه ما ته چې خپل حال د خپل ماضي په نسبت سپک ابسي.

زما ټوکر ټوکر زړه د مات لاس په څېر ستا غاړې ته لوېږي او زه بلاوهلی د يوه ترټلي په شان ستا څنګ ته پنا دروړم.

نه پوهېږم! هو، نه پوهېږم چې دريادِلي به زما د ويرلړلي زړه خواله واورېدلی سي که يه؟

آ،آ،آ

هيله لرم خپلو پرلهابشېدونکو څپو ته، چې پله پسې د ساحل مچولو ته رااوړدېږي او رالوړېږي، ووايې چې ما نتلی د يو څو دقيقو دپاره پر ارامه پرېږدي، دومره، فقط دومره، چې تا ته د خپل خواشيني زړه غوندي وشنم.

ځکه چې په دې راڅخه پردی سوې ځمکه کې هېڅوک نه لرم، له هېچا سره نه پېژنم، فقط يو ته، هو يو ته اشنا غوندې رامالومېږې او زړه ته مې لوېږي چې زما د تېر برم او اوسنی بېارزی پرتله (مقايسه) به تا هم راسره وژړوي.

آ څپانده جمنا!

ستا مستې څپې چې پر له جاروځي، ځغلي، تېرېږي، ما ته د خپل قام هغه زړه سپېڅلې مينه رايادوي چې د هغې په برکت به يې د يو و بل لپاره د خطر خولو ته په سيالۍ سره منډې وهلې او د تنګسو مقابلو ته به يو تر بل په شوق سره وړاندې کېدل.

ستا پر له ابشېدونکي موجونه چې باډاسکي وهي او شنا کا، ما ته د خپل وولس هغه پخوانۍ تودې جذبې راپهزړه کوي چې د هغو له فيضه به اوړده مزلونه ورته لنډېدل او ډېرې سختې به پر اسانه کېدلې.

ستا د خولې سپين ځګونه چې د څپو په غېږه کې غورځي-پرځي ما ته د خپل تېر برم او پرتم هغه سرشاره مستي رايادوي چې ببره به له ببرې ويلېده او سترګو به يې د سر ساتنې ملاحظې په سترګو نه ليدلې.

ځکه، هو ځکه، چې سترګې ستا له څپاندې او ځلېدونکې سطحې څخه بلې خوا ته نه اوړي.

زه ستا د څپو پر مخ د خپلې شاندارې ماضي لوست لولم او ستا په مستو غورځنګونو کې د خپلو تاريخي غورځنګونو نکلونه وايم.

خو افسوس! کله چې يې له خپلې اوسنۍ بېوسۍ او بېپتۍ سره پرتله کوم، وار په وار مې سترګې له حيرته ډکېږي، د وجود تاؤ مې وجود په لړزه راولي، بلاخره د نهايي ذلت سوزنده احساس او د هغه د ايسته کولو نامېندي مې د پښتني غيرت په حکم ورو ورو له ژونده مړوي.

هوا مې کېږي چې ستا له څپو سره غاړه غړۍ سم او ستا په مېړانه خپل ازاد پښتني روح د دې تياره! او بېپته ژوند له سختګيرو منګولو خوشی کړم.

اما، کاشکې زه نه پوهېدلی! چې په خپل مرګ سره د ژوند بدمرغيو ته خاتمه ورکول مېړانه نه ده او دا د هغو بېهمتو کار دی چې د ژوند د ستونزو په مخ کې د زيار او مجاهدې توره او سپر ابېردي.

آ قهرېدلې جمنا! بلاخره اجازه راکړه چې ستا په لمن کې يو څو څاڅکي د زړه له تاوه رااېشېدلې تودې سرامنې اوښکې تويې کړم، ګوندې دا له ګرومه سېزلی بدمرغه داغ داغ زړه مې، چې چاودلو ته نېژدې سوی دی، لږ تش سي.

هله! هله! ژر سه اجازه راکړه! او که نه لرې نه ده چې د خپل شوم او له پېغوره ډک ژوند راباندې درونډ پېتی ستا د څپو پر اوږو واړوم او د ځان وژلو بېهمتی ته غاړه کېږدم.

ډيلی، د جمنا سيند غاړه، ۲۵، جولای، ۱۹۴۸»

(۵۸: ۲۰۷ـ۲۰۹)

دغو دريو بېلګو ته په کتو ويلی شو چې د ادبي ټوټې نثر ته چوکاټ نه شو ټاکلی، بس ليکوال ته چې د متن د ښکلا لپاره کومه وسيله په لاس ورتله په ازادۍ يې کاروی شي، بيا بيا يې کاروی شي. دلته ليکوال ټولواک دی، څه يې چې زړه غواړي کولی يې شي خو د ادبي ټوټې د تيورۍ پر اساس دا حد ورته ټاکو چې هنريت به نه هېروي. په نثر

کې ازاد دی، ژبه دې خوږه کړي؛ ګرامر دې مات کړي، تکرار دې وکړي، د نثر د تزیین ټولې وسیلې یې مخکې دي او ښې پرېماني دي.

## ۴ـ ۱ـ ۳ د ډرامې نثر

ډرامه د نثري ژانرونو لړ کې مطالعه کېږي خو دا داسې ژانر نه دی چې نثري تخنیکونو ته ډېره اړتیا ولري. ډرامه مکالمې دي او په کولو سره د ښوولو هنر دی. یانې ډرامه لکه کیسه د لوستو خبرې نه دي، بلکې ډرامه خبرو سره عمل ګډوي او دا عمل خبرو ته ژوند ورکوي.

«تر کومې چې ډرامه د خبرو په ګرفت کې وي نو هغه یو بېسا څیز وي، خو چې کله دغه بېسا څیز د کردارونو په ذریعه پېش کړی شي نو لکه چې روح په کې واچولی شي.»

(۶۳: ۱۸۰)

ډرامه د چاپ لپاره نه لیکل کېږي، د دې لپاره لیکل کېږي چې په راډیو او ټي وي کې خپره شي او یا هم پر سټېج ننداره شي. پښتو کې مې یوه چاپ ډرامه له نظر تېره شوې خو دا چاپ یې هم باید د دې لپاره وي چې څوک یې تمثیل کړي ګنې هسې خو د لوستو شی نه دی.

ډرامه کې به خال خال خطابه راشي، په چوپه خوله به پیغام ورسول شي، ممکنه ده شعر هم په کې راړول شي خو معمولاً مکالمې دي.

د داستان انداز بیانیه وي، لیکوال کولی شي یو کرکټر لوستونکو ته وروپېژني خو ډرامه کې د کرکټر پېژندنه خپله کرکټر کوي، دی به ځان په وینا او عمل سره لیدونکو او اورېدونکو ته معرفي کوي.

ډرامه کیسه ده خو داسې ده چې د لنډې کیسې او ناول په څېر په لیکلي ډول نه وړاندې کېږي. نثر هم دی خو د خبرو اترو نثر، د مطالعې ځای یې هم د هنري نثري ادبیاتو لړ کې دی.

زموږ هدف د ډرامې پېژندنه نه ده، نو ځکه ډېر نه پر ګرېږو، زموږ کار د ډرامې له ژبې یا نثر سره دی، څومره چې زموږ د کار برخې پورې تړلې ده هومره بحث پرې کوو.

«... مکالمه د ډرامې ډېره مهمه برخه جوړوي چې له هغې پرته د ډرامې شتون ناشونی دی، خو دغه مکالمې باید لنډې، زړه‌راښکونکې او د کرکټرونو د شان او حال سره مناسبې وي. داسې چې لیدونکي ته هغه نااشنا او د کرکټر له حاله جلا و نه برېښي.»

(۷۲: ۲۱٦)

په دې مانا چې ډرامه کې به ښوونکی د سویې عمل او خبرې کوي او شپون به د شپانهٔ په سویه خبرې او چارې کوي. داسې نه چې شپون فلسفي غږوي او معلم د زړې ادې فکر ولري؛ مثلاً پر خرافاتو باور لري او افسانې رېښتیا وربښکاري. ها، ممکنه ده چې لیکوال د خاص مناسبت له مخې د هوښیار کرکټر ځای کې کوم کم‌عقل راوړي. کېدی شي زموږ د وطن یو ښوونکی په یو ساده رول کې راشي.

د ډرامې د کرکټر خبرې بلاخره ژبه ده او «په ډرامه کې د ژبې د کارؤنې څرنګوالی هم ډېر ارزښت او اهمیت لري.

کوم معیار چې په ډرامه کې کارول کېږي هغه باید د عامو خلکو، لیدونکو او اورېدونکو د فهم وړ وي.

د ډرامې لیدنه یا اورېدنه عامه ده، د کوم ځانګړي قشر او ټولنیز پوړ لپاره نه ده، هر څوک یېویني یا اوري. نو ژبني معیار ته یې هم پوره پاملرنه پکار ده.

که چېرې د ډرامې ډیالوګونه لوړې ادبي جملې او کتابي خبرې وي د ټولنې ډېر محدود پوړ او قشر به ورباندې وپوهېږي، خو د عامې استفادې وړ به نه وي.

ځینې وګړي وایي چې د ډرامې ژبه زموږ همدا ورځنۍ خبرې دي، خو ورځنۍ خبرې باید کټ مټ د ډرامې ژبه نه وي. د ډرامې په ژبه کې باید د ډیالوګونو یا خبرو ښکلا، کنایې، مبالغې، فانتازۍ، د خلکو عامیانه اصطلاحات، متلونه او نورې رنګینۍ موجودې وي. د کرکټرونو له خوا چې کومې خبرې اترې کېږي باید ساده، روانې، د ځانګړې اهنګ لرونکې یا په بله وینا موزونې وي، ځکه چې هره جمله ډیالوګ نه دی او د تمثیل په وخت لوبغاړی یا ممثل ورسره ستونزې لري.»

(۷۲: ۲۱۸)

د کرکټرونه لهجه معیاري پکار ده خو داسې کېږي چې ډرامه کې یو-دوه یا ډېر کرکټرونه د کوم مناسبت پر اساس په خپله لهجه خبرې وکړي. کېدی شي یو کرکټر خوستی وي په خوستۍ لهجه غږېږي او بل د کندهار وي په کندهارۍ لهجه خبرې کوي. خو دغه حالت مناسبت پورې محدود دی، معمول نه شي کېدی.

نثري ادبي ژانرونه ډېر دي، پر ټولو مو بحث و نه کړ، دې کم بحث نه زموږ هدف علمي او ژورنالېستیکو نثرونو سره د ادبي نثرونو توپیر و. دا توپیر تر یوه بریده واضح شو.

## ۴-۲ علمي نثرونه

علمي نثر د نثر خورا ضروري برخه ده؛ داسې به ووایو چې د نړۍ پرمختیا د همدې نثر په غاړه ده، د څېړنو نتیجې همدا نثر خوندي کوي او خورېدنه یې د دې نثر په مټ ده. شعر او ادبي نثرونه د ذوق د اوبولو کار کوي، ژورنالېستیک نثرونه اکثر د خبراوي لپاره کارېږي او علمي څېړنې بیا په پرې کړې او تَللې ژبه د علمي نثر په واسطه ثبتېږي او لېږدي.

علمي نثرونو کې د ادبي نثرونو په څېر ظاهري تزیین ته پام نه کېږي او د ژورنالېستیکو نثرونو په څېر د وخت او ځای له قیودو خلاص وي.

دلته ټول پام د مانا پر سمې تشریح ورټول وي او د مانا د تفسیر لپاره چې هر څومره ځای او وخت ته اړتیا وي واک کې یې دي.

دلته چې د شعر او کیسې اړوند هم علمي خبره کېږي ژبه به یې ادبي نه وي؛ نه به تشبیه‌ګانې راوړل کېږي او نه به استعارې ته پام کېږي. نه وزن و اهنګ مهم دي او نه منظرنګارۍ ته اړتیا شته. تخیل ته خو ځکه اجازه نه شته چې د مانا علمیت تر پوښتنې لاندې راولي.

که شعر مو تعریفاوه نو یو پېژند به یې داسې لیکو: په ښکلې او اهنګینه ژبه د خیال او فکر عاطفي ترون دی. که فونیم مو تعریفاوه نو وایو به چې تر ټولو کوچنی ژبنیز توک دی چې خپله مانا نه لري خو په لرې کولو او یا بدلون یې کلمو کې د مانا بدلون پېښېږي. دلته د ادبي پدیدې تعریف په ادبي ژبه نه دی او د ګرامري عنصر تعریف په کوټلې ژبه دی.

څومره چې علمونه دي، دومره يې د نثر ډولونه دي؛ طبي نثر، ساينسي نثر، فلسفي نثر، تاريخي نثر، جغرافيوي نثر... . هسې خو نثر نثر دی او پکار وه چې ټوله کې مو علمي نثر ورته ويلی وی خو دا وېش ځکه په کې راغلی چې هر علم خپله ټرمينالوژي يا اصطلاحات لري. طبي اصطلاحاتو طبي نثر داسې کړی چې يوازې ډاکټران پرې پوهېږي او د ادبپوهنې يا ژبپوهنې نثرونه داسې دي چې يوازې د ادب و ژبې مسلکيان پرې پوهېږي. د قانون پر نثر او اصطلاحاتو د حقوقپوهانو سر خلاصېږي او د اروا‌پوهنې خپله ژبه ده. که ډاکټران نه يو کېدی شي د ښوونځي د بيولوژۍ له برکته مو پر طبي نثر يوه اندازه سر خلاص شي خو لکه ډاکټران هسې به نه پرې پوهېږو. ژبپوهنه به مو نه وي لوستې د گرامر مطالعه به کولی شو خو هسې به نه پرې پوهېږو لکه د ژبپوهنې مسلکي يا زده‌کړيال چې پرې پوهېږي.

د ځينو علمونو ژبې ډېرې گرانې نه دي، کېدی شي هر څوک په کې مطالعه وکړی شي خو داسې علمونه هم لرو چې د هر چا د مطالعې لپاره نه دي.

د پښتو پر علمي نثرونو د نورو ژبو اغېز خورا زيات دی، که طبي نثرونه وځېرو نو يوازې وييکي او فعلونه به پښتو وي نور به ټول متن عربي او انگرېزي کلمو نيولی وي. ديني نثرونه خو بيا داسې دي چې له عربي يې د کلمو تر څنگ عربي گرامر هم ورسره راوړی. که د کمپيوټر پر زده‌کړه کتاب ليکل شوی وي نو سراسر به له انگرېزي نومونو ډک وي.

د پښتو يوه کمبختي دا ده چې د ليکوالۍ ډگر د اديبانو او ادبپوهانو ټيکه گرځېدلی. ژورناليزم چې ليکنی مسلک دی هم لارويان يې ډېر ليکل کوي خو د نورو مسلکونو لارويان ډېره لږه فيصدي د ليکوالۍ ډگر کې لوبېږي. له بده مرغه د دغه لږې فيصدۍ ليکنې هم له ستونزو خالي نه دي. هو، شته د گوتو په شمار ليکوال چې پر خپلې مسلکي پوهې سربېره يې د ليکوالۍ تخنيکونه هم زده دي او خپله برخه کې په ټول پوره ليکل کوي.

د علمي څانگو د ډېرښت له امله دلته پر ټولو علمي نثرونو بحث نه شو کولی خو د نمونې په ډول د څو برخو پر نثرونو بحث کوو.

## ۴-۲-۱ طبي نثرونه

طبي نثرونو کې د لومړنيو طبي لارښوونو او يا خوراکونو د گټې او زيان نثرونه گران نه دي؛ د دغو نثرونو مخاطبان د هرې کچې خلک وي نو ځکه پرې پوهېدا اسانه وي. تخصصي برخه کې هم داسې نثرونه شته چې طبي اصطلاحات نه وي ورننوتي او پرې پوهېدا سخته نه وي خو کله چې بحثونه ډېر تخصصي کېږي؛ پر ناروغيو او د مرضونو پر

تشخیص و درملنه علمي بحث کېږي نو بیا یې پر نثر د پوهېدا کچه محدودېږي؛ یوازې د طبابت مسلکیان به پرې پوهېږي.

لومړی داسې نمونې راوړو چې کابو هر لوستی پرې پوهېږي او بیا هغه بېلگې راوړو چې ټول به نه پرې پوهېږي.

## «طبي تاریخچه

### MEDICAL HISTORY

د ناروغ د سم تشخیص دپاره دریو شیانو ته ضرورت دی چې یوه یې مکمله تاریخچه، دویم یې سمه معاینه او درېیمه برخه یې د لابراتواري تجربو څخه عبارت ده. د مکملې تاریخچې په برخه کې لږ وروسته بیان کېږي، د سمې معاینې څخه یې په راتلونکو څپرکو کې یادونه شوې او لابراتواري معاینه یې د ناروغ احتمالي تشخیص Imperesion په وخت کې چې د مرض په تشخیص کې معاینه کوونکي سره مرسته کوي اجرا کېږي.

طبي تاریخچه (Medical History): د ډاکټر له خوا د ناروغ شکایتونه په ترتیب سم او په مفصله توگه راټولول د طبي تاریخچې په نوم یادېږي. دا شکایات یا اعراض باید یو په یو د پیل څخه بیا د ناروغ د اوسنۍ ناروغۍ پورې په ترتیب سره او هم د هماغې ناروغۍ تصادماتو او عملیاتو نه چې د ناروغ د اوسني مرض سره رابطه لري جمع او ترتیب شي.

دا ډول طبي تاریخچې د فزیکي معاینې سره یوځای ډاکټر د ناروغۍ د سم تشخیص او تداوۍ په لور سوق کوي. په اوسني وخت کې ځینو روغتونونو کې د دې اعراضو او علامو راټولول په سمه توگه د کمپیوټر په وسیله پیل شوي دي چې کېدی شي په نېژدې راتلونکو کلونو کې د ناروغانو د طبي تاریخچې بشپړول په روټین شکل د کمپیوټر په وسیله اجرا شي.»

(۱۴ :۵۰)

اصل متن کې د دې نثر املا داسې نه ده لکه دا وینئ یې چې، دې کې مو سمؤنې وکړې او متن یې گورئ چې د وییکو برخه کې ستونزې لري. دا خبره مو مخکې کړې وه چې د ځینو مسلکونو لیکوال لیکل کوي خو په تخنیکونو یې پوره لاسبري نه دي. په هر صورت دا د بحث اصل موضوع نه ده. موږ دلته دا ولیدل چې دغه رااخیستل

شوی نثر گران نه دی، هر لوستی په اسانه برداشت ترې کولی شي. خو همدغه کتاب کې چې موضوعات ډېر تخصصي کېږي نو بيا پرې ټول نه شي پوهېدی.

## «د رگونو محيطي سېستم

**THE PERIPHERAL VASULAR SYSTEM**

اناتومي او فزيالوژي: په دې بحث کې د لاسونو او پښو د دوراني سېستم شريانونه او وريدونه د کاپيلر په ارتباطي برخو او له لمفاوي سېستم څخه يادونه کوي.

شريانونه: هغه شريانونه چې د بدني سطحې سره نږدې موقعيت لري شرياني ضربانونه په اسانۍ جس کېږي چې په لاس کې دوه او کله کله په درې ځايونو کې شرياني ضربان جس کېږي. د عضدي شريان Brachial Artory ضربان د څنگلې د قاتېدونکي دپاسه د Biceps تر منځ جس کېږي. عضدي شريان په دوه نورو شريانو کې چې د کعبري Radial او زندي Ulnar شريانو په نوم يادېږي تقسيمېږي. د کعبري شريان ضربان د لاس د چپي داخلي برخې کې احساس مومي او ښايي چې د زندي شريان ضربان د هغې په متوسطه برخه کې جس شي خو د دې اخري شريان ضربان د زياتو نسجونو د لاندې قرار لري او په دې وسيله د شريان په ضربان کې مشکلات رامنځته کېږي. عضدي او زندي شريانونه د دوو نورو قوسي رگونو په وسيله يو ځای شوي دي. د پښو د شريان ضربان ښايي په څلورو ځايونو کې جس کړی شي، فخدي شريان Femoral Artory د مغبني قنات Inguinal Ligament د لاندې جس کېږي.

شريان په ورانه کې ژور او ښکته امتداد کوي او د ځنگون په خلفي برخه کې د Popliteal شريان په نوم يادېږي.

د زنگون په همدې حفره کې جس مومي، د زنگون څخه په لاندې برخه کې دا شريان په دوه نورو شعبو تقسيمېږي او په پښو کې دوام مومي او قدامي شعبه د قدم په برخه کې د Dorsalis Peids شريان په نوم يادېږي چې د دې شريان ضربان د پښې د غټې گوتې د وتر په جنبي برخې کې جس اجرا کېږي Posterior Tibial Artory د پښې د Malleolus په منځنۍ برخه کې جس اجرا کېږي.»

(۵۰: ۱۰۷، ۱۰۸)

دغه نمونه کې چې د طب خپل اصطلاحات ډېر کارېدلي نو پر متن هر څوک نه پوهېږي؛ محدود کسان پرې پوهېدلی شي. اصطلاحاتو د یو لیکوال متن دوه ډوله کړی چې پر لومړۍ نمونه پوهېدا اسانه او پر دویمه یې گرانه ده.

«اناتومي، فزیالوژي، شریانونه، وریدونه، کاپیلر او لمفاوي» یوازې د لومړۍ جملې هغه کلمې دي چې طبیبانو ته اسانې دي خو د بل مسلک کس به یې پوهاوي کې ستونزه لري. پاتې متن کې لسگونه نورې داسې کلمې راغلې دي چې پر متن پوهېدا یې ډاکټرانو ته مختص کړې ده.

له یو بل طبي اثره د یو بل لیکوال د متن نمونه رااخلو:

## «پریتوان

**پریتوان د التهاب په صورت کې Peritoneum**

پریتوان یوه نازکه غشا ده او د گېډې د جدار، خلف، جوانب او هم ټولې بطني احشاوې یې پوښلې دي.

**پریتوان په دوه قسمو تقسیم شوي دي**

یو حشوي پریتوان او بل جداري پریتوان. حشوي پریتوان ټولې بطني احشاوې پوښلې دي او د گېډې د جوف متباقي قسمتونه د جداري پریتوان په واسطه پوښل شوي دي، جداري پریتوان د اعصابو څخه غني دي او د جداري پریتوان تخریش د شدید درد سبب گرځي، یانې ماوفه ناحیه په موضعي ډول په شدید درد اخته کېږي او حشوي پریتوان د اعصابو څخه فقیر دي او د حشوي پریتوان درد نامالوم او په یوه ناحیه کې نه ځای پر ځای کېږي.»
(۵٦: ۱۷۳، ۱۷۴)

زه خو نه پر پریتوان پوی شوم او نه تر اخره پر دې ورسېدم چې متن څه وایي، ځکه زه طبي ډاکټر نه یم او متن له عربي کلمو ډک دی. د طبابت اکثر اصطلاحات عربي دي او علمي طبي اصطلاحاتو نه هم په ازاد لاس گټه اخیستل کېږي.

اوس له درېیم اثره د یو بل ډاکټر صېب د نثر نمونه وړاندې کوو:

## «د معدې افرازات

میکانیزم: په عمومي ډول منل شوې ده چې معده دوه ډوله افرازات لري، یو هغه فعال کامپوننت دی چې د جداري حجراتو څخه د هایدروکلوریک اسید او پوتاسیم کلوراید، هایپر او سموتیک افرازات منځته راوړي. بل یې د هغه غیرجداري حجراتو کامپوننت دی چې امکان لري خارج‌الحجروي منشا ولري او په حقیقت کې ټول جوړښت د خارج‌الحجروي مایع په څېر دی. یوه بله تیوري داسې تشریح ورکوي چې د معدې افرازات په ابتدایي ډول په خپله د معدې د هایدروجن د بیک ډیفوژن او د سودیم د تبادلې څخه پیدا کېږي. همدارنگه د معدې افرازات تر یوې اندازې د معدې د مخاطي غشا د وینې د ارواوهستامینو او گسترین پورې اړه لري او دا پرته له دې چې د وینې دوران کې کوم بدلون پیدا کړي د معدې د سکریشن مسولیت په غاړه لري. د اندوجینس هستامین رول څرگند دی او د نورو منبهاتو تاثیر لا تر اوسه تر نا‌ندریو لاندې دی.»

(۵۵: ۷۲، ۷۳)

په ټوله کې د دریو واړو ډاکټر صېبانو متون سخت دي. دا سمه ده چې رنځپوهنه جلا علم دی، بېله ټرمینالوژي لري او په دې وجه دا علم د ټولو پوهاوي ته نه شي جوړېدی خو که د دې برخې متخصصین لیکنیو تخنیکونو ته لږ ډېر پام وکړي نو دا نثرونه لږ تر لږه د دغه مسلک لارویانو ته تر دې اسانېدی شي. طبي نثرونو کې داسې عربي کلمې هم وینو چې پښتو عام الفهمه بدیلونه یې شته او د املا و گرامر برخې ته چې پام زیات شي نو دغه گران متون اسانېدی شي.

## ۴ـ ۲ ـ ۲ کرنیز نثر

کرنې سره ژوند تړلی، څه چې خورو د کرنې له برکته دي او صنعت کې لویه ونډه لري، په دې وجه کرنه خورا ارزښتمنه ده. د کر د ښه حاصل لپاره علمي څېړنې شوې، کېږي او بیا پر محصولاتو تحقیقونه کېږي چې ځانگړنې، گټې او زیانونه یې څه دي. علم دی او پوهنتونونو کې پوهنځي او پوهنځیو کې څانگې ورته ایجاد شوې دي. د دې علم متون هم ساده او پیچلي دي، ځینې یې عام‌فهمه او ځینې یې تخصصي بڼه لري.

په لنډيز سره د دواړو ډولونو نمونې وړاندې کوو:

**«کچالو (الوګان) Potato**

کچالو د سولاناسي Solanaceae په نباتي مورنۍ پورې اړه لري. علمي نوم يې Solanum tuberosum دی. د دې کورنۍ نور مهم کرنيز بوټي د رومي بانجانو، مرچو او تورو بانجانو څخه عبارت دي. د دې کورنۍ کرنيز بوټي ګلان وباسي او د ميوو په دننه کې تخمونه تشکيلوي.

کچالو د هغو نباتاتو له ډلې څخه دي چې نقدې پيسې ترې لاس ته راځي او د انسانانو د خوړو زياته برخه جوړوي.

په افغانستان کې د کچالو حاصلات ډېر ټيټ دي، ځکه چې زموږ بزګران د محلي تخمونو څخه کار اخلي؛ هغه تخمونه چې کرل کېږي په ناروغيو اخته وي. بزګران د تخمي کچالو په انتخاب باندې نه پوهېږي. دا ټولې هغه ستونزې دي چې زموږ د بزګرانو د کچالو حاصلات يې راټيټ کړي دي.

مرچ، توربانجان او رومي بانجان معمولاً د تخم په واسطه تکثير کېږي، مګر ځان ته د کچالو تکثير د تخمي غوټو Seed tubers په واسطه په افغانستان او د نړۍ په نورو هېوادو کې سر ته رسېږي. سره د دې چې کچالو هم د القاح شوي تخم په واسطه د تکثير کولو وړ دي. مګر يو زيات شمېر بزګران د افغاني بزګرانو په ګډون، يا له دې طريقې بېخي بې‌خبره دي او يا ډېره لږه استفاده ورڅخه کوي.

کچالو په نړۍ کې د زياتو مصرف کېدونکو نباتاتو له ډلې څخه شمېرل کېږي او همدارنګه کچالو د ډېر غذايي ارزښت لرونکي دي، چې د نشايستې يوه لويه منبع ګڼل کېږي او هم د يادولو وړ ده چې کچالو د کاربوهادريت، پروټين، منرالونو، ويټامين سي، عضوي تېزابونو او د B کورنۍ يو څه ويټامينونو لرونکي دي. همدارنګه کچالو د فايبر يوه ډېره ښه منبع بللی شو.»

(۲۹: ۴۴، ۴۵)

دا متن ساده دی، روان دی او پوهه پرې اسانه ده، خو اصل متن کې ليکوال املايي تېروتنې کړې دي او ګرامري ستونزې هم لري. د دا ډول متونو ليکوالو ته ډېر لږ کړاو دی چې نثرونه يې ښې درجې ته ورسي.

دا دويمه بېلګه بيا تر لومړۍ ګرانه ده، د کرنې له اصطلاحاتو ډکه ده او بحث لا تخصصي شوی:

## «حشره خوړونکي نباتات

د کاربوهایدریتي تغذیه‌یي موادو د علاقې په لحاظ خودپروره نباتات بلل کېږي، ځکه چې دا د کلوروفیلي میکانیزم د منځته راتلو سبب ګرځي. نوموړي نباتات په هغو سیمو کې چې هلته نباتات په ولاړو او مردارو اوبو کې درېدلی شکل ولري او د نایتروجن کارېدل هم په کې لږ حس کېږي خپل ژوند سر ته رسوي او هغه خاوره کې چې ورته نباتات خپل ژوند په کې سر ته رسوي، له اوبو څخه مشبوع او هېڅ ډول فضا او هوا په ځان کې نه لري. ورته حالات بیا د باکتریاوي نایتروجني چمتو کېدو لپاره نامناسب ګڼل کېږي، خو د نوموړي باکتریاوي-نایتروجني ایستل کېدو لپاره مناسب بلل کېږي. وروسته بیا د نایتریتونو او امونیا وده او تجزیه کېدل هغه هم نایتروجن ته صورت نیسي، تازه نایتریتونه په کې منځته نه راځي. نو په همدې اساس نوموړې خاورې بیا د نایتریتونو د کمښت احساس کوي. هغه نباتات کوم چې په ورته حالاتو کې خپله وده سر ته رسوي، نه شي کولی چې د خپل پروټینونو باندې د سنتیز عملیه سر ته ورسوي. ورته نباتات بیا د نایتروجني غذایي موادو د اړتیا د پوره کولو لپاره د حشراتو په نیولو او بیا د هغوی د هضمولو له لارې نوموړې عملیه سرته رسوي. دا باید په یاد ولرل شي چې نوموړي نباتات خپله اصلي او واقعي غذایي تغذیه له حشراتو څخه پوره کوي، دا په دې خاطر چې تر څو وکولی شي له نوموړي محیط او چاپېریال سره توافق وښیي نو د نایتروجني غذایي موادو د کمښت د پوره کولو لپاره له ورته عادت څخه چې د حشرو خوړل دي کار اخلي. ورته حشره خوړونکي نباتات په ښه او عالي ډول سره خپل مختلف نوع وسیلو ته، کوم چې د حشراتو د نیولو په خاطر ترې استفاده کوي، انکشاف ورکړی دی... .» (۱۵: ۷۵)

دغه متن یو خو د درنو علمي اصطلاحاتو له وجې سخت شوی دی او بله وجه یې دا ده چې تخلیق شوی متن نه دی؛ ژباړه ده. د ژباړې اثر جوت پرې خور دی. (نوموړی او ورته) کلمې خو اکثر غیر ضروري راغلې دي. علمي اصطلاحات یې نه شي ایستل کېدی خو په لږې خواری سره رواني په کې زیاتېدی شي او متن یې کمېدی شي.

## ۴ـ ۲ ـ ۳ د انجینرۍ نثر

ساختماني انجینري ارزښتمن مسلک دی، د ودانیو اصولي رغونه زموږ ژوند ساتي او که رغونه کې بې‌پروایي کېږي نو ژوند مو گواښل کېږي. په همدې دلیل د انجینر صېبانو پر نثر بحث کوو. د بې‌ځایه سیالۍ پر ځای د ځینو حقیقتونو یا ستونزو منل پکار دي او بیا د ستونزو پر هواري سوچ پکار دی. پښتو نوې نوې د علم ژبه کېږي، چې نوې میدان ته کېږي نو ستونزې به ضرور وي. پښتو کې یوازې د ادبپوهنې نثرونه جوړ دي، نور چې د هر علم نثر وکتل شي یو عالم ستونزې به لري. هو، شته، د ادبپوهنې لیکوال هم ټول په ټول پوره نه دي او د نورو مسلکونو ټول لیکوال له سیالۍ لوېدلي نه دي.

زموږ د انجینر صېبانو نثرونه له ستونزو خالي نه دي. یوه وجه یې دا ده چې دې برخه کې نوي لیکل روان شوي، بله یې دا چې پر لیک یې د ژباړې اثر خورا جوت دی او بله یې دا چې دوی د لیکوالۍ چلونه نه دي زده کړي.

د دې مسلک اصطلاحات هم عربي او انگرېزي دي. یو متن راوړو او گورو چې زموږ نظر تاییدوي:

### «د ساده سطحو (مقاطعو) هندسي مشخصات

د موادو مقاومت اساسي موضوع بروس (میله) تشکیلوي چې په انجینري محاسبو د یوه گاډر د شکل بدلون یوازې د موادو په نوعیت او اندازو د میلو پورې اړه نه لري. بلکې د عرضي مقطع په شکل او د ثقل مرکز په موقعیت پورې هم اړه لري. له دې سببه د مقطع د هندسي مشخصاتو زده کول ډېر ضروري دي. مثلاً د یوې میلې یا گاډر د محکموالي او شخې مشخصه په کشش-فشار کې د عرضي مقطع مساحت دی ځکه چې د گاډر په عرضي مقطع کې تشنجات راڅرگندېږي. نو له همدې امله په دې ځای کې د ځینو مقطعو مشخصات چې ټاکونکی مقاومت د شکل د تغیر په مقابل کې لري تر څېړنې لاندې نیسو. هندسي مشخصات عددي کمیات دي چې د هغې په واسطه کولی شو شکل، اندازې او موقعیت د عرضي مقطع بیان کړو او عبارت دي له: مساحتونه، ستاتیکي موومنټونه، محوري او قطبي انرشیایي موومنټونه، د فرارالمرکز انرشیایي موومنټونه، د مقاومت موومنټونه او د انرشیا شعاع ده.»

(۸: ۱۲)

د دغه متن عنوان کې یوازې د اضاف دال (د) پښتو دی، ساده د پښتو او پارسي گډه کلمه ده او پاتې څلور کلمې د عربي دي. د متن د پیل جمله کې (د، چې، په، د، یوه، د، یوازې، په، پورې، اړه، نه، لري) پښتو دي، اندازه

يې پارسي او نور ټولې کلمې عربي دي. (اندازو د میلو پورې اړه نه لري.) نحوي جوړښت هم د پارسي دی. پښتو کې به داسې و: د میلو اندازو پورې اړه نه لري.

له پیله تر پایه متن کې ځینې فعلونه او ترویيکي پښتو او نورې کلمې د پارسي، عربي او انګرېزي دي. موقعیت د عرضي مقطع بیان کړو. نحوي جوړښت هم د پارسي دی.

د متن پای کې چې د اقتباس ادرس ورکړل شوی هغه اخځ پارسي دی، نو ښکاري داسې چې متن ژباړل شوی. دا لوی لامل دی چې متن یې پردی کړی. که دا متن د ژبې د کوم څانګه‌وال تر نظر تېر شوی وی نو دومره نااشنا به نه و، نحوي جوړښت به یې سم و، هم به د پښتو کلمو فیصدي او هم به رواني په کې زیاته وه.

یوه بله بېلګه راوړو:

## «مستويډوله ټاکلي ستاتیکي فرېمونه (چوکاټونه) او قیچيګانې

## د فرېم مفهوم

فرېم د هغه ساختماني جوړښت څخه عبارت دی چې د میلو سېستم یې داسې جوړ شوی که سېستم د سختې نښتنې په غوټو باندې راوړل شي نو سېستم هماغسې په خپل حال هندسي نه بدلون موندونکی پاتې کېږي. فرېمونه د سترو وایه‌ییزو ګاډرونو لکه د I ډوله عرضي مقطعې لپاره ګټور نه وي کارول کېږي. د دې ډول سېستم د ګاډر (... شکل) په عرضي مقطعو کې نارملي تشنجات خطي قانون دی. نو ځکه د دیوالونو موادو نه پرلپسې توګه ګټه نه اخیستل کېږي او د پنډو وایه‌ییزو ګاډرونو کارول ډېر ګټور یا اقتصادي نه دي.

په همدغو حالتونو کې د میلو دغه ډول سېستم یوازې په کشش او یا فشار کې فعالیت کولی شي. همدغه لامل دی چې د فرېم د موادو کارول نسبت یو ډول وایه‌ییز ګاډر ته غوره دی.»

(۳۰: ۱۲٦)

د دې بېلګې امتیاز دا دی چې تر لومړۍ هغې په کې زیاتې پښتو کلمې راوړل شوې دي. خو رواني یې ژوبله ده، د متن پیل کې څو یوه تر بلې تړلې جملې دي چې یوه اوږده جمله یې جوړه کړې. دغه اوږده جمله ګرانه لوستل کېږي او اضافي کلمې په کې دي. موږ دغه اوږده جمله داسې رالنډولی شوه: د فرېم ساختماني جوړښت د میلو سېستم داسې جوړ شوی وي چې که سېستم د سختې نښتنې پر غوټو باندې راوړل شي نو سېستم هندسي بدلون نه کوي. زه

يې پر مسلکي خوا نه پوهېږم ګنې دا جمله تر دې هم لنډېدی او فصیحه کېدی شوه. دغه لنډيز کې هم هغسې فصاحت نه شته چې باید وی. تر پايه يې جملو کې داسې ګوتې وهل کېدی شي چې متن به تر اوسني حالت غوره وي.

د ساينس ډګر پراخ دی، دا له خرواره يو موټی نمونې وې او نور متون له دې بېلګو قياسېدی شي. ها، وي به داسې ساينسي متون چې دومره ډېرې نيمګرتياوې به نه لري.

ما د دغو بېلګو لپاره د کتابونو غوراوی تصادفي وکړ، خوست کې د شيخ‌زايد پوهنتون کتابتون ته لاړم او له الماريو مې بې‌چاڼه کتابونه راواخيستل. د طب، انجينرۍ او کرنې د اوو کتابونو متون همداسې ول.

## ۴ ـ ۲ ـ ۴ ټولنيز علوم

د ټولنيزو علومو پښتو متون ستونزې لري خو تر ساينسي متونو غوره دي. دا ځکه چې د ټولنيزو علومو لارويان د ساينس تر لارويانو ډېر ليکل کوي او اصطلاحات يې هم تر ساينسي اسان دي. د ټولنيزو علومو اکثر اصطلاحات هم د نورو ژبو دي خو ورځنی استعمال يې زيات دی، په دې وجه يې عام‌فهمي زياته ده. اقتصادي، حقوقي، ادبي، اروايي... مسايل زموږ ورځني ژوند کې ډېر اوړي رااوړي؛ خپله ورسره مخېږو او رسنۍ يې ډېر شاربي نو ځکه (ماليه، صادرات، واردات، بودجه، محکمه، دوسيه، حکم، فرمان، قانون، جرم، شعر، ناول، تشبيه، رواني مشکل/سکون...) ناپښتو کلمې نااشنا نه دي. داسې هم نه ده چې د ټولنيزو علومو متون معيار ته رسېدلي او نور کار ته اړتيا نه شته، نه ډېر کار ته اړتيا ده؛ حتی د ادبپوهنې او ژبپوهنې متون ستونزې لري؛ موږ د کتاب دويمه برخه کې د هغو ليکوالو پر نثرنو تنقيد کړی چې ژبني او ادبي ليکل يې کړي. حقوقي نثرونه ډېرې پيچلتياوې او باريکۍ لري، د ارواپوهنې پر متونو ډېرې خبرې کېدی شي، اقتصادي متون د بحث وړ دي... . موږ د دې اثر بېلابېلو عنوانو کې د ټولنيزو علمي متونو پر نثر ډېر بحث کړی نو لا ځانګړی بحث نه پرې کوو او پر همدې ځای يې بس کوو.

## ۴ ـ ۲ ـ ۵ ژوناليستيک نثر

ژورناليزم تر بل هر مسلک د ليکلو پراخ ډګر دی؛ خبريال هره ورځ خبرونه ليکي، رپورټر د رپوټونو په تيارولو معاش اخلي، د سرمقالې ليکوال ورځنيو سياسي، اقتصادي، ټولنيزو... مسايلو ته په ډېر دقت پام کوي او کومه موضوع چې ډېره مهمه ورښکاره شوه ليک پرې کوي. ادبي او علمي ليکوال بيا لکه د خبريال هره ورځ ليکل نه کوي، که کوي يې هم په هغه کچه به نه وي لکه د ژورنالېستانو چې دي؛ که د کومې معتبرې رسنۍ يو بوخت خبريال د کال ليکلي خبرونه، رپوټونه... چاپ کړي نو د بل هر ډګر تر يوه بوخت ليکوال به يې ډېر ليکل کړي وي. د علمي ليکنو ليکوال د ليک د حجم پر ځای د موضوعاتو تل ته د کوزېدو هڅه کوي، علمي کارونه تر ژورنالېستيکو هغو خورا ګران هم دي؛ خبريال ته ورځنۍ پېښې خبر دی، ورځي په ساده ډول خبر پرې جوړوي، سبا ورځي رپوټ پرې کوي او بل سبا ګردی مېز پرې جوړوي. د حجم له مخې پر يوه پېښه ډېر کار کوي، خو علمي ليکنې بيا بېلې دي، د موضوع ټاکل، د هغې اړوند مطالعه او بيا پرې ليک وخت نيسي او حجم په کې ارزښت نه دی، کېدی شي د کال د تحقيق نتيجه يو-دوه پاراګرافه وي.

اديب هم د ژورنالېست غوندې ډېر ليکل نه کوي، کېدی شي يوه لنډه کيسه کال کې وليکي، پر الفاظو به يې غور کوي، ژبې ته به يې ډېر پام کوي او هنريت به په کې پيدا کوي. داسې ليک هم وخت غواړي او هم ډېره خواري، خو ژورنالېست بيا ډېر وخت نه لري، پر تودو موضوعاتو به ژر ليک کوي او د موضوع پيدا کول په کې تل سخت نه وي، د خبر لپاره اکثر طبيعت موضوع ورکوي، که د خبر پر موضوع يې بيا نور کار کاوه هم هماغه د خپله پېښې شوې موضوع مرستيالي ورسره ده او يا ادارې موضوعات په لاس ورکوي؛ اداره رسنيو ته خبر ورکوي چې فلاني وخت کې پر فلانۍ موضوع کنفرانس دی، د پروژې پرانيسته ده... . دا بېله خبره ده چې کومه موضوع د کومې رسنۍ لپاره د ليک او خپراوي ارزښت لري او د کومې لپاره نه، داسې کېدی شي چې د ادارو ځينې موضوعات ادارو ته مهم وي خو رسنيو ته خبري... ارزښت و نه لري.

د ژورناليزم اړوند نورې خبرې به مو له خپلې موضوع بوځي، همدا به کافي وي او دا نتيجه يې په لاس راکړه چې ژورناليزم د ليک ويړ ډګر دی، چې ډېر ليک په کې کېږي نو پکار ده چې د ليک پر چل ورته پوی يو.

د ژورناليزم او ادب پر مشترکاتو او توپيرونو تمېږو؛ لوی اشتراک يې دا دی چې دواړو برخو کې ليک کېږي او لوی توپير په کې دا دی چې ادب کې هنريت ته پام کېږي او ژورناليزم کې ربښتينولۍ ته؛ يوه پېښه چې اديب او

ژورنالېست وړاندې کوي، اديب به داسې لنډه کيسه پرې ليکي چې عاطفي اړخ په کې زورو وي، خپل احساسات ورشاملوی شي خو ژورنالېست به د پېښې رېښتياوو پسې ګرځي او خپل نظر يا احساسات به نه ورګډوي، بې‌پرې به يې بيانوي خو اديب لوری نيوی شي، کېدی شي د خپل فکر له زاويې پېښې ته وګوري، پلوي يې وکړي او يا يې مخالف شي خو خبريال بيا داسې نه کوي. هو، استثنا شته، هره رسنۍ خپله پاليسي لري، د هماغې پاليسۍ پر بنسټ د پېښو چاڼ کوي او په نامستقيم ډول د خپلې پاليسۍ وړاندېينه کوي.

ژورنالېست ته پېښه ضرور ده چې ليک پرې وکړي خو اديب خيالي پېښې جوړوی شي، البته دا پېښې به داسې نه وي چې لوستونکي ته د طبيعت خلاف او ناممکنې وروښکاري؛ يا به مخکې پېښې شوې وي او يا به يې د پېښېدو امکان وي.

د ژبې له زاويې چې ژورناليزم او ادب ته ورګورو نو اديب د کلمو پراخه خزانه لري، هنري ليکنو خصوصاً ادبي ټوټه کې له راز راز کلمو... په ازاد لاس استفاده کولی شي خو ژورنالېست د يوې جملې خبر څو جملو کې نه شي وړاندې کوی، ځکه ژورنالېزم کې وخت او ځای ارزښت دی، کېدی شي ورځپاڼه کې د ډېرو ليکلو ځای و نه لري، د راډيو وخت به يې لنډ- تنګ وي او پر ټلويزون به ډېر وخت نه لري. دا بېله خبره ده چې زموږ رسنۍ خپرېدو ته موضوعات نه لري او د موضوعاتو پر ځای موسيقي او... خپروي خو په نړۍ‌واله کچه د ژورناليزم وخت او ځای خورا ارزښتمن دي.

د ژورناليزم ژبه د ادب او علم له ژبو سره کوم توپير لري؟ د مسکين حجازي «د ژورناليزم ژبه» کتاب نه يې رااخلو، دا کتاب استاد اميرجان وحيد احمدزي پښتو کړی.

«د علمي، ادبي او ژورنالېستي يا عامه ژبو توپيرونه په دې ډول دي:

۱- اړينه نه ده چې ادبي يا علمي ليکنه د ټولو لپاره وي؛ اديب، شاعر يا ليکوال کومې ځانګړې ډلې ته په پام سره خبرې کولی شي. د فلسفې، ارواپوهنې او يا اقتصاد اړوند ليکنې يوازې د همدغو ځانګو د اړوند کسانو لپاره وي، ځکه پر دغو ليکنو يوازې هغه کسان پوهېږي چې د اړوندې ځانګې له اصطلاحاتو سره بلد وي. دا رنګه ادبي کره کتنه هم يوازې د هغه چا لپاره وي چې له ادب سره بلدتيا ولري. ځکه خو يې ژبه هم له ژورنالېستي يا عامې ژبې څخه بېله وي.

د دې برعکس عامه یا ژورنالېستیکه ژبه د ټولو او عامو خلکو لپاره وي. په هغه کې د اصطلاحاتو، سختو کلمو او جوړښتونو استعمال نه ښایېږي. په ورځپاڼو کې اقتصادي لیکنې باید د ټولو د پوهاوي وړ وي، څو ټول لوستونکي پرې پوی شي.

۲- لړلوستي خلک هم ورځپاڼې لولي، د راډیو او ټلویزون په اورېدونکو او کتونکو کې هم لړلوستي خلک وي، نو له دې امله د ژورنالېستي ژبې ډېر اسانه کول اړین دی. په ځانګړي ډول د خبرونو ژبه باید د ټولو د پوهاوي وړ وي. د ورځپاڼې په ځانګړو ګڼو یا د سرلیکنې پر مخونو علمي او ادبي لیکنې د ټولو لوستونکو لپاره نه، بلکې د هغو خلکو لپاره وي چې له اړوندو علمي او ادبي مسایلو سره مینه ولري. نو ځکه یې ژبه هم له ژورنالېستیکې ژبې توپیر لري.

۳- نن سبا د خبریالانو، رپوټرانو، خبر رسوونکو ادارو او له نورو ډېرو څخه دومره خبرونه ترلاسه کېږي چې د ټولو خپرول ناشوني دي، نو ځکه د هغو ټولو له منځ څخه مهم خبرونه غوره کېږي او هغه هم په ډېر لنډیز وړاندې کېږي، څو د زیاتو خبرونو د خپرولو ځای پیدا شي. له همدې امله ژورنالېستیکه ژبه او لنډیز لازم او ملزوم دي. په ژورنالېستیکه ژبه کې د کلمو یا فکرونو تکرار، اوږدوالی، ډېره تشریح، د صنایعو او بدایعو استعمال هېڅ ځای نه لري. د دې برعکس په علمي یا ادبي لیکنو کې دومره لنډیز شونی نه دی، ځکه ځینې علمي مسایل ډېره ژوره او هراړخیزه څېړنه او سپړنه غواړي. په ادبي لیکنو کې د باریکیو پیدا کول اړین دي، ځینې مهال له تشبیه، استعاري، رمز او کنایې څخه هم کار اخیستل کېږي. لنډه دا چې په ادبي او ژورنالېستي ژبو کې هغه توپیر وي کوم چې په ساده‌ګۍ او پیچلتیا یا په راتلو او راوړلو کې دی.

۴- هر ادیب یا پوهـ د بیان ځانګړی اسلوب لري، دا رنګه د یوه شاعر کلام هم ځانګړی رنګ لرلی شي.

(لکه خوشال‌خان بابا او رحمان بابا چې هر یو خپله لار او رنګونه لري. ځکه د خوشال‌خان بابا شاعرانه سبک حماسي او عاشقانه دی او د رحمان بابا په شاعرۍ کې صوفیانه او عاشقانه رنګ زیات دی.)

(ژباړن)

د بیان ځانګړی اسلوب د کلمو له غوراوي، د جملو له جوړښت او د خیال له ډوله تشکیلېږي، لېکن د ژورنالیزم معامله له یوه سره بل ډول ده، ځکه د ژورنالېستیکو موادو موخه د کوم ځانګړي سبک پیروي نه، بلکې په لنډو او لړو کلمو کې د ډېرو مالوماتو او مفهوم رسول دي. بل دلیل یې دا دی چې ژورنالېستیک مواد تر چاپ وړاندې د رسنیو په

دفترونو کې له ګڼو لاسونو تېرېږي او بدلونونه په کې راځي، ځکه نو کوم ځانګړی یا د لیکوال خپل اسلوب نه پاتې کېږي.

په کوم ځانګړي سبک کې د خبر خپرول د خندا خبره ده. دا رنګه د سرلیکنو، فیچرونو او ژورنالېستیکو لیکنو موخه د مفهوم ادا کول وي، نه د ژبې ښکلا. کېدی شي د ځینو کالم لیکوالو د کالم ډول شخصي وي، ولې ډېری ژورنالېستیک مواد غیرشخصي وي. په شخصي کالم کې د کالم‌لیکوال ځانګړی انداز د پوهېدو وړ وي، ځکه علمي او ادبي لیکنې شخصي وي. د دې لپاره په هغو کې د اړوندو کسانو د خوښې، طبیعت، ژبې او د بیان د انداز ښکارندویي لازمي کار دی.

۵- ادیب، شاعر یا عالم هر وخت یې چې زړه وغواړي نو لیکل کولی شي؛ د فکر کولو، د کلمو غوراوي او د جملو جوړښت ته هم ډېر وخت لري، چې دا ټول له لیکوال، ادیب او پوهـ سره د یوه ځانګړي سبک په لرلو کې مرسته کوي. لېکن ژورنالېستان د لیکلو لپاره د فکر کولو، جوړښتونو او کلمو د غوراوي لپاره دومره وخت نه لري. ځکه هغوی اړ دي چې په ټاکلي وخت خبرونه ولیکي، یا یې وژباړي او سم یې کړي. خبریال یا فیچرلیکوال په ټاکلي وخت کې فیچر یا مضمون لیکي. سرمقاله لیکونکی په خپل وخت سرلیکنه بشپړوي. هغه د خوښې پاللو او طبعې برابرولو ته انتظار نه شي کولی، هغه اړ دی چې د وخت له مخې ژر لیکل وکړي. ځکه د ژورنالېست دنده په اسانه توګه او لنډو کلمو کې لوستونکو او اورېدونکو ته د خبرتیا، نظر یا مالوماتو رسول دي. چې دغه مهال نو ژورنالېستان د ځانګړي سبک لرلو ته وخت نه شي موندلی او نه یې هم اړتیا شته.

٦- ادیب، شاعر یا عالم کولی شي په کومه ځانګړې ادبي څانګه یا علم کې د تخصص تر کچې مطالعه وکړي، یانې ځینې کسان غواړي چې ناول یا افسانه لیکونکی شي نو د ناول یا افسانې په یوه ځانګړې څانګه کې د تخصص تر بریده ځان رسوي. د بېلګې په توګه یو څوک په رواني یا تفسیاتي کیسه لیکلو کې، یا ځینې کسان په اقتصاد یا ټولنیزو چارو کې مهارت ترلاسه کوي. دغسې ماهرین چې کله پر خپله ځانګړې موضوع لیکنه کوي، نو هغوی په خپلو اړوندو څانګو کې ژورې لیکنې کوي. ځینې ځانګړي اصطلاحات راوړي، د هغوی په لیکنو کې ځانګړی رنګ، انداز یا طرز پیدا کېږي. مګر په ژورنالېستي لیکنو کې نه دا شونې وي او نه یې اړتیا وي. ورځپاڼه‌لیکونکي په یوه ټاکلي وخت کې خبرونه لولي، سموي یې. په هغه کې سیاسي، ټولنیز، اقتصادي، د لوبو، جرمونو، عدالتونو او لنډه دا چې هر ډول خبرونه شامل وي. سرمقاله‌لیکونکی هم هره ورځ پر بېلابېلو موضوعاتو سرلیکنې لیکي. د فیچر لیکوال او مضمون لیکونکي پرې فیچر او مضمون لیکي. نو هغوی نه شي کولی چې په بېلابېلو او ان سره بې‌تړاوه موضوعاتو باندې په لیکنه کې یو ډول

او ځانګړی طرز غوره کړي. ځکه هغوی د دې اړتیا له مخې کار کوي چې نوموړی هره ورځ خبره په اسانو او لږو کلمو کې بیان کړي. نو ځکه ژورنالېستي ژبه د ادبي یا علمي ژبې په څېر کوم ځانګړی طرز نه شي درلودلی.

۷- دا سمه ده چې ادبي یا علمي ژبه هم د لنډیز او روانی له ښېګڼو څخه خالي نه ده خو بیا هم دا حقیقت دی چې په ادب کې ځینې وختونه ژبه په خپله موخه وي، نه د بیان وسیله. په شعر کې د هنریت او انځورونو د پیدا کولو لپاره موزونې کلمې داسې چاڼېږي چې ښکلا، ترنم یا ځینې نورې رنګارنګۍ ولري. د هنري یا مترنم تاثر ورکوونکې کلمې د مانا پر ځای خپل لور ته د لوستونکو یا اورېدونکو پام اړوي. په شاعرۍ کې د ادبي صنایعو کارول شعر ته ښکلا وربښي. ادیب هم د لوستونکي پر ذهن او عواطفو د ورته اغېز کولو لپاره د کلمو په مټ د یوې پېښې او منظر لفظي انځور جوړوي. د تکرار په مټ هره خبره د لوستونکو په ذهنونو کې انځوروي او ځایوي. کوم لیکوال چې د خپلې خوښې پر موضوع لیکل کوي نو د اسانه لیکنو هڅه کوي او د بدګڼو د څرګندولو لپاره داسې جملې راوړي چې د هغه له پوهنیزې کچې سره اړخ ولګوي. دا رنګه په علمي او ادبي لیکنو کې د شعرونو، بیتونو، متلونو، ویناوو، رمزونو او کنایو، تشبیه او استعارو راوړل حتمي دي.(علمي لیکنو کې حتمي نه دي، دلته سهوه راښکاري. څېړونکی) مګر په ژورنالېستي لیکنو کې د دې شیانو ګنجایش نه وي، ځکه چې په ژورنالیزم کې ژبه موخه نه بلکې د څرګندولو وسیله وي. ژورنالېستان په اسانو او لنډو کلمو کې د پېښو حالات بیانوي او تبصرې پرې کوي.

۸- په ادب کې واقعیت یا حقیقت اړین نه دی، خو چې څه پنځوي نو اړینه نه ده چې واقعي وي او د فطرت خلاف نه وي. ادیب یا شاعر د ژوند د انځورګر په څېر چې څهویني یا محسوسوي هغه د خپلو عواطفو او احساساتو په رڼا کې په کلمو کې بیانوي. هغه په خپلو لیکنو کې د عاطفې یا احساس له پلوه کلمې استعمالوي. عاطفه یا د احساس قوت، فکري لوړتیا او ځوړتیا، په چارو کې افراط او تفریط، کرکه، مینه او غوسه دا ټول انساني کیفیتونه دي او په ادب کې دې هر یوه ته موزونې کلمې استعمالېږي. دا رنګه اشاره، رمز، کنایه، ابهام، تکرار، د کلام اوږدوالی، لږې خبرې کول او نور هم له انساني اړتیاوو یا فطرتونو سره همغږي دي او په ادب کې د ژوند د انځور د کښلو په مهال لیکوال له دې شیانو څخه بې‌نیازه نه دی، مګر په ژورنالیزم کې ناپلوي (معروضیت) بنسټیز ارزښت لري. د ژورنالېستانو لپاره اړینه وي چې پېښې او حالات په ناپېیلې توګه بیان کړي او خپلو لیکنو ته خپل احساسات او عواطف ورګډ نه کړي. له ټولو اړوندو څرګندتیاوو او ژورتیاوو سره د ژوند بیانول یو ډول دي او په ناپېیلې توګه د هغو بیانول بیا بل ډول دي. د دواړو په بیان کې د کلمو غوراوی او استعمال توپیر سره لري، د ژوند لومړنی بیان ادب او دویم ژورنالیزم. نو ځکه د ادبي او ژورنالېستي ژبو توپیر هم څرګند دی.»

(۱۸: ۲۲- ۲۷)

مانا دا چې د ژورنالیزم ژبه عام‌فهمه ده، که د پښتو شاعرانو پرتله کې یې ښیو نو د ژورنالیزم ژبه د رحمان بابا ژبه ده چې په ساده ژبه یې خپل پیغامونه لېږدولي. د رحمان بابا د مقبولیت یو راز هم همدا دی چې ژبه یې د هر چا د پوهاوي وړ ده. بل شاعر کاظم‌خان شیدا دی چې ژبه یې خورا سخته ده؛ هم یې د نورو ژبو کلمې ډېرې رواړې دي او هم یې شعري صنعتونه ډېر کارولي، په دې وجه یې خواص د شعر مطالعه کوي او هر څوک یې پر شعر نه پوهېږي، نو د ژورنالیزم ژبه باید د کاظم‌خان شیدا ژبه نه وي.

یوه خبره چې کول یې ضرور دي هغه دا چې د ژورنالیزم د ټولو ژانرونو ژبه یو ډول نه وي؛ د خبر یا راپور ژبه ساده وي خو د فیچر ژبه بیا ادبي ته نېژدې وي؛ انځورګري ادبي ارزښت دی خو فیچر کې په لوړه کچه کار ترې اخیستل کېږي. د کومې پېښې اړوند چې لیکل کېږي هغه ځای او حالت د لوستونکي او اورېدونکي سترګو ته دروي.

راپور کې ممکن ووایي چې د خوست د ملکي روغتون یوې ناروغې د ډاکټرانو له چلند خوښي څرګندوله خو فیچر کې بیا همدا جمله بل ډول راځي، کېدی شي داسې وي: د خوست ملکي روغتون له عمومي سپینې دروازې یوه عمرخوړلې ناروغه راووته، تورې زړې جامې یې اغوستې وې، د امسا په مټ یې ورو ورو قدمونه اخیستل، د درملو کڅوړ ورسره وه، دې کڅوړه کې یې د ټېستونو او نسخو سپینې پارچې هم ښکارېدې. زه ورمخکې شوم، د ډاکټرانو د چلند اړوند مې وپوښتله. په لړزنده غږ یې ډاکټرانو ته دوعاګانې کولې، ژړه‌غونې شوه، سر یې تور کړ او ویل یې چې ټول ډاکټران او ډاکټرانې دې خدای خوشال کړي، چې څنګه راشم ماشین راته چالان کړي او یوه شېبه کې مې سا خلاصه شي. زه د سینه‌بندۍ مریضه یم لورې.

ژورنالیزم کې د رسنۍ ډول هم پر نثر اغېز لري، که راډیو وي یو ډول ژبه، که ټي وي ته لیکل کېږي بل ډول ژبه او که اخبار ته لیک وي نو بیا یې ژبه بله وي. راډیو کې چې تصویر نه وي نو لیکونکي کلمو کې د تصویر ښوولو هڅه کوي، اخبار کې چې د غږ رسولو اسانتیا نه شته کېدی شي ځانګړي حالت کې د غږ رسولو حالت انځور شي او ټي وي کې چې ویډیو مرستیاله ده نو د ځینو حالتونو ویل مناسب نه وي. مثلاً ټي وي یا اخبار کې د دې اړتیا نه شته چې د چا د جامو رنګ وښوول شي، ځکه دلته عکس او ویډیو خپله ښیي چې چا کوم رنګ جامې اغوستې دي، عمر یې څومره دی او چاپېریال څه وړ دی. راډیویي فیچر کې بیا دغه حالت کلماتو کې بیانېږي.

لنډ لیکنه ژورنالیزم کې ارزښت دی، د لنډ لیکنې پر چلونو د ژورنالیزم پوهانو مقالې او کتابونه لیکلي، رسنیو کې د وخت او ځای د کمي په وجه د دوی مجبوریت هم دی. خبریال تل دې هڅه کې وي چې لږو کلمو کې ډېرې خبرې

ورسوي. که خبريال/ رپوړټر تکرار کوي نو بيا اورېدونکي، لوستونکي او ليدونکي نور انتخابونه لري، بله ورځپاڼه گوري، بله راډيو اوري او ټي وي کې بل چېنل ته ځي. انټرنېټ کې خو لا ډېر انتخابونه لري.

مرکو کې ټولو ليدلي چې چلوونکی د مرکې ورکوونکی له موضوع بلې خوا ته نه پرېږدي، خبرې يې ورغوڅوي او اصل موضوع ته يې راڅروي. د رسنۍ ټاکلی وخت چې پوره شي نو ځينې د کېدو وړ خبرې هم پاتې کېږي. ممکن دا تجربه هم ولرئ چې خبريال پر يوه موضوع نظر در نه غواړي خو درته وايي چې خبرې مو يوه دقيقه-نيمه کې راټولې کړئ، دا ځکه چې دوی سره د وخت کمی وي.

هو، د خبريالۍ ډگر کې تکرار هم وي، د عنوان خبره ورپسې پاراگراف کې تکرار شي او د لومړي پاراگراف خبرې بيا ورپسې متن کې بيا تکرارېږي. دا د دوی د خبر يا راپور جوړولو تيوري ده چې عنوان موضوع وړاندې کوي، که لوستونکي... ته موضوع جالبه وه او وخت يې درلود، نو بيا نور خبر ته ځي. پيل د عنوان نيمگۍ تشريح وي، که پر دې د لوستونکي... تسلي و نه شوه او پوره جزيات يې غوښتل نو بيا ټول خبر يا راپور لولي. دا تکرار بې‌ځايه نه حسابېږي، دا د رسنيزو ليکونو تخنيک دی چې ټولو مخاطبانو ته د پام په وجه کار ترې اخلي.

## اداري نثرونه

ادارې يو مهم ادرس دی چې د ليک حجم په کې زيات دی، عريضه، مکتوب، استعلام، پيشنهاد... په اصطلاح اداري نثري ژانرونه دي. د نثر ليکنې دغه ډگر يو څه بې‌خونده دی، ځکه چې نه ټول مراجعين ليکوال دي او نه هم ټول مامورين د ليکوالۍ پر تخنيکونو پوهېږي. دغو ليکونو کې نه د املايي تېروتنو کمی وي او نه هم د گرامري، د عالي ليکوالۍ څرکونه خو به ډېرو لږو ليکونو کې وينو. اکثريت ليکونه يې داسې دي چې مسلکي ليکوال يې پر لوستو سترې کېږي. په کليشه‌يي ډول له مخکنيو ليکونو تقليد کېږي او دا تقليد د قانون کچې ته رسېدلی؛ که څوک يې د سمون لپاره هم ماتوي د مسولينو له خوا اجازه نه ورکول کېږي.

علومو اکاډمۍ نه مې د شيخ زايد پوهنتون پښتو څانگې ته کتابونه راوړل، د کتابونو د تسليمۍ سند يې را نه غوښته، ما ويل څنگه متن وليکم؟ ويل وليکه چې يوه اندازه کتابونه او مجلې تسليم شوم. ما ويل زه نه يم تسليم شوی؛ کتابونه او مجلې راتسليم شوي. داسې به وليکم چې يوه اندازه کتابونه او مجلې راتسليم شول. مقابل لوری مې

یو دروند استاد او لیکوال و، د لیکوالۍ پر ارزښتونو ښه پوی و خو بیا یې هم راته وویل چې نه، څه چې زه وایم هسې ولیکه، بیا مې هماغسې ورته ولیکل.

تشریفاتي اړخ هم په کې پیاوړی دی، مسولین پر دې خوشالېږي چې مراجعین تشریفاتي کلمې او جملې ورته ولیکي. محترم، ښاغلی، همکاري، درناوی، سلام، هیله... د مراجعینو معمول کلمې دي. زه اداري لیکونو ته هم د لیکوالۍ له سترګیو ګورم، اکثر په لنډ ډول موضوع یا غوښتنه لیکم. یوه عریضه کې مې خپلې تحصیلي ادارې ته لنډ او پرې کړی متن لیکلی و، زما یو دروند استاد چې د لسګونو کتابونو لیکوال دی، ټولګي کې راته وویل چې دا تا څنګه عریضه لیکلې وه! عریضه کې زما عرض پوره وړاندې شوی و، هېڅ ځای ګونګ نه و خو د تشریفاتو کمی په کې و. استاد داسې څوک نه و چې تشریفات یې خوښېږي خو پر ده زموږ د تشریفاتي اداري نثر اغېز و چې زما متن مناسب ورمالوم شوی نه و.

ما چې کله هم ادارو ته لیکل کړي نو د ادارو ملاحظه راغلې، په دې وجه خو ان پر دې خوښېږم چې زما عریضه بل څوک راته ولیکي، ځکه زه نثر سره مسلکي چلند کوم او د عادت له مخې پر تشریفاتو نه پوهېږم.

ټولنیزو رسنیو کې چې ادارو د خپلو فعالیتونو راپور لیکلی او ما په کې تشریفات لیدلي نو تبصره کې مې ورته لیکلي چې الفاظو سره احتیاط کوئ؛ یو وخت به د ارګ راپورونو کې راتلل چې ولسمشر... خپل حضور ته ومانه. ما به ورته لیکل چې خلک حضور ته مه منئ؛ ولیکئ ولسمشر فلانی وروغوښت او یا ولسمشر له فلاني سره ولیدل. دې حضور ته منلو کې د احترام پر ځای چاپلوسي راښکارېده. د لویو ادارو د رسنیو د برخې کارکوونکي به خپل مجبوریتونه لري او په اصطلاح د دربار اداب به همدا وي خو د نثر لیکلو هنر کې روا حتی مباح هم نه دي؛ مکروه غوندې ښکاري.

یوه لیکوال او شاعر ملګري ولسمشر ته عریضه کې مرسته رانه وغوښته، په شریکه مو متن لیکه، دا هره کلمه مو چې لیکله بحث مو پرې کاوه؛ موږ ویل داسې څه رانه ونه لیکل شي چې په وجه یې عریضه د ولسمشر مخې ته و نه رسي، د څو دقیقو لیکل به مو ساعت کې کړي وي. خدای خبر چې خوارۍ سره سره مو د دربار اداب مراعات کړي وو که نه.

رسمي لیکونو کې د لیکونو شمېرې او نېټې ضرور دي خو دا هغه څه دي چې د متن رواني له منځه وړي.

کلیشه‌یي جملې په کې مجبوریت دی، مثلاً قانوني اجراات وکړئ. دا جمله خوږه نه لګي، ځکه ډېر مو لیدلې

۵۵.

اداري او قانوني ضرورتونو او مجبوریتونو اداري متون بې‌خونده کړي او له ناچارۍ يې له منلو بله لار نه شته خو دغو ليکونو کې اوسنۍ سختي يوه اندازه له منځه تلی شي او دا هله چې مراجعين او مامورين د ليکوالۍ له چلونو کار واخلي.

دا به انصاف نه وي چې له هر چا د غوره ليکوالۍ تمه ولرو خو دا هم انصاف نه دی چې لېسانس، ماسټر يا ډاکټر مامور دې املا کې ستونزه ولري او ليکلو سره دې دومره نابلده وي چې يو-دوه پاراګرافه سم او روان متن دې و نه شي ليکی.

استاد حبيب‌الله رفيع د «ليکونه سرليکونه» په نوم د رسمي ليکونو لارښود کتاب ليکلی، هڅه يې کړې چې د دغو ليکونو متن ساده او خوندور شي، که زده‌کړه ترې وشي متن مو جوړوی شي خو دغه کتاب کې هم هغه د دربار ادابو ته پام شوی؛ تشريفاتي کلمې او جملې په کې ښکاري او له کليشې هم خلاص نه دی:

**«د کار غوښتنليک**

عارض: بريالی د عبدالحکيم‌خان زون

۱۳۸۷/۵/۵

د پوهنې وزارت، د استخدام محترم ريس صاحب!

السلام عليکم!

زه چې د حبيبيې لېسې د دولسم ټولګي فارغ التحصيل يم، د معلمۍ له درانه مسلک سره د زړه له کومې مينه لرم، نو هيله ده په کوم ښوونځي کې د معلمۍ وياړ راوبښل شي.

په درناوي

(لاسليک)

(نوم)

(د مقام امر)

وکتل شو!

د مامورینو مدیریت دې نوموړې د کمبود پر ځای مقرر کړي!

(لاسلیک)

۱۳۸۷/۵/۵»

(۳۷: ۴۴-۴۵)

گورو چې دغه لیک کې څه دي:

د پوهنې وزارت، د استخدام محترم ریس صاحب!

رییس ته محترم او صاحب صفتونه دواړه کارېدلي، کېدی شول ساده مو لیکلي وی: د پوهنې وزارت د استخدام ریاست ته، یا د پوهنې وزارت د استخدام رییس صاحب او یا هم د پوهنې وزارت د استخدام رییس، که تشریفاتو ته پام نه وی نو دا عبارت تر دې کمېدی شو.

سلام د تشریفاتو بله نمونه ده، بې له سلامه هم متن پوره و.

زه چې د حبیبیې لېسې د دولسم ټولگي فارغ التحصیل یم.

دغه جمله هم لنډېدی شوه: له حبیبیې لېسې فارغ یم... له لېسې فارغ څپله له دولسمه د فراغت مانا لري. فارغ التحصیل کې بله نیمگړتیا دا ده چې تحصیل له دولسمه روسته پیلېږي. له پوهنتونه فارغ ته که ولیکل شي غلط به نه وي خو غوره به دا وي چې د پوهنتون فارغ التحصیل پر ځای له پوهنتونه فارغ ولیکل شي؛ دا به لنډ وي.

د مسول د زړه‌سوي په خاطر عاطفي ترکیبونه راوړل شوي دي؛ درانه مسلک، د زړه له کومې مینه، ویاړ راوبښل شي.

که عاطفه مو نه راپاروله، تقرر مو خپل حق باله او د مسول اجراات مو د ده مسولیت بللی نو داسې مو لیکلی شول: اصولاً معلمۍ ته جوړ یم او کوم ښوونځي کې د تقرر هیله لرم. ندایې اضافي دي او دا د پخوانیو تقلید دی. د عارض او نېټې کلمې که لیکل شوې هم نه وې مفهوم رسېده.

د ټول متن لنډيز به داسې و:

**د کار غوښتنليک**

بريالی د عبدالحکيم‌خان زوی

۱۳۸۷/۵/۵

د پوهنې وزارت د استخدام رياست ته

له حبيبيې لېسې فارغ يم، اصولاً معلمۍ ته جوړ يم، کوم ښوونځي کې د تقرر هيله لرم.

درنښت

لاسليک

نوم

دې لنډيز کې کوم کمی نه شته خو چې تشريفات په کې نه شته او د مسول درناوی په کې هغومره نه دی چې تمه يې لري نو کېدی شي دا لنډ شوی متن مو د تقرر مخه ونيسي. لنډيز کې مو اداري اداب پرېښې خو د نثر ليکلو هنر په تله کې تر لومړي دروند خېژي.

شاهد عمران «د عريضه ليکنې لارښود» کې د تقرر عريضه داسې راوړې:

**«د تقرر لپاره**

عارض (        ) د (        )

د ننگرهار ولايت د پوهنې رياست درانه مقام ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

قدرمنه! څرنگه چې مې پورته شهرت ذکر شوی دی، په (۱۳۹۸) هـ.ش کال مې د ننگرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د پښتو ادبياتو له څانگې څخه د لېسانس سند ترلاسه کړی. اوس غواړم چې خپل گران هېواد ته د

خدمت لپاره د ښوونکي مقدسه دنده د ننګرهار ولایت د مومندرې ولسوالۍ په مربوطاتو کې ترلاسه کړم، ستاسو درانه مقام ته عارض شوم چې اړونده څانګې ته لازمې لارښوونې وکړئ.

په درنښت»

(۵۷: ۷۹)

پر عریضه نور بحث نه کوو، ځکه پر لومړنۍ عریضه مو وکړ، هماغه بحث ته په کتو د دې عریضې لنډه بڼه لیکو:

**د تقرر لپاره**

روهیال د نورالله زوی

د ننګرهار د پوهنې ریاست ته

(۱۳۹۸) هـ.ش کې د ننګرهار پوهنتون، د ښوونې او روزنې پوهنځي له پښتو څانګې فارغ شوی یم.

غواړم د ننګرهار د مومندرې ولسوالۍ کوم ښوونځي کې ښوونکی مقرر شم، له ریاست مقام هیله لرم چې اړوندې څانګې ته د اجرااتو سپارښتنه وکړي.

درنښت

د متن الفاظ نور هم کمېدی او بدلېدی شي. هدف مو د هغه اوږدوالي مخه نیول دي چې زموږ پر اداري ادبیاتو غیر ضروري خپور شوی.

همدا ډول که زموږ نور اداري مکتوبونه، استعلامونه، حکمونه... وکتل شي له کلیشې، تشریفاتو، ناضروري کلمو... ډک دي. له رسمي لیکونو ځینې برخې لکه نېټې او نمبرونه نه شي لرې کېدی او دا هغه څه دي چې خصوصاً د متن سلاست ژوبلوي خو کېدی شي چې په لږ پام سره یې بڼه تر اوسني حالت غوره شي.

## ۵- ژباړه

ژباړه د عربي د ترجمې پښتو بڼه ده، ژباړه مرکبه کلمه ده چې (ژبه+ اړول) نه جوړه شوې ده. «ژباړه په پښتو کې (د ژبې اړولو) له ترکیبه جوړه ده. په ترکیب کې چې دوه کلمې یو ځای کېږي نو د روانۍ او اسانه تلفظ لپاره یې تر منځ بېواکغږونه- چې مخرجونه یې نېژدې وي او تلفظ سختوي- لوېږي. همدغسې په خپلواکغږونو کې هم- چې مخرجونه یې لنډ وي- یو واول غورځېږي یا لنډ خپلواکونه سره یو ځای کېږي او په یوه اوږده واول اوړي چې په (ژباړه) کې هم دوه خپلواکغږونه (زور) چې (ژبه) پرې ختمه او (اړه) پرې پیل ده شوې، سره یو ځای شوي او (ژباړه) یې جوړه کړې ده.»

(۵۴: ۱)

اصطلاح کې د یوې ژبې مفاهیم بلې ژبې ته اړول دي. حاجي احمد فخري د ژباړې تعریف داسې کړی: «زموږ په نزد د ترجمې تعریف دا دی چې د چا مصنف خیالات راواخیستی شي، هغې ته د خپلې ژبې جامه واغوستی شي. هغه دې د خپلو ټکو او محاورو په سانچه کې واچولی شي او خپل قوم ته دې په داسې انداز کې وړاندې کړی شي چې په ترجمه او تالیف کې هېڅ فرق پاتې نه شي.»

(۴۹: ۱۴)

«له یوې ژبې نه بلې ته د لیکلیو اثارو یا خبرو داسې اړول دي چې لوستونکی پرې پوه شي او ګټه ترې واخلي. ... ژباړه په اصطلاح کې د لومړۍ ژبې د کلمو لپاره د نېژدې او دقیقو انډولونو موندلو ته وایي، خو چې د لیکوالو ویندود (روش) او سیاق خوندي وي. ژباړه له یوې ژبې نه بلې ته د افکارو، غوښتنو، قوانینو، کیسو، هنرونو، پوهنو او نورو د لېږد وسیله او د ناهمژبو خلکو تر منځ ترښت او اړیکه ده. (۵۴: ۲)

د ژباړې اړوند د پوهانو تعریفونه د الفاظو په تغیر، سره ورته مفهوم لري. کابو هر تعریف کې دا ټکي مشترک دي چې د یوې ژبې کلمو او محتوا ته په بله ژبه کې د مناسب انډول موندل دي، داسې چې د لومړۍ ژبې محتوا ژوبله نه شي.

ژباړه د علمونو، فرهنگونو، تجربو... د لېږد بهترینه وسیله ده، خو دې وسیلې سره مسلکي چلند په کار دی، که د ژبې له مخې مو ژباړې مسلکي نه وي نو ژبه مو راخرابوي او نثر مو بدرنگۍ ته بیایي:

«اروانباد استا الفت ویلي دي چې د دري «لب دریا» په پښتو کې «د سیند شونډه» مه ژباړئ، بلکې «د سیند غاړه» یې وژباړئ، همداسې که د پښتو «د سیند غاړه» دري ته ژباړو نو باید «گردن دریا» یې و نه ژباړو، بلکې «لب دریا» یې وژباړو.

د استاد الفت خبره سل په سلو کې سمه ده، خو د پښتنو او دري‌ژبو تر منځ ولې د «شونډې» او «غاړې» هومره لوی توپیر موجود دی، حال دا چې دوی په یو هېواد کې څنگ په څنگ یا یو د بل په منځ کې هم اوسېږي. که دري ژبه د پخوانۍ پاړسي یوه څانگه هم وگڼو نو پخوانی فارس هم له موږ دومره لرې نه و. ولې هغه څه ته چې زموږ په ذهن کې «غاړه» ترسیم ده، دري‌ژبي یا پاړسي‌ژبي «شونډه» وایي؟ دا توپیرونه نهٔ یوازې د دري او پښتو تر منځ شته، بلکې د ټولو ژبو تر منځ شته دي. په انگرېزي کې د پښتو «ماما» او «کاکا» ته یو نوم کارېږي او (Uncle) ورته وایي. همداسې د پښتو د ترهٔ یا کاکا اولاد، د تورۍ او ترور اولاد ته هم یو لفظ کاروي او (Cousin) ورته وایي. دا یوازې مثالونه وو چې دا واقعیت ترې په ډاگه کېږي چې د یوې ژبې یو مفهوم ته په بله ژبه کې عین الفاظ نه کارېږي او د مفاهیمو په الفاظو کې د یوې ژبې او بلې تر منځ توپیر همدومره دی لکه د پښتو او پاړسي تر منځ چې په «غاړه» او «شونډه» کې دی. حال دا چې دا دواړه توري په بېلابېلو ژبو کې یو مفهوم لېږدوي. که ژباړې ته په تخصص او مسلک قایل نه شو نو د ژبو عام لوستونکي به د الفاظو په ماناگانو کې مفاهیم ورک کړي او یو بل ته به یو د بل ژبه د خندا وړ وگرځي.»

(۱: ۳۲)

## ۵ ـ ۱ د ژباړې ارزښت

ژباړه له یوې ژبې بلې ته د علم د لېږد لاره ده او د فرهنگونو تبادله هم د ژباړې له لارې کېدی شي. د علم تولید په یو وخت ټولو ژبو کې نه کېږي؛ عالم چې علمي تجربې او نظریات وړاندې کوي نو په یوه ژبه به وي او نړۍ کې زرگونه

ژبې دي. علم به انګرېزي کې تولیدیږي او یا به په فرانسوي ژبه وي. په الماني به تولیدېږي او یا به په عربي وي، پښتو، دري او ... کې به د علم تولید کېږي. دا علم چې له دې هرې ژبې لېږدي د ژباړې اړتیا ده.

د علم او مالوماتو پر لېږد سربېره ګړنۍ ژباړه هم زموږ ورځنۍ اړتیا ده. پښتون ته به د انګرېز انګرېزي ژباړل کېږي او الماني ته به د پښتون خبرې ترجمه کېږي، د بېلابېلو ژبو د ویونکو تر منځ د پوهاوي لپاره یوازېنۍ لار همدا ژباړه ده. که ووایو بې ژباړې د نړۍ نننی مختګ ممکن نه و مبالغه مو کړې نه ده.

«ټاګور خپل شهکار اثر (ګېتا نجلي) په بنګالي ژبه ولیکه، خو په پیل کې یې د ګوتو په شمېر مینه‌وال ځان ته رامات کړل، کله چې ټاګور دغه اثر په انګلیسي وژباړه نو د نوبل نړۍ‌واله جایزه یې ترلاسه کړه او په دې توګه د نړۍ‌والو مشهورو لیکوالو په ډله کې وشمېرل شو. له همدې ځایه ده چې د ژباړې پر ارزښت سترګې نه شو پټولی.»

(۴۷: ۱)

له دې لنډ متنه ښکاري چې نړۍ‌والېدل هم د ژباړې په مرسته دي او د ګېتا نجلي له محتوا برخمنېدل هم د ژباړې برکت دی.

«ارستو وایي چې انسان مقلد دی؛ ماشوم له خپل شاوخوا ژبه، ناسته پاسته او نور ژوند زده کوي. دغسې ټولنې له یو بله زده‌کړه کوي او د دې علمي او فرهنګي زده‌کړې لپاره ژباړه ښه لار ده. موږ که د پرمختللو ټولنو له مثبتو اړخونو زده‌کړه کوو نو پکار ده چې د هغوی علمي، فرهنګي اثار خپلې ژبې ته راوژباړو چې زموږ ولس ترې د پرمختګ چل زده کړي.»

(۵۴: ۳)

خلاصه دا چې ژباړه د علم و فرهنګ د لېږد، د یوې ژبې د علمي او فرهنګي بډاینې او په ټوله کې د یوې ټولنې د پرمختیا بهترینه لار ده. که کوم ملت غواړي چې ډېر مختګ وکړي نو له مختلفو ژبو یې ډېرو ژباړو ته اړتیا ده او پر دې سربېره د تنوع لپاره خورا مهمه ده. د بېلګې په ډول ادبیاتو کې د بېلابېلو ژبو د کیسو او شعر ژباړه رنګارنګي ایجادوي او بنده د مختلفو ژبو د ادبي ښکلاوو له خونده برخه‌من کېږي. هېڅ ملت په یوازې ځان د مختګ پوړۍ نه دي وهلې؛ یوې ټولنې له بلې تقلید کړی او د نننۍ نړۍ پرمختیا یې رامنځته کړې ده.

## ۵ ـ ۲ د ژباړې ډولونه

ژباړه د محتوا او بڼې له پلوه بېلابېل ډولونه لري، د محتوا له پلوه علمي، ديني، ژورنالېستيکي... د ژباړې ډولونه دي او د بڼې له پلوه ټکي پر ټکي ژباړه، جمله پر جمله ژباړه، پاراګراف پر پاراګراف ژباړه، ازاده ژباړه... د ژباړې ډولونو کې راځي.

موږ له څو زاويو د ژباړې پر ډولونو بحث نه کوو او نه مو ډېر کار ورسره شته. د نثر د تخنيک له زاويې ژباړه پر دوو ډولونو وېشو او بحث پرې کوو. يو ته يې ساده ژباړه وايو او بل ډول ته يې ادبي ژباړه وايو.

### ۵ ـ ۲ ـ ۱ ساده ژباړه

ساده ژباړه هغه بولو چې علمي، ژورنالېستيکې، ديني او نورې مالوماتي ليکنې پرې ژباړو، که ليکنه علمي وه د اړوند علم اصطلاحاتو ته په کتو متن ترتيبېږي او که ديني متن ژباړل کېده ديني باريکيو ته په کتو متن ليکل کېږي. د ساينس ژباړه ساده ژباړه ده، ساده‌ګي په دې مانا چې متن کې د ادبي خوږلنۍ اړتيا او اجازه نه وي. د تخيل الوت په کې نه وي، د کلمو رنګارنګۍ ته پام نه په کې کېږي او لفاظۍ ته په کې ضرورت نه وي. دغو ټکو ته نه لومړي متن کې پام شوی وي او نه دويمه ژبه کې پام ورته کېږي.

«علمي ليکنې زياتره په رسمي يا مستقيمه ژبه وي، په بله وينا له سبکه خنثی وي. ياني (مړ) ته په کې مړ وايي، (له نړۍ يې رحلت وکړ/ وفات شو/ سترګې يې پټې کړې/ لاړ/ مردار شو.) نه وايي، ځکه پلوي په کې نه وي. بل دا چې دا اړتيا نه وي؛ نو ژباړن ته کار اسانېږي، د ژبې يا سبک له ژباړې خلاصېږي او يوازې د موضوع ژباړه يې پر غاړه وي چې همغسې په مستقيمه ژبه به يې راژباړي.»

(۵۴: ۳۹)

د علمي ژباړې په وخت دې ته پام پکار دی چې علم پوره او سم ولېږدي. بايد پام مو وي چې د علم د لېږد په وخت خپله ژبه ژوبله نه کړو. له بده مرغه زموږ ژباړو کې داسې شته چې د علم لېږد ته وفادارۍ له خپلې ژبې سره وفاداري رانه هېره کړې او د خپلې ژبې متن مو ژوبل کړی. که پښتو ته متن ژباړل کېږي نو ضرور ده چې د اصل ژبې

کلمو ته مناسب بدیلونه ومومو او تر څنګ یې د پښتو نحوي جوړښت ته پام وکړو. دیني متونو کې خو مو د پښتو نحوي جوړښت دومره ژوبل کړی چې څومره مو وس رسي. دین‌پوهانو دومره احتیاط راته توصیه کړی چې کله خو په ژباړه کې هم د دین محتوا راځخه ورکه شي او هم مو خپله ژبه ژوبله کړې وي. د مضر احتیاط پر ځای به غوره دا وه چې دیني باریکۍ ښې واضحې او مشخصې شوې وی. دې وضاحت او تشخص به دا ګټه کوله چې هم به د دین پوهه اسانېدی او هم به مو د خپلې ژبې متن نه بدرنګېده.

لا اله الا الله محمد رسول الله د کلمې شریفې پښتو دودیزه ژباړه داسې ده: نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی او محمد رسول د الله دی. دا متن د عربي ټکي پر ټکي ژباړه ده، د پښتو په طبیعت جوړ نه دی. که دا متن د پښتو طبیعت ته جوړوو نو داسې به راځي: یوازې الله د عبادت لایق دی او محمد د الله رسول دی. دیني عالمانو ته پکار ده چې خلکو ته د احتیاط پر ځای دا ووایي چې د پښتو دغه سم متن ستونزه جوړوي که نه او د ګنا لامل کېږي خو به نه. که ګنا نه په کې ښکارېده نو بیا تر لومړي متن دویم روان او عام‌فهمه دی. دې سره به پر دین د پښتون سر ډېر او ښه خلاصېږي.

## ۵ ـ ۲ ـ ۲ ادبي ژباړه

ادبي ژباړه تر ساده ژباړې یو څه ګرانه ده؛ ادبي ژباړه کې ژباړن ته دوې دندې ورغاړې دي یو به د متن ژباړه کوي او بل به د لیکوال احساس دویمې ژبې ته لېږدوي. ادبي متن د ګرامري اصولو ډېر پابند نه دی، کېدی شي د لومړۍ ژبې متن کې له ګرامر سرغړونې وي او اجازه شته چې دویمه ژبه کې ګرامر ته ډېر پام و نه شي. د دې خبرې مانا دا نه ده چې ادبي متن په کامله مانا بغاوت دی. نه، بغاوت نه دی خو زندان هم نه دی. ادبي متن کې د کلمو ښکلا مهمه ده او د محتوا د خوندور لېږد لپاره د کلمو تکرار، د کلمو د مانا بدلون، د تصویر لپاره د ډېرو کلمو مصرف... جواز لري. ادبي ژبه کې خبره خوندوره کېږي او ساینس کې د خبرې سموالی مهم دی.

د علمي او ادبي متن توپیر دلته ګورو:

«۱- د ونو د شنو پاڼو د ښورېدلو علت باد و.

۲- باد د ونو شنې پاڼې ښورولې.

فکر کوم چې دواړه جملې کټ مټ یوه مفکوره افاده کوي، لېکن د اروايي (Psychological) اغېزې په لحاظ د دواړو جملو تر منځ زیات توپیر لیدل کېږي. لومړۍ جمله علمي شان ته ښکاري او په هغه کې د یوې پدیدې (معلول) علت ښودل شوی دی. جمله سړه او بې‌روحه ده. په دغسې وچه جمله کې هېڅوک د هغې ایستیتیک او ذوقي اړخونو ته نه متوجه کېږي. دویمه جمله ادبي ده او که په یوه داستان یا ادبي ټوټه کې په همدې بڼه راشي د مضمون له ښکولو سره به مرسته وکړي. لېکن د لومړۍ جملې په باره کې څه فکر کوو؟ ایا کېدی شي چې په ادبي ټوټه کې ورته ځای ورکړو؟ حتی زما په ګومان د ذهني مسابقې ډګر ته به یې هم څوک ورپرې‌نه‌بږدي، پاتې شوه لا ادبي ټوټه.»

(۴۰: ۱۱۹)

علم حقیقت پسې ګرځي او ادب ښکلا پسې ځي. دا د علم او ادب ځانګړنې دي؛ د علم او ادب دغو ځانګړنو ته ژباړه کې هم پام کېږي.

## ۵ ـ ۳ پر پښتو د ژباړې اغېز

کله چې له بلې ژبې ژباړه کېږي نو په ارادي او غیر ارادي ډول د لومړۍ ژبې اغېز پر دویمه ژبه کېږي. که ژباړن د ژباړې پر ژبه پوره برلاسی وي نو اغېز به لږ وي او که برلاسی نه وي نو ډېر به وي. دا اغېز کله دومره هم وي چې کورټ مانا بدله شي. د مستشرقینو اړوند مې د یو استاد له خولې اورېدلي ول: یو مستشرق پښتونخوا کې له یوې مور اوري چې ماشوم ته وایي: «غلی شه». دې مستشرق لیکلي ول چې د پښتنو میندې اولادونو ته په کوچنیوالي توصیه کوي چې غل شه. مستشرق به پر دې نه پوهېده چې غلی د کرار یا چوپ په مانا دی. دا هم ممکنه ده چې پښتو ته له نورو ژبو د ژباړې په مهال کټ مټ سهوه وشي. دا خو د ژباړې په وخت یوه ستونزه ده چې پر اصل ژبه د کمې پوهې له وجې رامنځته کېږي، د دې تر څنګ د ژبې د ګرامر په برخه کې ډېرې ستونزې ایجادېږي. له خیبر ټي وي مې اورېدل چې وړاندې کوونکي ویل: تاسې ګورئ خیبر ټي وي او زه یم فلانی‌خان . دا جملې کاملا د انګرېزي ټکي پر ټکي ژباړه ده. ځا چې زده‌کړې په بله ژبه کې کړې وي، د خپلې ژبې ګرامر یې زده نه وي، دا سهوې به کوي او هغوی هم دا سهوې کوي چې زده‌کړې یې خپله ژبه کې کړې وي خو د ژبې او ګرامر پر رموزو پوی نه وي.

ملایانو په عربي زده‌کړې کړې دي، دوی پښتو ته د عربي اغېز راوړی، د عصري زده‌کړو کومو څښتنو چې په انګرېزي زده‌کړې کړې دي د انګرېزي اغېز یې راوړی او نورو چې په نورو ژبو سبق ویلی د نورو ژبو تاثیر یې راوړی دی.

دوی کې هغوی اکثریت دي چې په دري او اردو یې زده‌کړې کړې دي خو خپله ژبه یې پښتو ده. د پېښور پښتون به عدودونه په پښتو نه شي ویلی او کابل کې به ځینې پښتانه د لیک مې ورته ولیکه پر ځای وایي خط مې ورته نوشته کړ.

پر پښتو چې د عربي، انګرېزي، پارسي/ دري او اردو اغېز تر نورو ژبو زیات دی نو د دغو څلورو ژبو اغېز په ځانګړو عنوانو کې څېړو.

## ۵-۳-۱ د عربي اغېز

عربي د دین ژبه ده او ملا د پښتنو لومړیو لوستو کې راځي. حتی دا ویل کېږي چې د پښتو لپاره لومړنۍ الفبا د محمود غزنوي په وخت کې ملا جوړه کړه. (والله اعلم)

ګورو چې د ملا په لاس پر پښتو د عربي اغېز څومره دی. د دیني زده‌کړو پیل کې ملا صېب د بسم الله الرحمن رحیم مانا داسې او یا دې ته ورته کوي: شروع کوم په نوم د الله چې مهربان دی په دې دنیا پر کافرانو او مسلمانانو باندې او مهربان دی په هغه دنیا پر مسلمانانو، نه پر کافرانو باندې. د بسم الله او د بسم الله د مانا زده‌کړه د دیني زده‌کړو اساساتو کې راځي. د دغې زده‌کړې اساس کې پر پښتو د عربي اغېز کېږي او د عربي په نحوي جوړښت کې د بسم الله پښتو مانا رازده کېږي. د دې ژباړې سمه پښتو به داسې وه: د الله په نوم یې پیلوم چې پر دې دونیا پر کافرانو او مسلمانانو مهربان دی او هغه دونیا کې یوازې پر مسلمانانو مهربان دی. که دیني تشریح ورسره مل نه شي نو بیا به یې سمه ژباړه د استاد محمداصف صمیم دا پښتو بسم الله وي: «د لوراند او لورین خدای په نامه»(۵۴: ۴۶)

که د دیني متونو ژباړه وګورو نو د احادیثو ژباړه ټکي پر ټکي ده، د قران شریف د ایتونو ژباړه د عربي په جوړښت کې ټکي پر ټکي ده او حتی د فقهې ژباړه ټکي پر ټکي ده چې د دین خالص متن نه دی؛ د دین تشریحي بڼه ده او کله کله حدیثونه او ایتونه په کې راځي. د قران او حدیثونو ژباړه کې ملایان له احتیاطه کار اخلي ځکه یې ټکي پر ټکي کوي؛ له دې وېرېږي چې د متن اصلي مانا یا هدف ژوبل نه کړي. د فقهې ژباړه بیا چې د دین خالص متن نه دی، هماغه د قران او حدیثونو غوندې، پر ملا د عربي د اغېز له وجې، ټکي پر ټکي کېږي.

دلته له قران کریمه د فاتحې سورت او د ژباړې یوه بېلګه راوړو چې مولانا سیف‌الحنان موسی‌زي کړې ده:

«(۱)الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (۲) الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (۳) مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ (۴) إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (۵) اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ (٦) صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ.

ژباړه: ټولې ستاینې الله لره دي، پالونکی د ټول جهان. بېحده مهربان نهایت رحم کوونکی. مالک د ورځې د جزا (بدلې). موږ هم ستا بندهګي کوو او هم تا نه مدد غواړو. وښیه موږ ته لاره نېغه. لاره د هغه چا چې تا پرې فضل کړی دی. چې قهرېدلی پرې نه يې. او نه چې ګمراه شوي دي.»

(۰٦۵: ۹۴)

پر دې ژباړه له پیله تر پایه د عربي اغېز خپور دی او د عربي متن ټکي پر ټکي ژباړه ده. مولانا په تفسیر کې روانه پښتو لیکي خو ترجمه کې لاس نه خلاصوي. دوی به د دې کار لپاره دیني دلایل لري خو حق دا دی چې پښتو متن د پښتو له طبیعي جوړښت وتلی دی.

د دین د ترجمې په برخه کې ځینې داسې ژباړن هم شته چې پر پښتو ګرامر پوی دي او د متن ژباړه کې یوه اندازه لاس خلاصوي. ګلبدین حکمتیار یو له دغو دی چې ژباړه یې د پښتو نحوې په اصولو جوړه او روانه ده. د همدې فاتحې سورې د ژباړې بېلګه یې وګورئ:

«ټولې ستاینې د عالمونو رب لره دي. همغه ډېر مهربان رحم کوونکی. د بدلې د ورځې ټولواک. یوازې ستا عبادت کوو او یوازې له تا مرسته غواړو. په سمې لار مو هدایت کړې. د هغو کسانو په لار چې تا پرې پېرزوینه کړې ده. نه غضب پرې شوی او نه بېلارې دي.»

(۱۹: ۲۳)

د دې تر څنګ چې عربي د دین ژبه ده یو وخت د پښتنو د علم ژبه هم وه، په دې وجه پر دیني متونو سربېره علمي متونو کې هم د عربي اغېز جوت دی. که طبي متنونو ته وکتل شي نو خورا ډېرې عربي کلمې به په کې ومونډل شي. د رياضي ترمېنالوژي له عربي ډکه ده. جمع، منفي، ضرب او تقسیم، تر څنګ یې هندسي اصطلاحات خط، دایره، مربع، مستطیل، مثلث... عربي کلمې دي. ان د طب او رياضي دا نومونه «طب او رياضي» عربي دي. تاریخ عربي کلمه ده، جغرافیه د (Geography) معربه بڼه ده، هندسه و الجبر عربي نومونه دي، ادبیاتو کې خپله ادب عربي کلمه ده، د عروضي شاعرۍ کابو ټول ژانرونه عربي نومونه لري؛ غزل، قصیده، رباعي، ترکیببند، ترجیعبند، مثنوي، مثلث، مربع، مخمس... .

عربي سره د پښتو او پښتنو تړون د شکېدو نه دی. دا زه چې څه لیکم بې له عربي کلمو یې نه شم لیکلی، تر یوې اندازې به د عربي په شمول له پردیو کلمو پاک وي خو نړه پښتو علمي متن لیکل ممکن نه دي. د همدې پاراگراف پیل کې «کلمو، اندازې، پاک، متن، علمي او ممکن» کلمې عربي و پارسي دي. پر ژبو د نورو ژبو اغېز معمول چاره ده، دا اغېز د دین، علم او گاونډ له کبله ارومرو کېږي او په یوازې ځان هېڅ ژبه بشپړه نه ده؛ پر دري د عربي اغېز تر پښتو زیات دی او خپله عربي له نورو ژبو کلمې پور کړې دي.

## ۵ ـ ۳ ـ ۲ د دري/ پارسي اغېز

دري د هېواد رسمي ژبه ده او یو وخت د عربي تر څنگ د پښتون شاگرد د علم ژبه هم وه. اوس هم ډېر پښتانه په دري زده کړې کوي. دا څو لسیزې وړاندې به د ښوونځیو د نصاب کتابونه په دري لیکل کېدل او بیا به پښتو ته ژباړل کېدل. د نصاب د ژباړې په بهیر کې پر پښتو د دري کافي اغېز شوی او اوس کې چې نور دري متون ژباړل کېږي هم د دري کلمې رالېږدوي او هم دري اصطلاحات کټ مټ راژباړل کېږي. په غیر ارادي ډول داسې اصطلاحات هم ژباړل کېږي چې پښتو کې به یې بدیل وي. مثلاً د دري شهرک، ښارگوټی ژباړل شوی، حال دا چې پښتو «مېنه» کلمه لري او د ښارگوټي نسبتاً ښه بدیل دی.

له پېړیو دري د دربار ژبه ده او مرکز کابل کې تر پښتو زیاته ویل کېږي؛ کله خو دوه پښتانه خپلو کې لگیا وي دري خبرې کوي، د خبرو لړ کې سره پوی شي چې دواړه پښتانه دي نو پښتو سره پیل کړي. اوس خو د وطن د دري تر څنگ د ایران د پارسي اغېز هم راروان ښکاري. د دې دوې وجې دي؛ یوه دا چې پارسي کې د مطالعې ساحه نسبت پښتو ته پراخه ده؛ پښتون څېړونکی چې تحقیق کوي ایراني کتابونو ته مراجعه کوي. بله وجه پارسي ته د ایرانیانو شعوري کار دی؛ دوی د خپلې ژبې یا لهجې د عامونې لپاره پټ او ښکاره فعالیتونه او لگښتونه کوي.

رسنۍ بله دریڅه ده چې پښتو ته د نورو ژبو کلمې او جوړښتونه راوړي، د رسنیو پښتو خبرونه او نورې خپرونې ډېر کله له دري زیات اغېز راوړي:

«په کابل کې لویه برخه رسنۍ پښتو خبرونه راژباړي. خبرونه لومړی په رسنیو کې په دري ژبه تیارېږي او بیا پښتو ته راژباړل کیږي. نړۍوال خبرونه خو بیا یو مخ ژباړه ده. پر دې اساس پر پښتو ژبې د ژباړې اغېز تر بل هر ځای

ډېر په رسنيو کې محسوس دی. يوازې رسنۍ هم نه دي، ژباړل شوي کتابونه هم له دغو ستونزو ډک دي. دوی پردۍ کلمې او اصطلاحات کاروي. ساده، روان او عام فهمه پښتو کلمې پرېږدي او پردۍ کلمې کاروي.»

(۷۱: أ)

پر پښتو د پارسي اغېز په بېلابېلو برخو کې دی، له تاړو نيولې تر کلمو او له کلمو تر جملو، کله به له دري بې اړتيا کلمې رااخيستل کېږي او کله به د ژباړن د کمې تجربې/ پوهې په وجه د دري نحوي جوړښت هم رالېږدي.

د اسد وحيدي له «پر پښتو نثر د ژباړې اغېز» کتاب نه د ځينو مواردو بېلګې راوړو چې پښتو ترې اغېزمنه شوې:

تاړي: موږ پښتو کې د دري ځينو تاړو ته مناسب بديلونه لرو خو د ژباړنو د کمې پوهې په وجه د دري تاړي راوړل کېږي: « په پښتو کې (نا) مختاړی لرو، خو وينو چې بيا بيا په پښتو متونو، په ځانګړي ډول په ژباړل شوو متونو کې يې پر ځای (غير) مختاړی کارول کيږي. بېلګو ته پام وکړئ: په کندوز کې غيرمسوول وسلهوال فعال دي. په هلمند کې غير قانوني کيندنې روانې دي. ولسي جرګه په غيرقانوني ډول خپل کار ته دوام ورکوي. دا مثالونه ساده داسې ليکلی شو: په کندوز کې نامسوول وسلهوال فعال دي. په هلمند کې ناقانونه کيندنې روانې دي. ولسي جرګه په ناقانونه ډول خپل کار ته دوام ورکوي.»

(۷۱: ۲۸)

د ترکيبونو په برخه کې د دري زيات اغېز دی څه چې دري کې دي کټ مټ يې ژباړو. دا ټکي پر ټکي ژباړه اضافي کلمې راوړي او متن اوږدوي. د مرکبو قيدونو په برخه کې دغه بېلګې راړو:

«په پښتو کې دغه قيدونه هم د فارسي قيدونو ژباړه ده. دا ژباړه ځکه بې‌خونده او بدرنګه ده چې پښتانه نه دغه ډول خبرې کوي او نه هم په پښتو کې دغه ډول قيدونه شته. په فارسي ژبه کې (از طرف صبح، از طرف شب، از طرف شام، از طرف روز...) قيدونه کارول کيږي. دا زماني قيدونه دي چې د يو فعل د پيښېدو وخت ښيي. په پښتو کې موږ دغه ډول خبرې نه کوو، بلکې خپل قيدونه لرو. له بده مرغه کمزوري ژباړونکي د ژباړې پر مهال خپل قيدونه هېروي او د بلې ژبې قيدونه ژباړي:

ما از طرف روز خواب نمی کنيم.

موږ د ورځې له خوا خوب نه کوو.

موږ د ورځې له پلوه خوب نه کوو.

اجمل از طرف صبح دوش می کند.

اجمل د سهار له خوا منډې وهي.

اجمل د سهار له پلوه منډې وهي.

ما از طرف شب احساس امنیت نمی کنیم.

موږ د شپې له خوا د امنیت احساس نه کوو.

موږ د شپې له پلوه د امنیت احساس نه کوو.

ما از طرف شام با هم می بینم.

موږ د ماښام له پلوه سره وینو ... .)

موږ په پښتو کې (د شپې له خوا، د ورځې له خوا، د سهار له خوا، د ماښام له خوا، د غرمې له خوا، د شپې له پلوه، د ورځې له پلوه، د سهار له پلوه، د ماښام له پلوه، د غرمې له پلوه...) نه وایو، نو بیا ولې د ژباړې پر مهال دغه قیدونه کاروو! موږ پښتو لنډ او ساده قیدونه پرېږدو او د نورو ژبو د قیدونو په ژباړه پسې نښتې یو. سمې ژباړې ته پام وکړئ :

ما از طرف روز خواب نمی کنیم.

موږ د ورځې خوب نه کوو.

اجمل از طرف صبح دوش می کند.

اجمل سهار منډې وهي.

ما از طرف شب احساس امنیت نمی کنیم.

موږ د شپې د امنیت احساس نه کوو.

ما از طرف شام با هم می بینیم.

موږ مابښام سره وینو.

اوس دلته ګورو چې په سمه ژباړه کې هم مانا سمه لېږدول شوې، هم د پښتو خپل قیدونه کارول شوي او هم دا قیدونه لنډ او اسانه دي. موږ اضافي کلمې وایستلې. که موږ د پښتو خپله ژبه کاروو، هم مانا ښه لېږدول کېږي او هم لنډه، خوږه، اسانه او روانه وي.»

(۷۱: ۵۸)

«صورت نیولی، تر مشرۍ لاندې، شتون لري، پر لاره اچول، تصمیم نیول، له لاسه ورکول، ترسره شو، د پای ټکی ایښودل.»

(۷۱: ۵۸، ۵۹)

دا ترکیبونه د اسد وحیدي د کتاب «پر پښتو نثر د ژباړې اغېز) څو عنوانونه دي، استاد وایي چې پښتو کې دغه مروج ترکیبونه د دري د «صورت گرفته، تحت رهبری، وجود دارد...، به راه انداختن، تصمیم گرفتن، از دست دادن، انجام یافت، گذاشتن نقطه پایان» له دري نه ټکي پر ټکي پښتو ژباړې دي چې د پښتو له طبیعت سره جوړې نه دي.

دا ترکیبونه پښتو کې دومره کارېدلي چې اوس نااشنا نه برېښي، ممکن د همدې اثر مخکې-روسته متن کې هم موندل شي چې کارېدلي. که دلته هم کارېدلي مانا یې دا نه ده چې کارول یې روا شول. که یې پر ځای خپل پښتو جوړښتونه استعمال شي نو متن به ښکلی کېږي او د پښتو له طبیعي جوړښت سره به برابرېږي. دلته لومړۍ داسې جملې راوړو چې پاسني ترکیبونه په کې کارېدلي او جوختې داسې جملې راوړو چې دا ترکیبونه په کې نه وي او د پښتو له خپلې محاورې سره برابرې وي.

روستیو کې نویو فکرونو صورت موندلی.

روستیو کې فکرونه نوي شوي.

د پوهاند خموش تر مشرۍ لاندې کانکور اخیستل کېږي.

د پوهاند خموش په مشرۍ کانکور اخيستل کېږي.

اداري فساد شتون لري.

اداري فساد شته.

قطر کې د فوټبال د نړۍوال جام سيالۍ پر لاره اچول شوې دي.

قطر کې د فوټبال د نړۍوال جام سيالۍ جوړې شوې دي.

ما تصميم نيولی چې مقاله ژر دفاع کړم.

ما پتېيلې چې مقاله ژر دفاع کړم.

ما هيلې له لاسه ورکړې دي.

ما هيلې بايللې دي.

کار مې ترسره کړ.

کار مې وکړ.

مقالې ته مې د پای ټکی کېښود.

مقاله مې بشپړه کړه.

دا دويمې سمې جملې په نورو بڼو هم ليکلی شو، حالت ته په کتو داسې بڼې ليکل کېدی شي چې د لومړنۍ ژبې اغېز به په کې نه وي، لنډې به وي او عامفهمي به په کې زياته وي.

پر پښتو د دري اغېز ننني افغانستان کې زيات دی، کوزه پښتونخوا کې بيا دومره نه دی. وجه يې دا ده چې بر پښتانه دريژبو او دري متونو سره ډېر سروکار لري. دا تاثير به روان وي خو که متوجه يو نو بيا به يې تر يوې اندازې مخه نيول شوې وي.

## ۵ ـ ۳ ـ ۳ د انګرېزي اغېز

انګرېزي د علم نړۍواله ژبه ده، له ناچارۍ به يې لولو او ژباړې به ترې کوو. دې پرمختللې ژبې پر ډېرو ژبو اغېز کړی، له دغه اغېزه پښتو هم خوندي نه ده. د دې اغېز کچه کوزه پښتونخوا کې زياته او بره کې کمه ده ځکه کوزه پښتونخوا کې د نصاب ژبه انګرېزي ده. که مو کوزه پښتونخوا کې راډيو اورېده ممکن وړاندې کوونکی ځان داسې راوپېژني: زه يم اباسين افغان او وړاندې کوم تاسې ته د يوولسو بجو لنډ خبرونه. د دې جملو کلمې پښتو دي خو نحوي جوړښت يې د انګرېزي دی. دا جملې د انګرېزي د دې جملو ټکي پر ټکي ژباړه ده:

I am Abaseen afghan and presenting you eleven o'clock short news.

سمه بڼه يې داسې ده: زه اباسين افغان يم او تاسې ته د يوولسو بجو لنډ خبرونه وړاندې کوم.

پښتونخوا کې خبرو اترو کې هم انګرېزي کلمې په بېتکلفۍ کارېږي. حتی له نالوستو مشرانو هم اورېدل کېږي.

پښتو ساينسي نثرونو کې هم په پرېمانه کچه انګرېزي اصطلاحات کارول کېږي. دا يو پلؤ د انګرېزي علمي برلاسي او بل پلو د ژباړې په وخت زموږ ناسنجيدهګي ده. که د ژباړې په مهال لږ دقت وکړو نو بيا به پر پښتو د انګرېزي اغېز دومره نه وي لکه څومره چې اوس دی.

کوزه پښتونخوا کې ډېر او بره کې لږ د انګريزي د پوښتنومځرو which, where, who... پښتو بديلونه له انګريزۍ په اغېز کارېږي:

خوشال کوم چې زما زوی دی د ټولګي ممتاز شاګرد دی.

دلته يوازې «چې» د «کوم چې» کار کولی شي، دا جمله داسې ښه راتله: خوشال چې زما زوی دی د ټولګي ممتاز شاګرد دی.

زه هلته خبرې نه کوم چېرې چې زما خبره نه اورېدل کېږي.

دلته هم «چې» د «چېرې چې» لنډ بديل دی: زه هلته خبرې نه کوم چې زما خبره نه اورېدل کېږي.

رحمن‌الله گربز، څوک چې پیاوړی افغان توپوهونکی دی، د هند د (۲۰۲۳م) کال IPL سیالیو کې د کلکتې لوبډلې غړی شو.

دلته د «څوک چې» پر ځای هم یوازې «چې» پوره مانا رسوي: رحمن‌الله گربز، چې پیاوړی افغان توپوهونکی دی، د هند د (۲۰۲۳م) کال IPL سیالیو کې د کلکتې لوبډلې غړی شو.

## ۵ ـ ۳ ـ ۴ د اردو اغېز

اردو د هندي، عربي، پارسي او اوس کې د انگرېزي گډوله ژبه ده. د پارسي او عربي کلمو فیصدي په کې خورا لوړه ده او د پارسي و عربي ترکیبونو نحوي جوړښت هم رااخلي. د اردو ځینې کلمې پښتو ته ننوتې دي او کوزه پښتونخوا کې چې په کثرت سره عربي و پارسي کلمې کارېږي هم ډېرې یې د اردو په لار پښتو ته تللې دي. د پښتونخوا د لیکوالو متنونو کې د پارسي و عربي د کلمو زیاتوالی د د غو ژبو مستقیم اغېز نه دی؛ لیکوال له اردو اغېزمن دي. دغه اغېز اصل کې د عربي و پارسي دی خو که د پښتونخوا نثرونو کې یې د اردو اغېز وبولو  ناسمه خبره نه ده، ځکه دا مهال عربي و پارسي نه د پښتونخوا د نصاب ژبې دي او نه هم کوز پښتانه عربو او دري‌ژبو سره جوخت جغرافیوي نېژدېوالی لري. البته د عربي اغېز د دین په وجه هم دی. د دوی لیکنو کې چې کوم اغېز ښکاري مستقیم د اردو او نامستقیم د نورو ژبو دی. انگرېزي هم دغو نورو ژبو کې شامله ده.

ځینې اصیلې اردو کلمې هم پښتانه کاروي، مثلاً ملاوېږي، انپړ، پنه، چوتيي... ځینې پوهان خو وایي چې وال روستاړی هم له اردو راغلی، لکه کلیوال، ولسوال... کلمو کې او ځینې ژبپوهان بیا پر دې نظر دي چې  غبرگژبیز غږونه (ټ، ډ، ړ، ڼ) هم له هندي ژبو راغلي دي. که دا نظر خو سم وخېژي نو بیا به ډېرې پښتو کلمې اردو یا هندي ریښه ولري. د هندي او اردو توپیر دا دی چې هندي کې عربي و پارسي کلمې تر اردو کمې دي، داسې به ووایو چې د یوې ژبې دوې لهجې دي.

له اردو نه د سیف‌الرحمن سید د پښتو ژباړې یوه نمونه:

«د یوې خوانده معاشرې په موجودگۍ کې به عصري تقاضې بدلېږي او بیا به لیکونکي او لوستونکي دواړو دپاره د لیک مسئله پیدا کېږي. لیکونکي لره څه لیکل پکار دي او لوستونکی به څه رنگه لیک خوښوي. د دې دارومدار

به د هغه وخت په ذوق باندې وي خو د دې ذوق د تسکين دپاره به د اخبارونو، رسالو او کتابونو ضرورت وي او ذوق کې د بدلون سره به دا تقاضې خامخا بدلېږي. خو اخر د ليک-لوست دا کار به له يوه ځايه شروع کول غواړي. زما په خيال به د لوستونکي د ذوق د بهتر تسکين دپاره مفيده ذريعه د هغه کتابونو او مضمونونو ترجمې په پښتو کې کول وي چې د دنيا په نورو ژبو کې د کلاسيک درجه لري. که د نورو ژبو د شاعرۍ او فکشن د هغه کتابونو ماهرانه ترجمې وکړی شي چې پرې نوبل انعامونه ورکړل شوي دي نو په لږ وخت کې به پښتانه لوستونکي د دنيا له بهترين ادبه مستفيد شي. دې سره سره که د هرې ژبې خاص سره د جرمن، فرانسيسي، انگرېزي، روسي، عربي، ترکي، چيني او نورو ترقي‌يافته ژبو د شاعرۍ فکشن او د تنقيد پنگه پښتو ته رامنتقله شي نو په يو ټوپ به پښتو هغه مقام حاصل کړي چې حاصلول يې پکار دي او داسې به په اسانۍ د عصري تقاضو ماؤنټ ايورسټ فتح کړی شي.»

(۴۹: ۳۷۶، ۳۷۷)

د سيد صېب پر دې ژباړه پروفيسر ډاکټر شاه‌جهان داسې تبصره کوي:

«د سيف‌الحمن سيد صاحب ترجمه لفظي ترجمه ده. روانه او پسته ده او يو ادبي رنگ لري، خو بيا هم سيف صاحب زيات‌تر شعوري کوشش نه دی کړی چې خپله پښتو ترجمه زيات‌تر پښتو کړي. په پښتو کې اکثر عربي او پارسي ټکي د اردو په لار پښتو ته رانن‌وتي دي. دې کې اکثر اصطلاحي ټکي هم وي خو د دې نه علاوه داسې ټکي هم شته چې د هغو په پښتو کې خپل بدل ټکي شته، د هغو لټون او استعمال دپاره کوشش پکار دی.

سيف صاحب ډېر داسې ټکي پکار راوستي دي چې د هغو دپاره په پښتو کې خپل بدل ټکي وو او هغوی د هغو دپاره هېڅ قسمه زيار نه دی کړی. لکه د مثال په توگه:

د بهتر دپاره غوره

د مفيد دپاره گټور

د مستفيد دپاره گټه واخلي.

ماهرانه ترجمې دپاره په فن پوره ترجمې

رامنتقله شي دپاره راواوړي.

که چرې سیف صاحب د پښتو د خپل اصل دپاره لږ هم د کوشش نه کار اخیستی وی نو یقیناً چې دا ترجمه به د پښتو په ښو ترجمو کې حسابېدی شوه.»

(۴۹: ۳۷۷، ۳۷۸)

دا خو د شاه‌جهان صېب په نظر د دې ژباړې کره کتنه وه، که موږ خپل نظر پرې ورکوو نو روانه او پسته ژباړه نه ده او ادبي رنګ هم نه په کې ښکاري. شاجهان صېب د متن زیات پښتو کولو لپاره پنځه کلمې رااخیستې دي حال دا چې د پردویو کلمو شمېر په کې خورا زیات دی. «د یوې خواندې معاشرې په موجودګۍ کې به عصري تقاضې بدلېږي.» جمله داسې لا زیاته پښتو کېدله: د یوې لوستې ټولنې په جوړېدو سره به د وخت غوښتنې بدلېږي. د «شروع» لپاره «پیل» کلمه شته، د «ترجمې» لپاره ژباړه، د «خاص سره» لپاره «په ځانګړې توګه»، د «فېکشن» لپاره د قصې مفغنه بڼه «کیسه» او د «تنقید» لپاره «کره کتنه» پښتو بدیلونه دي. ماؤنټ ایورسټ باندې خو به زه هم هله پوهېږم چې لټه پسې وکړم.

خپله د شاه‌جهان صېب متن کې پښتو زیاتېدی شوه: د «علاوه» لپاره «سربېره»، د «استعمال» لپاره «کارؤنه»، د «کوشش» لپاره «هڅه/زیار» او د «قسم» لپاره «ډول» پښتو بڼې دي. که د متن لنډون ته پام په کې وکړو نو د «داسې ډېر ټکي پکار راوستي دي.» جملې پر ځای به «داسې ډېر ټکي کارولي.» جمله لنډه وه.

د لر بر پښتو کې توپیر شته او یو پر بل انتقادونه هم کېږي. شاه‌جان صېب د برې پښتونخوا د لیکوال او ژباړن شیرمحمد کریمي پر ژباړې د تبصرې لړ کې داسې وايي: «د افغاني پښتو... مشکل د کوزې پښتونخوا دپاره د انشاء دی. مثلاً په دې اقتباس کې داسې اصطلاحات شته چې هغه زمونږ او زمونږ پښتنو لوستونکو دپاره بالکل نااشنا دي او په مانا او مفهوم یې نه رسي. نو یوه پښتو چې د کوزې پښتونخوا د دومره غټ اکثریت دپاره نااشنا وي او پوره پرې نه پوهېږي نو دا څومره د افسوس خبره ده. افغانۍ پښتو د یو روان تاریخي او فطري تګ په ځای په غیرفطري لار روانول د افغانستان د لسانیاتو د عالمانو د علم د شوق تسکین له وجې ده.

د مثال په توګه د های سکول دپاره هغوی لېسه پکاروي او د مېډل سکول دپاره متوسطه پکاروي. حالانکې افغانۍ پښتو کې د انګرېزۍ استعمال هم شته، بلکې انګرېزي ټکي بالکل د پښتو د ټکو په شان استعمالوي لکه پرابلم وايي. بل د انګرېزۍ ټکي اکثر په فرانسېسي تلفظ سره وايي. روسي تلفظونه هم لري او بیا د فارسۍ او عربۍ د اثر قوت خو بې‌حسابه دی.

باقي کوم ټکي چې په کوم اصطلاحي مفهوم او لغوي مانو سره پکاروي هغه هم مونږ دپاره په ابلاغ او فهم کې کافي مشکلات لري. لکه د مثال په توګه:

د نماینده دپاره استازی

د ضروري دپاره مهم (حالانکې مهم دلته بېلې مانې لري.)؛ د اواز پورته کولو دپاره لوېږي، د تعلق او تړون دپاره علاقمندي.»

(۴۹: ۳۸۷، ۳۸۸)

بره پښتونخوا کې د انګرېزۍ ټکو یا کلمو فرانسوي تلفظ رېښتیا هم داسې ستونزه ده چې باید جوړه شوې نه وی. انګرېزي سره اړیکه زیاته ده او اوس کې انګرېزي تر فرانسوي مخکې ده نو پکار وه چې انګرېزي بڼې کارېدی. انګرېزي بڼې تر فرانسوي هغې اسانې تلفظ کېږي او د ټولو پښتنو لپاره یې پوهاوی اسان دی. داکتر، دوکتور او دکتور سرخوږی دی، ډاکټر عام دی. اپوزیسیون، کلېکسیون... نه اپوزېشن او کلېکشن غوره دي.

د شاه‌جهان صېب له ځینو نظرونو سره اختلاف کېدی شي: که د برې پښتونخوا متن د کوزې پښتونخوا لوستونکي ته سخت دی همداسې د کوزې پښتونخوا متن د برې پښتونخوا لوستونکي ته سخت دی. ډاکټر صېب د برې پښتونخوا پر ژبه د پارسي او عربي اغېز بې‌حسابه بولي خو حق دا دی چې د کوزې پښتونخوا نثرونو کې د اردو په لار د پارسي او عربي اغېز تر برې ډېر دی او کوزه پښتونخوا کې د انګرېزي او اردو اغېز پرې سرباري دی. هو، د برې پښتونخوا نثرونو کې ځینې داسې پارسي کلمې او ترکیبونه شته چې کوزني لیکوال یې نه کاروي. ډاکټر صېب وایي چې بره پښتونخوا کې قصداً پښتو په نافطري لاره روانه کړل شوې، د همدې نظر جملو کې «د افغانستان د لسانیاتو د عالمانو» ترکیب د پښتو د فطرت خلاف دی. که دا ترکیب بره پښتونخوا کې لیکل کېده نو «د افغانستان د ژبپوهانو» به و. ژبپوهـ د پښتو له ختې جوړه شوې کلمه ده، پښتنو ته یې زده‌کړه کې اساني ده خو عالم لسانیات عربي ترکیب دی چې پښتنو ته یې زده‌کړه ګرانه ده.

د لر بر پښتو او پښتو نثر کې فاصله شته، دا به د دواړو لورو له پوهانو اخلاص او زیار دواړه غواړي. دا فاصلې د دواړو لورو پوهان په ګډ کار ختموی شي. که اخلاص نه و او لټي وه نو دا ستونزې به ډېرېږي او داسې ورځ به راځي چې لر به د بر او بر به د لر پر ژبه نه پوهېږي. د دواړو لورو پوهانو ژبني علمي کار کې د سیاست نه تداخل یو بل مهم شرط دی. تر اوسه چې کوم ګډ کار شوی، خصوصاً د لیکدود برخه کې، د سیاست لاس دخیل په کې ښکاري او د لورو د ځان لوړ بللو حس هم په کې دی.

# پایله

پنځو برخو کې د نثر پر بېلابېلو برخو بحث شوی. لومړۍ برخه کې د نثر پېژندنه ده، پر ډولونو یې بحث دی، نظم سره یې پر توپیر خبره شوې او شعر سره د نثر پر اړیکه غږېدلي یو. نثر مو تشریح کړی، نظم سره مو یې کرښه واضحه کړې او دا مو ښوولې چې نثر کې هم شاعري کېږي.

دویمه برخه کې د نثر پر نن او پرون خبره ده. موږ یوازې تاریخ نه دی بیان کړی؛ دې برخه کې مو د پرون او نن پر نثر خپل نظر ورکړی؛ په ګوته کړې مو ده چې د زمان په تېرېدو سره نثر څه توپیر کړی، پرون د لیکوالو نثر کومې نیمګړتیاوې لرلې او د نن نثر کې کومو برخو ته پام پکار دی.

دریيمه برخه کې مو هغه عنوانونه څېړلي چې موږ سره د ښه نثر لیکلو کې مرسته کوي. موږ واضحه کړې چې نثر کې فصاحت څه وي، بلاغت څه ته وایي او سلاست څه دی. نثرونه اوږدېږي ولې او لنډېدی څنګه شي. مختلط نثرونه څه خېل وي او نږه پښتو نثر څنګه دی. پیچلي نثرونه کوم دي او پر پښتو نثر د لهجې اغېز څومره دی.

څلورمه برخه کې د ادبي، علمي، ژورنالېستیکو او اداري نثرونو تر منځ د بېلتون کرښه کاږل شوې، د دغو نثرونو نننی حالت مو تشریح کړی او کره کتنه مو پرې کړې ده.

پنځمه برخه کې د لیک پر یوه پراخه خوا ژباړه باندې بحث شوی. ژباړه مو تعریف کړې، پر ارزښت او نني حالت یې بحث شوی. دا ښوول شوې چې د ژباړې په وسیله پر پښتو نثر د کومو ژبو اغېز دی، د دغه اغېز کچه څومره ده او دا اغېز څنګه ختمېدی شي.

پایله دا ده چې د هرې برخې د نثر معیاري کېدو لپاره لارې ګودرې ښوول شوې دي او پر هغو ټولو باریکیو بحث شوی چې نثر ښې یا سمې خوا ته بیایي.

## مناقشه

که پښتو کې د حجم له مخې د شعر او نثر لیکلو پرتله کوو نو تر ناثرانو شاعران ډېر دي او تر نثر شعر ډېر دی. څومره چې تر نثر شعر ډېر دی همدومره پر شعر تر نثر زیات لیکل شوي؛ که کتابپلورنځي او کتابتونونه پلټو نو تر نثرپوهنې به د شعرپوهنې کتابونه یا مقالې زیات مخې ته راځي.

د نثر ساحه پراخه ده، یوازې هنري لیکل نه په کې کېږي؛ د ټولو علمونو لېږد او خوندیینه په نثر ده، چې داسې ده نو پکار خو دا وه چې پر نثر زیات لیکل شوي وی او دا لیکل هم د ټولو علمي ډګرونو لیکوالو کړي وی. له بده مرغه د نثر برخه کې د نورو برخو پوهانو کار نه دی کړی. ها، کړی یې دی خو هغه موږ ته د ښه نثر لیکلو چل نه راښيي. دا راښيي چې مقاله څه وي او کتاب څه ته وايي. څېړنه څه ده او لیکوالي څه وي... مشخص د نثر د تخنیکونو اړوند هېڅ نه راته وايي. دې برخه کې چې کوم کار شوی د ژبې او ادب پوهانو کړی.

زمو کار د ژبې او ادب د نورو محسنیونو له زیارونو سره دا توپیر لري چې یوازې ادب پورې محدود نه دی؛ هم پر ادبي نثر بحث دی او هم پر علمي نثر غږېدلي یو. موږ د کار ساحه پراخه کړې او زموږ کار به د هغو ټولو لپاره مثمر وي چې پښتو نثر لیکي. موږ لیکوال دې ته متوجه کړي چې ښه نثر څنګه وي، د علمي او ادبي نثر توپیرونه څه دي، منثوره ژباړه څه خېل وشي او هغه ټکي کوم دي چې نثر ورسره معیاري کېږي.

زموږ هیله هم دا ده چې دا اثر به د هر ډګر لیکوالو سره د ښه نثر لیکلو کې مرسته وکړي او د پښتو نثر اړوند لاربښودو لیکونو برخه کې به یو بل ګام وشمېرل شي.

## نتیجه‌ګیري

د دې څېړنې پایله کې د علمي او هنري نثرونو لپاره یو نسبي تخنیکي چوکاټ وړاندې شو. پر دې بحث وشو چې نثر څه وي، علمي نثرونه څنګه وي او هنري نثرونه څه ډول دي.

د نثر پر تخنیکونو خبره وشوه او زیار پر دې ورټول و چې پښتو علمي ډګر کې د سیالۍ جوګه شي. له ګرامري باریکیو نیولې د نثر پر فصاحت، بلاغت، روانۍ او لنډون بحث وشو.

پر هغو خواوو بحث وشو چې پښتو نثر یې نیمگړی کړی. دغه نیمگړتیاوې که له نورو ژبو اغېز راوړې دي په گوته شوې او که لهجې د پښتو نثر معیاریت ژوبل کړی وضاحت یې وشو.

پښتو نثر د معیار پلو بېول او هره برخه کې پښتو نثر سیالۍ ته جوړول مو د څېړنې، تشریح او کره کتنې اساسي ټکی و.

## وړاندیزونه

د څېړنې لړ کې دې نتیجې ته ورسېدم چې د نثر معیاري کېدو کې د علمي کار تر څنگ اداري مرسته هم ضرور ده. زما وړاندیز دا دی چې ادبپوهنځیو کې په هغومره کچه نثرپوهنه تدریس شي په کومه کچه چې شعرپوهنه تدریسېږي. د شعرپوهنې برخه کې بدیع، بیان، قافیه او عروض بېلابېلو سمېسټرونو کې تدریسېږي خو د نثرپوهنې برخه کې کوم مشخص مضمون نه تدریسېږي. غوره به دا وي چې د نثرپوهنې اړوند یو یا څو مضامین نصاب کې زیات شي چې د نثر د باریکیو خبره په تفصیل سره په کې کېږي.

پر ادبپوهنځیو سربېره پکار دا ده چې ټولو پوهنځیو کې محصلینو سره پر دې کار وشي چې ښه نثر څنگه لیکل کېږي. ځکه د علم ټولو څانگو کې د پښتو لیکلو اړتیا ده.

رسنیو کې د ژبې د مسلکیانو گومارنې ته پام ضروري دی، ځکه د رسنیو لوستونکي، اورېدونکي او لیدونکي خورا زیات دي. رسنیو کې د مسلکیانو کمي پر پښتو ژبه او پښتو نثر منفي اغېز کړی، د ژبې د مسلکیانو گومارنه دغه منفي اغېز پر مثبت بدلوي او د نثر معیاري کېدا ته گامونه چټکېږي.

# اخځونه


۱- اختیار، هجرت‌الله. (۱۳۹۴ل). ژباړه یوه ستونزمنه چاره. کابل: سپیده مجله.

۲- اخوند، درویزه. (۱۹۸۷ع، دویم چاپ). مخزن. سریزه سیدتقویم‌الحق کاکاخېل. پېښور: پښتو اکېډمي.

۳- ادینزی، گل‌منیر. (۲۰۱۷م). د خان عبدالولي‌خان د نثر لیکلو تحقیقي او تنقیدي جایزه. سهیلي پښتونخوا، غوڅکۍ: پښتو نړیواله مرکه.

۴- ارمان، سمیع‌الدین. (۲۰۲۱م).په ناول کې د صنفي کردارونو نفسیاتي څېړنه. پښتو ادب د نیمې پېړۍ مزل: فکري او نظري رجحانات. کوټه: پښتو اکېډمي.

۵- الفت، گل‌پاچا.(۱۳۳۹ل). لیکوالي (املا او انشاء).(؟): (؟). برېښنایي.

٦- الفت، گل‌پاچا. (۱۳۸۰ل/۲۰۰۱م). غوره نثرونه. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۷- الفت، گل‌پاچا. (۱۳۸۷ل، درېیم چاپ). د الفت نثري کلیات. زیار: محمداسماعیل یون. کابل: یون کلتوري یون.

۸- امیري، بهرام. (۱۳۹٦ل). د موادو مقاومت. خوست: شیخ‌زاید پوهنتون، انجینري پوهنځی.

۹- آرین، نوید. (۱۳۹۵ل/۲۰۱٦م). د فلسفې لنډ تاریخ. کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه.

۱۰- بېنوا، عبدالرؤف. (۱۳۷۸ل). دویم چاپ. پرېشانه افکار. کوټه: صحاف نشراتي موسسه. لومړی چاپ، ۱۳۳۵. برېښنایي.

۱۱- بېنوا، عبدالرؤف. (۱۳۸۸ش/ ۲۰۰۹ع). اوسني لیکوال. زیار: مطیع‌الله روهیال. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

۱۲- بي‌بي‌مریم. (۱۹۸٦ع). د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جایزه. پېښور: جدون پرېس.

۱۳- پالوال، عبدالرازق. (۱۳۸۴ل). معیاري پښتو. کندهار. چاپخونه: یونایټډ پرېس، شال. برېښنایي.

۱۴- پښتو-پښتو تشریحي قاموس. (۱۳۵۸ل). کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو انسټیټیوټ، د ژبپوهنې څانگه. لومړی او څلورم ټوک.

۱۵- پې، اېل، کوچر. (۱۳۹۸ ل). نباتي فزیولوژي. ژباړن: پوهنمل محمدطاهر میاخېل. خوست: شیخ‌زاید پوهنتون، د ښوونې او روزنې پوهنځی.

۱٦- جهاني، عبدالباري. (۱۳۹۳ل/۲۰۱۵م). تاریخي څېړنې. کندهار: نارنج خپرندویه ټولنه.

۱۷- حبیبي، عبدالحی. (۱۳۸۴ل/ ۲۰۰۵ز). د پښتو ادبیاتو تاریخ(لومړی او دویم ټوک). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۱۸- حجازي، مسکین‌علي. (۱۳۸٦ل). د ژورنالیزم ژبه. د امیرجان وحید احمدزي ژباړه. جلال‌اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۱۹- حکمتیار، گلبدین. (۱۳۸۹ل). د قرآن پلوشې. دویم چاپ، لومړی ټوک. (؟).

۲۰- خادم، قیام‌الدین. (۱۳۹٦ل). رښه چینه(لومړی ټوک). تدوین او اهتمام: لعل‌پاچا ازمون. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست.

۲۱- خټک، افضل‌خان. (۲۰۰٦م). تاریخ مرصع. زیار: دوست‌محمدخان کامل مومند. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.

۲۲- خټک، خوشال‌خان. (۱۳۹۳حوت/۲۰۱۵ز څلورم چاپ). د خوشال‌خان خټک کلیات. اوډنه، سمون او وییپانگه: عبدالقیوم زاهد مشواڼی. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

۲۳- خټک، خوشال‌خان. (۱۳۹۷ل/۲۰۱۸م). دستارنامه. څېړنه او سمونه ډاکټر عبدالحکیم‌شاه خټک. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي او کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی.

۲۴- خټک، عبدالقادر. (۱۹۸۹ع، دریم چاپ). گلدسته. اهتمام: محمدجاوید خلیل. پېښور: جدون پرېس.

۲۵- خټک، فضل‌میر. (۱۹۹۹م). فضلیات (د پښتو ادبي اصطلاحات). لیکوال خپله خپور کړی او ادرس نه لري.

۲٦- خټک، محمدعرفان. (۲۰۱۱م). د پښتو د نثر وړومبۍ نخښې. پېښور.

۲۷- خلیل، حنیف. (۲۰۰۰م). پښتو ناول- تحقیقي او تنقیدي جایزه. پېښور: باگرام پښتو ادبي جرگه.

۲۸- خلیل، حنیف. (۲۰۱۱م). زړو نثر. پېښور: یونیورسټي پبلشرز.

۲۹- ډاډمن، محمداغا. (۱۳۹۰ل). سبو روزنه. ننګرهار، جلال کوټ: ختیځ خپرندویه ټولنه.

۳۰- رازقي، محمداسحق. (۱۳۹۹ل). د ساختمانونو تحلیل، لومړۍ برخه. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون، انجینري پوهنځی.

۳۱- رستگار فسایي، منصور. (۱۳۹٦ل) اووم چاپ. انواع نثر فارسي. قم: یاران. لومړی چاپ (۱۳۸۰ل).

۳۲- رشاد، عبدالشکور. (۱۳۸۹ل/۲۰۱۱م). جغرافیایي یادابښتونه (لومړۍ او دویمه برخه). کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

۳۳-رشتین، صدیق‌الله. (۱۹۹۷ع). د ښکلا وږمه. پېښور: پښتو اکېډمي.

۳۴- رشتین، صدیق‌الله. (؟). د پښتو نثر هنداره. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.

۳۵- رضا، افضل. (۲۰۱۰م دریم چاپ). د پښتو د نثر تاریخ. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.

۳٦- رفیع، حبیب‌الله. (۱۳۸۷ل). د دستارنامې سبک (مقاله). دستارنامه د څېړنو په بهیر کې (کتاب). اهتمام: رحمت‌الله هوتک. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

۳۷- رفیع، حبیب‌الله. (۱۳۹۵ل). لیکونه سرلیکونه. جلال‌اباد: باور خپرندویه ټولنه.

۳۸- روښان، بایزید. (۱۳۹۹ش/۲۰۲۰م). خیرالبیان. سریزه، مقابله، سمون او لمنلیکونه محمدمعصوم هوتک. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

۳۹- روهي، محمدصدیق. (۱۳۸۴ل/ ۲۰۰۵م دویم چاپ). د پښتو ادبیاتو تاریخ. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۴۰- روهي، محمدصدیق. (۱۳۸٦ل/۲۰۰۷م). ادبي څېړنې. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۴۱- روهي، محمدصدق. (۱۳۹۸هـ.ش). د نثر پېژندنه او پېژندود (مقاله). د لارې نښې (کتاب). راټولونه: صدیق‌الله بدر. کابل: د جمهوري ریاست فرهنګي مشاوریت.

۴۲- زیار، مجاوراحمد. (۱۳۸۴ل/۲۰۰۵م). پښتو پښویه (ګرامر). دریم چاپ. پېښور دانش خپرندویه ټولنه.

۴۳- زیار، مجاوراحمد. (۱۳۸٦ل/۲۰۰۷م). لیکلارښود «یوه پښتو – کره پښتو». پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۴۴- زیار، مجاوراحمد. (۱۳۹٦ل/۲۰۱۷م). پښتو سبک‌پوهنه. جلال‌آباد: هاشمي خپرندویه ټولنه.

۴۵- زیار، مجاوراحمد. (۱۳۹۷ل/ ۲۰۱۷ز). پښتو ماناپوهنه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

۴٦- سالک، مصطفی. (۲۰۱۴م دویم چاپ). د اوښکو موسکا. کابل: دانش خپرندویه ټولنه. لومړی چاپ (۲۰۰۱م).

۴۷- ستانکزی، رفیع‌الله. (۱۳۸٦ل). د ژباړې فن. کابل: صمیم ادبي ټولنه.

۴۸- سیدي، سیدنظیم. (۱۳۹۱ل). ناول به څنګه لیکو؟ دویم چاپ. جلال‌اباد: مومند خپرندویه ټولنه. لومړی چاپ (۱۳۸۹).

۴۹- شاه‌جان. (۲۰۱۹م). پښتو نثر کې د مطبوعه ترجمو تنقیدي مطالعه. پېښور: پښتو اکېډمي، پېښور پوهنتون.

۵۰- شریف‌الله. (۱۳۹٦ل دویم چاپ). فزیکي تشخیص او د تاریخچې اخیستنه. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون، طب پوهنځی.

۵۱- شیدا، کاظم‌خان. (۱۳۸۴ل/۲۰۰۵ز). د کاظم‌خان شیدا دیوان. زیار: حنیف خلیل. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۵۲- شیرواني، علي. (۱۳۹۴ل/۲۰۱۴م). د فلسفې کلیات. ژباړن محمدحامد ژواک. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

۵۳- شینواری، امیرحمزه. (۲۰۰۴م). انساني انا او پوهه. پېښور: جدون پرېنټېنګ پرېس.

۵۴- ښکلی، اجمل. (۱۳۹۳ل). د ژباړې اصول. جلال‌اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۵۵-ظفرزی، محمدظاهر. (۱۳۸۹ل). د هضمي جهاز ناروغۍ. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون، طب پوهنځی.

۵٦- عبدالي، بادشاه‌زار. (۱۳۹۵ل). د ګېډې د ملحقاتو د جراحي ناروغۍ. خوست: شیخ‌زاید پوهنتون، طب پوهنځی.

۵۷- عمران، شاهدالله. (۱۳۹۸ل). د عریضه لیکنې لارښود (رسمي او غیررسمي لیکونه). جلال‌اباد: مسلم خپرندویه ټولنه.

۵۸- غضنفر، اسدالله. (۱۳۸۹ ل. ل). د نثر لیکلو هنر. نیدرلېنډ: افغاني کلتوري ټولنه. چاپچارې، ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

٥٩- غضنفر، اسدالله. (۱۳۹۳ل/ ۲۰۱۵م). د زړو هندارو کور دویم ټوک. (؟): قلم لار مدني ټولنه.

٦٠- غوربندی، میراجان. (۱۳۹۵ل). ګړدود (لهجه) پوهنه. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

٦١- کاروان، پیرمحمد. (۱۳۹۴ل/۲۰۱۵م). زرزري وزرې. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

٦٢- ماکو، سلیمان. (۱۳۷۹هـ/۲۰۰۰ع). تذکرةالاولیاء. سریزه، سمون او نښلونې عبدالحی حبیبي. د علامه حبیبي د څېړنو مرکز

٦٣- مجروح یوسفزی، مشتاق. (۲۰۱۰م). زرکانی. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.

٦٤- مجروح، سیدبهاءالدین. (۱۳۹۴ل). د جبر او اختیار ډیالېکټیک. کابل: انسان مجله.

٦٥- مفتي محمدشفیع. (؟). معارف القرآن پښتو تفسیر. پېښور: زیب ارټ پبلېشرز.

٦٦- مقدم، محمدعلوي او اشرفزاده، رضا. (۱۳۸۷ل، اتم چاپ). معاني و بیان. تهران: سازمان چاپ و انتشارات، وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامي.

٦٧- منګل، عليمحمد. (۱۳۸۷ل). پښتو لهجې. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

٦٨- مولانا عبدالقادر. (۱۹۹۷). د فکر یون. زیار: عبدالرحمن شباب. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.

٦٩- مومند، قلندر او صحرایي، فرید. (۱۹۹۴م/۱۴۱۵ق). دریاب. لاهور: امید پرنټرز.

٧٠- ناګار، فضلولي. (۱۳۹۸ل). معاني. ننګرهار: میهن خپرندویه ټولنه.

٧١- وحیدي، اسدالله. (۱۳۹٦ل/۲۰۱۷م). پر پښتو نثر د ژباړې اغېز. کابل: اکسوس خپرندویه ټولنه. برېښنایي.

٧٢- هاشمي، سیدمحیالدین. (۱۳۸۹ل). د نثري ادب ډولونه. (؟): وحدت خپرندویه ټولنه.

٧٣- همکار، محمدابراهیم. (۱۳۹۵ل). لیکوالي. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

٧٤- هوتک، محمد بن داود. (۱۳۳۹ هـ. ش). پټه خزانه (دویم چاپ). زیار: عبدالحی حبیبي. کابل: د پوهنې وزارت د دارالتالیف ریاست.

۷۵- هوتک، محمدمعصوم. (۲۰۰۷م). پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

۷٦- هېوادمل، زلمی. (۱۳۹۳ل/۲۰۱۱ز). د پښتو نثر اته سوه کاله (دویم چاپ). کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

۷۷- یوسفزی، سحر. (۱۹۹٦م). ادب څه دی. درېیم چاپ. پېښور: الکتاب پرنټرز. لومړی چاپ (۱۹٦۷م).